# د کونړ ولایت

## سیاسي او قومي جوړښتونه
## دودونه او تاریخي پېښې

---

لیکوال: **شاه محمود میاخېل**
خپرونکی: **شاه محمود میاخېل فرهنګي او تولنیز مرکز**
کمپوز: **لیکوال**
ډیزاین چارې: **رحمن الله بهیر**
چاپشمېر: ۲۰۰۰
چاپکال: **۱۳۹۵ل/۲۰۱۶**
چاپ وار: **لومړی**

---

د چاپ حقوق یې له لیکوال او خپرونکي مرکز سره خوندي دي
Ketabton.com

# ...نړ ولایت

## ...او قومي جوړښتونه
## ... او تاریخي پېښې

...: شاه محمود میاخېل

...اسد ۱۳۹۵ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د کونړ ولایت نقشه**

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغه سرای عکس د هوا نه ـ د طارق بزگر د وال نه  چې د
نیوزویک مجلې نه یې اخستي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځو خبرې

خاوره د یوه ولس لوښی، ظرف او پتې دی، یوه ډله کسان چې په یوه خاوره کښې په خپله خوښه مېشت شي، دا د ملت لرغونی او د زرګونو کلونو پخوا زړی دی چې بیا ورو ـ ورو وده کوي، تشکل کوي، لویېږي او د هېواد بڼه غوره کوي.

کورنه د کلیو تشکیلوونکي واحدونه دي ، کلي بیا د سیمې یا په اداري تشکیل کښې د ولسوالیو جوړوونکي دي ، ولسوالۍ ولایت جوړوي او ولایتونه بیا د یوه هېواد د اداري تشکیلاتو بنسټ ږدي او ترې تاو پولې یې سیاسي چوکاټ ټاکي.

د هېوادونو د پرمختګ لپاره پلانونه او پروګرامونه جوړېږي ، بیا د هغې په رڼا کښې کار کېږي، هېواد متوازن انکشاف کوي او عادلانه نظام په کښې ټینګېږي.

ددې هر څه له پاره د هېوادو «ګوټ ـ ګوټ پېژندنه پکار ده » د هرې سیمې کلتور، کره وړه او نور باید وڅېړل شي ، د خلکو مهارتونه او صنایع یې په نخښه کړل شي ، د ځمکې حاصلات یې معرفي شي ، تاریخي او اقتصادي شتمنۍ یې وپېژندل شي ، زراعت او کرنه یې تشخیص شي او نورې ټولې ځانګړتیاوې یې سجل او وڅېړل شي . که دا کار کلي په کلي، ولسوالۍ په ولسوالۍ او ولایت په ولایت وشي ، نو بیا به په دقیق او



باوري ډول د هر ولایت امکانات ، اړتیاوې او وړتیاوې په ګوته شي او د انکشافي پلانونو او پروګرامونو د عملي تطبیق لپاره به لاره هواره شي .

ښاغلي شاه محمود میاخېل همداسې یوه درانه کار ته لاس اچولی او په خپل کتاب کښې یې په کوټلي ډول د کونړ ولایت سیاسي او قومي جوړښتونه، دودونه او تاریخي پېښې څېړلي دي او هڅه یې کړې چې په دې برخه کښې باوري معلومات ترلاسه او بیا یې درنو لوستونکو ته وړاندې کړي.

دی وایي زه مؤرخ نه یم ، ژورنالیست یم او په ژورنالستیکي سبک مې خپل تاریخي معلومات راغونډ کړي اود خبیرو خلکو د مرکو له لارې مې ژوندي کړي، په دې ترتیب یې تاریخ ته د ژورنالیزم سا ورکړې او نوې اروا یې په کښې چلولې ده.

دده د دې اثر یو بل مهم ټکی دادی چې خپل راټول کړي مطالب یې په اتو څپرکو کښې راغونډ کړي ، لنډیز کړي او په کوټلي ډول وړاندې کړي دي ، څه معلومات چې په تاریخونو او لیکنو کښې تکراري وو ، د هغو نه یې ډېره لږه او د اړتیا وړ استفاده کړې ، خو په کومو برخو کښې یې چې د مرکو او اورېدنو له لارې نوي معلومات پیدا کړي ، هغه یې غځولي او خپلو لوستونکو ته یې نوي مطالب تهیه کړي دي.

زما له نظره میاخېل صیب په وجیز ډول کتاب لیکلی او معلومات یې راوړي خو په مهمو ټکیو یې تمرکز کړی او معلومات یې کوټلي دي.

هر کتاب نیمګړتیاوې او اشتباهات لري دا کتاب به هم له دې کُلیې نه بچ نه وي ، خو د میاخېل صیب هڅې دا نیمګړتیاوې بشپړوي او معتبر کتاب ترې جوړوي ، مثلاً د کیرالې د پېښې په برخه کښې معلومات ډېر لنډ لیکل شوي او هغه خونړۍ پېښه چې تر زرو زیات انسانان د دوی د میندو ، خویندو او مېرمنو تر سترګو لاندې توپونو ته تړل کېدل او

شهیدانېدل، ډېرې لږې خبرې پرې شوې، یا د میرزمان خان قدرت تـه د رسېدلو عوامل چې تاریخونو روښانه کړي، ډېر لږ یاد شـوي، خـو پـه هـر حال یو کټور او کوټلی کتاب دی او زه یې لیکوال ته مبارکي ورکوم.

ددې ترڅنګ له ده یا بل دردمن لیکوال نه هیله لرم چې د کونړ اقتصادي څېره هم په لنډیز او کوټلي ډول وڅېړي او دا به بیا د کونړ په راتلونکي پرمختګ کښې عملي او درنه ونډه ولري او ددې معلوماتو پر بنسټ به انشاء الله انکشافي پلانونه او د پرمختګ پروګرامونه جوړېږي!

نور ستاسو او ددې ګټور کتاب تر منځ پوله کېږم نه او درنو لوستونکو ته یې د لوستلو بلنه ورکوم!

**په درنښت**

**څېړنوال حبیب الله رفیع**

**۱۳۹۵ / ۵/ ۳**



# له نسله تر نسله د شاه محمود میاخیل کتاب ته لنډه کتنه

د ښاغلي شاه محمـود میاخېـل کتـاب (د کـونړ ولایـت سیاسي او قـومي جوړښتونه، دودونه او تاریخي پېښې) چې د کونړ ولایت په اړه یې لیکلی دی، ما ټکي په ټکي ولوست ترڅو هغه ریښتینې زده کړه او پیغام چې لوستونکو ته لري هغه ترې واخلم. ددې کتاب ډېر مهم اړخونه په لاندې ډول دي:

۱. ځان، کورنۍ، ټولنه، ولایت او په لویه کې ددې ټولو تړاو له افغانستان سره را پېژني.

۲. جالبه داده چې د کونړ له تاسیس تر اوسه هیڅ دولتي او غیر دولتي بنسټونو په یوه منظمه او منسجمه بڼه کونړ نه دی معرفي کړی او دا کتاب یې په لومړي ځل په ښه او منظمه توګه را پېژني.

۳. دا کتاب یوازې د یو توکي په بنسټ او استناد نه دی لیکل شوی بلکې د څېړنو، مشاهدو، بېلابېلو منابعو، ماخذونو، مقالو او فردي مرکو له ډلې د هریو څرک پکې لګېږي.

۴. زموږ لویه ستونزه دا ده چې ځیني وګړي ځان پېژني، خپله ټولنه نه پېژني، ځیني دا دواړه پېژني، اما افغانستان نه پېژني، ځیني دا ټول پېژني خو نړۍ او نړیوال نه پېژني. خو ښه خبره داده چې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب لیکوال له ځانه تر کورنۍ، کلي، ولایت، هېواد او نړۍ پورې دا تړل پېژني او په دې اړه یې د خپلې کورنۍ شالید، د دولتي او غیردولتي کارونو تجربې، او له ولس او نړیوالو سره نږدې پاتې کېدو او ګډ کار ورسره لویه مرسته کړې ده.

۵. سره له دې چې زموږ پالیسي، طرحې او قوانین مرکزي دي، اما سیمه ییزه حکومتولي باید د مرکزي سیاستونو، پالیسو، طرحو او قوانینو تطبیقي میکانیزم وړاندي او عملي تفسیر یې وکړي، او دا هغه وخت امکان لري چې د یوې سیمې سیاسي، اقتصادي، جغرافیایي، تاریخي، ولسي، فردي، ټولنیزې او فرهنګي ځانګړتیاوې وپېژنو اود میاخیل صیب دا کتاب مو د کونړ په اړه په دغو ټولو ټکی په ټکی پوهوي.

۶. ولسي انګېرني، شفاهي تاریخ، کیسې، نکلونه، او متلونه ډېري ځله موږ ته یوازې د ادبي او فرهنګي میراث په توګه ښکاري. په داسې حال کې چې دا د ټولنپوهني، اروا پوهني او سیاست پوهني لپاره اساسات جوړوي، او له دې امله چې په دې کتاب کې دا ټول په پراخه پیمانه کارېدلي نو د ټولنې او سیاست لپاره ارزښتمن اثر دی.

۷. له تاریخي پېښو سره سیاسي او پارتیزاني چلند، موږ د تاریخ تور ګودال ته غورځوي، دلته لیکوال په پوره جرات هغه تاریخي پرېکړې چې د ځینو وګړو په اړه شوېدي او د ځینو په اړه نه دي شوې، چلینج کړېدي.

۸. تاریخ پرته له زده کړو تشې پېښې دي چې د یوه ملت حال او راتلونکی نه جوړوي، د تاریخ فلسفه له تاریخ څخه زده کړه ده او لیکوال په دې کتاب کې له تاریخه د زده کړې امکان راته برابروي.

۹. هغه ځوک چې له دې کتاب څخه ډېر څه باید زده کړي او د ژوند برخه یې ده هغه کونړیان دي، ځکه خو دکتاب د مقدمې په پای



کې لیکي چې ((په کونړۍ مینه او درنښت). دا ځکه مهمه ده چې د کتاب د مخاطب ټاکل ډېر اساسي ټکی دی.

۱۰. په دې کتاب کې د بهرنیو منابعو ترڅنګ اساسي ټکی د افغاني فکر او افغاني تجربې پر بنسټ د کتاب کښل دي.

۱۱. زموږ بنسټیزه ستونزه داده چې ډېری وختونه زموږ محلي او مرکزي سیاستونه په فرضیو او انګېرنو ولاړ وي او ډېر کم په څېړنه، مشاهداتو او دقیقو منابعو. دې کار څلور تشي- رامنځته کړېدي. الف: معلوماتي خلا، ب: علمي خلا، ج: جنسیتي خلا، د: نسلي خلا. دا کتاب کولای شي تر یو برېده پورې معلوماتي خلا ډکه کړي او نور وګړي وهڅوي ترڅو په دې نورو خلاوو باندې هم په ټول پوره کتاب یا کتابونه ولیکي.

۱۲. لیکوال د ښه کتابي نظم د رامنځته کولو په پار داکتاب په اتو برخو وېشلی دی، د هرې برخې په سر کې مقدمه، د متن په منځ کې د منابعو نقل قولونه، او په لمن لیک کې ماخذونه د کتاب ثقه والی او کره والی راڅرګندوي. البته هغه څه چې وړاندیزوم په لاندې توګه دي:

i. په دې کتاب کې د کونړ په قیمتي ډبرو، د کونړ د اوبو په ستراتیژیک او اقصادي اړخ او همدارنګه د کونړ په چارتراشو ډېر کم بحث شوی دی، چې دا اړخونه هم باید په راتلونکې کې لا و سپړل شي.

ii. زه وړاندیزوم چې د هر ولایت په کچه ددې کتاب په څېر د هماغه ولایت پېژندنې په اړه کتاب ولیکل شي. البته ځینو ولایتونو دا هڅه کړېده، اما په هغې کې یو یا بل اړخ (فرهنګي، ادبي یا بل) غالب وي او تر ډېره برېده جامعه او د ولایت په اړه داسې یو جامع لرلید لوستونکو او پالیسي جوړونکو ته نشي- ورکولای، اما دې کتاب دا هڅه کړېده ترڅو د ګڼو منابعو، مرکو، مشاهداتو، د لیکلي او شفاهي تاریخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا کې لوستونکو ته لوری ورکړي. زما هیله داده چې نور لیکوالان او په ځانگړي توگه د کونړ لیکوالان د کونړ په لا پېژندلو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او د نورو ولایتونو لیکوالان هم ددې کتاب څخه په پیروي خپل ولایتونه څنگه یې چې حق دی، لوستونکو او افغانانو ته ور وپیژني.

زه تکړه او ژمن لیکوال او محرک مدني فعال ښاغلي شاه محمود میاخېل ته ددې مهم اثر د لیکلو له امله مبارکي وایم او کونړیال بختور دي چې د ښاغلي میاخېل په څېر رضاکار استازي لري او پر چا د احسان او یا له چانه د چندې ټولولو پرته په خپلو خولواو پیسو دکونړیانو او افغانانو په چوپړ کې دي.

نوموړي ته لابریالیتوب او اوږد عمر غواړم ترڅو په نورو لیکنو هم د لوستونکو تنده ماته او د فکر، ادب او سیاست قبله یې د افغان پالنې او ملي گټو په پل او څرک ور سمه کړي.

په درنښت

محمد حلیم فدایي

لوگر والي

زمري ۹، ۱۳۹۵



# ښکلی ولایت

کونړ د یوشمېر سمسورو او ښکلو درو ټولگه ده، چې ترمنځ یې مست او بهانده کونړسیند بهیږي. لرغوني انسانان دسیندونو پرغاړو مېشتېدل، لوی مدنیتونه دهغوسیندونو په نومونو یاد شوي، چې ترغاړې یې رامنځته شوي دي، مصري مدنیت یې د نیل او بابلي هغه یې د دجلې او فرات (بین النهرین) مدنیتونه گڼل، ساکي مدنیت د هېلمند پرغاړه رامنځته شو او کوشاني مدنیت د نیلاب و اباسین ترغاړو وپنځېد.

کونړ په تاریخي متونو کې د (اریکایوم ـ Ariqaeum) ، (اریکاون)، (ورکه) په نامه هم یاد شوی دی، ځینو جغرافیه پوهانو د کاسگر( کاسي غر) ، چترال، بلورستان او الینایي کشمیري جغرافیو په مضافاتو کې گڼلی، خو زیږ و شین طبیعت او مست سیند یې د ټولو خوښ شوی دی. کونړ سیند ته یې (راسا، ورکه او نیسا) هم ویلي دي. د دغې سیمې د سیندونو او رودونو په اووه گونو خویندو کې د کوبها(کابل) ، کرومو(کورمې)، هنومند(هېلمند)، ارغنداو(سرسواتي)، سوات (سوتي) او گومل (گوماتي) ترڅنگ (راسا) همدا کونړ سیند هم یاد شوی دی.

مقدوني سکندر هند ته پر لاره کونړ ته هم ورپېښ شو، هلته یې له الینایانو سره کلکه جگړه وکړه، په یوه روایت د همدې ځنگلي غرونو په یوه سخته جگړه کې ټپي شو او د بېرته گرځېدا پرېکړه یې وکړه.

د کونړ جاذبه د هغه د سرشاره طبيعي ښکلا، د خوړو اوبو د سرچينو، ځنګلونو او د هيندوکش او پامير د تلاقۍ سيمې ته په نږدې موقعيت کې پرته ده، چې د تاريخ په اوږدو کې يې ګڼ سيلانيان او ګرځندوی ځانته وربللي دي.

د (کونړ) دنوم په اړه د همدغه کتاب ليکوال ښاغلی شاه محمود مياخيل فکر کوي، چې د زمکې د کچ مېچ له واحد ( نړ ) څخه اخيستل شوی دی، خو پوهاند دکتور زيار فکر کوي، چې (نړ) يا (ناړ) او (ناړۍ) د درې پا مانا ده او لومړی برخه يې هماغه ښوون (غرنيزه ونه) ده، چې په دې توګه يې مانا (د ښوونو دره) راځي.

د دغه ولايت جغرافيايي بشري جغرافيه د وخت په اوږدو کې کوشنۍ يا لويه شوې ده، کله يې ځينې برخې په تاريخي نورستان او کله يې لويه برخه د ننګرهار ولايت ديوې ولسوالۍ په توګه پېژندل شوې ده. په لرغونو زمانو کې د دې ولايت په ګڼو ولسواليو کې الينايان يا نورستانيان اوسېدل، چې وروسته بيااوسني نورستان ته ورغونډ شوي دي.

د همداسې يوه ولايت دنن وپرن په اړه ډېرې څېړنې په لاس کې نه لرو، په تېره بيا د دغه ولايت انتروپولوژيکه، اتنوګرافيکه، فرهنګي او ان جغرافيايي مستقله مطالعه يا خو نه ده شوې او يا به ما نه وي لېدلې، چې دا دی د دغې پراخې مطالعې يوه برخه زما ښاغلي دوست شاه محمود مياخېل راپيل کړې ده.

ستاسو په لاس کې دغه کتاب ( د کونړ ولايت سياسي اوقومي جوړښتونه، دودونه او تاريخي پېښې) له څو اړخونو د پام وړ دی :

- لوستونکی د کونړ ولايت له بشري او تر يوه بريده طبيعي جغرافيې سره اشنا کوي.



- په کونړ کې د اوسمهالي تاريخ مهمې پېښې په تفصيل سره بيانوي، په تېره بيا چې پخپله ليکوال د څووروستيو لسيزو د پېښو عيني شاهد پاتې شوی دی . ښاغلي مياخېل ليکلي دي، هاغه وخت چې کونړ د تنظيمي جګړو په اور کې سوزېده، دی د امريکا غږ راډيو سيمه ييز خبريال و او دهغو پېښو په اړه يې د جګړې له بېلابېلو اړخونو سره مرکې کړې دي. زه فکر نه کوم، بل چا به په دغه ځانګړې سيمه کې، هغه وخت، يادې پېښې له دومره جزياتو سره تعقيب کړې وي.
- د افغانستان د استقلال په زمانه کې چې دغه سيمې د لوی خان غازي ميرزمان خان د مېړانې له برکته د استقلال څلورمه جبهه ګڼل شوې، هم دياد شخصيت او دهغه د کورنۍ په اړه يې له حُب يا بُغض پرته ځينې نوې موندنې ليکلې دي.
- د کېړاړې (په کتاب کې کرهالې) د خونړۍ پېښې، کونړي پاچايانو او روحاني کورنيو، مهمو شخصيتونو او نورو پېښو په اړه ځينې په زړه پورې او مستند معلومات وړاندې کوي.
- د دغه ولايت اداري واحدونه ، کلي درې او لارې راپېژني .
- د کونړ دود دستور، سيمه ييز ارزښتونه، قومي ويش او اتنيکي جوړښت راپېژني.
- او ترټولو مهمه دا، چې کتاب لوستونکي ته دا پايله په ګوتو ورکوي، چې کونړ دګڼو ملي شتمنيو ( رواني اوبه، ځنګلونه، بډای فرهنګ ،توريستي موقعيت او...) سره سره د خپلمنځي شخړو، پرديو دسيسو او ناپوهۍ له امله، لاهم خوار،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محروم، فقیر او بېوزله پروت دی او د ودانۍ و ښېرازۍ لپاره یې چا پام نه دی کړی، لا هره ورځ خپلې شتمنۍ له لاسه ورکوي او که ونه ژغورل شي، نو ملي او له ځینو اړخونو په نړیوال کچ طبیعي (ایکولوژیک) ناورین راپېښولای شي.

ددې کتاب په څېړنه کې لیکوال داختلافي مواردو په برخه کې د پرتلیز مېتود پربنسټ، پر کوم ځانګړي نظر ټینګارنه کوي، بلکې بېلابېل روایتونه یې را اخیستي دي، خپل نظر یې هم ورسره ګډ کړی دی او یقین ته نږدې پایله یې ښوولې ده، چې دا دیوه ځیرک څېړونکي ځانګړنه ده.

د لیکنې ژبه یې ساده او روانه ده، لوستونکی یې په څېړنه کې له روایتي ـ تصویري نثر څخه د زده کړې ترڅنګ ادبي خوند هم اخیستلای شي.

دښاغلي میاخېل دغه زیار، د یوه ښه نوښت په توګه، موږ ته دا فکر راکوي، چې د هر ولایت په اړه دغسې یوه معلوماتي جونګ او ( پروفایل) لیکنې ته اړتیا شته، که موږ د هېواد د ټولو ولایتونو په اړه دغسې مفصل معلومات رامنځته کړو، چې په هغو کې د طبیعي ـ بشري جغرافیا ترڅنګ د تاریخ، بشرپوهنې، فرهنګ،اقتصادي سرچینو، دودونو، قومي جوړښتونو، اداري واحدونو او نوروځانګړنو په اړه څېړنه شوې وي، په حقیقت کې به د افغانستان پېژندنې په برخه کې یوه بډایه او بشپړه ټولګه رامنځته شوې وي.

ځوان نسل ته دغسې متون د خپل هېواد په اړه داسې معلومات ورکولای شي، چې دهغو پربنسټ له خپلو ملي ارزښتونو، پېښو، شتمنیو او هېوادنیو ځانګړنوڅخه خبر شي. دا معلومات د زلمیانو او پېغلو په زړونو



کې دهېواد مینه زیاتوي . خلک دهرې سیمې له تریخ تاریخ څخه پند اخلي او بیا نه پرېږدي، چې په سیمو کې یې بدې پېښې تکرارشي.

زه په پایله کې وایم، چې دښاغلي شاه محمود میاخېل دغه کتاب د یوه معلوماتي اثر ترڅنګ دنورو ولایتونو په اړه د ورته لیکنولپاره یو موډل هم ګڼلای شو.

زه ښاغلي لیکوال ته د دغه اثر د لیکلو مبارکي وایم او هیله کوم، چې په راتلونکي کې هم خپلو نورو څېړنو ته دوام ورکړي او یومهال د کونړ ولایت د هرې ولسوالۍ، کلي، درې او باندې په اړه د هراړخېزو معلوماتو په راغونډولو سره د کونړپېژندنې یو بشپړ پوهنغونډ (دایرة المعارف) رامنځته کړي.

**همت یې مل شه!**

**څېړنوال عبدالغفور لېوال**

**۱۳۹۵ د چنګاښ څلورمه**

**پغمان- کابل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سرڅو خبرې

د ۲۰۱۲م کال د جنورۍ په ۱۴ مه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مرستیال، پوهنمل غلام نبي فراهي تر مشرۍ لاندې په دغه وزارت کې یوه غونډه جوړه شوې وه. د دې غونډې موخه د کونړ ولایت د اهمیت په اړه د یو علمي سیمینار جوړول وو. دغې غونډې ته چې فراهي صاحب زه هم بللی وم، په کابل کې د مېشتو کونړیانو یو شمېر پوهانو، استادانو او لیکوالانو ته هم بلنه ورکړل شوې وه، چې د دې مهم، تاریخي او پر محتوا سیمینار په اړه ترې مشورې واخلي او د یاد سیمینار په جوړېدو او د مقالو په لیکلو کې ورسره مرسته وکړي. په دې غونډه کې د افغانستان راډیو او تلویزیون رئیس او لیکوال ښاغلي زرین انځور هم برخه درلوده.

د غونډې په پایله کې اکثرو لیکوالانو ته دنده ورکړل شوه، چې د تاریخ په اوږدو کې د کونړ د سیمې په سیاسي، تاریخي، جغرافیوي، قومي او ستراتېژیک اهمیت باندې د سیمینار لپاره چې د ۲۰۱۲ م کال د فرورۍ میاشتې په اخره کې د کونړ ولایت په مرکز، اسعدآباد (چغه سرای) کې به دایرېږي، مقالې ولیکي. په دې لړ کې ما ته هم دنده راوسپارل شوه چې تر پورته عنوان لاندې یو څه ولیکم. ما زړه نا زړه د دې مشرانو، لیکوالانو، استادانو او پوهانو غوښتنه ومنله ځکه چې د داسې مهم، علمي او څېړنیز مضمون د لیکلو پوره توان ما په ځان کې نه لیده او هم یې زیات وخت ته اړتیا درلوده، چې باید د کونړ د سیمې په اړه پوره تحقیق



او څېړنه وکړم تر څو وکولای شم چې پر ټولو اړخونو باندې تر یوه حده مؤثقه او سمه رڼا واچوم.

کنفرانس د فرورۍ میاشتې په ۲۶مه نېټه د کونړ ولایت په مرکز، اسعدآباد کې دایر شو، چې زیاتو لیکوالانو، ادیبانو، استادانو، قومي مشرانو او د دولت لوړپوړو چارواکو په کې برخه اخیستې وه. ما د خپلې لیکل شوې مقالې چې ۲۴ صفحې A-٤ سایز په اندازه وه، خلاصه او لنډه برخه ولوستله او بیا زما دا مقاله د تاند په ویبپاڼه کې هم خپره شوه. دا مقاله د یو شمېر کونړیانو خوښه شوې وه او زه یې دې ته وهڅولم چې دا مقاله نوره هم غني کړم تر څو د رسالې یا کتاب په شکل کې چاپ شي. له دغو هڅونکو نه یو هم د نورګل د ولسوالۍ محمد اکبر کرګر و، چې په لندن کې اوسېږي خو ما ورسره له پخوا نه هیڅ معرفت نه درلود. ده زما د برېښنالیک پته یې د تاند وېبپاڼې له چلوونکي نه پیدا کړې وه او ماته یې لیکلي و که دا مقاله پراخه کړې؛ نو ښه به وي ځکه د کرګر صاحب په نظر دا مقاله د یو څه ښو ماخذونو په استناد لیکل شوې او د هغه خوښه شوې وه.

بالاخره د زیاتو وظیفوي، ټولنیزو او کورنیو مصروفیتونو تر څنګ مې د کرګر صاحب او نورو دوستانو په هڅونه د دې مقالې په تکمیلولو او د نورو معلوماتو په لاسته راوړلو پیل وکړ. په دې لړ کې د کونړ ولایت په اړه ما ځینې نور ماخذونه پیدا کړل او چاپ شوي کتابونه او رسالې مې مطالعه کړې او هم مې د کونړ ولایت د بېلابېلو سیمو او ولسوالیو له اوسېدونکو او مشرانو سره مرکې وکړې، چې زیات معلومات ترلاسه کړم. د دوستانو او ملګرو په مرسته اوس دا کتاب چاپ ته تیار شو، تر څو زموږ راتلونکي کهول ته د یو یادګار او ژوندي تاریخ په توګه پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي سر کې د دې خبرې یادونه کوم چې دا کتاب د یوې مقدمې په توګه دې په دی امېد چاپ ته سپارم چې په راتلونکي کې زموږ ځوان او تکړه لیکوالان د کونړ ولایت ولسوالیو، کلیو او بانډو ته سفرونه وکړي او د دې نیمګړو معلوماتو د پوره کولو په اړه نور هم تحقیق او ریسرچ وکړي او خپلو وطنوالو ته باارزښته معلومات وړاندې کړي.

دا اړینه ده چې تاریخ لیکنه یا د خپلې ټولنې په اړه لیکل موږ باید د ملي وحدت په لور سوق کړي او له تاریخ نه باید عبرت واخلو، هغه اشتباوې چې پخوا شوي دي بیا تکرار نه شي. که تېر تاریخ زموږ د ولسونو په منځ کې لا نور درزونه او نفاق پیدا کوي او موږ منفي خواته بیايي نو بیا تاریخ پېژندنه موږ ته څه ګټه نه رسوي. ښه دا ده چې موږ د تاریخ نه مثبت درس او عبرت واخلو تر څو د خپل هېواد د سوکالۍ لپاره ترې مؤثره ګټه پورته کړو.

د دې کتاب په لیکنه کې ما تر خپله وسه کوښښ کړی چې مؤثق معلومات ترلاسه کړم او بې له تحریفه او په سمه توګه یې رانقل کړم او خپل نظر د مختلفو پېښو په اړه جدا ذکر کړم، چې البته هغه به زما خپل قضاوت وي. که په کوم ځای کې اشتباه شوې وي او کوم نوم ما سم نه وي لیکلی نو زه دمخه د لوستونکو نه بخښنه غواړم.

زه د ټولو دوستانو نه زیاته مننه کوم چې د دې کتاب په لیکلو کې یې له ما سره مرسته کړې او له ما سره یې مرکې کړې او هم ښې مشورې د دی کتاب په لیکلوکې راکړې دي. په خاصه توګه د لوګر والي محمد حلیم فدایي، خېړنوال عبدالقیوم زاهد مشواڼي، خېړنوال محمد ظاهر شکیب، احمدالله ارچیوال، اسدالله ساحل او استاد هجرت الله اختیارنه ډېره زیاته مننه کوم. په خاصه توګه د مشواڼي صیب او اختیار صیب نه مننه کوم چې له خپلو ټولو بوختیاوو سره سره دې ته چمتو شول چې د



دې کتاب ایډیټ پر خپله غاړه واخلي او زما ادبي غلطۍ او په خاصه توګه (ی ګانې) سمې کړي. همدا ډول زه د رحمان الله بهیر نه مننه کوم چې د دې کتاب په ډیزاین او چاپ کې یې مرسته کړې ده.

**په کونړۍ مینه او درنښت**

**شاه محمود میاخېل**

**کابل- افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سرلیک ... مخ

د ریسرچ ستونزې، تاریخ پوهنه او ټولنپېژندنه .................... ٤
د دې کتاب په اړه لنډ معلومات .................... ۸
منابع او ماخذونه .................... ۱۰

لومړۍ برخه

د کونړ د سیمې سیاسي جوړښت او پس منظر .................... ۱٤

دویمه برخه

د غازي میرزمانخان په اړه معلومات چې خنګه مشهور او .................... ۲۷
د لوی خان میرزمانخان رول په کونړ کې .................... ۲۷

درېیمه برخه

د رنګرېزانو جنګ یا دوبي کال، د ساپو جګړه، .................... ٤۹
د رنګرېزانو جنګ یا دوبي کال .................... ٤۹
خاص کونړ .................... ٤۹



د ګلاپړۍ جګړه .................... ۵۱
د ساپو پاځون یا د ساپو بلوا (۱۳۲٤ ل کال) .................... ۵۳
د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د ساپو د کال د بمباریو د دریو .................... ٦٦
د باجوړ جنګ (۱۹٦۰م کال) .................... ٦۹

خلورمه برخه

په کونړ کې د علماء تحریک او د ثور د کودتا نه وروسته د .................... ۷۱

پنځمه برخه

د کرالي (کرهالي) د کلي قتل عام (حمل ۳۱ مه نېټه کال .................... ۸۹

شپږمه برخه

د کونړپه ولایت کې قومي جوړښت او روحاني نفوذ .................... ۹۲
قومي جوړښتونه .................... ۹۲
روحاني نفوذ .................... ۹٦

اوومه برخه

د کونړ ولایت د اداري واحدونو په اړه معلومات .................... ۱۰۳
اداري واحدونه او قومي جوړښت په هره .................... ۱۰٤
مرکز اسعدآباد (چغه سرای) .................... ۱۰٤
د خاص کونړ ولسوالي .................... ۱۰۹
د نورګل ولسوالي .................... ۱۲۵
د څوکۍ ولسوالي .................... ۱۲۸
د نرنګ ولسوالي .................... ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکاڼو ولسوالي .......................................... ۱۳۵
د مروړې او شلطن ولسوالي.............................. ۱۴۰
د وټه پور ولسوالي ........................................ ۱۴۲
د ننگلام ( دپېچ درې ) ولسوالي.......................... ۱۴۴
د چپې درې ولسوالي ..................................... ۱۴۷
د شیگل ولسوالي .......................................... ۱۵۱
د غازي آباد ولسوالي ..................................... ۱۵۴
د دانگام ولسوالي ......................................... ۱۵۶
د اسمار ولسوالي .......................................... ۱۵۸
د ناړی ولسوالي............................................ ۱۶۰

## اتمه برخه

د کونړ اقتصادي اهمیت، دودنه، رواجونه او د خلکو د ژوند ........۱۶۶
اقتصادي اهمیت د کونړ :.................................. ۱۶۶
میلمه پالنه ................................................ ۱۶۹
جرگې او مرکې............................................. ۱۶۹
اشر او بېگار ............................................... ۱۷۲
موسیقي او لوبې ............................................ ۱۷۴
په کونړ کې د زده کړې ستونزې ........................... ۱۷۸
شنې شپې .................................................. ۱۸۲



# د ریسرچ ستونزې، تاریخ پوهنه او ټولنپېژندنه

د ډېرو افغانانو لپاره د ریسرچ یا تحقیق اصلي ستونزه په خپلو ژبو کې د معلوماتو او اسنادو کمښت دی او هم یو شمېر زیات اسناد په بېلابېلو جنگونو او جگړو کې له منځه تللي دي. د دې ستونزو یو بل لامل د وخت د زمامدارانو له وېرې او یا د حکومتونو د سانسور له امله د افغانستان تاریخ د مؤرخینو او لیکوالانو له خوا په سمه توگه په رسمي ژبو نه لیکل کېدای شي. د افغانستان په اړه اکثره تاریخي کتابونه په نورو ژبو لیکل شوي دي. په دې توگه په رسمي ژبو او خاصتاً په پښتو ژبه کې موږ ډېر کم معلومات د خپل تاریخ په اړه لرو. همدا رنگه په مکاتبو کې موږ هم خپل تاریخ په سمه توگه نه دی لوستلی او یوازې کرونولوژي (Chronology) یعنې د تاریخي پېښو فهرست مو لوستلی دی.

بله مهمه ستونزه دا ده چې د افغانستان تاریخونه اکثره پردیو په خپلو ژبو لیکلي دي؛ نو پر دې اساس زموږ د ولس زیاتره وگړي له خپل تاریخ نه ناخبره دي. د دې ترڅنگ له تاریخ لیکلو نه د بهرنیانو برداشت او قضاوت د یو افغان په پرتله فرق کوي او شاید چې ډېر معلومات یو څه تحریف شوي هم وي. زه تاریخ لیکونکی نه یم او د ژورنالست په توگه اکثره زما لیکنې گزارشي بڼه لري؛ خو بیا هم د تاریخي واقعاتو راټولول او گزارش د پېښو یو ښه انځور ټولنې ته وړاندې کولی شي او تحلیل او قضاوت د پېښو په اړوند په لوستونکو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ډېره ستونزمنه ده که یو تاریخ لیکونکی هر څومره کوښښ وکړي چې بېطرفي او شخصي تأثرات له خپلو لیکلو نه لرې وساتي؛ خو بیا هم د شخصي تأثراتو او لرلید تأثیرات د یو لیکوال د تاریخ لیکلو په گزارش کې هرو مرو څه ناڅه موجود وي. پروفیسر- ډاکټر یعقوب بنگښ لیکي چې تاریخ لیکل په هره زمانه کې بې طرفه پروسه نه ده، که تاریخ لیکونکی هر څومره کوښښ وکړي بیا هم بېطرفه پاتې کېدای نه شي؛ نو پر دې اساس د هر پېر او وخت د تاریخي پېښو زیات کتابونه او ډولونه شته دي. که چېرې تاریخ لیکونکي بېطرفه وي نو بیا به د یوې زمانې یو تاریخ کافي وي او په دې توگه به د تاریخ لیکونکو کار او دنده ختمه وي[1].**

**که موږ د تېرو درې څلورو لسیزو ژوندي تاریخ ته نظر واچوو؛ نو اوس هم موږ دا پورته نیمگړتیاوې لرو چې د خپل وخت او ماحول تاریخي پېښې مو پخپله نه دي لیکلي او په نورو ژبو کې ډېرې زیاتې لیکنې شوي دي. زما هیله د ټولو افغاني لیکوالانو نه دا ده، چې د خپل وخت پېښې باید پخپله ولیکي، ځکه چې د افغانانو انځورگرنه (برداشت) د یو خارجي له انځورگرنې نه خورا توپیر لري او په دې توگه به موږ وکړای شو چې د خپل ځان په اړه یو صحیح انځور خپل راتلونکي نسل ته پرېښودلی وي.**

**تاریخ لیکنه د تیرو پیښو مطالعه ته وایې او په تیر تاریخ باندې پوهیدل هرې بشري ټولنې لپاره خورا اهمیت لري ځکه د تیرو پیښو نه موږ د عبرت درس اخلو چې څنگه انسانانو تکامل کړئ، څنگه سره یې**

[1] http://jang.com.pk/thenews/sep۲۰۱۳-weekly/nos-۱۵-۰۹-۲۰۱۳/pol۱.htm#۱
Historical myths and realities by Professor Yaqoob Bangash



**مینه او محبت درلوده او یا ولې یې سره جنگونه کړي دي او په څه ډول د دیپلوماسي نه د صلح او جنگ په وخت کې کار اخستلې دی.**

**په عمومي توگه د تاریخ پوهیدنې موخې په پنځه ډوله کټگورې کولې شو[2]:**

**اول: تاریخ مونږ د تیرو پیښو د عمق نه مو خبروي چې څنگه مو سره اړیکي درلودي او څنگه رابطه د تیرو پیښو تر منځ موجود وه.**

**دویم: تاریخ پوهیدنه مونږ پیښو ته متوجه کوي که په سمه توگه توجه ونشي نو تیر تاریخ بیا تکراریږي او باید اگاه اوسو تر څو بیا د تیر په څیر بدې پیښې تکرار نشي.**

**دریم: د تیرو پیښو نه خبریدل مونږ ته انرژي راکوي چې باید هڅاند اوسو ترڅو ښه او ارام ژوند ولرو.**

**څلورم: تاریخ مونږ ته د تیرو تمدنونو توپیرونه او مقایسه رازده کوي او بې له تاریخه سیاست شتون نه لري نو ځکه وایې چې تاریخ ونه ده او سیاست یې میوه ده.**

**پنځم: د نړي د تېرل شوو تاریخي پیښو، د نه خبرتیا له امله زمونږ نوی نسل سم تحلیل نشي کولاې چې تیري پیښي څنگه رامنځته شوي دي ترڅو دوی د اوسنې حالاتو سره سم تصمیم ونیسي او دا جوته کړي چې ولې مونږ په موجوده حالت کې قرار لرو.**

**همداشان د سوسیالوژۍ یا ټولنپوهنې د علم پر اساس د یوې ټولنې جوړښت او دودنه د ټولنې په انکشاف کې خورا اهمیت لري. زما په اند موږ ته په کار ده، چې خپله ټولنه په سمه توگه وپېژنو ترڅو وکړای شو په**

[2] https://www.quora.com/What-is-the-benefit-of-reading-history-books (اخری ځل دا ویب پاڼه په ۲۷ جولای کال ۲۰۱۶م کتل شوی ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه او سالمه توگه خپلې ټولنې ته د خدمت جوگه شو. که موږ خپل تېر تاريخ ته نظر واچوو نو دا جوتېږي چې زموږ د پخوانيو مشرانو يوه لويه اشتباه او ستونزه دا وه چې دوی خپله ټولنه سمه نه پېژندله او د داسې پروگرامونو پلي کول يې غوښتل چې زموږ د ټولنې د خپل وخت او زمان له عيني او ذهني شرايطو سره يې خورا توپير درلود. نو د دې پر ځای چې زموږ ټولنې ته گټه ورسوي ډېر زيانونه يې ورته ور اړولي دي، چې تر اوسه پورې موږ د تېرو رژيمونو او د مشرانو د اشتباهاتو او کړنو تاوان ورکوو. که موږ بيا هم خپله ټولنه په سمه توگه ونه پېژنو نو زموږ د دې پېر (دور) مشران به هم د پخوانيو غونډې اشتباگانې تکرار کړي او زموږ راتلونکي نسلونه به زموږ په خبر د تېرو نسلولونو د اشتباگانو درانده تاوانونه ورکړي.



## د دې کتاب په اړه لنډ معلومات

دا کتاب په اتو برخو وېشل شوی دی:

لومړۍ برخه: د کونړ د سيمې سياسي جوړښت او پس منظر دی. د دې برخې په اړه معلومات ما له مختلفو منابعو نه ژباړلي دي. پر دې سربېره د دې کتاب زياته برخه معلومات زما د خپلې پنځونې او له خلکو سره د مرکو يا د شفاهي تاريخ (Oral History)محصول دی. شفاهي تاريخ چې د يو نسل نه بل نسل ته پاتې کېږي، په تاريخ ليکلو کې خورا مهم ارزښت لري چې واقعيتونه ترې په ښه توگه څرگندېدلی شي.

دويمه برخه: د غازي ميرزمانخان په اړه معلومات دي، چې څنگه مشهور او بانفوذه شو او باالاخره ولې شهيد کړای شو. دا معلومات هم نوي دي او په نورو ليکنو کې ما نه دي لوستلي.

درېيمه برخه: د کونړ په سيمه کې پر مهمو جگړو باندې رڼا اچول شوې ده. دا جگړې د رنگرېزانو يا دوبي کال جنگ، د ساپو جنگ (ولس يې تر اوسه د ساپي کال په نامه يادوي)، د گلاپړۍ جگړه او د باجوړ جنگ دی. د دې جنگونو په اړه ډېرې کمې ليکنې شوي او د دې جگړو په اړه نوي معلومات راټول شوي دي.

څلورمه برخه: په کونړ کې د علماوتحريک او د جهاد پيل دی چې په دې اړه هم ډېرې کمې ليکنې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځمه برخه: د کرالې د کلي قتل عام (۳۱ حمل ۱۳۵۸ل) دی. که څه هم د کرهالې د پېښې په اړه کافي معلومات خپاره شوي؛ خو د دې پېښې یادونه په دې کتاب کې ضروري وه. دا معلومات هم د مرکو او چاپي لیکنو په استناد راټول شوي دي.

شپږمه برخه: د کونړ په سیمه کې قومي جوړښت او روحاني نفوذ هم مهم رول لوبولی دی، په دې اړه هم کمې لیکنې شوي دي.

اومه برخه: د کونړ ولایت د اداري واحدونو په جوړښت او د هرې ولسوالۍ په اړه د قومي او جغرافیوي جوړښتونو معلومات راټول شوي دي. دا هم نوي معلومات دي، چې د کونړ په اړه په نورو لیکنو کې نشته دي.

اتمه برخه: د کونړ ولایت په اقتصادي اهمیت، د سیمې په ځینو دودونو، رواجوانو او د خلکو پر ژوند باندې اجمالي رڼا اچول شوې ده. دا برخه هم نوې ده او په دې اړه هم په لیکلي شکل معلومات ډېر لږ او په نشت حساب دي.



## منابع او ماخذونه

د دې کتاب د محتوا یوه برخه په تېرو پنځو لسیزو کې کونړ ولایت ته زما د کاري سفرونو او خپلې ولسوالۍ (خاص کونړ) کې د اوسېدو او خلکو سره د پوښتنو او مرکو محصول دی، چې ځینې برخې یې زما په دوه نورو کتابونو کې «د واقعیتونو په بهیر کې» او«بېړنۍ لویه جرگه او په مشرقي ولایتونو کې د انتخاباتو بهیر» چاپ شوي دي. همدا رنگه د دې معلوماتو یوه بله برخه په دوه نورو مقالو کې چې ما په انگریزي ژبه لیکلي دي چاپ شوي دي. یوه مقاله چې د قومي جوړښتونو او پښتونولۍ ارزښتونه په امنیت او حکومتدارۍ کې نومېږي

(The Importance of Tribal Structure and Pakhtunwali in Afghanistan: Their role in Security and Governance)

چې د هندوستان په کلکته ښار کې د مولانا عبدالکلام آزاد د انستیتوت له خوا په ۲۰۰۸ م کال کې چاپ شوې او بله مقاله د بشري امنیت او د قانون حاکمیت: د افغانستان تجربه تر عنوان لاندې

Human Security and the Rule of Law: Afghanistan's (Experience) د یوکتاب[3] برخه ده چې په ۲۰۱۰ م کال کې د لندن د کیمبرج پوهنتون له خوا خپره شوې ده. همدا رنگه ما له یو شمېر نورو انگریزي ماخذونو نه هم استفاده کړې ده.

څرنگه چې د کونړ سیمه ډېره غریبه او وروسته پاتې سیمه ده؛ نو ما ځینې قصې او د سترگو لیدلي حالات دلته لیکلي دي، چې له یوه اړخه

[3] The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Action, edited by Whit Mason and published by Cambridge University Press in ۲۰۱۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ستونزې باید ثبت او راتلونکي نسل ته د عبرت په توګه پاتې شي او له بله اړخه اوسني نسل ته دا باید جوته شي، چې د دوی مشرانو څومره ستونزې ګاللي دي او د ژوند کولو د ډېرو ابتدایي او اساسي اړتیاو نه څومره محروم ولس و؛ خو د دې ترڅنګ یې کوښښ کړی دی چې ژوند او تعلیم ته دوام ورکړي. زموږ ځوان نسل ته زموږ په پرتله د ژوند او تعلیم ښه لاره هواره ده؛ نو دوی باید له موږ نه هم زیاتې هلې ځلې وکړي چې په ملي او نړیواله کچه له موجوده رقابتونو او سیالیو وروسته پاتې نه شي.

ما د خپل ژوند او سترګو لیدلي حالات ځکه لیکلي دي، چې د افغانستان د بېلابېلو سیمو وګړي په عمومي توګه دا فکر کوي، چې ګوندې د دوی سیمه د افغانستان د نورو سیمو نه وروسته پاتې سیمه ده او یا په دوی د وخت د بېلابېلو واکدارانو له خوا ظلم شوی دی. حال دا چې د وخت واکمنو نظامونو د خپل قدرت د بقا لپاره په هره سیمه او پر هر قوم باندې په بېلابېلو شکلونو ظلم کړی دی. که څه هم زموږه کورنۍ نسبتاً په سیمه کې تعلیمیافته او متوسط اقتصاد یې درلوده؛ خو بیا هم زموږ ژوند یو وروسته پاتې ټولنیز ژوند و.

د افغانستان د بېلابېلو سیمو او حتی په کونړ کې هم د وګړو ترمنځ تګ راتګ د جغرافیوي موقعیت او هم د مواصلاتي اسانتیاوو د نیمګړتیاوو او د اقتصادي کچې د ټیټوالي له امله پخوا ډېر کم و؛ خو د تېرو څلورو لسیزو د جګړو او جدایۍ له امله د افغانانو ترمنځ مختلفو سیمو ته تګ راتګ نور هم کم شوی دی. هر څوک په خپله سیمه کې لکه چې په بېلابېلو جزیرو کې ژوند کوي، اوسېدلي او یوازې د خپلو سیمو له خلکو سره په اړیکه کې پاتې شوي دي؛ نو په دې توګه افغانان د یو بل له ستونزو نه کم باخبره دي. زما ډېر ښه یادېږي چې کله موږ په ۱۳۵٦ل کې د کابل پوهنتون ته له کونړ نه راغلو؛ نو کابل ته د کونړ د یو شمېر زیاتو



محصلینو همدا لومړنی سفر و. زما یو کس هم صنفي سید غریب چې د خاص کونړ ولسوالۍ د سرای د کلي اوسېدونکی و، ساینس پوهنځي ته بریالی شوی و؛ خو دا چې په دري ژبه نه پوهېده او دا یې کابل ته لومړی ځل ورتګ و؛ نو ډېر سخت خفه و، درسونو ته به نه ورته او روحي مریضي ورته پیدا شوه. موږ پر دې وېرېدو چې رانه مړ نه شي؛ نو بیا یې ځان د ننګرهار عالي دارالمعلمین ته تبدیل کړ. حال دا چې ده دا استعداد درلود چې د ساینس پوهنځي ووایي. همدا رنګه ما سره د لیلیې په خونه کې په لومړي سمستر کې ۱۴ کسه وو، چې اکثره یې مشرقیوال و خو په لومړي سمستر کې موږ یوازې درې کسه کامیاب، یو کس مشروط او لس نور ناکام شول. حال دا چې هغه محصلین چې ناکام شوي وو ډېر زیات سبق یې وایه؛ خو د دوی د ناکامۍ اصلي علت په دری ژبه نه پوهېدل وو.

زما په اند په تېرو نظامونو کې یوازې څو محدودو کورنیو او اشخاصو په هره سیمه کې رول درلود او د حکومتونو له قدرت نه یې ګټه اخیستله؛ خو دا نظامونه په کلي شکل کې استبدادي او وروسته پاتې نظامونه وو؛ چې د عامو وګړو لپاره یې په ټول ملک کې د ولس د هوساینې او پرمختګ لپاره کوم خاص پروګرامونه او پلانونه نه درلودل. حتی د کابل ښار د شپږ میله ساحې د محدودې نه بهر چې به یې ورته شش کرویي د کابل ویله د خلکو ژوند د ښار له دننه خلکو سره نهایت زیات توپیر درلوده. د هغو کسانو ژوند چې د شش کرویی په داخل کې وو نسبت د هغو کسانو نه چې له شش کرویي بهر اوسېدل، د ځمکه او اسمان تر منځ توپیر درلود. په عامه توګه د ښاریانو او اطرافیانو د ژوند تر منځ خورا زیات توپیر موجود و،چې اوس هم دا توپیرونه زموږ په ټولنه کې شته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د کونړ په اړه ما مختلف کتابونه او مقالې چې ځینو کونړیانو لکه سید شمس الدین مجروح، څېړنپوه رازقي نړیوال، ډاکتر عبدالرحمن زماني، انجینروحیدالله سباون او عبدالمالک ساپي لیکلي دي، لوستلي دي اوتر یوه حده مې د دوی د لیکنو نه استفاده کړې ده او زه له دوی نه منندوی یم.



# لومړۍ برخه

## د کونړ د سیمې سیاسي جوړښت او پس منظر

د کونړ سیمه چې د افغانستان په شمال ختیځه برخه کې پرته ده د شمال ختیځ او سهیل له خوا د کوزې پښتونخوا د چترال، دیر، باجوړ او مومندو له ایجنسۍ سره نښتې ده. د لویدیځ له خوا د ننګرهار سره او د شمال له خوا د نورستان او لغمان ولایتونو سره لګېدلې ده. د مرکزي احصائیه او UNFPA د ۲۰۰۴م کال د ګډ ریسرچ او تحقیق پر اساس د کونړ ولایت مساحت ۴۹۲٦ کیلو متره مربع او ټول نفوس د کونړ ولایت یې ۴۱۳۰۰۸ کسه تخمین کړي دي. د کونړ ولایت په سلو کې ۹۵،۷ وګړي کلیوالي ژوند او یوازې په سلو کې ۴،۳ وګړي نیمه ښاري ژوند لري. کونړ غرنۍ سیمه ده چې په سلو کې ۸٦ مساحت یې غرونه دي. پر دې اساس کونړ د کرکیلې ډېرې کمې ځمکې لري. په یوه روایت کونړ غرنۍ ځمکې ته وایي. پخوا به د ځمکې اندازه په کونړ کې په (نړ) کېدله یعنې یو نړ به یې یوې دړې تخم ریز (تخم شیندلو) ځمکې ته وایه. یوه دړۍ پنځه کیلو وزن ته وایي نو په دې توګه څلور نړه تقریباً یو جریب ځمکه کېږي، ځکه درې منه پخه تخم ریز چې یویشت کیلو شي یو جریب ځمکې ته وایي. د پېچ په دره کې پخوا ځمکه په ګېډۍ باندې هم اندازه کېدله. یو ګېډۍ ځمکه د یوه کچه چارک تخم په اندازه وه یعنې څلور ګېډۍ ځمکه به یې یوې دړۍ تخم شیندلو ځمکې ته وایه. په مروره او باجوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ځمکې د کچ اندازه د (چوکه) په نامه یادېدله. پنځه لس چوکې ځمکه یوه دړۍ تخم شیندلې ځمکه کېږي.

د کونړ نوم د کونړ د کلي نه اخیستل شوی دی، چې د خاص کونړ په ولسوالۍ کې موقعیت لري. د پخوانیو مشرانو په قول، د کونړ کلی پخوا د کونړ د حاکمانو د یوې برخې مرکز و. د کونړ د کلي سهیل پلو ته د سرکاري باغ په نامه ځای اوس هم شته؛ خو د باغ آثار اوس نه ښکاري. دا چې امان الله خان د لوی خان میرزمان خان سره وروري درلوده؛ نو دا ځمکه او باغ یې د میرزمان خان مشرې لور ته چې زما مورنۍ نیا وه په زړوکي کې تحفه ورکړې وه. زما د مشر تره، وکیل عبدالقادر په قول چې تقریباً درې دېرش کاله پخوا د اتیا کلونو په شاوخوا کې وفات شوی دی ما ته ویلي وو، چې د خاص کونړ او کوز کونړ مرکزیت تر پشد او اسعداباد د مخه خاص کونړ و. د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې چې ټول کونړ او نورستان د مرکزي دولت تر ولکې لاندې راغلل، چغه سرای (اسعدآباد) یې د ستراتیژیکي موقعیت له امله د مرکزیت حیثیت غوره کړ. وروسته له هغه کونړ په درېوو برخو، بر کونړ (د اسمار سیمه)، خاص کونړ او کوز کونړ( د ښېوې ولسوالۍ سیمه) ووېشل شو.

زما د مرکو په لړ کې دا جوته شوې ده چې د شینوارو قوم چې د تورخم-جلال اباد په لاره د کوټ، بټې کوټ، روداتو، هزار ناو او تر لعل پورې سیمو پورې میشت و د وخت د زمامدارانو او هم هند ته د یرغلګرو قواو د تګ راتګ په مخ همیشه خنډ و، نو دوی یې د دې ځای نه د مومندو د سیمې اخری سرحد ته چې د ناوګې سره نږدې د محمد ګټ سیمه ده په زوره مجبور کړل چې کډه او د خاګې، شیخ بابا، سوران او علینګار سیمو کې میشت شي او د هغه ځایونو نه یې مومند د دوی په



سیمو کې میشت کړل[٤]. دا شفاهي روایت سم ښکاري ځکه د شینوارو څلور قومونه هلال زي په شیخ بابا، عبدالرحیم خیل په څاګې کې، شبیل خیل په سوران او سلیمانخیل په علینګار کې اوس هم میشت دي. د دوی دا مهاجرت د ١٦ پیړې نه د مخه شوی دی خو دقیق وخت یې نه دی معلوم.

په شپاړسمې پېړۍ کې د کونړ د شینکوړک سیمه، شینوارو د دغې سیمې د بومي اوسېدونکو نه چې کافر و ونیوله او دوی یې د شمال خوا ته وتنبول. د ساپو قومونو هم په همدغه وختونو کې د پیچ دره د بومي اوسیدونکو نه چې کافرو نیولې ده[٥]. زما د مرکو په ترځ کې دا جوته شوې ده چې په همدې وخت کې شیخ عبدالرحمن[٦] د ساپو سره یو ځای کونړ ته د کافرو پرضد لښکر کړی دی او د شنیکوړک سیمه یې د ځایي کافرو نه نیولې ده. په دغه لښکر کې دری حصې ساپي او یوه حصه شینواري وو. په همدغه وخت کې ساپو د پیچ، باډېل، دیوګل او مزار درې د ځایو کافرو نه نیولې او هلته میشت شوي دي. د انجینر وحیدالله په قول چې د خپلو مشرانو نه یې قصې اوریدلې، په دغه وخت کې د شینوارو درې زره کسه چې ښځې، ماشومان او نارینه و دشلطن د وړو ماموندو په مرسته چې په لاره کې پراته و شیګل او شینکوړک سمې ته ورغلي دی او هلته ځای په ځای شوي و. په دغه وخت کې یوازې کټار، ګمبیر او دیوز د

---

[٤] انجینر وحیدالله سباون سره مرکه (٢٣ جون کال ٢٠١٦م، کابل).

[٥] State and tribe in nineteenth-century Afghanistan: the reign of Amir Dost Muhammad Khan (١٨٢٦-١٨٦٣). By Christine Noelle دا پورته معلومات د دغه کتاب نه رانقل شویدي.

[٦] شیخ عبدالرحمن د انجنیر وحیدالله سباوون لری نیکه دی چې اوس دوی د شیګل په سیمه د اخونزادګانو په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافرو سره پاتي شول. شیخ عبدالرحمن بیرته ناوګې سميي ته ستون شوی دی او دهغه ځوی قاضي عثمان په شیګل کې میشت شو. کله چې شیخ عبدالرحمن وفات شو نو د شیخ بابا سیمه کې یې ښخ کړ او هغه سیمه اوس د شیخ بابا د سیمي په نامه یادیږي. د شیخ بابا دوه زامن د هغه سره هماغلته د شیخ بابا په سیمه کې پاتي شول. د امیر عبدالرحمن خان د دور په لومړی سر کې کټار، دیوز او ګمبیر هم مومندو، ماموندو، شینوارو او ساپو په شریکه ونیول او هلته اوس د څلور واړو قومونونه کورنې میشت شوي دي. د دوی د حمله مرکز یا سنګر د کونړ په اوسنې ښانګار سیمه کې و چې د چغه سرای ختیځ لوری ته موقعیت لري. وایې چې د سنګرکلمه په ښانګار بدل شوی دی. په ګینتول سیمه کې چې د هغه وخت د ځایې اوسیدونکو مانې وه، د دوی پادشاه یا مشر اوسیده خو ساپو، مومندو، ماموندو او شینوارو د شیګل عبدالجلیل اخونزاده د مرکه چې په توګه وروليږه که هغوي بې له جنګه تسلیم شي نو دوی به دوی ته څه ونه وایې خو د هغه وخت د ځایې اوسیدونکو مشر هغه وژلی و نو بیا دی قومونو په شریکه په هغوي حمله وکړه او د ځایې اوسیدونکو نه یې پورته سیمي ونیولي. شینوارو او سالارزو په شریکه نیشګام او بارګام هم د ځایې کافرو نه په همدغه وخت کې نیولي دی خو شینوارو خپله نیشګام نه شو ساتلی هغه یې په ګور، کوهستانو بیرته خرڅ کړ او په بارګام کې اوس هم سالارزي میشت دي.

په شپاړسمې پېړۍ کې د کونړ د شینکوړک سیمه، شینوارو د دغې سیمې له بومي اوسېدونکو نه چې کافر وو، ونیوله او دوی یې د شمال خوا ته په شا وتمبول. د ساپو قبیلې هم په همدغو وختونو کې پېچ دره د هغې سیمې له بومي اوسیدونکو نه نیولې ده، چې کافر وو. په ۱۸۲۰م کال شاوخوا د ماموندو قبیلې د باجوړ د میرعلم خان په مشرۍ د چغه



سرای او شیګل سیمې ونیولې، چې مخکې دا سیمې د اسمار د خانانو له خوا اداره کېدلې.

همدا رنګه مومند، شینواري او ساپي د پشد خانانو، چې سیدان و، تابع وو او باج به یې ورته ورکاوه. د پیر بابا[۷] مشر زوی سید کمال شاه په پشد کې میشت شو. د سید کمال شاه کورنې په شپاړسمه پېړۍ کې د میرعباس له خوا چې په پشد کې د میا عباس بابا په نامه یادیږي د لومړی ځل لپاره په دغه سیمه کې روحاني نفوذ ټینګ کړ. وروسته د میاعباس زوی، سید عبیدالله د خپل حکمراني قلمرو تر کوز کونړ د پایکو تنګي تر سیمې پورې وغځاوه، چې اوس د ننګرهار ولایت اړونده سیمه ده. د سید عبیدالله نه وروسته سیدلطیف او د هغه نه وروسته سیدنظیف د کونړ د سیمې حاکمان وو. د پشد سیدان له ۱۷۷۰ـ۱۸۲۵ کلونو پورې د کونړ حاکمان وو او پشد یې د حکمرانۍ مرکز و. د پشد حاکمانو به د کال تقریباً له ۶۰۰۰۰ نه تر ۸۰۰۰۰ پورې روپۍ د کونړ له خلکو نه باج اخیسته او د دوی رابطه د افغانستان له سدوزیو او محمدزیو حاکمانو سره یوازې په نامه وه او کله کله به یې د جنګونو په وخت کې یو څو اسونه هغوی ته ورکول.

په ۱۸۰۰م کال کې سیدنظیف د شاه زمان د ناسکه ورور شاه محمود سره پوځې ملاتړ وکړ او د شاه زمان په ماتې کې د سیدنظیف ملاتړ مهم رول ولوباوه؛ خو کله چې د شاه زمان سکه ورور شاه شجاع په ۱۸۰۳م کال کې قدرت ونیوه؛ نو د کونړ په سیمه یې یرغل وکړ؛ خو د سیدنظیف شخصي شناخت د دغه قواو له قوماندان، عرض بیګي اکرم خان پوپلزي

[۷] http://www.pirbaba.org/# د پیر بابا (سید محمد علي ترمزی) پلار د بابر په فوځ کې و او دهمایون اوښي و. پیر بابا پخپله د یوسفرو د مشهوره مشر- دولت خان سره په بنیر کې واده وکړ او هماغلته یې خپل روحاني نفوذ ټینګ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د دې باعث شو، چې هغه ته يې پنځه زره روپۍ رشوت ورکړ او دغه سيمه د هغه تر کنټرول لاندې پاتې شوه. په ۱۸۱۸م کال کې کله چې د محمدزو د مشرانو تر منځ د قدرت په سر کشمکشونه پيل شول او شاه محمود د قدرت نه لرې کړای شو؛ نو په دغه وخت کې د امير دوست محمد خان يو شمېر خپلوان په جلال آباد کې اوسېدل. کله چې محمداعظم خان په کابل کې قدرت ونيوه؛ نو د هغه وراره، نواب محمدزمان خان له سيدنظيف سره پوځي مقابله وکړه او په ۱۸۲۱م کال کې محمداعظم خان په خپله د کونړ سيمې ته ورغی او سيدنظيف يې دې ته مجبور کړ، چې د ښوې (کوزکونړ) سيمه پرېږدي. دغه سيمه يې د جلال آباد په والي پورې وتړله او هم يې له هغه نه ۸۵۰۰۰ روپۍ باج واخيست.

کله چې په ۱۸۲۳م کال کې محمداعظم خان مړ شو؛ نو د محمدزيو د مشرانو تر منځ د قدرت پر سر جګړې زياتې شوې او د دوی توجه د کابل نيولو ته واوښته؛ خو سيدنظيف په سيمه کې د باجوړ د خان، ميرعلم خان له سخت رقابت سره مخامخ و او مجبور شو، چې له ميرعلم خان سره خپښي وکړي؛ نو د هغه له خور سره يې واده وکړ. د ميرعلم خان له خور نه د سيدنظيف څلور زامن وشول چې فقير، امير، عباس او شهباز نومېدل. د سيدنظيف دې زامنو غوښتل چې د خپل ماما ميرعلم خان او د ناوه ګې د خان، اميرخان په ملاتړ د خپلو ناسکه ورونو، محی الدين، بهاوالدين، هاشم او حسين په پرتله په سيمه کې نفوذ زيات کړي تر څو د خپل پلار د مرګ نه وروسته قدرت ترلاسه کړي.

په ۱۸۲۴ م کال کې سيدنظيف د ناوه ګۍ سيمې ته له خپلو زامنو سره ورغی ترڅو ميرعلم خان پر دې قانع کړي چې د اميرخان سره دشمني ختمه کړي؛ خو په جرګه کې د سيدنظيف زوی سيدفقير خپل ناسکه



ورور محي الدين په چاقو وواهه او هغه يې مړ کړ. سيدنظيف له دې نه وروسته سيدفقير او د هغه سکه وروڼه د پشد له مرکز نه لرې کړل او د چغه سرای، شيګل، سرکانړو او دونايي په سيمو کې حاکمان مقرر کړل، چې وروسته پاتې سيمې وې او هلته يې لږې ځمکې درلودې او بهاوالدين ته يې د ټول کونړ قدرت وروسپاره. د دې کار نه وروسته سيدفقير په ښکاره د خپل پلار په مقابل کې بغاوت وکړ او د چغه سرای او شيګل سيمې يې خپل ماما ميرعلم خان ته او د سرکانړو او دونايي سيمې يې د ناوه ګۍ خان، امير خان ته پرېښودې، تر څو له هغه سره مرسته وکړي او له خپل پلار نه قدرت ونيسي. که څه هم د ده ماما او د ناوه ګۍ خان له سيدفقير سره په خپلو وعدو، چې مرسته به ورسره کوي وفا ونه کړه؛ خو سيدفقير وشو کړای چې په خپلو امکاناتو په ۱۸۲۵م کې خپل پلار سيدنظيف ونيسي، ويې وژني او د کونړ مرکزي سيمه (پشد) تر لاسه کړي؛ خو د کونړ سهيل لويديځه سيمه (خاص کونړ) د سيد بهاوالدين تر کنټرول لاندې پاتې شوه. دې وضعيت تر ۱۸۳۴ م کال پورې دوام وکړ، تر څو امير دوست محمدخان جلال آباد له خپل وراره، نواب محمدزمان خان څخه ونيوه. څرنګه چې سيدفقير د نواب محمدزمان خان پلوی و؛ نو هغه يې هم د قدرت نه لرې کړ او د لغمان چارباغ سيمې ته يې ولېږه. په دې توګه د کونړ په سيمه کې سيد بهاوالدين يوازينی حاکم پاتې شو او د دې وعده يې وکړه، چې امير دوست محمد خان ته به په کال کې ۱۹۰۰۰ روپۍ باج ورکوي.

څو کاله وروسته امير دوست محمد خان د جلال آباد والي محمد اکبر خان ته امر وکړ چې سيدبهاوالدين په دې بهانه ونيسي، چې ګونډې د انګليس يو کس جاسوس، شهزاده تيمور سره يې مراوده (ليکنۍ اړيکه) درلوده او ځای يې ورکړی و. هماغه وو، چې محمداکبرخان کونړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکرې واستولې او د بهاوالدین شتمني یې قبضه کړه، چې تقریباً یو لک روپۍ کېدې. د هغه ورور هاشم یې د کونړ حاکم مقرر کړ او د پخوا په پرتله یې پرې نهه زره اضافه روپۍ باج ومانه. کله چې انګریزانو په افغانستان یرغل وکړ، د بهاوالدین بخت بیا ویښ شو. که څه هم سیدهاشم تر ۱۸۳۹م کال پورې د کونړ سیمه په خپل کنټرول کې وساتله؛ خو په ۱۸۴۰ م کال کې سید بهاوالدین د انګریزانو په مرسته د کونړ واګې بیا په لاس کې ونیولې او سیدهاشم ته انګرېزانو یوازې مستمرې تنخواه ورکوله او په هغه یې قناعت وکړ.

د امیر دوست محمد خان په دویمه دوره کې، سیدبهاوالدین د کونړ حاکم پاتې شو تر هغه چې له هغه نه وروسته په ۱۸٦٦ م کال کې د هغه زوی سیدمحمود د هغه په ځای د کونړ حاکم شو. په دغه وخت کې د کونړ مالیه تقریباً دېرش زره روپۍ اټکل شوې وه. د دې پیسو نه به شپاړس زره روپۍ سیدمحمود پاچا د خپل خرڅ لپاره اخیستلې او نورې پاتې پیسې به یې په کابل کې د سدوز حاکم ته ورکولې. سیدمحمود پاچا تر ۱۸۸۳ م کال پورې د کونړ حاکم و، د محمداکبرخان سره یې نږدې اړیکې درلودې او د هغه له لور سره یې واده هم کړی و. کله چې د ۱۸٦٦ نه تر ۱۸٦۸م کلونو تر منځ په کابل کې د قدرت په سر شخړې روانې وې؛ نو سیدمحمود پاچا د امیر شېرعلي خان ډېر سخت پلوی و او په ۱۸۷۰ م کال کې چې کله امیر شېرعلي خان خپله دیارلس کسیزه مشورتي جرګه جوړه کړه؛ نو سیدمحمود پاچا د دغه جرګې غړی و. همدا رنګه سیدمحمود پاچا د دیر او باجوړ له خانانو سره د امیر شېرعلي خان د رابط یا مرکه چې په توګه رول لوباوه او ده د امیر شېرعلي خان په دربار کې د سرحدي سیمو په اړوند تصمیم نیولو کې خورا نفوذ درلود. یوازینی مشکل چې د امیر شېرعلي خان سره یې یادونه شوې هغه دا وه



چې سیدمحمود پاچا نه غوښتل چې د کونړ د عایداتو یوه برخه خپل مشر ورور حسام الدین ته ورکړي او په عوض د دې کې امیر شېرعلي خان د کونړ د غربي برخې عاید چې د حکومت ځانګړې برخې عاید و او کلنی تقریباً دولس زره روپۍ کېدلې هغه ته ورکولي[۸]. د پښد تاریخي پاچاهي کلا د کونړ له مهو تاریخي کلا ګانو څخه وه چې اوس هم د دغه کلا آثار یو څه شته چې د پښد له کلي نه تاو شوي وو.

د سیدمحمود پاچا د لټانو کیسه په کونړ کې خورا مشهوره ده او اوس هم چې څوک لټ او ناراسته وي؛ نو خلک ورته وایي چې ته خو د سیدمحمود پاچا لټ یې.

کیسه داسې وه چې وایي د سیدمحمود پاچا په دربار کې به بېکاره کسان همېشه پراته و او هیڅ کار به یې نه کاوه. بالاخره د دې لټانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېدو؛ یو وخت سیدمحمود پاچا ته چا ویلي و چې دا لټان هسې بېکاره پراته دي، که دوی په رښتیا لټان وي او کار نه شي کولی نو د دوی په شاوخوا کې اور ولګوه که څوک په رښتیا لټ وي هغه به ونه تښتي او که چا هسې په لټۍ ځان وهلی وي، وبه تښتي. په دې توګه به د اصلي او لټانو او هغو کسانو چې په ټګۍ یې په لټانو کې ځانونه وهلي دي، فرق وشي. کله چې د دې لټانو په شاوخوا کې دوی اور ولګاوه؛ نو زیات شمېر یې وتښتېدل او یو څه پاتې شول. یو شمېر یې دومره لټان وو چې خپل ملګرو ته به یې ویل زموږ دپاره هم فریاد وکړئ، چې وسوځېدو.

کله چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۹٦-۱۸۹۵م کلونو کې د کونړ او نورستان سیمې تر خپل کنټرول لاندې راوستې؛ نو د پښد د سیدانو

---

۸ **State and tribe in nineteenth-century Afghanistan**: the **reign of Amir Dost** Muhammad Khan (۱۸۲٦-۱۸٦۳). By **Christine Noelle** **دا پورته معلومات له دې کتاب نه رانقل شوی دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمراني یې هم ختمه کړه او سیدمحمود پاچا د سیدانو د سلسلې د کونړ د سیمې وروستي حکمران و. د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ په وخت کې د کونړ سیمه د کابل په مرکزي حکومت پورې وتړل شوه، چې د شرقي او مرکزي نورستان سیمې هم پکې شاملې وې. د کونړ سیمه په درېوو حصو ووېشل شوه: د بر کونړ (اسمار) سیمه، د خاص کونړ سیمه او د کوزکونړ (ښېوه) سیمه. د اسمار په سیمه کې یو غونډ و، چې وروسته په لوا او د ثور د کودتاه نه وروسته فرقه شوه. همدا رنګه په سرکانو او خاص کونړ کې هم پوځي قطعات له ډیورند کرښې سره پراته وو. وروسته د کوز کونړ سیمه د ننګرهار ولایت یوه برخه شوه.

رئیس تنظیمه (د مشرقي د سیمې مشر) به په جلال آباد کې و. د امان الله خان په دور کې د کونړ حکمراني، چې د حاکم اعلی په نامه یادېدله، مستقل اداري واحد شو. د کونړ لومړنی حاکم اعلی عبدالرزاق خان[9] نومېده. سید شمس الدین مجروح لیکي چې کله حاکم اعلی عبدالرزاق خان کونړ ته راغی نو کرتی او پتلون یې پر تن وو، د شپو خولۍ یې پر سر، ږیره یې خریلې او برېتونه یې هم نیمایي خریلي یعنې لنډ کړي وو. د حاکم اعلی دا ډول فېشن خلکو ته عجیبه غونډې ښکاره کېده. خلکو دا اوازه خپره کړه چې ګونډې عبدالرزاق خان د استقلال په جګړه کې بزدلي کړې او امان الله خان ورته امر کړی چې خپل برېتونه نیمایي وخریبه.[10] د امان الله خان له دور نه اوه نوې کاله کېږي که اوس هم ځوک کونړ ته له دریشۍ سره لاړ شي او د شپو خولۍ یې پر سر وي؛ نو ځوک ورته په ښه سترګه نه ګوري. مطلب دا چې د عامو خلکو په ذهنیت

[9] سرگذشت من: د سید شمس الدین مجروح اثر چې په ۱۳۹۱ هجري شمسي- کال کې د افغانستان ټایمز مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

[10] سرگذشت من، صفحه ۳۳



کې په دې ٦٩ کلونو کې ډېر لږ تغیر راغلی دی او د دې ډول ذهنیت درلودلو مهم عامل په دغه سیمه کې مسلسلې جګړې دي.

لغمان او شینوارو کې هم حکمرانۍ وې. په۱۳۴۳ل= ۱۹۷۷م کال کې کونړ له لوی ننګرهار نه جلا او د مستقل ولایت په توګه وپېژندل شو[11]. په ۱۹۸۹م کال کې چې کله د نورستان په نامه ولایت جوړ شو؛ نو ختیځ نورستان (کامدېش او برګمټال ولسوالۍ) او هم مرکزي نورستان (وایګل او پارون سیمې) د کونړ ولایت نه جلا شوې او د نورستان ولایت برخې وګرځېدلې. په دې توګه د لوېدیځ (غربي) نورستان چې د لغمان ولایت ولسوالي وه له لغمان نه جلا او د نورستان په ولایت پورې وتړل شوه.

اوس مهال د کونړ ولایت پر مرکز (اسعدآباد) سربېره پنځه لس اداري واحدونه یعنې ولسوالۍ لري. دغه ولسوالۍ د نورګل، څوکۍ، خاص کونړ، سرکانو، نرنګ، مروري، وټه پور، پېچ دره (ننګلام)، چپه دره، شیګل، شلطن[12]، اسمار، دانګام، ناړۍ او غازي آباد[13] په نومونو یادېږي.

د تاریخ په اوږدو کې د کونړ سیمه د لویو امپراتوریو لپاره د هند پر نیمه وچه باندې د حملو لپاره خورا مهمه سیمه وه، چې د دې سیمې نه به یرغلګرې قواوې تېرېدلې او د هند پر نیمه وچه باندې به یې خپلو

[11] http://books.google.com/books?id=tp٥IrLhWbTkC&pg=PT٤٥٩&lpg=PT٤٥٩&dq=Kunar+province+become+part+of+nangarhar+province+in+١٩٧٧&source=bl&ots=p٨-a٣٥Mjfh&sig=W_٧dfV٧AU١ponWodZSbx٧PQdmk٨&hl=en&sa=X&ei=isMmT٧LWFeLHsQKQmOiMAg&ved=٠CC٠Q٦AEwAg#v=onepage&q&f=false

[12] د شلطن ولسوالي د ډاکتر اشرف غني په حکومت کې رسمي شوه.

[13] د غازي اباد اوسنی ولسوالي پخوا د اسمار ولسوالي برخه وه، دا ولسوالي د ځونک د غازي په نامه ونومول شوه، چې اصلي نوم یې محمد غازي چوپان و. غازی چوپان په ختته نورستانی و او د جهاد په لومړیو یا (۱۳۵۸ل) کې د سین درې د مجاهدینو مشر و. چوپان په ورستیوکلونوکې د دیر او چترال ترمنځ چترال ته په لاره نامعلومو کسانو شهید کړ. غازی چوپان چې زما د پلار او زما نږدی ملګری و، خورا زړه ور، مېلمه پال او په وطن مین شخصیت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حملو ته دوام ورکاوه. مقدوني سکندر د کونړ د سیمې نه باجوړ ته واوښت او[۱۴] همدا رنګه ظهرالدین بابر[۱۵] او ګوډ تیمور هم د کونړ له لارې د هند پر نیمه وچه باندې خپلو حملو ته دوام ورکړی و.

په معاصر تاریخ کې هم د کونړ سیمې خاص اهمیت درلودلی دی او د کابل مرکزي حکومت همېشه کوښښ کړی، چې د کونړ له سیمې نه د حکومت پر ضد د ګاونډیانو د تهدیداتو مخه ونیسي او هغه خنډونه چې د حکومت پر ضد به محسوسېدل له منځه یوسي چې څو ښې بېلګې یې د ۱۳۲۴ل کال د ساپو پاڅون او په ۱۳۵۷ کال کې د ثور تر کودتاه وروسته د کونړ د خلکو پاڅون دی. په کونړ کې د حکومت پر ضد پاڅونونه په عوامو کې د انقلاب په نامه هم یادېږي.

د کونړ په تاریخ کې نورې مهمې پېښې هم تېرې شوي دي، چې د ارنوی غزا یا د استقلال څلورمه جبهه ده، چې غازي میرزمانخان یې مشري کوله. په خاص کونړ کې د رنګرېزانو پاڅون د پشد د سیمې د ګلاپړي جګړه او د باجوړ د جګړې یادونه ضروري ده. البته د دې پېښو د عواملو په اړه زیاتو څېړنو ته ضرورت دی؛ خو ما دلته په مختصره توګه څېړنه کړې او هغه معلومات چې ما په نورو لیکنو کې نه دي لوستلي، په دې کتاب کې مې راوړي دي. همدا رنګه د کونړ په سیمه کې په ملي او نړیواله کچه په بېلابېلو رژیمونو کې پخوا او هم په معاصر تاریخ کې مهم شخصیتونه، چارواکي او مشران تېر شوي دي چې سید جمال الدین افغان یې ښه نمونه ده.

[۱۴] http://books.google.com/books?id=۹۵qY۰qz۹۳ZUC&pg=PA۱۲۱&dq=Alexander+great+in+kunar&hl=en&sa=X&ei=RskmT۸PbHu-DsgK_-OyMAg&ved=۰CD٤Q٦AEwAg#v=onepage&q=Alexander%۲۰great%۲۰in%۲۰kunar&f=false

[۱۵] http://en.wikipedia.org/wiki/Babur



پر دې سربېره د سرکانو میاصاحب چې سید محمد اکبر شاه نومېده، غازي میرزمانخان، د تیرګړو پاچا صاحب چې سید حضرت شاه پاچا نومېده او د سید شمس الدین مجروح پلار و، شیخ پاچا د سلامپور، چې میر صاحب جان پاچا نومېده، مولوي جمیل الرحمن د پېچ درې، محمد هاشم زماني، ډاکتر کبیر ستوری، سید بهاوالدین مجروح، کشمیرخان، محمد غازي چوپان، جلاله خان، محمدمعظم اخوندزاده د خاص کونړ، منشي ګل محمدخان چې د ولسي- جرګې دویم منشي- و، وکیل میرزا محمدجان، میرزا محمدجان خان د خاص کونړ چې د ډاکتر کبیر ستوری نیکه وه، عبدالحکیم اخونزاده د نرنګ، صاحب حق صاحب د څوکۍ، د شونکړې انځرې ملا صاحب، میا محمدنعمان چې د منګوال میا صاحب په نوم یې شهرت درلوده، سلطان محمدخان د پېچ، وکیل محاکم خان، پروفیسر- رسول امین، د مزار درې عبدالوهاب ساپی، د څوکۍ لوی څارنوال عبدالهادی خلیلزی، ډاکتر عبدالرشید جلیلي، سناتور عبدالخالق او داسې نور. هغه څه چې ما له مشرانو نه اورېدلي او تر کومه حده مې د مرکو په ترڅ کې معلومات راټول کړي او چاپي آثار لوستلي دي غواړم په اجمالي توګه دلته د دې پېښو او د دوه مهمو شخصیتونو غازي میر زمان او مولوي جمیل الرحمن په اړه یو څه یادونه وکړم.

کېدای شي چې زما د ا لیکنه د ځینو کسانو د ذوق او شوق سره برابره نه وي او یا شاید هغوی د دغو پېښو نه بل رنګ تعبیر او تفسیر ولري؛ خو زما دا لیکنه زما د برداشت او معلوماتو په چوکاټ کې ده او تر خپله وسه مې کوښښ کړی، چې په معلوماتو کې ګوتې ونه وهم او واقعي معلومات درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

# د غازي میرزمانخان په اړه معلومات چې څنګه مشهور او د نفوذ څښتن شو ؟

## د لوی خان میرزمانخان رول په کونړ کې[۱۶]

په مشرقي سیمو او کونړ کې د غازي میرزمانخان چې د امان الله خان له خوا نه ورته (لوی خان) لقب ورکړل شوی و، یو پېژندل شوی نوم دی. د امیر عبدالرحمن له دور نه راپه دې خوا د ده د پلار، ګلروز نفوذ لومړی د کونړ په سیمه باندې او بیا وروسته د امان الله په دور کې د میرزمانخان نفوذ په مشرقي سیمه او هم د افغانستان په سیاست کې خورا مهم رول لوبولی دی. میرزمانخان د استقلال د څلورمې جبهې[۱۷] یا د ارنوی د جبهې مشري کوله. که څه هم د استقلال د څلورمې جبهې کتاب

[۱۶] میرزمانخان مشره لور بي بي مریم نومېدله، چې په خاص کونړ کې یې د مریم جانې په نامه شهرت درلوده. مریم جانه زما د مور له خوا نیا وه او د لعل محمد خان مېرمن و. لعل محمد خان چې په لعلو جان شهرت درلوده، کله چې مړ شو نو په کونړ کې د خپل خاوند د کورنۍ (میرزا محمدجان خان کورنۍ) او هم د میرزمانخان د کورنۍ نوم مریم جانې چې موږ به ورته کونړ ابۍ ویله، ژوندې ساتلی و ځکه د ساپو د پاځون په دور کې د میرزمانخان ټوله کورنۍ د کونړ نه هرات ته جلاوطن کړې شوه. مریم جانه، د مرحوم وکیل عبدالجلیل ملنګ، مرحوم ډاکتر کبیر ستوری او څارنوال محمد نعیم مور ده.

[۱۷] د استقلال څلورمه جبهه: مؤلف عبدالخالق اخلاص، سریزه او اهتمام حبیب الله رفیع، لومړی چاپ ۱۳۶۵ لمریز کال، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور.



کې د میرزمانخان په اړه معلومات شته؛ خو یو څه معلومات چې د ما لپاره یې پیدا کول ضروري وو او دا سوالونه به همېشه له ما سره وو، چې څنګه میرزمانخان چې په هغه وخت کې یوازې یوه وړوکې کورنۍ وه، د کونړ د هیڅ یوې لویې قبیلې لکه ساپیو، مومندو، مامونډو یا سالارزیو پورې تړاو نه درلوده، پلار یې چې اصلاً د کونړ هم نه و او د تیرا نه نرنګ ته راکډه شوی و، په دې سیمه کې دومره نفوذ پیدا کړ او د کونړ غونډې غرنۍ سیمه کې چې ځکمې پکې ډېرې کمې دي په زرهاوو جریبه ځمکه لاسته راوړه؟ ترڅو په دغه سیمه کې خاني وکړي.

د یو شخص په رشد کې همېشه بهرني او داخلي عوامل مهم رول لوبوي چې یو څوک د شهرت مقام ته رسوي او د یوې سیمې او یا د یو ملک د تاریخ جز ګرځي. د پورته سوالونو په اړه معلومات ما د میرزمانخان په اړه په نورو لیکنو او کتابونو کې نه دي لوستلي. که څه هم د دغه پلټنو په اړه زما او د ډاکتر عبدالرحمن زماني په پلټنو کې چې د میرزمانخان د زوی له خوا لمسی دی یو څه توپیر شته دی او ده هم ماته ولیکل چې دی هم د دې پلټنې په اړه په لومړي ځل اوري؛ خو زما د پلټنو استدلال راته قوي ښکاري ځکه د یو شخص په رشد او نفوذ کې د یو شخص د خپلې پوهې، تدبیر او مېړانې تر څنګ، طالع یا بخت هم ضروري دی. په انګلیسي- ژبه کې وايي To be in the right place in the right time یعنې که ښه درته ورسېږي وایي په ښه موقع کې په سم ځای کې وې؛ نو ځکه هر څه سم شول یا زموږ په اصطلاح بخت یې ویښ و. که تاوان چا ته په یوه پېښه کې ورسېږي نو وايي

To be in the wrong place in the wrong time یعنې په غلط وخت کې په خراب ځای کې و؛ نو ځکه ورته تاوان ورسېد. زما په اند د میر زمانخان پلار ګلروز په ښه موقع په ښه ځای کې و، چې د سپه سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غلام حیدر خان څرخي د توجه وړ وګرځېد او په کونړ کې یې نفوذ پیدا کړ.**

**که نږدې تاریخ ته نظر واچوو نو د اسلامي حزب د مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار او د جمعیت اسلامي د مشر استاد برهان الدین رباني په مبارزه، طرز فکر، په نهمه لسیزه کې د کابل په جنګونو او ګډوډیو کې د دوی لاسونه او هم د بهرنیانو له خوا د دوی په ملاتړ کې چندان توپیر نه و؛ خو ګلبدین حکمتیار نن د پاکستان په ملاتړ متهم او د تروریستانو په لست کې دی اما استاد برهان رباني ته د صلح د شهید لقب ورکول کېږي. مولوي جمیل الرحمن د مجاهدینو لومړنی مشر- و چې د یو عرب له خوا په باجوړ کې شهید کړای شو؛ خو هیچا ورته د ملي قهرمان لقب ور نه کړ اما کله چې احمدشاه مسعود د عربو له خوا شهید کېږي؛ نو ده ته د قهرمان ملي لقب ورکول کېږي. دا څکه چې تاریخ همېشه د واکدارو په ګټه لیکل کېږي.**

**میر زمانخان چې د امان الله خان نږدې ملګری و، امان الله خان چې کله خپل وطن پرېښود؛ نو میرزمانخان هم په همدې وخت کې د کونړ د شینکوړک په سیمه کې شهید کېږي. کله چې نادرخان قدرت ته رسېږي، دی او د ده کورنۍ همېشه هڅه کړې ده چې د امان الله خان کارنامې او د استقلال په جنګ کې د مختلفو اشخاصو او کورنیو رول، ډېر کم وځلوي. د نادرخان او هم د ظاهر شاه د قدرت په لومړیو دوه لسیزو کې بالخاصه د صدراعظم محمد هاشم خان له خوا ډېره هڅه شوې وه، چې د امان الله خان د طرفدارانو او کورنیو اهمیت کم وښيي. د دوی ستراتېژي همدا وه چې د امان الله خان د طرفدارانو کورنۍ په سیستماتیکه توګه وټکوي، بندیخانو ته یې واچوي او د هېواد په داخل کې یې تبعید کړي تر څو څوک د دوی قدرت چیلنج او یا له خطر سره**



**مخامخ نه کړي. په مشرقي سیمه کې د خوګیاڼو د ملک قیس کورنۍ، د کامې د ګرداب د خانانو د حسن خان کورنۍ، په کونړ کې د میر زمانخان کورنۍ، د کونړ د پېچ درې د سلطان محمد خان کورنۍ او داسې نور په لسګونو لوی او وړې کورنیو تبعیدول او زندانونو ته اچول د دوی د ستراتېژیو ښې نمونې دي.**

**نو په دې توګه د میرزمانخان د ژوند او کارنامو په اړه هم د وخت حکومت خاورې اچولې او په دې اړه لږ معلومات او ریسرچ شوی دی. که څه هم په تېرو دوه درې لسیزو کې د استقلال څلورمې جبهې کتاب، د محمد هاشم زماني زنداني خاطرات او د ډاکټر عبدالرحمن زماني کتاب، په آزاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکي مبارزې او د مومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمانخان ونډه[۱۸] او څو نورې مقالې نشر- شوې دي؛ خو بیا هم دا ریسرچ کافي نه دی او د دغه پېر د پېښو په اړه زیاتو څېړنو ته اړتیا شته دی.**

**دا چې څنګه تاریخ همېشه د واکدارو په ګټه لیکل کېږي، پروسږ کال مې د Return of a King کتاب چې انګلیسي- مؤرخ William Dalrymple له خوا د شاه شجاع قدرت ته د رسېدو د دویم ځل په اړه لیکل شوی دی ولوسته؛ نو د دې کتاب په لوستلو راته دا معلومه شوه چې شاه شجاع عادي سړی نه و. که د شاه شجاع تاریخ ته نظر واچول شي او د تبعیض نه جدا په ځانګړې توګه وڅېړل شي، فکر کوم چې د سدوزیو د پخوانیو پاچاهانو په پرتله پوه سړی و؛ خو د وخت حوادثو او حالاتو له ده سره یاري او ملتیا ونکړه چې په قدرت کې پاتې شي، همېشه**

---

[۱۸] په ازاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکي مبارزې او د مومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمانخان ونډه: د ډاکتر عبدالرحمن زماني لیکنه، چاپ کال ۲۰۱۰م، او د مسکا خپرندویې مؤسسې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې هلې ځلې له ناکامۍ سره مخامخ شوي دي او بالاخره په کابل کې شهيد کړای شو، چې د شاه شهيد سيمه د ده په نامه ياده شوه.

که سوال دا وي چې ده ولې له انګريزانو سره معاهده امضاء کړه، د سدوزو ټولو اميرانو له انګريزانو سره جوړ جاړی درلود، حتی امير عبدالرحمن خان هم له انګريزانو سره جوړجاړی کړی دی. نادرخان او له هغه نه وروسته د افغانستان ټول واکداران د بهرنيانو په ملاتړ قدرت ته رسېدلي او يا د بهرنيانو په ملاتړ په قدرت کې پاتې شوي دي. اما شاه شجاع د نورو پرتله زيات بدنام دی او د انګريزانو د ګوډاګي په نوم يادېږي؛ خو دا نور بيا له دغه نوم نه مستثنی دي ځکه چې دا نور يو څه په قدرت کې پاتې شوي او د هغه وخت مؤرخينو، تاريخ د دوی په ګټه ليکلی دی. په هر حال دا يو جدا بحث دی، راځم اصلي موضوع ته.

ميرزمان خان په ۱۸٦۹ مېلادي (۱۲٤۸ ل) کال کې د کونړ د لمټک په کلي کې چې اوس د نرنګ ولسوالۍ پورې تړلې سيمه ده، د حاجي ګلروز خان په کور کې سترګې غړولې دي. د هغه غور نيکه محمد اکرم خان د دښمني په وجه د سپين غره د تيراه د "کوټ" د سيمي نه د خپلو زامنو سره لومړی انبار سيمي ته او بيا د خاص کونړ د شامکار سيمي ته او دهغه ځاې نه د برنرنګ د لمټک په کلي کې ميشت شويدي. په لمټک کې محمد اکرم خان، خپل مشر زوی محمد عمرخان ته د ملک هيبت خان خور په نکاح کوي. د لمټک اوسيدونکي زيادتره بابړ دي. محمد عمر خان څه موده وروسته وفات کيږي او د کونړۍ مشري ګلروز خان ته پاتي کيږي. ګلروز خان درې مانديڼې درلودي چې ميرزمانخان يې د



دويمې مانديڼې نه و چې د ده مور د کټار کلا د ملک کامران خان خور وه[۱۹]. دوی له اپريدي قبيلې څخه دي.

کله چې په ۱۸۸۰م کال کې امير عبدالرحمن خان قدرت ته رسېږي؛ نو دی د مرکزي افغانستان د اداري سيستم اساس ږدي او غواړي چې د موجوده افغانستان په مختلفو سيمو کې خاني او ملک الطوايفي ختمې کړي. امير عبدالرحمن خان د پاچاهي په اوله لس کلنه دوره کې تقريباً اولس لښکر کشي وکړي او هغه تهديدونه چې د ده پاچاهۍ ته د محلي خانانو او ملوک الطوايفۍ نظامونو له خوا مواجه وو، له منځه يوړل او د اوسني معاصر افغانستان تهداب يې کېښود.

د اميرعبدالرحمن پاچاهي او قدرت ته دوه ډوله تهديدونه متوجه وو[۲۰].لومړی تهديد ورته د خپلې کورنۍ له خوا د قدرت پر سر و، چې په ۱۸۸۱م کال کې يې د سردار محمدايوب خان په مقابل کې او په ۱۸۸۸م کال کې د سردار محمد اسحق خان په مقابل کې جنګونه وکړل او هغه تهديدونه يې له منځه يوړل. دويم ډول تهديدونه ورته د داخلي اغتشاشونو او محلي واکمنو او ملک الطوايفۍ د خانانو او روحاني مشرانو نه وو. امير عبدالرحمن خان شپږ محلي اغتشاشونه په ليرو پرتو سيمو کې له منځه يوړل او نورې نهه جګړې د پښتنو په سيمو کې شوي دي.[۲۱]

---

[۱۹] http://zamanifamily.org/?page_id=۷٦۰ (د استقلال څلورمه جبهه، دويم چاپ، کال ۱۳۹۵ل صفحه ۹۱)،

[۲۰] دامير عبدالرحمن خان د دورې په اړه د پوهاند محمد حسن کاکړ کتاب، د افغانستان سياسي او ديپلوماتيک تاريخ (۱۹۰۱-۱۸٦۳ م) چې په انګليسي ژبه ليکل شوی دی، لوستل يې اړين دي.

[۲۱] Cf. Kakar, ibid (۱۹۷۱) and Dupree, Afghanistan (Princeton: Princeton University Press, ۱۹۷۰), pp. ٤۱۸-٤۱۹. Dynastic rebellions against the government were waged by Sardar Ayub Khan, ۱۸۸۱, and Sardar Muhammad Ishaq Khan, ۱۸۸۸. Rebellions against the government by non-Pakhtun groups involved the following leaders

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې امیر عبدالرحمن قدرت نیسي، سیدمحمود پاچا د کونړ چې په خپله سیمه کې یې محلي حکومت درلود د امیر عبدالرحمن مبارکۍ ته ورځي؛ خو امیر عبدالرحمن خان ورته وایي چې پس له دې به د کونړ مالیه مرکزي حکومت ته ورکوي او په بدل کې به امیر عبدالرحمن خان د کونړ حکمراني ده ته ورسپاري او د خرڅ لپاره به سیدمحمود پاچا ته میاشتنۍ پیسې ورکوي. سیدمحمود پاچا دا نه مني او امیر عبدالرحمن د کونړ د ملوک الطوایفۍ د ختمولو لپاره لښکرکشي ـ کوي او سیدمحمود پاچا د څلورو کلونو لپاره په سرحداتو کې د امیر عبدالرحمن خان پر ضد مبارزه کوي؛ خو بالاخره د ۱۸۸٦م کال په جنورۍ میاشت کې سیدمحمود پاچا د انګریزانو له خوا وړاندیز مني، چې دی به د افغانستان د سرحدي سیمو نه لیرې اوسېږي او د انګریزانو له خوا به ده ته د میاشتې یو څه پیسې ورکول کېږي، چې خپل ژوند پرې وکړي. د امیرعبدالرحمن پالیسي دا وه چې ځایي مشران به یې کمزوري کول او په عوض به یې نویو مشرانو او اشخاصو ته رشد ورکاوه.[۲۲]**

---

and/or regions: the Wali of Maimana, ۱۸۸۲; the Mir of Shignan and Roashan (Badakhshan), ۱۸۸۲; Badakhshan again in ۱۸۸۹; Hazarajat, ۱۸۹۱-۹۳; and Kafiristan, ۱۸۹۵-۹٦. Rebellions against the government by Pakhtun groups involved the following leaders, tribes and/or regions: Laghman, ۱۸۸۱; Taraki, Ghilzai, ۱۸۸۱-۸۲; Sayyid Mahmud Pacha (Kunar), ۱۸۸۲; Shinwari, ۱۸۸۲-۹۲; Mangal, ۱۸۸۳-۸٤; Laghman, ۱۸۸۵-۸٦; Ghilzai, ۱۸۸٦-۸۸; Safi (Kunar), ۱۸۸۹; and the Khan of Asmar (Kunar), ۱۸۹۰.

[۲۲] TRIBE, STATE AND ISLAM ON THE AFGHAN FRONTIER, ۱۸۸۰-۱۹۱۹ (David B. Edwards, Williams College)

دیوید اېډوارز د حسن کاکړ د کتاب نه دا لاندې لیکنه راخستې ده:

Kakar has noted that prior to Abdur Rahman's reign, Afghanistan "more closely resembled a confederation of tribes and khanates than a centralized monarchy. In



**د سید محمود پاچا د لښکر مشر سکندر شاه نومېده او اصلاً د باډېل درې اخونزادګان وو. دی هم خپله سیمه پرېږدي او د پېچ درې د ګلسلک په سیمه کې استوګن کېږي. طلب الدین اخونزاده د سکندرشاه لمسی دی، چې د امان الله خان په دور کې د میر زمانخان په واسطه د پیچ درې مشر وټاکل شو. طلب الدین اخونزاده د پېچ درې د سلطان محمد خان پلار و[۲۳].**

**د کونړ سیمې ته امیر عبدالرحمن خان څلور ځلې لښکر استولی دی. د ۱۸۸۲-۱۸۸۱ م کال کې د سید محمود پاچا پر ضد یې لښکر واستاوه او هغه یې له قدرت نه لرې کړ. په ۱۸۸۹م کال کې د ساپو پر ضد لښکر واستاوه او هغوی یې د مرکزي حکومت تابع وګرځول. په ۱۸۹۰م کال کې یې د اسمار د خان پر ضد لښکرې ولېږلې او د هغه خاني یې له منځه یوړه. د ۱۸۹٦-۱۸۹۵م کلونو په منځ کې د کافرستان پر ضد لښکرې ولېږلې او دا سیمه یې ونیوله او ځایي کافر اوسېدونکي یې مسلمانان کړل او دا سیمه یې د نورستان په نوم ونوموله.**

---

this confederation, tribal elders and jirgah exercised administrative power in the affairs of their communities, subject to payment of taxes to the central government. The central government directly controlled only the urban centers and their surroundings and had a small standing army and bureaucracy. A successful monarch was one who was able to manipulate the sardars and the tribal and religious elders. The inability of a monarch to maintain this precarious situation was the signal for civil wars in which tribal communities preferred to cast off whatever restraints had been imposed on them." ("Trends in Modern Afghan History," in Afghanistan in the ۷۰'s, p. ۱۵)

[۲۳] د سلطان محمدخان زوی، احسان الله ساپي سره مرکه (۱۲ مارچ ۲۰۱٦م کال، چغه سرای، کونړ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې امیر عبدالرحمن خان سپه سالار غلام حیدرخان څرخي د کافرستان د نیولو او مسلمانولو لپاره کونړ ته راولېږه، نو د اوسني سالار باغ په سیمه کې یې پوځونه ځای په ځای کړل. سپه سالار څرخي غوښته چې د ساپو له قوم نه یو څوک مشر وټاکي خو دا چې ساپي سره په یو کس نه راضي کېدل ځکه دا متل په ساپو کې مشهور دی چې ساپی سم سمکي یعنې ټول ساپي سره یو ډول دي؛ نو په دې وخت کې د میر زمانخان پلار گلروز چې د تېراه نه دلته راغلی و او هلته پخوا د انگریزانو په قواو کې د صوبه دارۍ تر رتبې رسېدلی و، چا ورته معرفي کړ او هغه یې د پوځي قطعاتو د سنبالولو او مالیاتو د راټولو لپاره مشر ـ وټاکه. دا پورته کیسه د پشد د کلي د ملکانو د کورنۍ مشر ملک خورشید چې ما هم لیدلی و، احسان الله خان ساپي ته په پېښور کې کړې ده.

ډاکتر عبدالرحمن زماني د خپل پلار ارسلاخان زماني له قوله چې هغه هم ژوندی دی، د ۲۰۱٦م کال د اپرېل په یولسمه نېټه په ایمیل کې راته ولیکل چې کله سپه سالار غلام حیدرخان څرخي کونړ ته راځي؛ نو گلروز کونړ پرېږدي او د کوزې پښتونخوا د مردان سیمې ته د یو کم وخت لپاره ځي او هلته له خیرآباد سره نږدې د هوسی په کلي کې اوسېږي. دی وایي چې په همدغه کال فرقه مشر خان محمد خان چې د میر زمانخان کشر ورور و، هلته تولد کېږي. سپه سالار څرخي میرزمانخان راغواړي او مردان ته یې لېږي چې خپل پلار راولي. په دواړو روایتونو کې دا جوتېږي، چې سپه سالار څرخي گلروز راغواړي او دنده ورته سپاري. اما ډاکتر عبدالرحمن زماني وایي چې دی د لومړي ځل لپاره دا اوري چې گلروز د انگریزانو په پوځ کې د صوبیدارۍ تر رتبې رسېدلی و. د زماني ویب پاڼې په استناد، گلروز د کورنیو بدیو له امله کونړ ته کډه کېږي او په لمتک کې استوگن کېږي. اما د استقلال په څلورمه جبهې کتاب کې دا



قصه بیا د دواړو قصو سره توپیر لري. ویل کېږي سپه سالار چرخي، جرنیل باول خان د پیچ درې او کانیتوا د نیول لپاره ټاکي او گلروز خان ورسره د راه بلد په توگه لېږي. کله چې دوی راستنېږي نو جرنیل باول خان، سپه سالار څرخي ته شکایت کوي چې گلروز خان د پیچ د خلکو سره همدردي کوله او په دی تور دی په وټه پور کې بندي کوي خو د ده زوم، دی دشپي له خوا خلاصوی او دوی د میرزمانخان په شمول مردان ته تښتي.[۲٤] زما په اند که دا خبره سمه وی نو سپه سالار څرخي څنگه میرزمانخان د خپل پلار گلروز خان، پسي ولیږه حال دا چې دی د خپل پلار سره مردان ته تښیتدلی و. (د تفصیل لپاره د استقلال ډ څلورمې جبهې کتاب ته مراجعه وکړي). په همدې کتاب کې یادونه شوي چې کله امیرعبدالرحمن خان وفات کېږي نو میرزمانخان د خپل پلار سره بیرته راځي او په لمتک کې ورته سپه سالار څرخي شاړې ځمکې ورکوی او هم د سه کوټي ځمکي اجاره نیسي. دا خبره راته هم سمه نه ښکاري ځکه چې نورستان د امیرعبدالرحمن خان په ژوند فتحه کېږي او څرخي بیا دلته دی پاتې شوی.

زما په اند د ملک خورشید خبره راته سمه ښکاري ځکه که گلروز کومه خاصه ځانگړتیا نه درلوده؛ نو فکر نه کوم چې سپه سالار څرخي هغه راغوښتی وای او یا یې په هغه پسې زوی لېږلی وای چې له مردان نه یې راولي او له ده سره کار وکړي. دا کیسه سمه ښکاري ځکه مخکې له دې نه چې میرزمانخان شهرت پیدا کړي؛ نو د ده د کورنۍ او د پلار نفوذ باید په دغه سیمه کې یو څه موجود وای. که داسې دلیل نه وي نو دا مشکله ده، څنگه کېدای شي چې یو کس او یا یوه کورنۍ چې اصلاً له بل ځای نه

[۲٤] د استقلال څلورمه جبهه، دویم چاپ، کال ۱۳۹۵ل، صفحه۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته کډه شوې وي، په کونړ کې د نورور قومونو په منځ کې دومره نفوذ پیدا کړي او دومره زیاتې ځکمې خپلې کړي. زما په اند د همدې رتبې په حاصلو ګلروز وکړای شول چې کونړ کې خاني جوړه کړي او بیا په کابل کې له پاچاهي کورنۍ خاصتاً امان الله خان سره رابطه پیدا کړي.

دا چې ولې میرزمانخان د امیر حبیب الله خان په وخت کې بندي شو دوه روایتونه دي. سید شمس الدین مجروح په خپل کتاب سرګذشت من کې لیکي، چې د یو جنایي تور پر اساس میرزمانخان بندي کېږي اما افغان جرمن انلاین په ویب پاڼه کې د ډاکتر عبدالرحمن زماني د لیکنې پر اساس، میرزمانخان د امیر حبیب الله خان په دور کې د یوې دسیسې په ترڅ کې بندي کېږي[۲۵] او د دې علت دا ښیي چې میرزمانخان په ۱۹۰۸م کال کې د آزاد سرحد په امتداد د سري غزا په نوم جګړه کې د انګریزانو پر ضد غزا کې برخه درلوده او په دې توګه د بریتانوي هند نایب السلطنه لارد منتو امیر حبیب الله ته د اپریل په ۲۴مه نېټه یو لیک استوي او خبر ورکوي، چې د افغانستان له خوا د هغو کسانو مخه ونیسي- څوک چې د برتانیوي هند د پوځونو په مقابل کې غواړي وجنګېږي. امیر حبیب الله خان په همدغه کال د مۍ د میاشتې په پنځمه نېټه، په خپل لیک کې لارد منتو ته اطمینان ورکوي او په همدې تور میرزمانخان کابل ته غواړي او بندي کوي یې.[۲۶]

[۲۵] http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?۷۷

(اخر ځل دا ویب پانه په ۱۵ د اپریل ۲۰۱۶م کال کې وکتل شوه)

[۲۶] په ازاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکي مبارزې او د مومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمانخان ونډه: د ډاکتر عبدالرحمن زماني لیکنه، چاپ کال ۲۰۱۰م، او د مسکا خپرندویې مؤسسې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.



زما د مرکو په ترڅ کې دا جوته شوې چې د میرزمانخان پلار ګلروز د امیر حبیب الله خان په دور کې هم د مالیاتو د راټولو مسوول و او د ساپو د قومونو نه به یې د ملکې د سرغوړي په نامه مالیه راټولوله او دا برخه مالیه چې غوړي وو، امیر حبیب الله خان د امان الله خان مور ته ځانګړې کړې وه؛ نو په دې توګه د ګلروز او وروسته د میر زمانخان د امان الله سره نږدې اړیکې وې. زما د تره سید عبدالقادر په قول، میر زمانخان نږدې رابطه د امان الله خان سره وه نو امیر حبیب الله خان ته دا بهانه په لاس ورکړه چې د مالیاتو د باقیدارۍ په تور، میرزمانخان بندي کړي. په یو بل روایت کې میرزمانخان نوکر جمدرخان د دغه سیمي یو مشهوره ډاکو حکیم خان وژنې او په دی تور، د اسمار پوځي افسر- میرزمانخان بندې کوي او کابل ته یې د معین السلطنه په امر لیږي.[۲۷] د ښاغلي مجروح خبره چې میرزمانخان د جنایي پېښې په تور بندي شوی دی، د اول ځل لپاره سمه ده، اما د ډاکتر عبدالرحمن زماني خبره هم په خپل ځای سمه ده چې د میرزمانخان نه په دغه سیمه کې خطر و او انګریزانو نه غوښته چې دی دی په کونړ کې اوسي. د همدې کتاب په استناد، میرزمانخان د امان الله خان په مرسته د یوه کال د بند نه وروسته خوشي کیږي خو د معین السلطنه په امر د دویم ځل لپاره بیا بندې کیږي. زما په اند دا دویم ځل نیول د میرزمانخان سیاسي اړخ لري لکه څنګه چې ډا کتر عبدالرحمن زماني د انګلیسي اسنادو په استناد لیکلي دي.

د زماني ویب پاڼې په بنیاد، په زندان کې شهزاده امان الله خان د غازي میرزمانخان پوښتنه کوله. په زندان کې د یوه کال تر تېرولو او نورو

[۲۷] د استقلال څلورمه جبهه، دویم چاپ کال ۱۳۹۵ل، صفحه ۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي بندیانو او مشروطه غوښتونکو سره د معرفت نه وروسته میرزمانخان په ضمانت خوشې کېږي او بېرته کونړ ته ستنېږي خو ډېر ژر بیا نیول کېږي او د شیرپور زندان ته استول کېږي. میرزمانخان دویم ځل د ۱۹۱۹ م کال د فبروری تر میاشتې پورې د شیرپور په زندان کې د پنځو کلونو پورې بندي پاتې کېږي. کله چې امیر حبیب الله خان د لغمان په کله گوش کې وژل کېږي او امان الله خان قدرت نیسي؛ نو میرزمانخان هم له بنده خوشې کوي. میرزمانخان د امان الله خان په وخت کې د کونړ او ټول مشرقي په سیمو کې خاص نفوذ پیدا کوي، د پکتیا د خلکو د اغتشاش د ځپلو نه وروسته امان الله خان، میر زمانخان ته د لوی خان لقب ورکوي. میر زمانخان د مرگ تر اخره د امان الله خان ډېر کلک طرفدار او ملگری پاتې کېږي. میرزمانخان ته امان خان د فرقه مشري رتبه هم ورکوي. (د زیات تفصیل لپاره د استقلال څلورمې جبهې کتاب ته مراجعه کولې شي) زر

کله چې د امان الله خان پر ضد د ننگرهار شینواري راپاڅېږي او میرزمانخان د هغوی په ټکولو کې رول لري؛ نو په کونړ کې هم حالات خرابېږي او د امان الله خان پر ضد ساپي راپاڅېږي او چغه سرای د ساپو له خوا نیول کېږي؛ نو میرزمانخان مرورې سیمې ته ځي او هلته د دغې سیمې د مشهور مشر، ملک عزیز سره یو ځای شینکوړک ته د سید عبدالرزاق پا چا کورته چې د شینکوړک پاچا په نوم مشهور و، ورځي ترڅو د هغه حمایت حاصل کړي او هم یې غوښتل چې اسمار ته لاړ شي او د خپل زوی عصمت الله خان چې د اسمار قوماندان و، ورسره وگوري او د کونړ د حالاتو په اړه ورسره سلا مشورې وکړي. اسمار چې هم په دغه وخت کې د محلي قومونو له خوا محاصره و، په همدې شپه، میرزمانخان



( ۱۹۲۹م کال د فروری[۲۸] په میاشت کې) د کونړ د شینکوړک په کلي کې د پاچا صاحب په جومات کې د ماښام تر لمانځه وروسته، د شینوارو له خوا وژل کېږي. لیکوال ته یې نیا چې د میر زمانخان مشره لور وه هم دا روایت کړی و، چې میرزمانخان د ماښام لمانځه په وخت کې په جومات کې شهید کېږي.

که څه هم د نوموړي د وژل کېدو روایتونه سره متفاوت دي؛ خو داسې ویل کېږي چې د دې سیمو مشرانو حکومت ته مالیه نه ورکوله ځکه ویل کیږي چې میرزمانخان ته امان الله واک ورکړې و چې د کونړ په سیمه کې د هغه په اندازه واک لري، نو میرزمانخان د کونړ په خلکو خاص نفوذ درلوده او حتي د امان الله خان د مور په نامه یې اضافي مالیه هم اخستله. شینواري دا اضافي مالیه نه منله نو په عوض د دی میرزمانخان امر کړې و چې د شینوارو سپین گیري جلال آباد ته وغواړي او که د دی د امر نه سر غړونه وکړي نو باید اعدام شي. د دی نه برسیره د شیگل شینوارو د ننگرهار د شینوارو سره ملاتړ هم کاوه، څوک چې د امان الله خان د حکومت پر ضد راپاڅېدلي وو. که څه هم میرزمانخان د شینوارو اغتشاش ټکولې و خو د دی سره شینوارو په جلال آباد کې سراج العمارت مانۍ وسېځله، چې همدا اوس څه ناڅه بېرته رغول شوې ده.

ویل کیږي چې د میرزمانخان د امر په اساس حکومت د شیگل د شینوارو څو تنه ملکان مفادخان د کڼاسېر، تاج محمد خان د شینکوړک، علي خان[۲۹] د مونې، سید رحیم د شینکوړک، بخت محمد، جمداعلي خان[۳۰] د لچې او عتیق الله اخونزاده[۳۱] نیسي او جلال آباد ته یې لیږي.

[۲۸] http://www.zamanifamily.com/Ghazi/ghazi_eng.html

[۲۹] علي خان د معارف د وزارت د مرستیال ډاکتر محمد ابراهیم شینواري د پلار د نیکه د تره ځوی و.

[۳۰] جمداعلي خان د قوماندان حاجي کشمیرخان نیکه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرزمانخان حکومت ته مشوره ورکړې وه چې دا کسان چې د حکومت د اوامرو نه نا فرماني کوي باید سخته سزا ورکړل شي تر څو نورو قومونو ته عبرت شي. وروسته حکومت په جلال آباد کې د شیګل څلورسپین ږیري (مفاد خان، تاج محمد خان، علي خان او جمدالي خان) اعداموي او بخت محمد د کمر عمر له کبله، سید رحیم[۳۲] د زیات عمر له کبله خوشي کوي[۳۳] او عتیق الله اخونزاده بندي پاتې کېږي. د دې ملکانو کورنیو دا انګېرله چې د دوی په اعدام کې میرزمانخان لاس درلوده.[۳٤]

سید شمس الدین مجروح په خپل کتاب (سرگذشت من) کې لیکي[۳۵] کله چې ساپو د کونړ په مرکز حمله وکړه او حاکم اعلي عبدالرزاق خان د دېوه ګل د ساپو له خوا ونیول شو، د حاکم اعلی کورنۍ د ده د تره سید معصوم شاه پاچا کور ته چې د چغه سرای په دوه کیلو متری کې یې موقعیت درلوده، پناه وروړې وه؛ خو د ساپو لښکر د هغه په کور هم ورځي او د هغه کور تالا کوي. ساپو داسې ګمان کاوه چې ګونډې د حاکم اعلی کورنۍ به قیمتي مالونه او خزانه د ده کورته وروړي وي. په

[۳۱] عتیق الله اخونزاده د انجینر وحیدالله سباوون نیکه و، چې تر اوه کاله بند وروسته د سقاوۍ په وخت کې خوشې کېږي.

[۳۲] سید رحیم د معارف د وزارت د مرستیال ډاکتر محمد ابراهیم شینواری د مور له خوا نیکه دی.

[۳۳] د ډاکتر محمد ابراهیم شنیواری د خپلو مشرانو سره په دې هکله معلومات راټول کړې و او د ما سره یې شریک کړل (۱۲ جولای ۲۰۱٦م)

[۳٤] ملک حاجي فاروق د شیګل سره مرکه (۱۳ مارچ ۲۰۱٦م کال،چغه سرای، کونړ). همدا رنګه د جون په ۲۳مه نېټه کال ۲۰۱٦م کې د انجنیر وحیدالله سباوون سره په کابل مرکه. د دواړو معلومات تقریباً سره مشابه وو.

[۳۵] سرگذشت من: د سید شمس الدین مجروح اثر چې په ۱۳۹۱ هجري شمسي- کال کې د افغانستان ټایمز د مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی. صفحه ۴۵، ۴٦، ۴۷ او ۴۸



دغه وخت کې د شینکوړک پاچا صاحب ته چې سید عبدالرزاق[۳٦] نومېده، خبر رسېږي چې چغه سرای نیول شوی دی؛ نو د خپل تره پوښتنې ته سید شمس الدین مجروح د شینکوړک نه ورلېږي. کله چې سید شمس الدین مجروح مرورې ته رسېږي ګوري چې میرزمانخان د اویا کسانو سره چې د مرورې مشران هم ورسره دي، جالي ته د سیند په غاړه ولاړ دي؛ نو په ده غږ کوي چې د ده سره بېرته شینکوړک ته لاړ شي تر څو د شینکوړک پاچا صاحب سره وګوري او د هغه ملاتړ تر لاسه کړي. په دغه وخت کې اسمار هم د شینوارو او مشوانو له خوا محاصره و چېرته چې د میر زمانخان زوی عصمت الله خان د دغه غونډ قوماندان و. که څه هم میرزمانخان ته د مرورۍ مشرانو ویلي و چې شینکوړک ته مه ځه ځکه شینواري د خپلو مشرانو اعدامول د ده نه ګڼي خو میرزمانخان ورته ویلي و چې شینواري زما پښې ته هم کاږه نه شي کتلی[۳۷] او شینکوړک ته ځي.

سیدشمس الدین مجروح لیکي چې ده میرزمانخان ته وویل چې دی د خپل کاکا سید معصوم شاه د خبر اخیستلو لپاره ورور یې رالېږلی دی، خو هغوی ورته وایي چې دوی د حالاتو نه خبر دي او ښه دا ده چې هغه د دوی سره بېرته شینکوړک ته لاړ شي. د دوی په اصرار سیدشمس الدین مجروح بېرته په خپل اس سپرېږي او د دوی نه دمخه شینکوړک ته ځي تر څو د مېلمنو لپاره تیاری ونیسي. کله چې دوی د ماښام ډوډۍ خوري نو عبدالرزاق پاچا او دی په کلي کې استازی کوي او مشران خبروي چې سبا ته د میرزمانخان سره وګوري. د خلکو د خبرولو نه وروسته، د میرزمانخان ملګري د وطن د دود پر اساس په نورو کورونو باندې د شپې

[۳٦] عبدالرزاق پاچا د شمس الدین مجروح مشر ورور و او د خپل پلار، سید حضرت شاه پاچا چې د تیرګړو پاچا صیب په نامه یې شهرت درلوده، جانشین و.

[۳۷] د ډاکتر ابراهیم شنیواري معلومات چې د خپلو مشرانو نه یې راټول کړې و. (۱۲ جولای ۲۰۱٦م)

د تېرولو لپاره تقسیمېږي او دی یوازې د څلور پنځو کسانو سره د پاچا صاحب په حجره کې پاتې کېږي او دوی ترې کور ته ننوځي. د شینکوړک پاچا صاحب او سیدشمس الدین مجروح دواړه میرزمانخان ته اطمینان ورکوي؛ خو د پاچا صاحب ناظر مجروح ته پټ وایي چې دومره خوش باوري په کار نه ده او حالات سم نه دي. کله چې مجروح کورته ننوځي نو په حجره باندې شینواري هجوم راوړي او ډزې اوري او میرزمانخان د پاچا صاحب په حجره کې وژل کېږي. مجروح لیکي چې کله دی غواړي چې د حجرې په لوري له کور نه ورشي گوري چې د دوی د حویلۍ دروازه له بهر نه چا تړلې ده او ده ونشو کړای چې حجرې ته ورسېږي. په سبا یې جنازه د مروړې د خلکو له خوا تېښې سیمې ته انتقالېږي او هلته میرزمانخان خاورو ته سپارل کېږي. په بل روایت میرزمانخان یوازې د یوه کس خپل شاطر[38] میرافضل سره شیگل ته ځي ترڅو لښکر د هغوي نه برابر کړي[39]. مگر زما د مرکو نه دا جوتېږي چې میرزمانخان د زیاتو کسانو سره شینکوړک ته تللی و.

اما زما د مرکچیانو معلومات د سیدشمس الدین مجروح د معلوماتو سره توپیر لري. دري روایته دي؛ یودا چې کله چې میرزمانخان په همدغه ماښام شینکوړک ته رسېږي، د ماښام د لمانځه نه وروسته چې د جومات نه راوځي ملک خا زین چې د مفاد خان تره زوی و میرزمانخان پېژنې او د خپلو ملگرو سره په هغه حمله کوي او هغه د ډبې[40] سره شیهدوي. بل روایت دا دی چې میرزمانخان د ماښام د لمانځه نه وروسته د جومات په

[38] شاطر هغه نوکر ته وایې چې د خان لپاره اس ساتي.

[39] داستقلال څلورمه جبهه، دویم چاپ، کال ۱۳۹۵ ل، صفحه ۱۱۰

[40] ډبه، صوفه یا وستل ته وایي چې د جومات د مخه یو ځای وي چې د لمانځه نه د مخه یا وروسته خلک راټولېږي، هلته سره مرکې کوی. ډبه د شینکوړک پاچا صیب د کور او جومات ترمنځ وه.



منځ کې شهیدېږي او بیا د کلی د بیلابیلو خیلونو په استازیتوب ځوانان د جومات د روزان نه ډزې کوي چې گونډې وښایې چې میرزمانخان ټولو په شریکه وژلی دی تر څو د میرزمانخان د وژل کیدو مدعی معلوم نشي. ما د خپلې نیا له خوا هم اوریدلې و چې میرزمانخان د ماښام د لمانځه نه وروسته شیهدیږي. دا لنډۍ هم ویل شوی ده[41]:

د شینکوړک په خوړ راوځه

خازین ملکه چې رانه وړې پیغورونه

د میرزمانخان د شهادت په هکله ډېرې سندرې هم ویل شوي دي چې د منوراستاد دا سندره مشهوره ده:

د میرزمانخان پالنگ یې جگ که کنه،

وړې وړې ځانخیلې ستر ماتوینه، خانه راځه،

راځه جانانه، ماله کونده[42] که افغانی، چې شور کوینه، خانه راځه،

اما د میرزمانخان د شاطر، میر افضل سره، امریکایي انتروپالوجست ډیوید اډواردس او ما په اتمه لسیزه کې مرکه کړې وه چې میرزمانخان د ماسختن د لمانځه نه وروسته شهید کړې شوی دی.

زما د مرکو په ترڅ کې او هم د میر افضل په قول، میرزمانخان د چغه سرای نه د ماموندو د ملک عزیز سره په جاله پورې وځي او شینکوړک ته ځي. په شینکوړک کې د میرزمانخان د تم کېدو نیت دا و چې د شینکوړک پاچا صاحب حمایت ترلاسه کړي. په بل روایت کې په همدې ماښام د ملک تاج محمد خان وراره، ملک خازین چې تره یې مخکې په

[41] د ډاکتر ابراهیم شینواري نه روایت شوی ده. (۱۲ جولای ۲۰۱۶م)

[42] پخوا به خپلو سپیني روپې کونده کولې او هغه به جنکو او ښځو د جامو په گنډ باندې ټک وهلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال آباد کې اعدام شوی و، خبرېږي او شینواري راټولوي او میرزمانخان وژني.

ملک عزیز او ملګري يې د میرزمانخان جناره د شینکوړک نه د چغه سرای د تېښې سیمې ته رانقلوي او بېرته مروري ته ستنېږي او په ماموندو ګرځي تر څو د شینوارو پر ضد لښکر برابر کړي او د میرزمانخان انتقام واخلي. ماموند د شینوارو پر ضد لښکر کوي خو د کونړ ساپې د شینوارو ملاتړ کوي. د دواړو قومونو ترمنځ جګړه د شلطن او شیګل په سیمو کې کېږي چې دری کسه ماموند او یو کس شینواری د سراج الدین[43] په وژل کېږي. ویل کېږي چې د شینکوړک پاچا صاحب[44] بیا د دواړو خوا ترمنځ روغه جوړه کوي.

د میرزمانخان د وژل کېدو نه وروسته د اسمار فوځي قشله هم د غلام خان له خوا نیول کېږي او د میر زمانخان زوی، عصمت الله خان د دانګام له لارې دیر ته تښتي. د غلام خان پلار، حضرت علي خان[45] د امیر عبدالرحمن تر وخته پورې د اسمار د سیمې خان او حکمران و خو کله چې سپه سالار غلام حیدر خان څرخي د امیر عبدالرحمن له خوا مؤظف شو، چې د نورستان سیمه ونیسي او د دغه سیمي کافر مسلمان کړي؛ نو د کونړ خاني او حکمراني يې ټولې ختمې کړې او د غلام خان پلار چترال ته وتښتېده.[46]

[43] سراج الدین د ملک رحمن الدین ورور و. ملک رحمن الدین د ډاکتر محمد ابراهیم شینواری نیکه و.

[44] عبدالرزاق، د شینکوړک پاچا صیب په ۱۳۳۵ هجری شمسی کال کې وفات شوی دی. (پورته اثر)

[45] د بېړنۍ لویې جرګې په مهال په اسمار کې خلکو سره مرکې. (۳ می ۲۰۰۲ م کال اسمار)

[46] سرګذشت من:د سید شمس الدین مجروح اثر چې په ۱۳۹۱ هجري شمسي- کال کې د افغانستان ټایمز د مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.



ډاکتر عبدالرحمن زماني په افغان جرمن انلاین کې د سرګذشت مرحوم سید شمس الدین خان مجروح: و مطالب چندی پیرامون حوادث ذکر شده در آن (قسمت سوم)[47] کې لیکي چې عصمت الله خان د خپل پلار په هدایت د دیر له لارې ملکنډ ته رسېږي ترڅو کندهار ته لاړ شي او امان الله خان سره وګوري او میرزمانخان د فعالیت په اړه معلومات ورکړي. زما په اند دا خبره به سمه نه وي ځکه که عصمت الله خان د اسمار په غونډ کې نه وای نو میر زمانخان شاید شینکوړک ته نه وای تللی او د سید شمس الدین مجروح خبره راته سمه ښکاري. دا چې وروسته عصمت الله خان ملکنډ کې د کمشنر مرستیال ته اطلاع ورکوي چې دی غواړي چې د چمن له لارې کندهار ته لاړ شي او د امان الله خان سره وګوري، سمه ده. د ملکنډ د کمشنر مرستیال د څو ورځو نه وروسته عصمت الله خان ته د چمن په لوري د تګ اجازه ورکوي او دی له امان الله سره په کندهار کې یو ځای کېږي. د انګلیسي- ارشیف د اسنادو په استناد ډاکتر زماني لیکلي چې یو شمېر مشران د عصمت الله خان په شمول کندهار ته رسېږي. زما په اند دا معلومه نه ده چې عصمت الله خان د میرزمانخان د شهادت نه دمخه ملکنډ ته ځي او که وروسته خو دی ادعا کوي چې عصمت الله خان د ملکنډ د کمشنر د مرستیال له خوا خبرېږي چې د ده پلار میرزمانخان وژل شوی دی. عصت الله خان تر اخره د امان الله خان سره په کندهار کې پاتې کېږي او کله چې امان الله خان کندهار پرېږدي نو عصمت الله خان بېرته کونړ ته ستنېږي.

[47] http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?۷۷ (اخری ځل دا ویبپاڼه په ۱۵ داپریل ۲۰۱۶م کال کې ولیدل شوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرزمان خان کورنۍ ټول غړي ښځې او نارینه د حکومت له خوا په ۱۳۲۴ لمریز کال د زمري د میاشتې په اوه ویشتمه نېټه یعنې د ساپو د جنگ په دوران کې بندیان کېږي. د زماني د کورنۍ مشران، فرقه مشر-خان محمد خان چې د میر زمانخان کشر-ورور و او د میر زمانخان مشر-زوی شیرمحمد خان چې د کابل د بیني حصار د کلاچې په سیمه کې په خپل کور کې تر نظارت لاندې و هم په همدې شپه ونیول شول. د میر زمانخان بل زوی عصمت الله خان چې مریض و د چهلستون په سیمه کې د خپل خسر په کور کې په داسې حال کې بندي کړی شو، چې په بستر کې مریض پروت و[48]. نارینه یې لومړی دیارلس کاله د کابل په دهمزنگ بندیخانه کې او ښځینه غړي او ماشومان د کابل د ښځو په توقیف خانه کې بندیانېږي، بیا په څلورمه کارته کې د عبدالرحیم خان په کلا کې او وروسته د کابل د قلاچې په سیمه کې د دوی په کور کې نظربند کېږي، چې دغه کلا وروسته د ښځو د محبس په نامه هم یادېدله ځکه نورې ښځینه بندیانې به هم حکومت د دوی کور ته وراستولې او د دوی کلا د ښځو د محبس په نوم شهرت وموند. په زندان کې تقریباً ۲۸ کسه د میر زمانخان د کورنۍ غړي د زندان د سختو شرایطو لاندې خپل ژوند له لاسه ورکوي. د میرزمانخان کورنۍ، د دیارلس کلنو کوټه قلفۍ، نظارت او بندیخانې نه وروسته هرات ته تبعید کېږي. دوی اته کاله د تبعید په توگه په هرات کې تېروي او د ډیموکراسۍ په لسیزه کې چې کله نوی اساسي قانون په ۱۹۶۴م کال کې تصویب کېږي، د میرزمانخان کورنۍ ته اجازه ورکړل شوه چې بېرته کونړ ته ستنه شي.

---

[48] زنداني خاطرات: د محمد هاشم زماني اثر، دویم چاپ، آرش نشراتي مرکز، د چاپ کال ۲۰۰۶م



زه په دویم صنف کې وم چې د میرزمانخان کورنۍ کابل ته راغله نو زموږ کور د کابل په اغاعلی شمس سیمه کې وه او زما خدای بخښلي پلار، سید محمود حسرت چې هغه وخت کې د کورنیو چارو په وزارت کې د احصائیې او ثبت احوال نفوس په څانگه کې کار کاوه، ورته ډوډۍ یعنې میلمستیا وکړه. د پښتنو د رسم و رواج په بنیاد، پلار مې د میرزمانخان د کورنۍ غړو ته د تمانچې ډزې وکړې. فرقه مشرخان محمد خان بابا چې د میرزمانخان کشر ورور و او د کونړو په اصطلاح ډېر سر زوری سړی و نو زما پلار ته یې وویل چې زویه پس د ۲۱ کلونو دې زما ماغزه بیا تازه کړل.

کله چې د میرزمانخان کورنۍ هرات ته لاړه نو زما مشر-ماما خدای بخښلی وکیل عبدالجلیل ملنگ چې په هغه وخت کې تازه د شپږم ټولگي نه فارغ شوی و، زما نیا، بي بي مریم جانې هرات ته ولېږه چې د وروڼو احوال ورته راوړي؛ خو کله چې حکومت له دې نه خبرېږي، په دې پلمه چې گوندې د حکومت پر ضد یې فعالیت کاوه، زما ماما یې شپږ کاله بندي کړ او ویې نه شو کړای چې خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي.

د میرزمانخان کورنۍ اوس مهال اکثره له هېواد نه بهر په بېلابېلو هېوادونو کې اوسېږي او د تعداد په لحاظ یوه لویه کورنۍ ده. د میرزمان خان اته زامن و:شیرمحمد خان، غونډ مشر-عصمت الله خان، غونډمشر گل محمد خان، حبیب الله خان، خیرمحمد خان، یارمحمد خان، ارسلاخان، او محمدهاشم زماني نومېدل. اوس یوازې ارسلان خان ژوندی دی.

د اروابناد محمد هاشم زماني د زنداني خاطرو په نوم کتاب د دغه دورې د ظلمونو یوه ښه نمونه ده، چې هر افغان یې باید ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیمه برخه

# د رنګرېزانو جنګ یا دوبي کال، د ساپو جګړه، د ګلاپړۍ جګړه او د باجوړ جګړه

## د رنګرېزانو[۴۹] جنګ یا دوبي کال[۵۰]

### خاص کونړ

په ۱۳۱۷ ل کال کې د شالۍ او ولۍ د سیمې موMندو د کونړ د کلي د مشرانو حاجي خدای رضا او حاجي علي رضا په پټ ملاتړ د کونړ په کلي کې د هندوانو او سکهانو مالونه لوټول او د سرکاري باغ په سیمه کې یې د ولسوالۍ په مرکز هم پټې ډزې کولې. د دوی د دې حملو په پایله کې د خاص کونړ امنیت ډېر خراب شو او حکومت مجبوره شو چې دغه سیمې ته نورې قواوې ولېږي او حاجي خدای رضا او حاجي علي رضا کورنۍ

[۴۹] په خاص کونړ کې رنګریزانو ته ننګریزان وایې. د ژبیونې له علمه، ولې رنګ په ننګ بدل شوی معلومه نه ده.

[۵۰] د چمیارۍ د کلي ملک محمد کریم سره مرکه، چې دی په دغه کال زلمی و او د ولسوالۍ د کلا جوړلو په بیګار کې هم برخه درلوده. ملک محمد کریم تقریباً د ۹۵ کلونو دی او اوس هم تکړه دی.(د اپریل نهمه نېټه کال ۲۰۱۶م، خاص کونړ)



یې چې دواړه ورونه وو، لغمان ولایت ته فرار کړل. هندوان او سکهان هم مجبوره شول چې د خاص کونړ ولسوالي پرېږدي او اکثره کورنۍ چغه سرای او جلال آباد ته کډه شوې. حکومت د خاص کونړ مرکز چې دکونړ له کلي سره نږدې د سرکاري باغ په سیمه کې و، د اراضي کلي ته انتقال کړ. وروسته حکومت د قاضي حبیب الله نه چې په قاضي اباجان مشهور و، د برې اراضي سره نږدې ځمکه واخیستله او هلته یې پر خلکو باندې په بیګار، د ولسوالۍ کلا جوړه کړه چې اوس هم د خاص کونړ د ولسوالۍ مرکز په همدغه ځای کې دی.

دا جګړه او بد امني چې یو کال یې دوام کړی و، د رنګریزانو یا دوبې کال په نامه ځکه یادېږي چې حاجي خدای رضا او حاجي علي رضا رنګریزان (دوبیان) وو. دا جګړه او بدامني د کونړ نورو سیمو ته خپره نه شوله او د دوی هدف دا و چې د خاص کونړ د کلي نه هندوان او سکهان کډه وکړي او د هغوی جایدادونه دوی ته پاتې شي. د کونړ په کلي کې اوس هم د ډاکتر سورنګ سنګ او مانک سنګ په نوم سکهانو کورنۍ تقریباً ۲۵ جریبه ځمکه لري. د دې جګړې نه وروسته حکومت د خاص کونړ په ولسوالۍ کې یو کنډک عسکري قطعه هم ځای پر ځای کړه چې اوس هم د کنډک په نامه چونۍ او کلا شته چې یو سرحدي ټولۍ هلته ځای پر ځای دی.

حاجي خدای رضا او حاجي علي رضا ما پخپله لیدلي وو او دوی ته بېرته د حکومت له خوا اجازه ورکړل شوه، چې کونړ خاص ته راشي او په خپل کلي کې واوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګلاپړۍ جګړه[۵۱]

د ګلاپړۍ جګړې اصلي عامل دا و چې د تیمور په نوم یو تن چې د ګلاپړۍ د سیمې اډوخېل و، په اوړي کې د شپې له خوا به یې د پشد په کلی کې غلا کوله؛ خو خلک نه پوهېدل چې دا څوک دی ځکه تیمور چې ښه مشهوره ملک و د شپې له خوا به یې خپل کالي (جامې) ایستلې او په ځان به یې شګې شیندلې او په لاسونو به یې خندۍ داره څپلۍ چې مېخونه به پکې و په لاس کولې. څرنګه چې دی په کلي کې بلد و نو هغو کورونو ته به ورته چې ښه معلومات به ورته و چې سړي (نارینه) پکې نشته دي. که د غلا پر وخت به پرې څوک راویښ کېدل؛ نو په هغه به یې د څپلۍ ګوزار کاوه او چا نیولی نه شو. نو په دې توګه د ولس ترمنځ اوازې شولې چې د پشد په سیمه کې برمانو (لوڅ پوڅی یا بې جامو نفر) پیدا شوی دی. چا به ویل چې انسان دی او چا به ویل چې پېری دی او ټوله سیمه یې له تشویش سره مخامخ کړې وه.

بالاخره د کلي ځوانان سره راټول شوي وو، چې دا برمانو باید خامخا ونیسي ځکه د کلي لپاره د بې عزتۍ خبره وه ،چې د کلي له کورونو نه غلاوې کېږي او غل نشي نیولی. دوی په همدې مصلحت کې وو، چې اوازه شوله چې برمانو د پاچیانو په کوم کور ورغلی او د کلي ځوانانو سمدستي وردنګلي او د برمانو پسې شوي دي او بالاخره برمانو یې په داسې حال کې چې د یو باغ په دېوال اوښته، نیولی دی. په دغه باغ کې تیمور خپلې جامې ایښودلې وې. د ده کمال دا و چې کله به د کلي

[۵۱] د ګلاپړۍ د جګړه په اړه کیسه راته زما تره مرحوم وکیل سید عبدالقادر، زما پلار مرحوم سیدمحمود حسرت او د ګنجګل د کلې مشر ملک محمدمیران کړې ده. په هغه وخت کې دوی درې واړه ځوانان وو.



خلکو د ده پسې چیغه وکړه نو ده به هم خپلو جامو ته ځان رساوه او هغه به یې اغوستلې او د کلي له خلکو سره به یو ځای کېده.

د کلي خلک چې تر څو تیمور یا په اصطلاح برمانو پېژني نو د ونې پورې یې تړي او ځوانان د برمانو د وهلو اراده کوي؛ نو په دې وخت کې تیمور خپل ځان دوی ته ورپېژني او عذرونه ورته کوي چې ویې نه وهي او ورته وایي چې زه خدای او د پشد اولیاو ووهلم چې غلاوې مې کولې او ویې شرمولم. د کلي مشران چې سخت په قهر و ځکه ده د دوی د کورونو بې عزتي کړې وه نو تیمور یې همداسې لوڅ د خاص کونړ ولسوالۍ ته چې هغه وخت د سرکانو ولسوالي هم د خاص کونړ په ولسوالۍ پورې تړلې وه، راوست. په دغه وخت کې د ننګرهار د بهسودو، جان محمد خان د خاص کونړ حاکم و.

د تیمور لوڅ راوستل د ګلاپړۍ د سیمې اډوخیل په قهر کوي ځکه د دوی د یو ملک بې عزتي شوې ده او لوڅ یې د خاص کونړ ولسوالۍ ته بیولی دی؛ نو دوی د مومندو نورو خېلونو ته ژړا[۵۲] کوي او د مومند لښکر د ګلاپړۍ په سیمه کې ځای پر ځای کېږي. په دې وخت کې د اډوخیلو لښکر، دوه ښځې چې د پشد ډاګ ته یې مالونه (څاروي) د څر لپاره وړي وو، تښتوي. څنګه چې د دې دوه ښځو د تښتولو خبر د پشد کلي ته رسېږي؛ نو د کلي خلک لښکر کوي او د اډوخیلو نه ښځې خلاصوي او جنګ د دوی ترمنځ دوام پیدا کوي چې بالاخره د خاص کونړ کنډک او د جلال آباد نه د حکومت نورې قواوې د پشد سیمې ته ورځي او د ګلاپړۍ د سیمې خلک ډېر سخت ټکوي او جنګ ختموي[۵۳]. د ګلاپړۍ د

[۵۲] ژړا عامه اصطلاح ده کله چې په چا ظلم یا تېری وشي نو مظلوم د کلي مشرانو یا خپل قوم ته ورځي او د مرستي غوښتنه کوي، ترڅو د ده د حقوقو نه دفاع وکړي.

[۵۳] دا پورته کیسه مې د خدای بخښلي پلارنه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ کال هم ۱۳۱۷ هجري شمسي- دی خو دا معلومه نه ده چې دې جګړې او بد امنۍ څومره وخت دوام وکړ خو د لاندې ټپکۍ نه معلومېږي چې دا جګړه د ښځو د ښتولو نه پیل کېږي او هم دولتي قواو ته زیات تلفات اوښتي دي:

کــه کجکـــي[54] دارې تللـــې نـــه وای
غــوټۍ غــوټۍ عســکر بــه ولــې رژېــدل

له لاندې ټپکۍ نه معلومېږي چې د ګلاپړۍ جګړه د ساپو د پاڅون نه دمخه شوې ده، چې ملک محمد میران هم ماته په مرکه کې وویل چې دا جګړه د ساپو د جنګ نه مخکې وه:

د ګلاپـــــړۍ جنـــګ یـــې لا څـــه و
جنــګ د باډیــل[55] و چــې ګلونــه رژېــدل

د ګلاپړۍ په جګړه کې د خاص کونړ د لښکر نه د چنچن د کلي دواجان او د منګوال د کلي نه د ښایسته ګل په نوم دوه کسه هم وژل شوي دي.[56]

## د ساپو پاڅون یا د ساپو بلوا (۱۳۲۴ ل کال)

دا جنګ په کونړ کې د ساپو د پاڅون او هم د ساپي کال په نامه یادېږي. که څه هم د ساپو په پاڅون کې د کونړ نورو قومونو هم برخه

---

[54] پخوابه ښځو په پیکیوکې کړې وړې کوڅۍ کولې چې کجکي به یې ورته ویل؛ نو دلته اشاره هغه دوه ښځو ته ده چې د پشد ډاګ ته وتلې وې.

[55] باډیل د کونړ یوه دره ده چې اوسېدونکي یي ټول ساپي دي.

[56] د چمیارۍ د کلي ملک طاوس خان سره مرکه(۹ اپریل ۲۰۱٦م کال، خاص کونړ)



درلوده خو دغه پاڅون د ساپو په نامه ځانګړې شهرت پیداکړی دی. له مشرانو سره د خبرو اترو په پایله کې زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چې د ساپو د پاڅون مهم دلیلونه دوه وو، چې یو یې د نفوسو یا جبري عسکرۍ نه منل او بل د ناروا مالیه اخیستلو مسئلې وې. د عمومي نفوسو[57] د ورکولو نه دمخه هشت نفري (اته کسیز) سیستم په کونړ کې رواج و، چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په خلکو کې منل شوی و، چې د هرو اتو نارینو نه به یې یو کس د عسکرۍ جبري خدمت ته د ولس له خوا لېږل کېدل. د دې یو نفر مصارف یا لګښت به د نورو اوه نفرو له خوا په شریکه ورکول کېده. د سردار محمدهاشم خان د صدارت په وخت کې (۱۹٤٦- ۱۹۲۹ م) حکومت غوښتل چې جبري عسکري عامه کړي یعنې هر څوک چې دوه ویشت کلن شي باید د عسکرۍ د خدمت دوه کلنه دوره سرته ورسوي. په ابتدا کې عسکري خدمت په عامه توګه دوه کاله و او یوازې چا چې فاکولته ویلې وه یعنې د لسانس تحصیل یې درلود، د عسکرۍ خدمت د هغوی لپاره یو کال و. د داؤد خان په وخت کې هغه چا چې مکتب نه و ویلی عسکري خدمت د هغوی لپاره دوه کاله، دولسم پاس به یو کال او چا چې فاکولته (لسانس) درلوده نو شپږ میاشتې د عسکرۍ خدمت دوره به یې تېروله. که څه هم د نفوسو مسئله اصلي عامل ګڼل کېده؛ خو په اصل کې د محلي چارواکو ظلم او ناروا او د ولس له وسې نه اوچته مالیه، ولس تر سپږمو (پوزې) رسولی و په داسې حال کې چې حکومت خلکو ته هیڅ خدمات نه دلودل، د دې له پاسه یې له خلکو نه نفوس او مالیه هم غوښتله.

---

[57] نفوس ورکول جبري عسکري خدمت ته ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې د کونړ زیاته برخه غرنۍ سیمه ده؛ نو زراعتي ځمکې ډېرې کمې او د خلکو عایدات هم ورسره ډېر کم (ټیټ) وو. په هغه وخت کې او حتی په دې وروستیو وختونو کې هم د کونړ ولس په وچه ډوډۍ په ګېډه موړ نه و؛ خو له دې سره د وخت حاکمانو د خلکو نه زیات باج او مالیه اخیستله چې د ولس له توانه اوچته وه. د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان په دور کې د مالیې سیستم د سه کوټی[58] په نامه یادېده چې د درې حصو د حاصلاتو نه به یوه حصه حکومت اخیستله. کله به چې د درمندونو وخت شو نو مامور مالیه او مؤظفو کسانو به درمندونه لومړی مهرولاک کول او د هغه په مخ کې درمند باید تلل (وزن) شوی وای. حتی داسې هم کېدل چې مامور د مالیه به وخت نه درلود او ټول درمندونه به یې په خپل وخت نه شول تللی؛ نو که باران به وشو زیاتره درمندونه به خرابېدل او د خلکو د خولې رزق به له منځه ته او خرابېده به. د غنمو د بوسو نه به یې هم مالیه اخیستله. کله چې به بیا د مالیې د ورکړې اندازه معلومه شوه نو زمیندارو ته به یې ویل چې دا د مالیې بوس او دانې (حاصلات) د حکومت په ګودامونو کې چې یو یې په اسمار او بل یې په کوز کونړ (ښوه) کې و، داخلې (تحویل) کړئ او د ګودامدار نه باید سند واخلئ. لومړی د دې حاصلاتو انتقال خورا ګران کار و ځکه ترانسپورتي وسایط نه و او زمیندارو به په حیواناتو (څارویو) دا دانې انتقالولې او هم به مجبور و چې ګدامدار ته د دانو په تحویلولو

---

[58] سرګذشت من: د سید شمس الدین مجروح اثر چې په ۱۳۹۱ هجري شمسي ـ کال کې د افغانستان ټایمز د مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی. صفحه ۳۷ کې د سه کوټي د مالیه سیستم یادونه هم شوې ده.



رشوت ورکړي ځکه ګودامدار صاحب به کړي وړي (هغه دغه) کول[59] چې اعلی درجه دانې باید ګدام ته تحویل کړئ. همداسې مالیه د چهل یک په نوم چې خلکو به ورته چېلک ویلو په بزو، غواګانو او حتی په غوړو هم وه. د څلوېښتو څارویو نه یو باید حکومت ته ورکړل شوی وای. نو په دې توګه ولس مجبوره و چې له خپلو ځکمو نه په پکو (تنګ) شي او پرېښودلو د ځمکي ته به مجبورېدل. که څه هم د جنس په توګه مالیه اخیستل د امان الله په دور کې لغوه شوې وه[60] او په نغدي پیسو بدله شوې وه؛ خو بیا هم حکومت خلک په تکلیفول او د زیاتو پیسو د مالیاتو غوښتنه به محلي چارواکو کوله.

د عبدالمالک ساپي د لیکنې په استناد، ساپي ملک ماموند په ګډه تعیینوي چې جلال آباد ته لاړ شي تر څو سردار داؤدخان ته د محلي چارواکو د ظلم له امله شکایت وکړي. همدا رنګه ډاکتر عبدالرحمن زماني د خپل پلار الحاج محمد ارسلان زماني له قوله لیکي چې د ننګرهار په شاهي باغ سالون کې یوه لویه جرګه وه، چې دی هم پکې و، د صدراعظم هاشم خان یوې خوا ته د کونړ حاکم اعلی سیدعباس پاچا او بلې خوا ته سید عبدالرزاق پاچا چې په شال پاچا مشهور و ناست و؛ نو صدراعظم هاشم خان خبرې پیل کړې او خلکو ته یې اخطار ورکړ چې اوسنی وخت د میرزمانخان له پخواني وخت سره توپیر لري، ځکه حکومت اوس توپونه، ټانکونه او الوتکې لري؛ نو دوعا وکړئ چې الله

---

[59] اوس هم په ښارونو او کابل کې څوک چې د کورونو مالیه تحویلي؛ نو باید رشوت ورکړي که نه ښاروالي مامورین مالیه د کور د خاوندانو نه تحلویلوي، یا یې جریمه کوي او یا دومره مالیه تعینوي چې د وسی او اندازه نه زیاته وي.

[60] سرګذشت من: د سید شمس الدین مجروح اثر چې په ۱۳۹۱ هجري شمسي ـ کال کې د افغانستان ټایمز د مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی. صفحه ۳۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تعالی مو د حکومت له غضب نه وساتي او دا وسایط ستاسې پر ضد استعمال نه کړي. تاسې باید د حکومت اوامر ومنئ او د حکومت له اوامرو نه سرغړونه ونه کړئ. په دې وخت ملک ماموند پاڅېږي او عصباني کېږي او د خلکو له خوا ټیل ناټیل کېږي او لنګۍ یې هم غورځېږي او ورته وایي چې کېنه. صدراعظم هاشم خان هم ملک ماموند خبرو ته نه پرېږدي؛ خو له دې سره ملک ماموند احساساتي کېږي او وایي که دی اوس خبرې ونه کړي نو څوک به د دوی په اړه خبرې کوي او خپلو خبرو ته دوام ورکوي. په همدې منځ کې شال پاچا صدراعظم هاشم خان ته وایي چې په عفوه کې زیات لذت دی او مجلس ته خاتمه ورکوي.**[61]

**په هر حال په دواړو روایتونو کې ساپي خپلې ستونزې او د محلي چارواکو د ظلم نه شکایت، صدراعظم هاشم خان او سردار داؤد خان ته د ملک ماموند په واسطه رسوي. د عبدالمالک ساپي د روایت نه داسې معلومېږي په کومه غونډه کې چې الحاج محمدارسلان موجود و، دا د دویم ځل لپاره ملک ماموند د ساپو استازیتوب کوي او خپل شکایت صدراعظم هاشم خان ته رسوي. عبدالمالک ساپی لیکي چې کله ملک ماموند بېرته کونړ ته راستنېږي، د ۱۳۲۳ل کال د سنبلې په ۲۱ مه نېټه، د ساپو مشرانو سره د دېوه ګل درې، د پلار درې په سیمه کې جرګه کوي. په دغه جرګه کې د ساپو دا لاندې مشران برخه اخلي:**

**۱. د باډېل درې نه میرسلام خان، رحیم دلخان، دواجان او سیدانشا**

[61] افغان جرمن انلاین، د ډاکټر عبدالرحمن زماني د ساپو د جګړې په اړه د مقالې اتمه برخه، چې د عبدالمالک ساپي د مقالې نه روایت کړی دی. دامقاله په ۲۸ د دسمبر ۲۰۱۵ م کال خپره شوې ده.



**۲. د دېوه ګل درې نه ملک ماموند، میرزا عبدالکریم خان او ملک ګلزار**

**۳. د مزار درې نه مولوي اباخان، الله خان او ملک دائین**

**٤. د شونکړۍ درې نه عبدالجلال**

**۵. د پېچ درې نه محمدصفدرخان، سیدستارخان، حاجي غلام عمرخان، وکیل محمدسید، محمدشاه خان، محمد جمال او ملک عظیم خان.**

**دا مشران د لسو ورځو خبرو او بحث نه وروسته د تلې د میاشتې په لومړۍ نېټه فیصله کوي، چې دوی به یو ځل خپل اواز او شکایتونه حکومت ته رسوي. په دې ځل جرګه کې ملک ماموند له شپږو نورو مشرانو محمدصفدر خان، عبدالجلال خان، میرزا عبدالکریم خان، مولوي اباخان، میرسلام خان او غلام عمر خان سره تعینوي او جلال آباد ته ځي. دوی د میزان په اومه نېټه، د سهار په نهه بجو د ریئس تنظیمه، عبدالله خان سره ګوري. عبدالله چې د مشرقي نائب الحکومه و ورته وایي چې سبا باغ شاهي ته راشئ تر څو د صدراعظم هاشم او سردار داؤد خان سره چې له کابل نه راغلي دي وګورئ. دوی په سبا یعنې د میزان په اتمه نېټه په شاهي باغ کې د صدراعظم هاشم خان، سردار داؤد خان، عبدالله خان او سید عالمشاه خان سره ګوري او ملک ماموند ورته په خپلو خبرو کې وایي چې موږ په پښتو کې یو متل لرو چې یو بام او دوه هوا، په ټول مملکت کې یو قانون دی او په موږ باندې بل غونډې قانون تطبیق کېږي. ملک ماموند زیاتوي چې موږ د ډېرې زمانې نه راپه دې خوا اته نفري ورکړې ده او پس له دې نه هم همدا اته نفري د عسکرۍ خدمت لپاره ورکوو. موږ د حکومت رعیت یو او دا سمه نه ده، چې زموږ نه دې څلور دورې عسکر(۲۷-۲۲) کلنی پوري په یوه دم وغوښتل شي ځکه په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان باندې کومه بهرنۍ حمله نه ده شوې او نه په ملک کې کوم اغتشاش شته دی، چې دومره نفر د عسکرۍ خدمت لپاره له موږ نه غوښتل کېږي. که حمله په افغانستان وشوه نو موږ بیا حاضر یو چې له حکومت نه دفاع وکړو او نفر ورکړو. ملک ماموند دوی ته وایي چې په ولس باندې پر دې سربېره، قسماقسم بیگار اچول کېږي، رشوت له موږ نه اخیستل کېږي او ځلور قسمه مالیه، چیلک (ځلویښتم) او گدام له موږ نه اخیستل کېږي چې دا سمه نه ده.**

**جنرال میر احمد مولایي په خپلو خاطراتو کې هم د ساپو د مشرانو د ستونزو په اړه یادونه کوي او وايي چې د ځوکۍ په رباط سیمه کې دی له داؤد خان سره و، کله چې هغه د دغه سیمې نه کتنه کوله او ملک ماموند ورته د ساپو د ستونزو په اړه شکایت وکړ؛ خو سردار داؤد خان ته د ده خبرو چندان خوند ورنه کړ او غوښتل یې چې دی او یو کس بل مشر د امرحیدر خان په نامه بندیان کړي؛ خو ده داؤد خان ته وویل چې دوی د مېلمنو په توگه تاسې ته راغلي دي او ښه نه ده چې بندیان یې کړئ.**

**جنگ د مزار درې نه په ۱۳۲۴ل کال د سرطان په نهمه نېټه چې د ۱۹۴۵م کال د جون د میاشتې د ۳۱مې نېټې سره سمون خوري پیل کېږي.[٦٢]**

**په ۱۳۲۴ ل کال کې د ساپو په پاڅون کې لومړی د مزار درې خلکو خاص رول درلود او د ساپو پاڅون د مزار له درې نه پیل کېږي چې ملک حیاوالدین او ملک الله خان د نورگل د ملک سید کریم د کلا نه**

[٦٢] افغان جرمن انلاین، د ډاکټر عبدالرحمن زماني د ساپو د جگړې په اړه د مقالې اتمه برخه چې د عبدالمالک ساپي د مقالې نه روایت کړی دی. دا مقاله په ۲۸ دسمبر ۲۰۱۵م کال خپره شوې ده.



**حکومتي ټوپکې تښتوي. له دې نه پس د نورگل حاکم عبدالوهاب خان د احصائیې له مامورینو سره یو ځای مزار درې ته ورځي او د مزار درې له خلکو نه د حکومتي ټوپکو بېرته غوښتنه کوي او هم د خلکو نه د نفوس اخیستلو ثبت نام غواړي. ساپي د حاکم عبدالوهاب خان دا غوښتنې نه مني او د شولت په سیمه کې د حاکم او د احصائیې دولتي مامورین بندیان کوي. د دې پېښې نه وروسته، شهسوار او سلیمی هم د تیتک د سیمې نه مزار درې ته ورځي او د لښکر بندو بست کوي. دوی ولسي بیرغ د حکومت پر ضد پورته کوي او د سلام پور تر غاښي پورې ټولې سیمې نیسي. د دې لښکر بیرغچي سیداحمد اکا نومېده؛ خو چې کله حکومتي قواوې د جلال آباد نه را رسېږي نو د ساپو لښکر په شا تنبول کېږي.[٦٣] ډاکټر عبدالرحمن زماني د خپلو مقالو په دولسمه برخه کې لیکي، چې د دې جگړې نه وروسته ساپو او د کونړ نورو قومونو د حکومتي قواو سره چریکي جنگونه پیل کوي.**

**داپاڅون یولس میاشتې[٦٤] دوام کوي چې د کونړ ډېرې سیمې د حکومت له خوا بمباري کېږي او په سل گونو کسان د حکومت له خوا وژل کېږي. په دې جگړو کې حکومتي قواو ته هم خورا دروند تاوان رسېږي. د ساپو د جنگ په اړه ډاکټر عبدالرحمن زماني د خپلو مقالو په اتمه برخه کې د ساپو د جنگ پوځي او ملکي تلفات د ځلور زرو کسانو په شاخوا کې ښودلي دي. دی زیاتوي چې د حکومت هدف دا و چې که د نفوسو اخیستلو پروسه په کونړ کې عملي کړي؛ نو په دې توگه به د مشرقي نور قومونه هم نفوس ورکړي. جنرال میراحمد مولایي په خپل**

[٦٣] د نورگل د ولسوالۍ مشر، لیکوال او شاعر محمد حسن حسام سره په ۲۸ د میزان ۱۳۹۱هجری شمی کال کې مرکه وکړه او دا معلومات مې ترې واخیستل.

[٦٤] مینوسکرپت د پروفیسر ډیوید آډوارتس د کتا ب نه چې د Caravan of Maytres په نامه یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه جلده یاد داشتونو کې د ساپو د جنګ عملیات په ښه توګه لیکلي دي، ځکه دی هغه وخت د مشرقي د فرقې قوماندان او پخپله د جنګ په صحنه کې حاضر و.

ملک الله داد چې حاکم یې نیولی و هغه بندي کېږي او په زندان کې مري. ملک ماموند د دېوه ګل په اول سر کې نیول کېږي او بیا یې د بندیخانې نه خوشي کوي؛ خو وروسته د څوکۍ او نورګل په منځ کې د نامعلومو کسانو له خوا وژل کېږي. اما ملک میر سلام[٦٥] د باډېل بیا بندي کېږي او ۱۸کال او درې میاشتې او ۱۵ ورځې په بندیخانه کې تېروي، ځکه ده نه غوښتل چې د هېواد بل ولایت ته لاړ شي. چې د بندیخانې نه خوشي کېږي نو بېرته کونړ ته راځي او هلته وروسته کلونو کې په خپل مرګ مري.

د همدغه کال د څوکۍ ولسوالۍ په مرکز کې چې رباط ورته وایي د سنبلې جشن په جوړوي او حکومت د ساپو نه څلور غوښتنې کوي. ساپي باید نفوس ورکړي، د درو داخل ته باید سړکونه وغځول شي، باقي کسان چې د قومي په حساب پاتې دي عسکري خدمت ته ولېږي او هم د مالیه باقیداري حکومت ته تحویل کړي[٦٦].

د ۹-٦ د جولای کال ۱۹۴۵ چې د سرطان د میاشتې ۱۸-۱۰ مه ۱۳۲۴ل کال کېږي، داؤد خان ښېوې ولسوالۍ ته ځي او د ساپو د جنګ نګراني پخپله کوي. د جولای په ۲۰مه نېټه، کال ۱۹۴۵ حکومت فرقه مشر خان محمدخان چې د میر زمانخان کشرـ ورور و د شیرمحمد خان او عصمت الله په شمول چې د میرزمانخان زامن و، کابل ته غواړي او هلته

---

[٦٥] د ملک میرسلام خان د ورارہ حاجي عبدالقادر د باډېل سره تیلفوني مرکه (۵ مې ۲۰۱٦م کال، کابل)

[٦٦] د ساپو د پاڅون په اړه د ډاکتر عبدالرحمن زماني مقاله دیارلسمه برخه چې په افغان جرمن انلاین کې په ۱۷ د جنورۍ ۲۰۱٦م کال خپره شوې ده.



یې بندیانوي[٦٧]. په همدغه وخت کې د میرزمانخان د کورنۍ نور غړي جلال آباد ته غواړي او هغوی هم بندیانوي او د کورنۍ د ماشومانو او ښځو پسې قواوي کونړ ته لېږي او په دې بهانه چې د جنګ له امله باید دوی جلال آباد ته کډه شي راولي او هماغسې ټول کابل ته لېږي او په دې توګه د میرزمانخان د کورنۍ ټول غړي، نارینه، ښځې او ماشومان په دهمزنګ او کلاچې سیمه کې د دیارلس کلونو لپاره بندیان کېږي او وروسته هرات د اته کلونو لپاره چې څنګه مخکې یادونه شوې تبعید کېږي. د دې خبرې یادونه ضروري ده چې یوه کورنۍ په خپل ملک کې ۲۱ کاله بندیخانه او تبعید تېروي څه اسانه کار نه دی او حکومت د ظلمونو همدا یوه ښه نمونه ده.

له جنګ نه وروسته د ساپو زیات شمېر مشران د کونړ نه فرار او د افغانستان نورو سیمو ته تبعید کېږي. د دې انقلاب درې مهم مشران شهسوار، سلیمي او امان الملک د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ ته او یو شمېر نور مشران لکه سلطان محمد خان د پېچ، شبرغان ته او لعلوجان د بلخ ولسوالۍ ته تبعید کېږي چې د دوی د کورنیو یو شمېر زیات غړي اوس هم هلته اوسېږي. د کونړ یو شمېر نورې مشهورې کورنۍ لکه د لوی خان میرزمان خان ټوله کورنۍ هم په همدغه کال هرات ته[٦٨] د وټه پور د محمدامین خان، جمدر خان او اکبر خان کورنۍ شبرغان ته فرار کړای شوې چې د ډیموکراسۍ تر لسیزې پورې (۱۹٦۴ م کال) دوی ته د دې اجازه نه وه چې کونړ ته راشي او په خپلو کورونو کې واوسېږي.

---

[٦٧] پورته ماخذ

[٦٨] http://zamanifamily.org/?page_id=۹۵ د میرزمان د کورنۍ ویب پاڼه (اخری ځل دا ویپاڼه په ۲۷ د نومبر ۲۰۱۵م وکتل شوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کیږی چې د هغه وخت مشهور ملا چې د سید جمال[۶۹] په نامه یادېده د ساپو مشرانو ته ویلي وو که دولس زره کسان خپل پاچا وټاکي نو د دوی پاځون به شرعي جنبه پیدا کړي، چې د دوی جنګ به له بلې پاچاهۍ سره وي؛ نو په دې توګه به د دوی مړي شهیدان وي. که دوی خپل پاچا ونه ټاکي نو د دوی جنګ به د پاچا پر ضد اغتشاش وي او د دوی مړي به د شهیدانو په لیکه کې نه حسابېږي. هماغه وو، چې د ساپو مشرانو شهسوار د پاچا، سلیمی د صدراعظم او امان الملک د دفاع د وزیر په توګه وټاکل. د ملا سیدجمال فتوا دا وه که حکومت د سړک له پاسه د ساپو په سیمه او درو حمله وکړه؛ نو بیا دوی حق لري چې له ځانونو د دفاع لپاره د حکومت پر ضد د بلې پاچاهۍ سره جګړه وکړي نو په دې توګه به د دوی مړي د شهیدانو په کتار کې حساب شي. امان الملک چې په ملک ساپي مشهور و ما پخپله په پېښور کې لیدلی و، چې پوځي کرتۍ او خولۍ به یې په سر کوله. د دغه او نورو جنګونو په اړه محلي زیاتې لنډۍ او سندرې ویل شوي دي. د ساپو د جنګ په اړه د یوې لنډۍ یادونه راته پوهاند ډاکټر محمد قاسم جمدر په دې توګه وکړه:

په ساپو کې سلیمی و
د تورې زمری و
ډاکې بی اچولې د ځوکۍ په رباط[۷۰]
عسکر یې کړل برباد

---

[۶۹] مینوسکرپت د پروفیسر ډیوید آډوارتس د کتا ب نه چې د Caravan of Maytres په نامه یادیږی.

[۷۰] رباط د ځای نوم دي چې د ځوکۍ ولسوالۍ مرکز اوس هم هلته دي او د کونړ سیند شمال خواته واقع دی. د ډېر پخوا نه دا سیمه د رباط په نامه یادیږي. پخوا به حکومتونو په عمومی لارو د مسافرو لپاره تمځایونه جوړول او عسکري قشله به هم هلته وه؛ نو دا ځایونه به یې د رباط په نامه یادول. په کوز کونړ کې د ښېوي ولسوالۍ مرکز هم د رباط په نامه یادېده، چې هغه هم د لارې په سر او د ځوکۍ ولسوالۍ په څېر د کونړ سنید شمال ته واقع دی.



د ساپو د پاځون زیاتې جګړې په ځوکۍ ولسوالۍ کې شوې دي؛ نو یوکس چپړاسي[۷۱] چې محمدرسول نومېده او محلی شاعر و دا لاندې شعر یې ویلی و[۷۲]:

چې جګړه جوړه شوله په کولمانۍ[۷۳] باندې
ورته راټول شول ساپي ټول په سیالۍ باندې

توره په لاس سلیم خان ګرځي په غرونو
چې نا مردي ونه کړئ شاباسئ ورونو

مهمندو بیالوده په شش پولې[۷۴] باندې
درې لیوا غرقې شولې په کولمانۍ باندې

زه یم طالب محمد رسول وایمه شعرونه
په خوله مې لاس ایښې چپړاسي یمه

نورې داسې ډېرې ټیکۍ او سندرې د ساپو د جنګونو په اړه ویل شوي دي. هغه وخت چې جنګي الوتکې ډېرې پر مخ تللې نه وې؛ نو د سورلکۍ او شین لکۍ جهازونو (الوتکو) په نومونو به یادېدلې. یوه د دې

---

[۷۱] د ښوونځي ملازم ته چپړاسي وایي

[۷۲] دا شعر راته د تنر د کلی حاجي صیب غفورخان چې د ده د کورنۍ زیات کسان په دغه جګړه کې شهیدان شوی وو، د ۱۹۹۳ کال د جوزا په ۳۱مه نېټه ووایه. حاجی صیب غفور خان د ده په قول یو اتیا کلن دی.

[۷۳] کولمانۍ په ځوکۍ ولسوالۍ کې د یو کلی نوم دی.

[۷۴] شش پولي د پیسو اندازه وه، چې شپږ پوله به وه خو دلته مطلب دا دی، چې مومندو د پیسو لپاره په دغه پاځون کې فعاله ونډه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکو نه په کوز کونړ کې غورځېدلې وه؛ نو ما د خپلې مور له خولې دا لاندې ټپکی رانقل کړې ده:

د سلیمي دې حکمت ته ګوره
جهاز یې راکوز کړ لکه زرکه په ټوپونو

دا چې ډېر کسان د ساپو په جنګونو کې وژل شوي دي؛ نو د دې لاندې ټپکی نه معلومېږي چې ولس هم د جنګ نه ستړی شوی و:

سلیمیه روغه وکړه
ساپی دې لنګې شوې د ګټو په سرونو

د کابل حکومت په لومړی سر کې په سلطان محمدخان د پېچ درې، ملک عبدالقادر د کورباغ، میراعظم خان د شوړیک، شهسوار د دېوه ګل او شیخ محمد حنیفه د چمبرک باندې د اعدام حکم وکړ؛ خو وروسته یې دوی له کونړ نه فرار کړل.

پېچ درې په لومړي سر کې د ساپو د جنګ ملاتړ نه کاوه؛ خو یوازې سلطان محمدخان په پټه غوښتل چې د نورستان د سیمې ولس هم له ځان سره ملګری کړي تر څو د حکومت په مقابل کې وجنګېږي ځکه په دې وخت کې نورستان د حکومت ملاتړ کاوه او د پېچ درې خلکو ته ستونزمنه وه چې هم د نورستانو سره او هم د حکومت سره په یوه وخت کې وجنګېږي. حکومت د سلطان محمد خان د دې نیت نه خبر شو ځکه حکومت شال پاچا د پېچ درې ته لېږلي ترڅو معلوم کړي چې څوک د حکومت طرفدار دي او څوک نه. سلطان محمد خان په خوش باوری شال پاچا ته خپل پلان ویلی او بیا شال پاچا د سلطان محمد خان پلان کټ مټ صدراعظم هاشم خان ته رسولی و. لکه چې ځنګه مخکې



یادونه شوې، کله چې د ساپو مشرانو صدراعظم ته خپلې ستونزې ویلې نو شال پاچا هم هلته موجود و.

د ساپو مشرانو د ساپو په کال دا تړه کړې وه چې هیڅوک به په خپلو منځو کې په یو بل تعرض نه کوي؛ نو په دې وخت کې مسعودو د شوړیک یو کس وواژه او ساپو په هغو پسې لښکر وکړ او حکومت دا اوازه خپره چې دا کار سلطان محمدخان کړی دی. حال دا چې سلطان محمدخان په دغه پېښه کې لاس نه درلود. همدا رنګه میراعظم او شهسوار، سلطان محمدخان ته خبر ورکوي چې د ګوربزو لښکر شوی او په تا حمله کوي؛ نو ښه دا ده چې خپل سیمه مورچل پرېږدې. سلطان محمدخان بیا لغمان ته ځي او له هغه ځایه جلال آباد ته ځي تر څو داؤد خان وګوري. دا چې داؤد خان د سلطان محمد خان د نیت نه مخکې د شال پاچا په ذریعه اطلاع درلوده نو سلطان محمد خان بندي کوي او وروسته د سلطان محمد خان کورنۍ لومړی فراه او له هغه ځای نه شبرغان ته فراروي.

## د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د ساپو د کال د بمباریو د دریو بېلګو یادونه:

سورلکۍ جهاز یوه بمباري د تنر په کلي کې د اخونزادګانو د میرزا عزیز خان په کور کړې وه، چې څوارلس کسه ښځې، نرینه او ماشومان پکې وژل شوي و. د بمباریو د وېرې دوی ونه شو کړای چې خپل مړي په خپله هدیره کې ښخ کړي. دوی خپل مړي د خپلې کلا نه بهر د شپې له خوا ښخ کړل چې د دوی قبرونه اوس هم هلته شته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه بمباري د تنر سره نږدې د پاچایانو په بانډه باندې وه چې په هغه کې زما د مور خور چې د دې نه مشره وه او هم د عصمت الله روحاني[۷۵] مور او یو ګڼ شمېر نور کسان پکې وژل شوي وو.

درېیمه بمباري د منګوال کلي سره نږدې د سید حنیف پاچا په کور وشوه چې ګڼ شمېر کسان د هغه په کلا کې راټول شوي وو. که څه هم حکومت دوی ته ویلي و که څوک له حکومت سره مخالفت نه کوي نو د پاچایانو په کلا کې دې راټول شي؛ خو له دې سره د حکومت جنګي الوتکو پرې بمباري کړې وه. د ډاکټر سیدقاهر عاطف چې هغه وخت کې دی د دولس یا دیارلس کلونو په عمر و، راته وویل چې د سیدحنیف پاچا په کور باندې د دغه بمبارۍ له امله څلېرویشت کسه ښځې، نرینه او ماشومان شهیدان کړای شوي دي.

که څه هم حکومتي قواو ډېر تلفات درلودل خو له دې سره مقاومت یې هم کاوه او د خاص کونړ د تنر کلي سره پوځي کنډک تر اخره مقاومت وکړ او ولسي لښکرو ونه شو کړای چې د کنډک چونۍ ونیسي. نو دا ټیکې یې ښه نمونه ده:

خلک دې داسې زامن راوړي

لکه کوچۍ چې کنډکي[۷۶] راوړي دینه

او داسې هم شوي چې یو شمېر عسکرو مقاومت نه دی کړی او خپله خوښه یې ځانونه تسلیم کړي دي لکه چې د لاندې ټیکۍ نه معلومېږي، چې د خاص کونړ د تنر غونډۍ له پاسه چونۍ چې یو ټولی عسکر هلته

---

[۷۵]عصمت الله روحاني دا مها ل په کاناډا کې اوسېږي.

[۷۶]کنډکی خطاب دی د دې قشلې کنډکمشر ته او دا معلومېږي، چې د دې کنډک قوماندان اصلاً کوچی احمدزی و.



وو او مهم سوق الجیشي اهمیت یې درلود؛ خو د دې ټولي قوماندان دغه چونۍ پرېښودلې وه او تښتېدلی و:

چونۍ یې په سازه ورله پرېښوده

فقیر[۷۷] جامې د جنکو اغوستې وې

د انګریزانو د راپورنو په استناد، دا پورته پېښه د ۱۹۴۵م کال د اګست په ۲۲مه نېټه شوې ده[۷۸].

ملک امانت خان د خاص کونړ ډېر نامتو سپین ږیری و، چې د ثور د کودتاه نه وروسته مړ شو. کله چې لوا مشر عارف خان د ساپو په کال کونړ ته راځي او د خاص کونړ په سیمه کې له مشرانو سره د کتلو په وخت د نفوس غوښتنه کوي؛ نو د خاص کونړ سپین ږیرو د عارف خان غوستننه رد کړه او د سپین ږیرو په استازیتوب ملک امانت خان خبرې کوي. عارف خان ملک امانت خان په سل ګونو لښتو ډېر سخت د خلکو په مخ کې وهي؛ خو ملک امانت خان ورته ویلي و که اره راواخلې او زما په سر یې کېږدې او دوه ځایه مې هم کړې او دا ټول کونړ درسره نفوس ومنې زه یې نه منم. زما د تره په قول امانت خان یې دومره وواهه چې خبرې یې نه شوې کولی خو د عارف خان خبره یې ونه منله. وروسته د ملک امانت خان او عارف خان سره پوره انډیوالي وه او کله چې عارف خان د دفاع وزیر شو؛ نو امانت خان به کله کله هلته د هغه لیدو ته ورته.

که څه هم ډېریږ اډوارډ د دې جنګ موده یولس میاشتې ښودلې او له همدې امله دغه کال ته ساپي کال وایي. که د یوه کال نه زیاته موده وی نو شاید په ساپی کال یې شهرت نه وای موندلی. اما دا جنګ بالاخره

---

[۷۷]فقیرد دې ټولي قوماندان و.

[۷۸]د ساپو د جنګ په اړه د ډاکټر عبدالرحمن زماني د مقالو ۱۷مه برخه چې په افغان-جرمن انلاین کې په ۱۴ فبروری ۲۰۱۶م کال خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زیاتو ځاني او مالي تلفاتو نه وروسته په ۱۳۲۵ هجري شمسي- کال کې پای ته ورسېد او جبري عسکري د کونړ په ولس تحمیل شوه او د ساپو او د کونړ زیاتې مشهورې کورنۍ تبعید کړای شوې. عسکري خدمت ته د کونړ نه لومړنۍ دوره هم په همدې کال ونیول شوه.

## د باجوړ جنګ (۱۹۶۰م کال)

د باجوړ جنګ د ۱۹۶۰ م کال د سپټمبر په میاشت کې وشو، چې سردار داؤد خان د سفر برۍ امر ورکړ او د باجوړ په سیمه یې حمله وکړه، چې د کونړ او مشرقي ډېر شمېر مشران او سپین ږیري په دغه جګړه کې ووژل شول. زما تره وکیل عبدالقادر کیسه کوله چې غلام فاروق خان د مشرقي رئیس تنظیمه و او په چغه سرای کې یې د لښکر مشرانو ته خبرې کولې؛ نو په خپلو خبرو کې وویل چې د تاسې نه د اصحاب کرامو غوندې غزا غواړم. یو کس سپین ږیری ورجګ شو او ورته یې ویل چې که ته له موږ نه د اصحاب کرامو غوندې غزا غواړې نو د اصحابو کرامو په وخت کې به پیغمبر مخکې و او صحابه به ورپسې وو، نو ته مخکې شه او موږ به درپسې یو. ته په جلال آباد کې ناست یې او له موږ نه په تش لاس د صحابه کرامو جنګ غواړې.

یو عامل د جنګ دا و، چې کله په ۱۹۴۷م کال کې هندوستان یا د هند نیمې وچې له انګریزانو نه خپلواکي واخیستله او پاکستان جوړ شو، نو په ملګرو ملتونو کې د افغانستان حکومت د پاکستان د جوړېدو مخالفت وکړ او د ډیورنډ کرښه یې په رسمیت ونه پېژانده او همدا رنګه افغانستان د پښتنو د حقوقو او د پښتونستان د داعیې او د پښتنو د یووالي اواز اوچت کړ. د ۱۹۶۰ م کلونو نه پخوا دیر، سوات او باجوړ نیمه



مستقلې سیمې وې او د پاکستان حکومت په دغه کال دا سیمې د پاکستان مرکزي حکومت پورې وتړلې. د پاکستان د حکومت تسلط او نفوذ په دغو سیمو کې د افغانستان د حکومت لپاره د منلو او زغم وړ نه و؛ نو ځکه یې بې له پوره امادګۍ، په احساساتي توګه د باجوړ د نیولو اراده وکړه. د افغانستان د حکومت د دې ناکامه حرکت په وجه د مشرقي ولایتونو ډېر مهم او تکړه مشران د ګڼ شمېر نورو ځوانانو سره د پاکستان د ملېشو له خوا ووژل شول او ولسي لښکر ډېره سخته ماتې وخوړه. د دې جنګ د عواملو او تفصیل په اړه زیاتو څېړونو ته ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه برخه

## په کونړ کې د علماوو تحریک او د ثور د کودتا نه وروسته د کونړ پاڅون یا د جهاد پیل

مولوي حسین[79] چې وروسته په مولوي جمیل الرحمن او شیخ جمیل الرحمن یې شهرت وموند په ۱۳۴۸ هجري شمسي کال کې د پښتونخوا له پنج پیر[80] مدرسې نه فارغ شو او د دینې زده کړو تر فراغت وروسته بېرته کونړ ته راستون شو. د مولوي جمیل الرحمن کورنۍ چې په اخونزادگانو شهرت لري د پېچ درې د ننگلام په کلي کې استونگه درلوده او ابتدایي سبقونه یې د کونړ ولایت په نورو سیمو او د خاص کونړ په مدرسو کې هم ویلي وو. د پنج پیر د مدرسې فارغان او پیروان په کونړ کې د پنج پیریانو په نامه یادېدل. کله چې مولوي حسین کونړ ته د تدریس د ختم نه وروسته لاړ نو په خپله سیمه کې یې په مدرسه کې د تدریس او د بدعت پر ضد د تحریک لړۍ پیل کړه. موړ په لیسه کې وو، چې په کونړ کې د الحمدالله د اخري حروف د تلفظ په سر چې (دالین) او که (ظالین)

[79] له حاجي روح الله سره مرکه (۳۱ مارچ ۲۰۱۶م کال، جلال آباد). حاجي روح الله د مولوي جمیل د تره، حاجي محمد وکیل چې په ملا گوډ مشهوره و، زوی او سلفیانو د تنظیم فعال غړی دی.

[80] د پنج پیر کلی د پښتونخواه په صوابۍ سیمه کې پروت دی، چې شیخ الحدیث محمد طاهر هلته مدرسه جوړه کړې ده .د دې مدرسي فارغینو ته یې په کونړ په لومړي سر پنج پیریان ویل کېدل.



تلفظ شي د پنج پیریانو او نورور عالمانو تر منځ شخړې زور واخیست. په همدغه کال مولوي حسین وکالت ته هم ځان کاندید کړ؛ خو کامیاب نه شو او وټونه د چپې درې سید محمدخان وگټل.

دا چې مولوي حسین ځان وکالت ته کاندید کړی و؛ نو د دې نه داسې جوتېږي چې د مولوي حسین سره سیاسي انگېزه وه او د سیمې له هغو عالمانو سره چې له ده سره هم نظره وو، رابطه ټینگوله. په دې لړ کې ده د مولوي رحمت جمال (وروسته یې په میرزا مولوي شهرت درلوده او د ده مرستیال و)، مولوي سعید د کنډه گل، مولوي غلام حیدر د چپې درې، مولوي فقیرالله او مولوي غلام رباني د وایگل درې د ارنس یا جنچیگل کلي، مولوي ابراهیم د پارون او همدارنگه په کابل کې د مسلمان ځوانانو(جوانان مسلمان) د تحریک سره اړیکې درلودې.

په ۱۳۵۴ ل کې حکومت د مولوي حسین په کور حمله وکړه چې هغه ونیسي؛ خو دی وتښتېده او پېښور ته لاړ، اما د مولوي حسین د تره زامن او خپلوان عبدالوکیل، محمد وکیل چې په ملا گوډ مشهور و، غلام صادق اخونزاده چې په قاضی اخونزاده مشهوره دی، مولوي محمد کفیل[81]، حاجی عصمت او معلم عارف یې ونیول. عبدالوکیل او معلم عارف څوارلس میاشتې بندیان وو او دا نور تر دوه میاشتو زندان وروسته خوشې شول. پر دې سربېره د پېچ په دره کې یو شمېر نورو معلمینو او عالمانو چې له مولوي حسین سره یې اړیکې درلودې، هغه هم ونیول شول لکه استاد میرامگل د کنډه گل او مولانا فیض محمد د ننگلام چې د دواړو مرگ او ژوند لا تراوسه نه دی معلوم.

[81] مولوي محمد کفیل وروسته د خلقیانو له خوا ونیول شو او تر اوسه یې مرگ او ژوند نه دی معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پنج پیریانو عالمانو وروسته د وهابیانو، مودودیانو او د اهل حدیث په نوم شهرت وموندہ. کله چې مولوي حسین په ۱۳٦٥ هجری شمسی کال کې د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة په نوم تنظیم جوړ کړ؛ نو دا ډله اوس د سلفیانو په نوم شهرت لري او د تنظیم له اعلان سره د مولوي حسین نوم هم په شیخ جمیل الرحمن تبدیل شو.**

**په ۱۳۵۴ هجری شمسی کال کې چې کله د مسلمانو ځوانانو (جوانان مسلمان) ډلې یو شمېر کسان پېښور ته لاړل او د پاکستان د حکومت له خوا تربیه او په نظامي وسلو مجهز شول، چې د داؤد خان د حکومت پر ضد حملې وکړي. د شیګل په سیمه کې کشمیر خان[۸۲] چې د خوشال خان په لېسه کې زده کوونکی و د مسلمان ځوانانو د ډلې ملګری و او د شیګل په متوسطه یې حمله وکړه او څلور معلمین یې چې د شیګل په بازار کې کوټه درلوده او د اوړي په موسوم کې بېدیا ویده وو، بیګناه ووژل. له دې حملې نه وروسته کشمیرخان هم پاکستان ته وتښتېد. اما زما د بلې مرکې په ترڅ کې، انجینر وحیدالله سباوون دا نه منې چې ګونډې دا کسان د کشمیرخان له خوا وژل شوي دي؛ خو دی وایي چې د شیګل پېښه د جوانان مسلمان د تحریک له پلان سره سمه په موفقانه توګه سرته ورسېده.**

**د جوانان مسلمان د تحریک ځوانان چې په کابل کې یې په بېلابېلو ښوونځیو او پوهنځیو کې درسونه ویل خورا فعال وو او د دې ځوانانو مشري د پېنځه درې د وره دیش کلي، انجینر جان محمد کوله. انجینر جان**

---

[۸۲] د کشمیرخان اصلي نوم فضل الرحمن دی؛ خو کله چې دوی پاکستان ته لاړ نو د مسلمان ځوانانو ډلې اکثره غړو په ځانونو مستعار نومونه کېښودل چې وروسته دوی په همدې مستعارو نومونو شهرت پیدا کړ.



**محمد[۸۳] د کابل د پولې تخنیک د پوهنتون د دویم صنف محصل و. د جوانان مسلمان تقریباً د رهبری په اوله یا دویمه کټګوری کې و. دی د انجینر ګلبدین حکمتیار سره یوځای د داؤد خان د جمهوري ریاست په دوره کې د یولسو نورو ملګرو سره پېښور ته وتښتیده. انجنیر جانمحمد د پاکستان سره د جوانان مسلمان د تحریک د رابط غړي په توګه کار کاوه او د مالي کمېټې رئیس هم و. د انجینر جان محمد فرعي نوم صادق و.**

**د ۱۳۵۴ هجري شمسي- کال په اوړي کې د داؤد خان د حکومت پرضد تر ناکامو عملیاتو وروسته، په پېښور کې د مسلمان ځوانانو په ډله کې اختلاف رامنځته شو، ځکه یو شمېر چې د انجینر ګلبدین حکمتیار پلویان وو، په نظامي مبارزه یې تاکید کاوه او یو شمیر چې د استاد برهان الدین رباني سره همغږي وو، په فرهنګي مبارزه یې تاکید کاوه. د استاد رباني او ملګرو دلیل یې دا و چې د افغانستان ولس لا دې ته چمتو نه دی چې د دوی د نظامي عملیاتو ملاتړ وکړي. انجنیر جان محمد هم په همدې ډله کې و، چې په فرهنګي مبارزه یې عقیده درلوده. په همدغه کال د حوت په میاشت کې قاضي محمدامین وقاد[۸۴] د اسلامي حزب مشر- ټاکل شوی و، ځکه چې انجینر ګلبدین حکمتیار او استاد برهان الدین رباني یو بل نه منل.[۸۵] هماغه وو، چې د پاکستان د استخباراتي شبکي په ملاتړ د حکمتیار ملګرو یوڅه اسناد چې په تورخم کې یې نیولي وو، لاس**

---

[۸۳] د انجنیرجان محمد دوه ورونه، ډاکتر سید محمد او ډاکتر شېرمحمد هم د ثور د کودتا نه وروسته خلقیانو ونیول، چې تر اوسه لادرکه دي او په اغلب ګومان وژل شوي دي.

[۸٤] صفحه ۱۲۰، له ویاړ او ستونزو ډک سفر (دافغانستان اسلامي نهضت ته لنډه کتنه)، د انجینر وحیدالله سباون اثر، د چاپ کال ۱۳۹۴ هجري شمسي، دافغانستان متحد اسلامي حزب چې انجینر وحیدالله سباون یې مشری کوي، د فرهنګي کمیته له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

[۸۵] په پېښور کې د تنظیمونو د جوړېدو په اړه زیات معلومات دې د لیکوال په بل کتاب د واقعیتونو په بهیر کې، ولوستل شي.

ته ورغلل چې په د دغه اسنادو په استناد، استاد رباني د داؤد خان د حکومت سره اړیکه نیولې وه، که دوی ته د سیاسي فعالیت لاره هواره شي، نو دوی به بېرته کابل ته ستانه شي. په همدې تور، پاکستان انجینر جان محمد نیولی و او وروسته یې اسلامی حزب ته په لاس ورکړی و، چې بیا انجنیر جان محمد همداسې لار درکه شو. د انجینر جان محمد په بدل کې د جوانان مسلمان د تحریک بل فعال غړی عنایت الله چې مستعار نوم یې استاد عبدالله و او حکمتیار ته نږدې کس و، د کرمې ایجنسۍ په سدې سیمه کې ووژل شو. استاد عبدالله د ساینس د فاکولتې محصل و او اصلاً د ننگرهار د شېرزادو ولسوالۍ اوسېدونکی و، چې ده هم په دې تحریک کې د جوانان مسلمان د رهبرۍ په سطحه رول درلوده.

کله چې په ۱۳۵۵ هجري شمسي کال کې جمهور رئیس داؤد خان کونړ ته په اخري ځل تللی و؛ نو د مکتب زده کوونکي ورته په لاره کې هر کلي ته ولاړ وو. زه په دغه وخت کې د خاص کونړ په لېسه کې د دولسم ټولگي زده کوونکی وم او په همدې ورځ ډېر سخت باران هم وشو. زما د عمه زوی، خدای بخښلي عبدالصبور عزیزي په قول، په چغه سرای کې داؤد خان د نورو خبرو په ترڅ کې خلکو ته په قهرجنه لهجه وویل: یک ملا حسین است شما او را گرفته نمیتوانید.

د انجینر وحیدالله سباوون په قول، د ۱۳۵۵هجري شمسی کال د قوس په میاشت کې دی هم پېښور ته وتښتیده او د انجنیرۍ فاکولته یې پرېښوده خو حکمتیار او استاد عبدالله دی بېرته کابل ته ولېږه چې د جوانان مسلمان د ځوانانو او د دوی تر منځ رابط اوسي. د پېښور د راتگ نه وروسته ده د کارتوگرافۍ په اداره کې ماموریت واخیست ځکه دی له تخنیک ثانوي فارغ شوی او د ثور تر کود تا پورې یې هلته دنده



درلوده. دوی په کابل کې سیاسي کمېټه د انجنیر غلام حبیب[86] په مشرۍ درلوده. انجنیر وحیدالله، محمد امین (د اقتصاد د پوهنځي محصل او د لغمان اوسېدونکی) او گنداپور ( د غزنې اوسېدونکی او د ساینس فاکولتې محصل و) یې غړي و. دوی همدارنگه نظامي کمېټه هم درلوده چې مشري یې ډاکتر نصرالله کوله، چې اصلي نوم یې لطیف و او د تخارولایت اوسیدونکی و. ډاکتر ستار (اصلي نوم یې عبدالکریم او د فاریاب اوسیدونکې و) او احمد سعید شکیب د استاد عبدالله خوری د دې کمېټې غړي وو.

د ۱۳۵۷ کال د ثور د کودتا په دویمه ورځ انجنیر وحیدالله پېښور ته ځان ورساوه چې د قاضي امین، انجینرحکمتیار او استاد عبدالله نه هدایت واخلي چې دوی څه وکړي. د دوی فیصله دا وه چې هغه کسانو ته چې خطر دی باید کوښښ وشي چې د کونړ، ننگرهار او پکتیا ملگرو په ذریعه باید مهاجرشي او مسلحانه مبارزه باید دوی پیل کړي. انجینر وحیدالله د ثور په نهمه نېټه بېرته کابل ته راغی او دا پیغام یې د سیاسي او نظامي کمېټې مشرتابه ته ورساوه. په پېښور کې انجینر وحیدالله د کونړو لکه کشمیر خان، مولوي گلاجان او مولوي رحمت خان سره ولیدل. انجینر وحیدالله د ثور تر ۲۶ نېټې پورې په کابل کې پاتي شو او په دې موده کې دوی تقریباً ۴۲۰ کسه محصلین او د جوانان مسلمان تحریک غړي له کابل ښار نه د پکتیا او مشرقي د لارې وویستل او پاکستان ته لاړل. په همدې وخت کې کشمیر خان د شپېته کسانو سره د شلطن سیمي ته راغلی و چې شیگل ته ځان ورسوی. د ثور په ۲۹مه نېټه، کمشیرخان د خپلو ملگرو سره شیگل ته پورې وت او مولوي رحمت خان

[86] انجنیر غلام حبیب د انجنیرۍ فاکولتې محصل او د جبل السراج اوسېدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګار ته، د مولوي جمیل الرحمن وراره قاضي حاجي له یو شمېر نورو کسانو سره پېچ درې ته لاړل. دوی په همدې وخت کې د سیمې د ځینو مشرانو او د دوی د پلویانو سره تماسونه ټینګ کړي وو، چې د حکومت پر ضد قیام وکړي.

د جوزا په لومړۍ نېټه تقریباً ۵۲ کسانو د کشمیرخان په کورکې چې په ډېرۍ کلي کې و، غونډه درلوده. حکومت هم د کشمیرخان د راتګ نه خبر شوی و، نو په همدغه شپه د کشمیرخان په کور حمله کوي. انجینر وحیدالله وایي چې په همدې ماښام دوی فیصله وکړه چې کشمیرخان به د چریکي جګړو قوماندان وي او دی به پېښور ته ځي ترڅو د حزب اسلامي مشرتابه ته د دوی د فیصلوخبر ورکړي او هم هغه اوه کسه د تحریک غړي چې د ده سره شیګل ته راغلي دي پېښور ته ورسوي. د شپې لپاره ۱۶ کسه د کشمیرخان په کور کې پاتي شول چې ځلور کسو د کشمیر د تره، عظیم خان په شمول د حجرې نه بیرون پیره کوله. دا چې د شپې دوه بجې شوې وې، دا بېرون پیره داران ویده شوي وو او دوی د حجرې په داخل کې ناست وو. په دې وخت کې کشمیرخان د اسلامي حزب پوستري، اخبار او عکسونونه غوښتل چې په دې کسانو تقسیم کړي او هم یې د دوی نه غوښتل چې په ولس کې د دوی لپاره اعانه راټوله او ملاتړ وکړي. په دې وخت کې یو صاحب منصب د کلاشینکوف سره د دوی په حجره راننوځي او په دوی غږ کوي چې ونه خوځېږئ او همدارنګه یو شمیر عسکرو د حجرې د اشدارې (کړکۍ) له لارې هم ماشینداري دوی ته نیولې وې چې دوی باید ونه خوځېږي. کشمیرخان سمدستي ورته لاس جګ کړ چې دی تسلیم دی؛ نو په دې کې هغه صاحب منصب خپلو عسکرو په لور کتلي چې کشمیرخان په صاحب منصب حمله وکړه او د ماشیندار په اختسلو سره غېږ په غېږ شول. دا چې



د صاحب منصب د ماشیندار ماشه په لاس وه، نو یوه ججوره (شاجور) یې وچلوله خو د خدای فضل و، چې د خونې په دننه کې هیڅوک زخمي نشول، ځکه د میل خوله د چت په لور وه. په همدی کې کشمیرخان په دې وتوانېده چې د صاحب منصب نه کلاشینکوف واخلي او هغه نږدې ویالې ته وغورځوي خو دې نورو عسکرو هغه ځلور کسه چې د خونې نه بېرون ویده وو، وویشتل او هغه یې شیهدان کړل او دا عسکر وتښتېدل. دوی سره په دې خونه کې د کشمیرخان او انجینر وحیدالله په شمول، مولوي صیب، مولوي عبدالبصیر، معلم شین ګل، معلم محمدحسن، جمعه ګل، ملک رحمت جان، سیداجان، معلم عبدالعظیم، معلم عبدالرزاق، معلم وهاب، حاجي جهانزیب، او فاروق وو. دا پېښه په کونړکې د ثور د کودتاه نه وروسته لومړنۍ پېښه وه چې د حکومت او د حکومت د مخالفینو ترمنځ وشوه چې په دغه جګړه کې ځلور کسه په لومړي ځل دلته شهیدان شول. په شهیدانو کې د کشمیرخان تره، عظیم خان د حلیم خان زوی، مولوي حبیب الله د سلطان محمد زوی د بارګام اوسیدونکی ، رحمان سید د محمد غني زوی او معصوم خان د نقشبند زوی چې دوی دواړه د چپې درې د ګل ځلک د کلي اوسیدونکي وو او هم د لومړي ځل لپاره دوی یو کلاشینکوف په غنیمت ونیوه.

په سبا یعنې د جوزا د میاشتي په دویمه نېټه، حکومت سناتورحاجي محکم خان شیګل ته لیږي او خلکو ته وایي چې د حکومت کلاشینکوف ورکړي. ولس ورته وایي چې له کلاشینکوف نه دوی خبر نه دي؛ خو د دوی ځلور کسه چې تجارت یې کاوه دلته د چا له خوا وژل شوي دي او ځانونه د تېرې شپې له پېښې نه نا خبره اچوي. د جوزا په درېمه نېټه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمار او سرکانړو د غونډونو نه دوه ټولې دولتي قواوې د ماني ګل[۸۷] په مشري شيګل ته ځي او د لچې په سيمه کې د قواو سره جنګ کېږي او د اسمار د غونډ د ټولي قوماندان، تورن اسمعيل له اوه کسه عسکرو سره وژل کېږي. کشميرخان او انجينر سباوون د خپلو نورو ملګرو سره غرونو ته تښتي او د مادېش کلي ته ځي. په سبا يې حکومتي جنګي الوتکي د کشميرخان په کور او د ناريت په کلي سخته بمباري کوي. د جوزا په څلورمه يو شمير نورې قواوې شيګل ته ځي او دا چې کشميرخان هلته نه و؛ نو د کشميرخان کور سوځوي او هم د ناريت کلي ته اور اچوي. همدارنګه حکومت ۲۷ کسه د کشميرخان کليوال او خپلوان، چې ځينې يې د هغه ملاتړي هم نه و، نيسي او ټول تر ننه پورې لادرکه دي او په اغلب ګومان شهيدان شوي دي. دې کسانو کې معلم محمد حسن، معلم مجاهدين، معلم شينګل او معلم سلطان شامل و. د انجينر سباوون ورور معلم سيد حليم هم بندي کېږي؛ خو وروسته خوشي کېږي. د دې پېښې نه وروسته د ۱۳۵۸ کال د جوزا د مياشتې تر نيمايي پورې تقريباً پنځوس کورنۍ چې تعداد يې ۳۱۰ کسو ته رسېدل نورستان په طرف مهاجر شول او د سنبلې په ۱۵مه چترال ته ورسېدل. تقريباً درې مياشتې دې کورنيو د نورستان په سيمه کې تېرې کړې. د چترال نه وروسته د شيګل د سيمې کورنۍ باجوړ او تېمرګرې سيمې ته انتقال شولې او هلته د ځايي ملکانو په کليو دا مهاجرين تقسيم شول.

له دې پيښې نه وروسته، کشميرخان او معلم وهاب پيچ درې ته ځي تر څو د خپلو ملګرو او هغه کسانو چې د دوی سره پخوانۍ اړيکې

[۸۷] ماني ګل د خوست اوسېدونکی دی، چې د اسمار د غونډ په تسليمېدو کې يې د مجاهدينو سره مرسته کړې وه او اوس د استاد سياف د تنظيم غړی دی، چې اوسنی نوم يې اسلام ګل دی.



درلودې، مرسته وغواړي ځکه دوی په دې وخت کې څه نه درلودل. دوی د ننګلام د کلي ګلاب سيد کورته ورځي او هغوی ورته اولس زره افغاني اعانه راټولوي او دوی ته يې ورکوي. دوی چې رخصت کېږي، حکومت هم د دوی په راتګ خبرېږي او د ګلاب سيد او هم د ملا محمدصفدر د ماڼوګې کورونه محاصره کوي او دواړه نيسي. په دغه وخت کې د ننګلام ولسوال شهزاده ثمري نومېده. ولسوال چې غوښتل دا بنديان چغه سرای ته انتقال کړي، د ننګلام د کلي په هديره کې ورته د دوی طرفدارانو (مولوي نقيب، محمد افضل، قاضي محمد، طوطي او ولي) لار ونيوله او جګړه وشوه خو دوی بنديان خوشې نه کړای شول او يو کس د حکومت صاحب منصب چې ضابط و، مړ شو.

د شيګل تر پېښې وروسته، په ۱۳۵۷ هجری شمسي کال کې د کونړ په ولايت کې د کابل د کمونيست رژيم په مقابل کې لومړنی پاڅون او جګړه د پيچ په دره کې وشوه. له دې نه وروسته حکومت يوه لويه قوه د پيچ درې ته ولېږله او د ننګلام لوی کلی يې چې تقريباً زر کوره و، وسېځه او د کلي ولس مجبور شو، چې يو تعداد له مجاهدينو سره يو ځای شي او څه کورونه حکومت ته بېرته تسليم شول. دا پېښه د ۱۳۵۷ هجري شمسي کال د سرطان په مياشت کې شوې ده. له دې نه وروسته د چپې درې د وتلې او ګلسلک په سيمه کې د پيچ درې مشرانو غونډه وکړه او د حکومت په مقابل کې يې عمومي قيام وکړ. د کلي سېځل د پښتنو په سيمه کې يوه لويه خبره ده او کله چې څوک مظلوم واقع شي؛ نو د خلکو ورسره همدردي وي. د هر قوم مورچل او سيمه د جنګ معلومه وه او بالاخره د سرطان په دولسمه نېټه، د ننګلام ولسوالي دوی ونيوله او ولسي لښکر د وټه پور سيمې د پېروني دښتې پورې ورسېد. د دغه قومي تشکيلاتو پر اساس درې مورچله (د جنګ جبهې) د ساپو د درېوو خېلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او یو مورچل د نورستانیانو و. د قومي شورا مرکز د وټه پور د سېمتام کلی و.

د پېچ درې او مرکزي نورستان ولسونو قومي شورا جوړه کړه، چې حاجي غفور د کانتیوا یې مشر(د مرکزي نورستان په کانتیو کې د جومات مخې ته ماسپښین مهال د۲۲/۱/۱۳۹۲ شهید کړی شو) وټاکه او قوماندان جبار یې مرستیال وټاکل شو. مامور صفر د چریکي جبهو قوماندان وټاکل شو، چې بیا شهید شو. په همدی وخت کې د حکمتیار د اسلامي حزب او اسلامی جمعیت ترمنځ اختلاف و ځکه د اسلامي حزب په نمایندګۍ مولوي فقیرالله او د اسلامی جمعیت په استازیتوب مولوي غلام رباني یو بل نه منل.

له دې نه وروسته مولوي جمیل الرحمن او کشمیرخان ۱۲۰ کسیزه ډله برابره کړه شلطن سیمې ته لاړل او له هغه ځای نه لاوحسین درې ته ورسېدل او د حکومت پر ضد یې مسلحانه جګړې پیل کړې. د کامدېش ولسوالی ولسونه هم د حکومت پرضد راپاڅېدلي وو او جګړه ورځ تر بلې پراخېدله ترڅو چې سین درې(اوسني غازي اباد او ناړی ولسوالیو) ولسونو هم د ۱۳۵۸ل د ورې په دویمه نېټه د حکومت پر ضد پاڅون وکړ.

د جهاد په پیل کې د پېښور تنظیمونو د پېچ په دره کې چندان رول نه درلود او په سیمه کې د قومي شورا رول مهم و. د ۱۳۵۷ هجري شمسي کال په اخرو کې مولوي حسین او میرزا مولوي (مولوي رحمت جمال) چې د مولوي حسین معاون و د وټه پور سیمې ته لاړول. دوی په دې وخت کې د حکمتیار د اسلامي حزب سره تړاو درلود او مولوي حسین د حکمتیار د اسلامي حزب د کونړ ولایت عمومي مشر و. کله چې د تنظیمونو څرک په دغه سیمه کې ولګېد، یوه بله شورا د بېطرفو کسانو په نامه هم د پېچ په دره کې جوړه شوه چې مشري یې وکیل سمیع الله خان



کوله. د پېچ په دره باندې د حکومتي قواو فشار زیات شو نو زیاتې کورنۍ پېښور ته مهاجرې شوې او دا شوراګانې هم تجزیه شوې او هر څوک له بېلابېلو تنظیمونو سره یو ځای شول او یا هماغسې بېطرفه پاتې شول.

په ۱۳٦۷ هجري شمسي کال د سنبلې په میاشت کې د کابل کمونیست رژیم د کونړ ولایت تخلیه کړ. که څه هم په دې وخت کې د سلفیانو د تنظیم نفوذ زیات و؛ خو په چغه سرای کې اوه تنظیمونو یوه شورا جوړه کړه، چې د هر تنظیم نه پکې درې درې نفرو عضویت درلود. د سلفیانو ډلې د زیاتو کسانو د عضویت غوښتنه کوله خو دې نورو ډلو دوی ته زیاته برخه نه ورکوله او ویل یې چې د سلفیانو تنظیم په پاکستان کې رسمیت نه لري؛ نو دوی ته زیات سهم باید ورنه کړل شي. په هر حال، د مجاهدینو اوه تنظیمونو ځانته جدا شورا جوړه کړه او مولوي رباني یې چې د جمعیت په تنظیم پورې یې تړاو درلود د والي په توګه تعیین کړ او د مرورې حاجي حضرت رحمن یې معاون شو. همدا رنګه د سلفیانو تنظیم ځانته جدا شورا جوړه کړه چې مولوي احسان یې د والي په توګه او حاجي محمد روزي یې د مرستیال په توګه وټاکل. یعنې د دوسره حکومت تهداب په لومړی ځل د کونړ په ولایت کې کېښودل شو.

دا چې د سلفیانو تنظیم زیات امکانات درلودل او هم یوازې د کونړ په ولایت کې یې فعالیتونه محدود وو، نو د دوی ملکي او نظامي تشکیلات پنځه ویشت زره کسو ته ورسېدل او بالاخره د اوه تنظیمونو شورا ضعیفه او منحل شوه. په ۱۳٦۹ هجري شمسي کال کې د عبوري حکومت له خوا په کونړ کې یوه بله شورا جوړا شوه چې استاد محمد علي یې ورته مشر او د کونړ د والي په توګه تعین کړ. دا شورا هم پس له پنځه میاشتو ختمه شوه او اکثره قوماندانان یې د سلفیانو له تنظیم سره یو ځای شول. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه کال دحکمتیار اسلامي حزب د سلفیانو نه وغوښتل چې یوه مشترکه شورا جوړه کړي او د دې کار لپاره د اسلامي حزب مشر گلبدین حکمتیار او مولوي جمیل الرحمن یو کمېسیون وټاکه، چې دا لاندې غړي یې درلودل:

۱. کشمیر خان (اسلامي حزب)
۲. مولوي محمد هاشم منیب ( اسلامي حزب)
۳. انجنیر وحیدالله سباوون (اسلامي حزب)
٤. مولوي رحمت الله د ځانگار (سلفیانو د تنظیم نه)
۵. حاجي روح الله (سلفیانو د تنظیم نه) او
٦. مولوي عبدالبصیر د شیگل، چې د سلفیانو د تنظیم د سیاسي کمېټې مشر هم و.

د متواترو غونډو او بحثونو نه وروسته دوی یو بل کمېسیون د کونړ په سطحه جوړ کړ چې مولوي رباني یې مشر- وټاکل شو او حاجي محمد روزي یې مرستیال شو. دوی د کونړ په ولایت کې په اداري تشکیلاتو بحث کاوه؛ خو د حکمتیار د اسلامي حزب اصرار دا و چې باید د کونړو په منځ کې هم په کونړ او هم په باجوړ کې د مهاجرو په کمپونو کې باید ټاکنې وشي تر څو د هر تنظیم فیصدي معلومه شي او په دې توگه به د هماغې فیصدۍ پر اساس دوی ته د کونړ په اداري تشکیلاتو کې سهم ورکړل شي. بالاخره فیصله په ټاکنو وشوه چې اسلامي حزب ورته پنځه لکه کلدارې او د سلفیانو تنظیم ورته دوه میلونه کلدارې ځانگړې کړې وې. دوی کمېسیونونه یې تشکیل کړل او د کونړ په داخل او د باجوړ په کمپونو کې ټاکنې وشوې. په هغه وخت کې زه د امریکا غږ راډیو محلي خبریال وم او ما پخپله دا ټاکنې په باجوړ کې مشاهده کړې وې. د رای ورکولو په هر صندوق کې اته خانې وې او هر چا به د خپلې خوښې



تنظیم ته رایه ورکوله. دا چې د نورو تنظیمونو تعداد او امکانات کم وو، نو د ټاکنو لوبه یوازې د حکمتیار د اسلامي حزب او سلفیانو د تنظیمونو ترمنځ وه. که څه هم د ټاکنو پایلې اعلان نه شوې او نه د ټاکنو پایلې لکه د ۲۰۱۴م کال د جمهوري ریاست د ټاکنو په شکل ومنل شوې، خو بیا هم اسلامي حزب په سلو کې ۴۲ سلنه رایې او سلفیانو په سلو کې ۴۵ سلنه گټلې وې او نورو تنظیمونو رایې ټولې ۱۳ سلنه وې. د حاجي محمد روزي په قول، اسلامي حزب غوښتل چې ټاکنې باید مساوي اعلان شي خو سلفیانو دا خبره نه منله. اما د انجینر وحیدالله سباوون په قول حزبیانو رایه ۶۲ زره کسه وه او د سلفیانو رایه ۵۹ زره؛ خو د دې ترڅنگ حزبیان حاضر و، چې مولوي جمیل الرحمن د کونړ د مشر- په توگه او مولوي فقیر الله د مرستیال په توگه ومني. خو د ده په قول په دی وخت کې سعودي عربستان چې د سلفیانو د تنظیم لوی تمویل کوونکی و، نه یې غوښتل چې د اخوانیانو ډله قدرت ولري ځکه هغوی د وهابي مفکورې ډله تقویه کوله. همدارنگه پاکستان هم نه غوښتل چې دوی د سلفیانو د تنظیم سره کومې موافقې ته ورسېږي او غوښتل یې چې دواړه خواوې مجاهدین ضعیفه کړي. د دې تنظیمونو ترمنځ د یوې اونۍ بې پایلې بحثونو نه وروسته، د سلفیانو تنظیم اویا کسیزه شورا جوړه کړه او د امارت اسلامي په نامه یې اعلان وکړ، چې کونړ یې مرکز و. د شورا مشر پخپله مولوي جمیل الرحمن و او معاون یې مولوي عبدالرحمن وټاکل شو. حاجي محمد روزي د سلفیانو له خوا د کونړ د والي په توگه تعین شو. د امارت ادعا لویه وه نو د مولوي جمیل الرحمن ټاکل د امیر په توگه د پېښور تنظیمونو ته د تایید وړ نه وو.

اسلامي حزب د امارت جهاد په نوم بله موازي اداره جوړه کړه چې مولوي فقیرالله د نورستان یې د امر او مولوي محمدهاشم منیب یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاون په توګه وټاکل شول. په کونړ کې دا اختلاف او تضاد روان و، چې یوه ورځ د چغه سرای په چنار ډبه سیمه کې د مولوي فقیرالله ډلې پاټک اچولی و او د سلفیانو موټر یې چې له دغه ځایه تېرېده، په راکټ وویشته او درې کسه یې ووژل. وژل شوي کسان یو د غلام سرور په نوم و، چې د بارکنډۍ د ګونډېل سیمې اوسېدونکی و، بل د محمود په نوم د بغلان اوسېدونکی و او یو بل کس د شیګل و. سلفیانو د مولوي فقیرالله نه د دې درېو کسانو د قاتلینو غوښتنه وکړه خو هغوی قاتلین په لاس ورنه کړل او سلفیانو د کونړ ولایت په مرکز اسعدآباد کې د حزبیانو مراکز د درېو ورځو لپاره محاصره کړل او ورته یې وویل چې وسلې باید پرېږدي او ولایت تخلیه کړي. حزبیان اکثره د سرکانو سیمې ته ووتل، چې د اسلامي حزب غونډ هلته و او جنګ ونښت. حزبیانو اسعدآباد په توپونو وویشته، په دې وخت کې د حکمتیار اسلامي حزب مشري په کونړ کې کشمیرخان او انجنیر وحیدالله سباوون کوله. د حاجي روزي په قول درې میاشتې وروسته حزبیانو په کونړ حمله وکړه او یوه میاشت ډېره سخته جګړه وشوه چې بالاخره د مولوي جمیل الرحمن په امر سلفیانو د پېچ درې په لور عقب نشیني وکړه؛ خو په دې وخت کې مولوي جمیل الرحمن هم د ۱۹۹۱م کال د اګست په دېرشمه نېټه د یو مصري عرب عبدالله رومي له خوا په باجوړ کې شهید کړې شو. عبدالله رومي له عبدالله عزام سره کار کاوه او د بنیان المرصوص په مجله کې چې د اتحاد اسلامي له خوا په پېښور کې چاپ کېدله، کارمند هم و. په دغه پېښه کې د مولوي جمیل الرحمن یو ساتونکی هم زخمي شو؛ خو کله چې دا عرب د خپل موټر په لوري تښتېده نو حاجي روح الله ونیوه او بیا د همدوی له خوا هماغلته ووژل شو.



د مولوي جمیل الرحمن د شهادت نه دمخه یو بله جرګه هم تعیین شوې وه چې د اسلامي حزب او سلفیانو ترمنځ سوله وکړي. د دې جرګې غړي د خالص د اسلامي حزب مرستیال حاجي دین محمد، د اتحاد اسلامي د حزب مرستیال انجنیر احمدشاه احمدزی، قاضي محمد امین وقاد چې په دې وخت کې یې ځانته ګروپ درلود، افغان کمشنر رستم شاه مومند او د پېښور ضلعې کمشنر ګلزار خان وو. خو دا چې مولوي جمیل الرحمن ډېر ژر په شهادت ورسېد؛ نو د دې جرګې کومه پرېکړه ونه کړه.[۸۸]

د حاجي روح الله[۸۹] په قول، له ده سره په ګوانتانامو بندیخانه کې یو کس د ابو انس په نامه بندي و او ده ته یې ویلي و، چې په دې وخت کې د اسامه بن لادن تګ او راتګ له حکمتیار سره زیات و او په کوم مجلس کې ویل شوي وو، چې ترڅو مولوي جمیل الرحمن وي نو دوی کامیابېدلای نشي؛ نو په دې توګه عبدالله رومي یو لیک د اسامه بن لادن په میز کې پرېښودلی و او لیکلي و چې هغه کس پسې لاړم چې تاسې ویلي و، چې باید له منځه یوړل شي. د دغه بندي په قول، کله چې اسامه بن لادن د مولوي جمیل الرحمن د وژل کېدو نه خبرېږي نو وایي، چې ښه کار ونه شو، والله اعلم.[۹۰]

مولوي جمیل الرحمن چې ما پخپله لیدلی و او کوم وخت چې زه په پېښور کې د امریکا غږ راډیو محلي خبریال وم؛ نو څو ځلې مې ورسره

---

[۸۸] د حاجي روح الله سره مرکه (۳۱ مارچ کال ۲۰۱٦م، جلال آباد، د حاجي روح الله کور)

[۸۹] حاجي روح په ۲۱ د اګست ۲۰۰۲م کې د امریکایانو له خوا په کونړ کې ونیول شو او وروسته ګوانتانامو زندان ته چې د کیوبا سره نږدې و انتقال شو او تر اګست ۲۰۰۸م کال پورې یعنی شپږکاله هلته بندي و.

[۹۰] د حاجي روح الله سره مرکه (۳۱ مارچ کال ۲۰۱٦م، جلال آباد، د حاجي روح الله کور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکي کړې وې. دی ډېر حلیم انسان و او د علمي او اسلامي عقیدې ترڅنګ ورسره ډېره قوي ملي انګېزه هم وه. کله چې د کونړ ولایت د کابل د حکومت له خوا په لومړي سر تخلیه شو او مجاهدینو د کونړ ولایت ونیوه نو د کونړ او بالخاصه د ښېوې د ولسوالۍ د سیمې نه چې د جنګ لومړۍ کرښه وه، ډېرې کورنۍ مهاجرې شوې، ما پخپله ښځې، ماشومان او سپین ږیري د ناوه پاس په غاښي کې ولیدل چې په لوڅو پښو په واورو او یخنۍ کې راروان وو. په همدې وخت کې عربانو د ښېوې د پاچاهي کلا په سیمه کې اته کسه محلي اوسېدونکي په دې نامه چې د کابل د حکومت طرفداران دي. حلال کړل. د جهاد په دور کې د انسانانو د حلالولو دا لومړنۍ پېښه وه او دوی محلي مجاهدینو ته ویلي وو، چې د دې کسانو ښځې هم تاسې لپاره روا دي چې له ځانونو سره یې د وینځو په توګه وساتئ. کله چې مولوي جمیل الرحمن له دغې پېښې نه خبرېږي نو امر کوي چې ټول عربان د جنګ د لومړۍ کرښې نه راوکاږئ او دوی هلته مه پرېږدئ. زما په اند د مولوي جمیل الرحمن او عربانو ترمنځ اړیکي له دی پېښې وروسته یو څه سستې شوې. که څه هم د عربانو بعضي- حلقي اوس هم د د مولوی جمیل الرحمن د جمعته الدعوت د تنظیم سره کوي خو پخوا عربانو د ده له تنظیم سره ډېرې مالي مرستې کولې او ښې اړیکې یې درلودې.

د مولوي جمیل الرحمن د شهادت نه دوه ماشتې وروسته، سلفیانو بیا خپل طرفداران تنظیم کړل او د وټه پور له لارې یې د کونړ پر مرکز حمله وکړه او چغه سرای یې ونیوه؛ خو په دې وخت کې هغو عربانو چې د اسلامي حزب او سلفیانو سره یې اړیکې درلودې منځګړتوب وکړ چې اوربند وشي. دا عربان ابوهاجر (د عراق اوسېدونکی) ابومحمد مدني د سعودي اوسېدونکی، شیخ ابو حازم د سوریې اوسېدونکی او ابو سهیب د



مصر اوسېدونکی و[۹۱]. دوی د پاکستان د ای اس ای په مرسته، د پېښور په انترکانتننتل هوټل کې فیصله وکړه چې هغه ځایونه چې د هر تنظیم سره دي هغه دې د هماغه تنظیم سره پاتې وي او نوره دې جګړه بنده کړي. د خاص کونړ ولسوالۍ هم په دغه وخت کې نیمایي د حزبیانو او نیمایي د سلفیانو په کنټرول کې وه. د سعودي سفارت وعده کړې وه چې هره میاشت به شپږ لکه روپۍ اسلامي حزب ته او شپږ لکه روپۍ د سلفیانو تنظیم ته د کونړ د مصارفو لپاره ورکوي.

کله چې د کابل حکومت په ۱۳۷۱ هجري شمسي کال کې سقوط وکړ؛ نو د کونړد تنظیمونو مشرانو فیصله وکړه چې د کابل حکومت هر څوک د والي په صفت تعیین کړ هغه به دوی مني، ځکه کونړ د افغانستان جز دي. بیا د مجاهدینو د حکومت له خوا په کابل کې قاضي اخونزاده چې د مولوي جمیل الرحمن وراره و د والي په توګه تعیین کړ او د طالبانو تر راتګه پورې هغه په چغه سرای کې والي و؛ خو د دې ترڅنګ اسلامي حزب هم ځانته جدا مرکزونه درلودل. د مجاهدینو په دې خپلمنځي جګړو کې په سلهاو کسان وژل شوي دي او مادي تلفات هم نهایت زیات وو او د کونړ ولایت د زیاترو اداري واحدونو دفاتر او لوازم په دې جګړو کې تالا او تخریب شوي وو.

د دغو پورته پېښو په اړه ډېرې کمې لیکنې شوي او د دې ضرورت دی، چې زیاتې نورې څېړنې وشي تر څو دا نیمګړي معلومات غني شي.

[۹۱] پورتنی ماخذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

## د کرالي (کرهالي) د کلي قتل عام (حمل ۳۱ مه نېټه کال ۱۳۵۸ هجري شمسي)

د ۱۳۵۷م کال د ثور له کودتا نه وروسته د پېچ درې او نورستان خلک د حکومت پر ضد راپاڅېدل او مجاهدینو پېچ دره تر وټه پور پورې ټوله نیولې وه. په دې وخت کې مولوي حسین چې وروسته یې په مولوي جمیل الرحمن شهرت پیدا کړ د وټه پور په سیمه کې مرکز جوړ کړ او د مجاهدینو عملیات او فشار د چغه سرای په ښار زیات و او حملې به یې کولې. د کونړ والي شهنواز شیواني و. د ۱۳۵۸ کال د حمل په میاشت کې والي د دم کلي او کرالې نه درې کسه سپین ږیري، ښاروال شیرمحمد، مولوي رحمت الله او ملک شیخ محمد وټه پور ته ولېږل چې مولوي جمیل الرحمن سره خبرې وکړي او په چغه سرای عملیات بند کړي. دغو مشرانو په عوض د دې چې د حکومت پیغام ورسوي، مولوي جمیل الرحمن ته یې وویل چې د کابل حکومت مسلمان نه دی او کمونستان دي؛ نو تاسې خپل جهاد ته دوام ورکړئ او موږ هم ستاسې ملاتړي یو. د دغو درې مشرانو ملک شیخ محمد بېرته چغه سرای ته رانغی او له مجاهدینو سره یو ځای شو.



کله چې ښاروال شیرمحمد او مولوي رحمت الله بېرته چغه سرای ته راستانه شول، د حکومت استخباراتي کسانو حکومت ته د دوی د خبرو راپور ورکړی و. والي د دواړو مشرانو د نیولو امر ورکړی و، چې مولوي رحمت خان یې د حمل په ۲۲مه نېټه او ښاروال شیرمحمد او د هغه زوی ډګروال شاه محمود یې د حمل په ۲۳مه نېټه ونیول. مولوي رحمت خان یې جلال آباد ته انتقال کړ چې بیا یې هلته وواژه.

د ۱۳۵۸ کال حمل په دېرشمه د شپې له خوا مجاهدین کرالې ته ننوتلي وو او په حکومتي پوستو یې سخته حمله وکړه. د حاجي محمد روزي له قوله که په همدغه شپه د شیګل خلکو لکه څنګه چې په پلان کې وه جنګ کړی وای؛ نو چغه سرای مجاهدینو نیوه. ویل کېږي چې په دغه جګړه کې د حکومت طرفدارو کسانو ته ډېر سخت تاوان رسېدلی و. ویل کېږي چې د کمانډو د قواو د قوماندان صادق علم یار ورور یا د تره زوی وژل هم په دغه شپه شوي و. د صادق علم یار بل ورور عبدالحق علم یار، ۶۹ غونډ قوماندان و. په دغه حمله کې ۲۲ کسه مجاهدین هم وژل شوي وو، نو د کرهالې خلکو د مجاهدینو مړي هڅوی ته د شپې انتقال کړي وو.

دې جګړې د کابل د کمونست رژیم د محلي چارواکو لکه صدیق عالم یار او والي سخته غصه راوپاروله او امر یې وکړ، چې د کرهالې ټول نرینه ونیسي. په سبا یعنې د حمل په ۳۱مه نېټه، سهار لس بجې حکومت ټانکونو او توپونو ته امر وکړ، چې د ملک سید غفور او ښاروال شیرمحمد کورونه وولي او وران یې کړي او یو تعداد کسان یې د کرهالې په پټو کې وویشتل. همدا رنګه یو شمېر نور ځوانان، سپین ږیري او مشران یې د کرهالې له پله سره نږدې راټول کړل او ټول یې وویشتل او نیم ژوبله یې د بلدوزرنو په واسطه تر خاورو لاندې کړل. دا پېښه یو لوی بشري جنایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، چې ۱۲۶۰ کسه یې د یوې سیمې په یوه ورځ ووژل او په یوه ځای یې تر خاورو لاندې کړل. صدیق عالم یار دا مهال په هالینډ کې ژوند کوي؛ خو د کرهالې د کلي محمدنادر سرشار چې په ناروې کې اوسېږي او د هغه پلار محمدسلام هم د کرهالې په پېښه کې وژل شوي و، په نوموړي د هالینډ حکومت ته عارض شوی او صدیق عالم یار د هالینډ حکومت بندي کړی دی. د دغې پېښې تحقیقات اوس هم جریان لري.

له دې پېښې نه وروسته د کرهالې د کلي ښځې او ماشومان باجوړ ته مهاجر شول او په باجوړ کې د کرالې د کونډو په نامه کمپ ورته جوړ شو.

نوت: د کرالې (کرهالې) د ټولو قربانیانو نومونه د دې کتاب په اخره کې مله دي.



# شپږمه برخه

## د کونړ په ولایت کې قومي جوړښت او روحاني نفوذ

### قومي جوړښتونه

د کونړ په سیمه کې د پښتنو څو لويې او ورې قبیلې لکه ساپي، مومند، ماموند، سالارزي، مشواڼي، شینواري، یوسفزي، الکوزي، دېګان او همدا رنګه نور قومونه لکه ګوجر، سیدان،[۹۲] نورستاني، او پشه یان هم اوسېږي. مومند زیات د خاص کونړ او سرکاڼو په ولسوالیو کې، ماموند د مرورې په ولسوالۍ کې، سالارزي او مشواڼي زیاتره د اسمار، دانګام، شیګل او ناړۍ په ولسوالیو کې، شینواري د شیګل په سیمه کې، سیدان د پشد، سرکاڼو، شینکوړک، خاص کونړ او کوز کونړ په سیمو کې اوسېږي. ګوجر یو څه د شیګل او غاري اباد او زیاته برخه یې په ناړۍ ولسوالۍ کې اوسیږي.

ساپي چې د کونړ تر ټولو ستره پښتني قبیله ده اکثریت یې د نورګل، څوکۍ، نرنګ، وټه پور، پېچ درې او د سرکاڼو ولسوالۍ په شونکړۍ سیمه کې مېشت دي.

[۹۲] الکوزي د سرکاڼو په ولسوالي کې اوسېږي، په سیمه کې همدغه خلک د سرکاڼو په نامه یادېږي او ولسوالي یا سیمه هم دوی ته منسوبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتو پښتنو او غیرپښتنو لیکوالانو او مؤرخینو لکه خوشحال خان ختک، قاضي عطاوالله خان، عبدالحی حبیبي، احمدعلي کهزاد، سیدبهادرشاه ظفر کاکاخېل، حافظ رحمت خان، افضل خان، راورټي، سراولف کایرو او داسې نورو د پښتنو په تاریخ، قومي جوړښت، کلتور او دودونو باندې ډېرې لیکنې کړي دي؛ نو دلته به ماته گرانه وي چې نور څه ور زیات کړم؛ خو یو څه چې د اوسني وخت سره سر خوري هغه دا دي چې د پښتنو یا افغانانو په قومي جوړښت باندې پوهېدل ضروري دي، ځکه چې د دغو جوړښتونو پر بنیاد دوی گټه او تاوان، مشران او استازي تعیینوي او د دوی دا اصول د اوسنۍ نړۍ د ډیموکراتیکو اصولو نه هم په ښه شکل صورت نیسي؛ نو دا ویلی شم چې د پښتنو محلی قومي جوړښت د ډیموکراسۍ په اصولو ولاړ سیستم دی. همدا علت دی چې په جرگو او مرکو کې هر څوک برخه اخیستلای شي او ټول مسایل له یو بل سره په تفاهم حل کوي. دا ډول تفاهم چې په ټولنه کې ثبات راولي او اجتماعي عدالت تامینوي، دې ډول عدالت ته Restorative Justice یا ترمیمي عدالت وایي. ترمیمي عدالت ته اوس په نړۍ کې د Punitive Justice یا جزایي عدالت په پرتله زیاته توجه کېږي.

د پښتنو یا افغانانو په ټولنه کې ښه دودونه او عنعنات د سوشل کنټرول (Social Control) ښه ډولونه دي او همدا رنگه بد دودونه یا هغه دودونه چې د اوس وخت له شرایطو سره برابر نه دي د سوشل کنټرول منفي اغېز لري ځکه ارزښتونه ثابت نه دي او بدلېږي. که څه هم په افغانستان کې او هم د لرې پښتونخوا په سیمه کې د تېرو څلورو لسیزو جنگونو له امله د پښتنو ښو دودنو او عنعناتو ته ډېره سخته صدمه رسېدلې او په عوض یې د افراطي ډلو له خوا غیرانساني، غیراسلامي او غیرافغاني او د پښتنو د



مروجو ښو دودونو پر ضد اعمال لکه د انسانانو سر پرېکول، ماشومان او ښځې وژل، د خلکو په حریم او مال تجاوز کول او داسې نورو ناخوالو ځای نیولی دی. له دې سره هم د پښتنو دودونه او عنعنات د سوشل کنټرول ښه بېلگه ده. د سوشل کنټرول علم په دې بحث کوي، چې څنگه د یوې ټولنې کړه او وړه او د اشخاصو د کنټرول څارنه وشي. د سوشل کنټرول بحث یو لوی بحث دی چې د دغه بحث په ټولو اړخو باندې رڼا اچول د دې لیکنې نه بهر موضوع ده؛ خو لږه اشاره مې سوشل کنټرول ته ځکه وکړه چې د افرادو حرکات په ټولنه تاثیر لري. که موږ خپل ژوند او ماحول ته وگورو نو موږ ټول په یو شکل د اشکالو د سوشل کنټرول تر اغېز لاندې یو، البته دا کنټرول به په مستقیمه یا غیرمستقیمه توگه باندې وي. د سوشل کنټرول د اغېز ډولونه غیررسمي، رسمي یا قانوني او یا هم طبي کنټرول دی.

که موږ ترمیمي او جزایي عدالت مقایسه کړو، نو موږ گورو چې یوه ډېره وړه مسئله په کلونو کلونو کې د محاکمو له لارې نه حل کېږي؛ خو د جرگو له لارې په ډېره کمه موده کې حل کېدای شي. په جزایي عدالت کې قاضي یوازې په مجرم حکم کوي؛ خو دا نه گوري چې د دواړو خوا ترمنځ به دا حکم دښمني په راتلونکي کې ختمه کړي او که نه؟ اما په ترمیمي عدالت کې د راتلونکي دښمنۍ د مخنیوي هم خیال ساتل کېږي. په اسلامي اصولو کې هم عفوه د انتقام نه بهتره ده او عفوه د جرگو او مرکو له لارې کېږي، چې دواړه خواوې په دې قانع کړي چې یو بل وبخښي او هره خوا ځانته د اوړو اوبو پوزه اینښودل یعنې یو عذر غواړي. که جرگه فیصله وکړي نو بیا یوې خواته هم د پیغور خبره نه وي. موږ په خپلو سیمو کې داسې ډېرې بېلگې لرو چې د رسمي محاکمو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتـي ادارو د لارې مسایل حـل شـوي نـه دي او هغـه مسـئلې دولتـي چارواکو او ادارو، جرګو ته محول کړې دي.

د پښتنو دا دوه متلونـه پـه خاصـه توګـه پـه کـونړ کـې چـې زيـات استعمالېږي د عدالت او يووالي (مساوات) ښې بېلګې دي چې وايي: ((په زور کلي نه کېږي)) او يا وايي ((ساپي سم سمکي دي)) يعنې ساپي ټـول سره يو رنګه حقوق لري او يو پر بل برتري يا لوړوالی نه لري.

دا چې د کونړ هره قبيله په څو ښنو او خېلونـو لکـه سـاپي پـه ګـوربز، ودير، مسعود (قنـدهاري) او يـا مومنـد پـه بـايزي، خـويزي، حليمـزي او ترکزي تقسيم شوي دي، دا ډول معلومات د نورو ليکوالانو پـه ليکنـو کـې پيدا کولای شئ؛ خو يو څه چې پـرې کمـې ليکنـې شـوي هغـه پـه هـره ولسوالۍ کې او تر کومه حده چې ما د افغانستان د نـورو ولسـواليو پـه اړه ريسرچ کړې دی هغه دا ده چې د قومي جوړښت تـر څنـګ نـور محلـي جوړښتونه هم شته چې ولس پرې ورځني مسايل حل کـوي. مـا د خپلـې انګليسي ژبې په مقاله کې چـې د دې مقـالې پـه سر کـې يادونـه شـوې دا ډول جوړښت د Non-Recognizable Governance Structure يـا پـه ولسواليو کې د حکومتدارۍ ناپېژندل شوی غيررسمي جوړښـت پـه نـوم ياد کړې دی، چې حکومت يې پـه رسـمي توګـه نـه پېژني خـو ولـس د ورځنيو مسايلو په اړه ټول تصاميم او پرېکړې د همدې سيسـتم پـر اسـاس نيسي. په دې توګه د افغانستان په ټولو ولسواليو کې دا سيستم شته دی.

د دې لپاره چې لږ وضاحت وشي، د دې سيستم د يو څو بېلګو يادونه په کونړ کې او د افغانستان په نورو سيمو کې کوم، چې د همـدې سيسـتم پر اساس د بېړنۍ لويې جرګې انتخابات موږ د کونړ او د مشرقي پـه نـورو درېو (نورستان، ننګرهار او لغمان) ولايتونـو کـې وکـړل او زمـا د ((بېړنـۍ لويه جرګه)) په کتاب کې د دې سيستم يو څه يادونه شوې ده.



په هغو ولسواليو کې چې يـو قـوم اوسـېږي نـو د هغـو ولسـواليو ولـس قومي تړه يعنې ګټه او تاوان، د مشرتابه ټاکنه، جرګې او مرکـې پـه همدغـه سيستم کوي. د بېلګې په توګه د پېچ ولسوالۍ کې يوازې ساپي اوسـېږي؛ نو دوی خپل تقسيمات د ساپو پـر قـومي جوړښـت بانـدې کـوي خـو د خاص کونړ په ولسوالۍ کـې چـې مختلـف قومونـه اوسـېږي، دوی خپـل تقسيمات په ونډونو کوي چې بيا هر ونډ خپل تقسيمات لري. دا ونډونـه د افغانستان په ولسـواليو کـې پـه بېلابېلـو نومونـو يـادېږي. د هـزاره جـاتو د جاغوري په ولسوالۍ کې دا ډول تقسيمات د منطقه، د فراه د ګلسـتان پـه ولسوالۍ کې د قبيله او د فارياب د ګرزيوان پـه ولسـوالۍ کـې د تګـاو پـه نومونو يادېږي. همدا رنګه په بعضې ولسواليو کې دا تقسـيمات د قريـو پـه شکل دي د بېلګې په توګه د ننګرهار د کامې ولسوالۍ پـه ۵۲ او د کابـل د بګرام ولسوالۍ په سلو قريو تقسيم شوې ده.

## روحاني نفوذ

د کونړ په سيمه کې د سيدانو يا پاچايانو په نفوذ او په دغه سيمه کې د دوی په حکمرانۍ او حاکميت باندې ما په لومړي برخـه کـې مفصله رڼـا اچولې؛ خو په دې بحث کې غواړم چې په نورو روحـاني کورنيـو بانـدې په اجمالي توګه رڼا واچوم. په حقيقت کې د افغانستان په ټولنـه کـې او د پښـتنو پـه سـيمو کـې د قـدرت سـتنې پـه درې برخـو وېشـل شـوې دي: حکومت، قومي جوړښت او ديني يا روحاني حاکميت. د دې لپـاره چـې زموږ په ټولنه کې ثبات وي؛ نو د دې درېوو قوتونو ترمنځ لکه څنګـه چـې د دولت د درېـوو قـواو تـرمنځ همغـږي او ثبـات تـه ضرورت دی، د دوی ترمنځ هم همغږۍ او همکارۍ ته ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د نادرخان او ظاهرشاه د پاچاهي ۴۴ کلنې دورې ته وګورئ نو همېشه یې د دې درېو قوتونو ترمنځ یو نسبي تناسب ساتلی و او که کله به د هېواد په کوم ځای کې د حکومت پر ضد کوم حرکت پیل کېده؛ نو هغه به هم د حکومت له زور نه سربېره د قومي او روحاني مشرانو په منځګړیتوب حل کېده. کله چې د ثور کودتا وشوه نو حکومت غوښتل چې قومي او روحاني نفوذ له منځه یوسي او یا یې سرکوبه کړي؛ نو په هېواد کې بې ثباتي رامنځته شوه. همدا رنګه مجاهدینو او طالبانو هم غوښتل چې یوازې دیني او روحاني قوتونه باید قدرت په لاس کې ونیسي او قومي قوتونو ته یې دومره د قدر په سترګه نه کتل؛ نو په دې توګه د دوی نظامونه او حکومتونه سره متزلزله وو او ثبات یې په هېواد کې رامنځته نه شو کړای. د طالبانو د نظام د سقوط نه وروسته حکومت او بین المللي قواو د افغانستان قومي او دیني جوړښتونو ته لږه توجه درلوده، نو ځکه په هېواد کې لا ثبات نشته. د ښې حکومتدارۍ یوه برخه همدا ده چې ولس باید په تصمیم ګیرۍ کې برخه ولري چې قومي مشران او دیني عالمان د ولس برخه ده. دوی باید په تصمیم ګیرۍ کې په ملي او محلي کچه برخه ولري. البته دا یو بېل بحث دی چې په تفصیل سره د دې کتاب له محتوا سره سر نه خوري.

پر سیدانو نه سربېره اخوندزادګان، صاحبزادګان، میاګان او نورې روحاني کورنۍ چې د صاحب حق په نوم هم یادېږي د کونړ په سیمه کې اوسېږي. د اخوندزادګانو کورنۍ زیاتره د زیاتو ځکمو خاوندان دي او دوی د جلاجلا قبیلو پورې تړاو لري. د کوز کونړ د ګوریک اخوندزادګان چې مشر یې عبدالقدیر اخوند زاده نومېده له بابکرخېل قبیلې څخه و. اما د خاص کونړ د چندر اخوندزادګان چې مشر یې محمدمعظم اخون زاده نومېده او خورا مشهور شخصیت و، له یوسفزي



قبیلې څخه و. همدا رنګه د خاص کونړ د تنر د کلي اخوندزادګان چې مشر یې عزیزخان اخون زاده نومېده، له یوسفزي قبیلې څخه و؛ خو د پېچ درې طلبدین اخون زاده چې د پېچ د سلطان محمد خان پلار و او د مولوي جمیل الرحمن کورنۍ هم د اخونزادګانو په نامه یادېږي چې ساپي قبیلې څخه دي. د دې نه معلومېږي چې په هره پښتني قبیله کې که کوم ښه او روحاني شخصیت تېر شوی وي هغه د اخوندزاده په نوم یاد شوی او وروسته د هغوی کورنۍ د اخوندزادګانو په نوم شهرت موندلی دی.

میاګان هم په مختلفو قبیلو پورې تړاو لري خو یو شمېر یې سیدان هم دي. د بېلګې په توګه د پشد د میاعباس بابا کورنۍ چې د پیربابا لمسی و، سیدان دي او یا د لیکوال کورنۍ چې د میاعلي صاحب لمسی دی، د دوی نیکه د منګوال میا صاحب په نوم شهرت درلود چې اصلي نوم یې سید محمد نعمان و، چې دوی هم سیدان دي. بیا ځینې نورې کورنۍ لکه د میاګانو د کلي میاګان او یا په چمیارۍ کلي کې میاګان سیدان نه دي. صاحب حق کلمه هم د اخوندزادګانو په توګه ښه او روحاني شخصیت ته استعمال شوې ده چې په کونړ کې د شوکۍ د سیمې مهم روحاني شخصیت او عالم فقیرالله چې د شوکۍ ولسوالۍ د صاحب حق صاحب په نامه یې شهرت درلود اصلاً خلیل مومند دی. د شونکرۍ د سیمې د انځرې ملا صاحب (سید غوث)[93] زامن چې په صاحب حق شهرت لري، هغوی هم ساپي دي.

[93] په ازاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکي مبارزې او د مومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمانخان ونډه: د ډاکټر عبدالرحمن زماني اثر د چاپ کال ۲۰۱۰ م، موسکا خپرندویه مؤسسه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پورته روحاني کورنیو نه سربېره د تصوف د قادریه ګروپ پیرانو او مؤذنانو د مشرقي په سیمو او خاصتاً په کونړ کې نفوذ درلود او ډېر منظم تشکیلات یې درلودل، چې د وخت تر حاکمانو د دې شخصیتونو رول او نفوذ خورا زیات و. د دې سلسلې یوه مهمه کړۍ د ملا نجم الدین اخوند زاده ده، چې د هډې صاحب په نوم هم شهرت لري، پیروان دي. ملا نجم الدین اصلاً د غزني د شلګرد سیمې اوسېدونکي او له اندړ قبیلې څخه و. د ننګرهار د هډې په سیمه کې د سوات د اخون صاحب په امر مېشت او هلته یې لنګر درلود. هډې صاحب په زرهاو او حتی په لکهاو مریدان درلود. ملا نجم الدین په خپله د ملا عبدالغفور اخوند صاحب مؤذن و، چې د سوات د اخند صاحب په نوم یې شهرت درلوده. د هډې صاحب مشهور مؤذنان د کونړ د سرکاڼو میاصاحب، حضرت صاحب د بت خاک، ملا عبدالشکور، حضرت صاحب د سره رود د چارباغ، د بړو ملا صاحب، د لغمان د سنګرشیخ صاحب، د لغمان د تیرګړو پاچا صاحب چې د سید شمس الدین مجروح پلار و، ملا صاحب د تګاو (ملا حمیدالله) چې د میا ګل جان آغا پلار و او صوفی صاحب د بتیي کوټ و. د دې سلسلې په دویم پړاو کې مؤذنان د ترنګزو حاجي صاحب، د چکنور ملا صاحب، د کوز کونړ د سلام پور پاچا صاحب (میر صاحب جان پاچا)، د کجورې ملا صاحب، ملاپاینده محمد چې د استاد صاحب د هډې په نوم یې شهرت درلود، چې د مولوي احمدګل او مولوي محمدګل روحاني پلار و، د کونړ د شونکرۍ د سیمې انځري ملا صاحب او زما نیکه د منګوال میا صاحب یادونه ضروري ده. دا پورته شخصیتونو په خپلو سیمو کې د خورا نفوذ خاوندان وو او د انګریزانو په مقابل کې د زیاتو غزاګانو مشري د دوی پر غاړه وه. د پښتونخوا په سیمو کې د انګریزانو پر ضد د پښتنو د غزاګانو په سلسله کې انګلیسي لیکوالانو خاصتاً د سوات د اخون،



د هډې صاحب او ترنګزو حاجي صاحب زیاته یادونه شوې ده. هډې صاحب پخپله واده نه وکړی او اولادونه یې نه درلودل.

دلته زه یوازې د کونړ د سرکاڼو میا صاحب چې سید محمداکبر شاه نومېده، په اړه رڼا اچوم. د سرکاڼو میا صاحب اصلاً د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د کلا اخوند و او د هډې صاحب په امر په سرکاڼو کې دېره شوی و. د سرکاڼو میا صاحب د هډې صاحب له مشهورو مؤذنانو څخه و او د کونړ په سیمه کې د ده روحاني نفوذ خورا زیات و. زما نیکه سید محمد نعمان چې مخکې یې هم د خاص کونړ د وندوڼو په برخه کې یادونه شوې، د امان الله خان په وخت کې د پېچ درې حاکم و؛ نو په هغه وخت کې موټرې په نشت کې حساب وې او سړکونه نه وو، زیاتره وخت به چې د کونړ نه خلک جلال آباد یا پېښور ته تلل او یا به یې د لرګو تجارت کاوه؛ نو د کونړ له خوا به له یوه طرفه په جالو کې د کونړ په سیند کې تلل. زما په خپله یو ځل یادېږي چې زه ډېر وړوکی وم چې له پلار سره مې د خاص کونړ نه ثمرخېلو سیمې پورې په جاله کې تللی وم، بیا د ثمر خېلو نه په موټر کې جلال آباد ته لاړو.

زما د مشر تره وکیل عبدالقادر په قول یو وخت زما نیکه له پېچ نه په جاله کې کامې ته تله او په سرکاڼو کې یې د سرکاڼو میا صاحب سره دمه کړې وه. څرنګه چې دواړو سره له پخوا نه پېژندل ځکه زما نیکه هم د کامې د کلا اخوند د مستالې په سیمه کې اوسېده او هلته یې ځمکې او جایداد درلوده، نو زما نیکه ته یې ویلي وو، چې دا حاکمي دې پرېږده او فقیري (د طریقت صوفیتوب) اختیار کړه ځکه جنډې (بیرغونه) په حاکمانو نه دي ولاړې او دا په فقیرانو ولاړې دي. زما نیکه د سرکاڼو میا صاحب سره دا خبره منلې وه چې له ده نه به طریقه (لاس نیوکه) کوي او د همدې سفر نه وروسته یې حاکمي پرېښوده. څه وخت وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکاڼو میا صاحب زما له نیکه نه وغوښتل د دې لپاره چې د خدای پاک ذکر او عبادت ته وزګار شي؛ ښه به دا وي چې خپل وطن کامه هم پرېږدي ځکه په وطن یا خپل ځای کې د مال یا نورو مسایلو په سر لکه ګوندي او پره، همېشه لانجې پېښېږي نو راشه او د منګوال په کلي کې دېره شه. زما نیکه د سرکاڼو میا صاحب امر قبول کړ، کامه یې پرېښوده او خاص کونړ د منګوال په کلي کې دېره شو. د منګوال خلکو ورته په کلي کې یوه کلا جوړه کړه او سرکاڼو میا صاحب د سرکنډ، شالی، ولی، شونکرې او خاص کونړ سیمو خلکو ته وویل چې هغه لنګر (اړه)چې دوی سرکاڼو ته وړله هغه دې پس له دې د منګوال میا صاحب ته ورکوي. هماغه وو، چې په منګوال کې زموږ د نیکه په نامه لنګر و، شیخانو به ذکرونه او عبادتونه کول او د لنګر خدمت به یې هم کاوه. څرنګه چې زما نیکه دیني عالم او حافظ د قرآن هم و نو د کلي او شاو خوا سیمو خلکو ته یې دینې زده کړې هم ورکولې او حتی ځینو مشرانو هم زما له نیکه نه د سبقونو ویل پیل کړل. یو ښه مثال یې د منګوال ملک امانت خان و، چې کله به له ملایانو سره مخامخ کېده؛ نو دیني بحث به یې ورسره کاوه ځکه ده خلاصه، کنز او څه نور کتابونه زما له نیکه نه ویلي وو.

کله چې سرکاڼو میا صاحب وفات شو نو زما نیکه به د منګوال نه هره جمعه سرکاڼو ته تللو او هلته به یې د جمعې لمونځ ورکاوه تر څو چې دی هم په ۱۳۲۳هجری شمسي کال کې وفات شو. د سرکاڼو میاصاحب بل مؤذن د شونکرۍ د سیمې انځرې ملا صاحب و، چې د ۱۳۴۰ هجری شمسي کال شاوخوا کې وفا ت شوی دی.

پر دې روحاني شبکو او کورنیو سربېره د کونړ په سیمه کې مهم عالمان هم وو، چې په مختلفو سیمو کې به اوسېدل او هلته به یې د تدریس کړی درلودلې او له دوی سره به په جوماتونو کې زیات طالبان او



چنې مېشت وو او د دوی نه به یې دیني درسونه ویل. د تدرسي کړیو په لړ کې د خاص کونړ د چندرا د اخوندزادګانو په جوماتونو کې مولوي عبدالمتین چې ډېر ښه دیني عالم و تدریس کاوه او ډېر زیات شاګردان یې درلودل. مولوي عبدالمتین اصلاً د مزار درې د شوماش د کلي اوسېدونکي و، چې د ثور د کودتاه نه وروسته یې په جهاد پیل وکړ او د زیړي بابا په سیمه کې شهید شو. مولوي جمیل الرحمن هم د خاص کونړ په مدرسو کې سبق ویلی و او زما د خسر مولوي غلام حضرت قاضي زاده سره هم سبقه و.

همدا رنګه د کونړ د کلي په جامع جوماتونو کې هم تدریسي- عالمان وو او زیات شاګردان به یې درلودل لکه د شوماش مولوي صاحب په نامه مشهوره عالم هلته تدریس کاوه. د کُلیګرام (حکیم آباد) مولوي صاحب چې مولوي عبدالحنان نومېده او د هغو زامنو هم لویه تدریسي- حلقه درلوده. د دې عالمانو او د دوی د اغېز په اړه زیات تحقیق او ریسرچ ته ضرورت دی. څرنګه چې دې عالمانو په مذهبي او فقهي مسایلو په سر اختلاف درلود؛ نو د دوی د اختلاف په وجه به په ولسونو کې لانجې او مشکلات هم پیدا کېدل او حتی په ځینو مواردو کې به د دوی اختلاف د شر سبب هم ګرځېد. دا عالمان د حنفي، وهابي، پنج پیري او اهل حدیث په ډلو تقسیم شوي وو. د نورستان په سیمه کې ډاکتر احمد یوسف نورستانی په خپل دکتورا تېزس کې په سیاسي ډګر کې د عالمانو په رول او اغېز باندې ډېر ښه ریسرچ کړی او همداسې تحقیق او ریسرچ ته د کونړ په سیمه کې هم اړتیا شته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوومه برخه

# د کونړ ولایت د اداري واحدونو په اړه معلومات

د کونړ ولایت د هرې ولسوالۍ معلومات ما د بېلابېلو ولسواليو د قومي مشرانو سره د مرکو په ترڅ کې راټول کړي دي او تر خپله وسه مې کوښښ کړی، چې دقیق معلومات راټول کړم خو کېدای شي چې څه نیمګړتیاوې هم ولري ځکه تر کومه حده چې ماته معلومه شوه او دزیاترو کسانو سره ما مرکې وکړې، هیڅ یوه مرکچي ته د ولسوالیو د ټولو کلو او ونډونو پوره معلومات نه و؛ خو د ولسوالۍ د هماغې یوې برخې معلومات به ورسره و، په کومه چې دوی اوسېدل. زما په اند ښه طریقه به دا وای چې ما په هره ولسوالۍ کې یو څه وخت تېر کړی وای ترڅو د ولسوالیو د ټولو ونډونو او سیمو په اړه مې پوره معلومات راټول کړي وای. اما د مصروفیتونو د درلودلو او امنیتي شرایطو په نظر کې نیولو سره ما دا کار ونه شو کړای او یوازې مې په کونړ او کابل کې د کونړ ولایت د بېلابېلو ولسوالیو د مشرانو سره په مرکو اکتفا وکړه. زما په اند په راتلونکي کې که څوک غواړي چې د کونړ ولایت د ولسوالیو په اړوند او یا د افغانستان د نورو ولسوالیو او ولایتونو په اړه ریسرچ او تحقیق وکړي؛ نو د دې کتاب معلومات ورسره ښه مرسته کولی شي.



څرنګه چې ما د دې کتاب په سر کې یادونه کړې دا کتاب یو لارښود کېدای شي چې په راتلونکې کې د افغانستان ټولو ولایتونو او ولسوالیو په اړه تحقیق ته یوه نمونه شي. زما په اند په هره ولسوالۍ یو کتاب لیکل کېدای شي.

# اداري واحدونه او قومي جوړښت په هره ولسوالۍ کې

## مرکز اسعدآباد (چغه سرای)۹٤

د چغه سرای[۹۵] نوم د چغان غونډۍ نه اخیستل شوی چې دلته پخوا د پښتنو له خوا د کافرو په مقابل کې قوي چوڼۍ وه. چغه سرای سیمه د پیچ او اسمار سیندونو په تقاطع کې پرته ده. تر نولسمې پېړۍ پورې چغه سرای یوه اطرافي سیمه وه او بازار پکې نه و. په ١٦مه پېړۍ کې دا ځای د چغه سرای په نوم یاد شوی او بابر پاچا د بابر نامې په ۲۱۲مه صفحه کې هم د چغه سرای یادونه کړې ده. د چغه سرای نوم د سیدجمال الدین افغان له امله په اسعداباد هم یادیده چې په ۱۹۷۸ کال کې په رسمي ډول[۹٦] وپېژندل شو. د علامه سید جمال الدین افغاني ټاټوبی کونړ و او د

---

[۹٤] د کونړ ولایت د مرکز چغه سرای په اړه زیات معلومات ما د قومي مشر، ډګروال شاه محمود قاضي خېل سره د مرکې په ترڅ کې یادداشت کړي دي. د مرکې نېټه، ۱۲ مارچ کال ۲۰۱٦م، چغه سرای، کونړ.

[۹۵] http://www.iranicaonline.org/articles/asadabad-or-asadabad-the-official-name-of-a-small-town-in-eastern-afghanistan

[۹٦] http://www.statoids.com/uaf.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پلار سیدصفدر د کوز کونړ د صدر ګټ په کلی کې اوسېده چې د کونړ د سیند په جنوبي غاړه کې دا سیمه اوس هم د صدر ګټ په نامه یادېږي او د برکاشکوټ په سیمه کې د یوې غونډې په سرپرته ده. په ۱۹۶۴ م[۹۷] کال کې د کونړونو نوم په کونړ بدل شو.

په ۱۸۹۱ م کال کې امیر عبدالرحمن سپه سالار غلام حیدرخان[۹۸] څرخي ته چې د انګلیسانو سره په دویمې جګړې کې فعاله برخه درلوده، دنده وسپارله چې کافرستان ونیسي ځکه هغوی د امیر عبدالرحمن خان حکومت ته مالیه نه ورکوله. کله چې په ۱۸۹۶ م کال کې کافرستان یا اوسنی نورستان د سپه سالار غلام حیدرخان څرخي له خوا ونیول شو؛ نو د چغه سرای سیمې اهمیت زیات شو او د کونړ ولایت مرکز د پشد نه دلته انتقال شو. د دې نه دمخه پشد د کونړ مرکز و او سید محمود پاچا (پاچا) د کونړ حکمران و، چې د امیر عبدالرحمن خان له وېرې یې کونړ پرېښود او باجوړ سیمې ته وتښتېد.

په همدغه کال د سالار باغ او د سالار ویاله چې د چغه سرای نه د نرنګ ولسوالۍ ته اوبه ورکوي د سپه سالار غلام حیدرخان څرخي د پوځیانو په واسطه جوړه شوه. په همدغو کلونو کې د جلال آباد نه چغه سرای ته سړک هم د کونړ پر خلکو باندې په بیګارې توګه جوړ شو. د

[۹۷] http://www.statoids.com/uaf.html

[۹۸] Conspiracies and Atrocities in Afghanistan: (۱۷۰۰–۲۰۱٤) By Engineer Fazel Ahmed Afghan, MSc, ۲۰۱۵ ( https://books.google.com.af/books?id=hzIDCgAAQBAJ&pg=PT۱۸۳&lpg=PT۱۸۳&dq=Ghulam+haider+khan+Charkhi&source=bl&ots=TnUip۹۳۰Su&sig=K-gXpv_WULPB۳jpzS٤۲heOQlTow&hl=en&sa=X&ved=۰ahUKEwiU۱s۳۲td۳LAhVJ۲xoKHSp٦CAg٤ChDoAQgYMAA#v=onepage&q=Ghulam%۲۰haider%۲۰khan%۲۰Charkhi&f=false )



چغه سرای د بازار لومړنی تهداب په ۱۹۴۷ م کال کې کېښودل شو چې تقریباً ۴۰ دوکانونه جوړ شول.

په ۱۹٦۷م کال کې د سالار باغ د حجارۍ او نجارۍ فابریکه د فرانسویانو په مرسته جوړه شوه ترڅو د کونړ او نورستان د پرېمانو لرګو نه ښه استفاده وشي او د سیمې په انکشاف کې رول ولوبوي. په ۱۹۷۴ م کال کې یعنې د سردار محمد داؤد خان د جمهوري ریاست په دوره کې د چغه سرای ښار ته وسعت ورکړل شو، چې تقریبا ۱۸٦ دوکانونو ته د بازار وسعت ورسېد او هم د کونړ په سیند باندې د تېښې له سیمي سره یو پول جوړ شو چې دا سیمه یې د سرکانو له ولسوالۍ سره ونښلوله. د څوکۍ د ولسوالۍ د ګټو کلا سره نږدې د کاغذ د فابریکې د جوړلو د ودانیو کار هم پیل شو؛ خو د ثور د کودتاه له امله دا کار سرته ونه رسېد. د کونړ د سیند پر غاړه په همدغه کال په لکونو روسي ولې یا **Eucalyptus** ونې کېښودل شوې.

د داؤد خان توجه د کونړ ولایت ته زیاته وه ځکه دې ولایت له پاکستان سره ستراتیژیکي اهمیت درلود. د اسمار له ولسوالۍ سره د سور طاق د سیمې سروې هم په همدغه کال وشوه چې هلته یو لوی د برېښنا بند د کونړ د اسمار په سیند باندې جوړ کړي. د دې خبرې یادونه په کار ده چې په ۲۰۰۴م کال کې د چغه سرای بازار ته د کونړ د والي اسدالله وفا له خوا نور هم وسعت ورکړل شو او په اوس په زرګونو دوکانونه په چغه سرای کې شته دي. په ۱۹۸۳م کال د کرالی بند د پیچ په سیند باندې د حکومت له خوا جوړ شو، چې ۳۵۰ کیلو واټه برېښنا یې تولیدوله خو دې بند د ۷۰۰ کیلو واټه پورې ظرفیت درلود.

د چغه سرای ښار اوس څلور ناحیې لري: ۱. دم کلي ۲. کرهاله ۳. کوز کورونو ناحیه چې د تېښه سیمې د نیمایي پورې برخه په کې شامله ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. نوآباد او ډنډونه. که څه هم دا څلورمه ناحیه رسمي بڼه نه لري خو دوی یې د څلورمې ناحیې په نامه یادوي. چغه سرای قومي جوړښت په دوه برخو وېشل شوی دی. ۱. دم کلی ۲. کرهاله. بیا هر کلی په کندیو وېشل شوی دی.

د کرهالې کلی په څلورو کندیو وېشل شوی دی:

۱. قاضیان (دوی د باجوړ د سیمې د بابوقرې نه دلته راغلي او مېشت شوي دي چې اصلاً سالارزي دي)

۲. هندوراجي چې د اندوراج له درې نه دلته راغلي او دلته مېشت شوي دي او د ماموندو په قبیله پورې اړه لري.

۳. صحراخېل چې د اسمار درې د ساو خوړ نه دلته راغلي او مېشت شوي دي چې مشواڼي دي.

٤. فتحوخېل ویل کېږي چې د خاص کونړ نه دلته راغلي او مېشت شوي دي.

د دم کلي بیا درې کندې دي:

۱. راجاخېل چې په قوم مومند دي.

۲. خور کندی (مختلفې قبیلې په دې کندې کې اوسېږي).

۳. دورکاخېل چې دوی هم ماموند دي.

نورې قبیلې لکه سالارزي، ملاخېل او ساپي هم د دم کلي په ساحه کې اوس اوسېږي. د تقسیماتو په حساب دوه حصې سهم دم کلی اخلي او یوه حصه سهم د تېشي، نواباد او ډنډونو سیمې ته ورکوي.

د کرهالې پخواني مشران او ملکان:

ملک غلام حیدرخان، حاجي جان محمد، ملک سردار، میرزا حضرت جان، ښاروال شیرمحمد خان، ملک عطاوالله خان، ملک سید غفور، ملک محمدسلام، سور فقیر.



د کرهالې د کلي اوسني مشران او ملکان:

حاجي شاه محمود، ډګروال شاه محمود، حاجي یوسف، حاجي عبدالهادي، حاجي شیراغا، حاجي محمدامین، حاجي محمد عارف، ملک شاه محمد، حاجي حمیدالله او حاجي نادرخان.

د دم کلي پخواني مشران او ملکان:

قاضي مجاهدین، حاجي نظام الدین، وکیل صدیق، حاجي محمدجلال، حاجي غازي خان، حاجي نورمحمد، قاضي غلام عثمان، قاضي محي الدین، قاضي جبار، ملک سیدولي، او حاجي غلام خان.

د دم کلي اوسني مشران و ملکان:

حاجي جماعتي، حاجي فیض محمد، حاجي محمدخان، ډګروال حاجي عبدالقدوس، ډګروال بهاول خان او حاجي مهتاب خان.

د تېشي د سیمې پخواني مشران او ملکان:

د استقلال د څلورمې جبهه قوماندان غازي میرزمانخان، د میرزمانخان ورور جنرال خانمحمدخان، شیرمحمد خان، یار محمدخان چې د میر زمانخان زامن وو، مسافرخان او نادرخان چې د جنرال خان محمدخان زامن وو او پیر محمدخان.

د تېشي اوسني مشران او ملکان:

حاجي لیث، حاجي داؤدخان، حاجي غازي، حاجي محمد غوث او خالدخان.

د ډنډونو په سیمه کې محمد هاشم زماني د میرزمانخان زوی او هم سید ملک د دغې سیمې مهم مشران وو.

هندوان هم پخوا د چغه سرای په ښار کې اوسېدل؛ د جنګونو له امله ټول جلال آباد ته کډه شول؛ خو اوس بیا یو دوه کوره بېرته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۲۴ هجري شمسي کال کې یعنې د ساپو د پاڅون په وخت کې شینوارو او د شلطن ماموندو په کرهاله حمله وکړه؛ خو دوی مقاومت وکړ او تقریباً ۱۲۰ کسه د دواړو قبیلو ووژل شول بیا وروسته ساپو په کرهاله حمله وکړه او دا کلي یې وسېځه. دا ټیکی د همدې وخت نه پاتې ده:

وسوله کرهاله ژاړي د شلطن کلي
وتښتېده دم کلي

## د خاص کونړ ولسوالي

خاص کونړ د کونړ په ولایت کې یوه د مهمو ولسوالیو نه ده چې تعلیمي کچه یې اوچته ده. دا ولسوالي ستراتیژیک اهمیت لري، چې د کونړ سیند پر غاړه سهیل خواته پرته ده. د شمال له خوا د کونړ سیند، د سهیل له خوا د مومند له قبایلو سره، د ختیځ پلوه د سرکانو له ولسوالۍ او د لوېدیځ اړخه د ښېوې له ولسوالي سره نښتې ده.

د روسانو تر وتلو نه وروسته د کابل رژیم لومړنی ولایت چې تخلیه کړ، هغه د کونړ و. په هغه وخت کې د خاص کونړ په ولسوالۍ کې ټول ښوونځي وران شوي وو او یو ښوونځی هم فعال نه و. په ۱۹۹۳ م کال کې ما په خپلو شخصي امکاناتو او په امریکه کې د ځینو دوستانو په مرسته د خاص کونړ لېسه، د منګوال منځنی ښوونځی او د خاص کونړ د نجونو ابتدایه ښوونځی بیا له سره فعال کړل، چې تر درېو کالو پورې مې ورته امکانات برابر کړي وو. وروسته بیا ما دا ښوونځي د سویډن مؤسسې ته وسپارل چې مرسته ورسره وکړي. په هغه وخت کې تقریباً ۷۰۰ هلکانو او نجونو په دې ښوونځیو کې زده کړې کولې. دا چې د خاص کونړ ولس



له تعلیم او تربیې سره زیاته مینه لري؛ نو د طالبانو د رژیم په وخت کې هم دا ښوونځي فعاله وو. د خاص کونړ په ولسوالۍ کې اوس ۲۷ ښوونځې دي، چې نهه یې د لېسې تر کچې پورې دي. د دغو ښوونځیو نه پنځه لېسې د هلکانو، درې لېسې د نجونو، یوه د زراعت او یوه د دیني علومو مدرسه ده. پر دې سربېره یو حمایوي دارالمعلمین هم د خاص کونړ په ولسوالۍ کې شته دی.

د ۲۰۰۲ م کال د بېړنۍ لویې جرګې په انتخاباتو کې د خاص کونړ هر ونډ په لومړۍ مرحله کې خپل درې ځلویښت نمایندګان یا استازي وټاکل، چې زه هم لومړی د منګوال د ونډ نه تعیین شوم. په دویمه مرحله کې د خاص کونړ استازو ډګروال محمدالله خان او زه د رایو په اتفاق بېړنۍ لویې جرګې ته تعیین کړو. دا نوع انتخابات د امریکه د ایوا (Iowa) په ایالت کې د کاکس (Caucus)په نامه یادېږي. کاکس ګروپ یا غونډې ته وایي چې د هر کاندید طرفداران په یوه ځای کې راټولېږي بیا د دغه ایالت د انتخاباتو د کمېسیون غړي د ټولو په مخ کې د هر کاندید پلوي کسان شماري. په دغه ډول ټاکنو کې د وټ اچول او یا وټ چاپول نه وي او هم د انتخاباتو مصارف ډېر کم وي.

د دې خبرې یادونه اړینه ده چې د ۲۰۰۲ م کال د بېړنۍ لویې جرګې د ټاکنو ټول مصرف د مشرقي په څلورو ولایتونو کې د یو لک امریکایي ډالرو نه کم وو، اما هغو ټاکنو د پرله پسې ټاکنو په مقایسه چې میلونونو ډالر لګښت پرې شوی و، د خلکو په نزد زیات مشروعیت درلود او د ولس ښه استازیتوب یې کولی شو. د دې لپاره چې په راتلونکي کې په کمو پیسو مشروع انتخابات په خاصه توګه ولایتي او پارلماني انتخاباتو لپاره لاره هواره شي زه د پورته سیستم وړاندیز کوم، چې خلک په خپله خوښه نمایندګان د یوې شفافې پروسې پر اساس وټاکي او هم د ټاکنو پایلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید په هماغه ورځ معلومې وي تر څو د درغلیو مخه ونیول شي، نه داسې چې د ۲۰۰۹م کال او یا د ۲۰۱۴م ټاکنو په څېر د ټاکنو پایلې بحران ته ورسېدلې او حتی څو میاشتې یې ونیولې بیا هم پایلې ولس او دنیا ته د قناعت وړ نه وې. که د وندونو یا قومي جوړښت پر اساس ټاکنې وشي؛ نو د دا ډول انتخاباتو لګښت به ډېر کم او د حکومت په وسه به پوره وي چې د انتخاباتو مصارف ورکړي نه چې د انتخاباتو لپاره هم زموږ لاسونه بهرنیانو ته اوږده وي. دا یوه بېله مسئله ده چې زیات بحث او سیاسي ارادې ته اړتیا لري چې ترڅو د افغانستان په ټاکنیزې پروسې کې شفافیت رامنځ ته شي او ولس پکې فعاله ونډه واخلي.

د پوره وضاحت لپاره د خاص کونړ د ولسوالۍ تفصیلي یادونه کوم چې ما پکې پوره څېړنه کړې ده او د دې ولسوالۍ جوړښت په لاندې چارت کې په ګوته شوی دی.






پورته چارت د ولایت، ولسوالي، وند، کلی او پلرنۍ ترمنځ ارتباط ښایي

د خاص کونړ ولسوالي په پنځه وندونو تقسیم شوې ده، چې بیا هر وند په کلو باندې تقسیم شوی او بیا هر کلی په پلرني یا سهم تقسیم شوی دی. په دې تقسیماتو کې دوه مهم ټکي دا دي چې یو خو ټوله ګټه او تاوان او حتی عامه ځایونه لکه جبه (د سیند په غاړه غیرمزروعي ځمکه چې د څارویو د څر لپاره وي)، ډاګ او ځنګلونه ټول په همدې شکل تقسیم شوي او د هر وند ساحه او ځای معلوم دی؛ خو په رسمي اسنادو کې د دې تقسیماتو په اړه هیڅ معلومات نشته دي. په حقیقت کې دا د دې وندونو او کلو عامه ملکیت دی، چې استفاده ترې کولی شي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقسيمولی يې نه شي، خو د دولتي قوانينو په چوکات کې که کومه ځمکه يا ځای چې رسمي سند ونه لري هغه دولتي ځمکه او ځای دی. په واقعيت کې داسې نه ده او دا عامه ملکيت د کلو او قومونو دی او حکومت بايد په دې اړه د خلکو د ښېګڼو په چوکاټ کې سم تصميم ونيسي، تر څو چې د ځمکو مسايل په دايمي او ښه توګه حل کړي. په دې سيستم کې تغييرات د خلکو په ملکيت کې بدلون راولي او دا ډول تغييرات تازه يا نوي جنجالونه په سيمو کې ايجادوي. محلي چارواکي بايد د هرې ولسوالۍ په اړه دا ډول معلومات راټول کړي ترڅو د ولس د مشکلاتو په حل کې ورسره مرسته وکړي.

په دې وروستيو کلونو کې د خاص کونړ د ولسوالۍ سره د شالۍ او ولۍ په نامه شپږم ونډ هم اضافه شوی دی، چې پخوا د شالۍ او ولۍ سيمې د قبايلو په نامه يادېدې؛ خو په ټاکنو کې يې برخه اخيسته او وټ به يې د خاص کونړ په ولسوالۍ کې اچاوه، مګر د دې سيمو خلکو تذکرې نه درلودې. د کونړ ولايت اکثره ولسوالۍ سرحدي کلي لري چې د حاشه په نامه يادېږي. شالۍ، ولۍ او د دې سيمو مربوط کلو ته د سيوري مومند هم وايي. د شالۍ ولس زوپيالي خېل مومند دي، چې په خوګاخېلو ورګډېږي. خوګاخېل د مومندو په بايزۍ پښې پورې تړلي دي. د ولۍ او څېرې زياتره ولس بوټي خېل دي چې دا هم د بايزو په پښې پورې تړاو لري. يو څو کورونه د فرمولي په نامه هم د بر څېرې په سيمه کې شته دي. د هر ونډ بريد يعنې سرحد، په قومي مسايلو کې برخه اخيستنه او د کلو شمېر نه او سهم معلوم دی، چې د محل خلکو ته پته ده او په رسمي چوکات کې کوم سند د دې ونډونو په اړه نشته؛ خو هر چارواکی د دې ولسوالۍ چې هلته کار کوي، په دې پوهېږي چې



څومره ونډونه په هره ولسوالۍ کې شته دي او قومي جوړښت يې څنګه دی. د همدې تقسيماتو پر اساس ولس خپل ورځني مشکلات حل کوي.

## د خاص کونړ د ولسوالۍ ونډونه

### لومړی: د منګوال او چمياری ونډ

په دغه ونډ کې د منګوال او چمياری په نومونو دوه لوی کلي دي. په دغو دوه کليو کې اړوندې بانډې يعنې له کليونه بهر کورونه شامل دي.

### د منګوال کلی:

د منګوال د کلي ولس اکثره مومند دي، چې په خټه اتمرخېل او د مومندو د بايزو د پښې پورې تړاو لري. دوی د مومندو د مزري چينې د سيمې نه دلته راغلي او مېشت شوي دي. ويل کېږي چې د کلي نفوس پخوا زر کوره حساب شوی دی؛ خو د ثور له کودتا نه وروسته او د جهاد په کلونو کې او بالخاصه د روسانو د تهاجم نه وروسته د دې کلي ټول ولس مهاجر شو او دا کلی په کنډواله بدل شو. اوس تقريباً دوه سوه کوره بېرته دې کلي ته ستانه شوي دي. دا چې کونړ ولايت په عمومي توګه لږه ځمکه لري نو د کونړ ولس همېشه د افغانستان په داخل کې او يا له هېواده بهر په نورو سيمو کې خواري او غريبي کوله او په دې توګه به يې خپلې کورنۍ ساتلې. د ډېر پخوا نه د منګوال د کلي اوسېدونکي اکثره دوه کوره وو، چې زياتې کورنۍ د پاکستان د کراچۍ په سيمه کې اوسېدلې او هلته يې د کراچۍ په بندر کې مزدورۍ او کار کاوه. اوس د

کراچۍ په کیا مانۍ سیمه کې د منګوال د کلي په نامه لویه محله شته ده او اوس هم خپل مړی ژوندی د همدې کلي په پخوانې حساب سره پالي.

که د خاص کونړ پورته چارت ته نظر واچوو ګورو چې د منګوال او چمیارۍ ونډ په دوه کلیو تقسیم شوی دی، چې د سهم په حساب دوه برخې د منګوال او یوه برخه د چمیارۍ د کلي ده. همدا رنګه د منګوال کلی بیا په اوه پلرینو تقسیم شوی دی. په دغه پلرینو کې پنځه پلرینې اتمرخېل مومند، یوه پلرینه ګډوله یا ارګجه، مومند او څو نورې وړې کورنۍ پکې شته دي. یوه پلرینه سهم ارجل (متفرقه) قومونو ته چې په کلي کې اوسېږي ورکړل شوې ده. د منګوال پلریني په لاندې ډول دي:

۱. د ملوک بابا پلرینه

۲. د جنګي بابا پلرینه

۳. د امیر بابا پلرینه

٤. د سادات بابا پلرینه

۵. د وحدت بابا پلرینه

٦. د دیندار بابا پلرینه. په دې پلرینه کې ترکاڼان، دله زاک، جاله وانان او رنګریزان هم شامل دي، څکه د دې پلرینې تعداد کم دی.

۷. ارجل متفرقه قومونه (موسی خېل، شونکړي وال چې ساپي دي او جولاګان)

همدا رنګه زموږه کورنۍ چې د منګوال میا صاحب د کورنۍ په نامه شهرت لري له منځه سهم لري.

د منګوال میا صاحب چې زما نیکه و سید محمدنعمان نومېده چې د امان الله خان په وخت کی د پېچ په دره کې حاکم و، خو اصلاً دی د کامې ولسوالۍ د مستالي په کلي کې اوسېده او هلته یې ځکمه او جایداد درلود، چې سلسله نصب یې میا علي صاحب (رح) ته رسېږي. د میاعلي



صاحب (رح) زیارت د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ثمرخېلو په سیمه کې دی. زیاتره کسان چې لېونیان وي د هغه زیارت ته یې د دوعا او ښه کېدو لپاره بیایي. زما نیکه وروسته د سرکاڼو میاصاحب (رح) نه چې هغه د ملا نجم الدین اخوندزاده مؤذن و، لاس نیوکه کړې وه یعنې مرید شوی یې و. منګوال میاصاحب وروسته د سرکاڼو میاصاحب په امر خپله حاکمي پرېښوده او له کامې نه د خاص کونړ ولسوالۍ د منګوال کلي ته راغی او دلته یې لنګر او مریدان درلودل. دا چې منګوال میاصاحب دیني عالم او حافظ د قرآن هم و؛ نو د منګوال مشرانو ته یې د پیرۍ او مریدۍ تر څنګ دیني زده کړې هم ښودلې.

البته دا پورته تقسیمات داسې شوي دي چې هیڅ کور په کلي کې بې برخې یعنې بې سهمه نه دی پاتې شوی. د بېلګې په توګه شاخېل د منګوال په کلي کې یو کور دی خو د کلي په ګټه او تاوان کې سهم لري. د پورته تقسیماتو نه دا جوتېږي چې د افغانانو او په خاصه توګه د پښتنو په سیمو کې د اجتماعي عدالت زیات خیال ساتل شوی دی، چې حتی د کمزورو کورنیو لکه کسبه کارو سهم هم په ټولنه کې خوندي دی او دوی د نورو مېشتو ولسونو په منځ کې مساوي حقوق لري.

د منګوال په سیمه کې د ګورګورې بابا په نامه یو مشهوره زیارت هم شته دی چې د منګوال لېسه هم د همدغه زیارت ترڅنګ ده او پخوا به د اختر په درېیمه ورځ د خاص کونړ خلکو دلته مېله کوله. د خاص کونړ په ولسوالۍ کې پخوا هندوان هم اوسېدل او زیاترو یې په کلیو کې دوکانونه درلودل. یو کم تعداد یې ځمکې هم درلودې چې تر اوسه پورې د هندوانو یوه کورنۍ د کونړ له کلي سره نږدې ځمکه لري او د دې ځمکه ورثه هم شته دي چې اوس پرې د هندوانو په خپلو منځو کې دعوه ده او د دوی ځمکه چې تقریباً شل جریبه کېږي د حکومت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحت تامین ده. پخوا د منګوال په کلي کې هم هندوان اوسېدل خو په کونړ کې د جنګونو په وجه ټول هندوان د کونړ له سیمې نه جلال آباد ښار یا نورو سیمو ته کډه شوي دي.

د منګوال کلي ډېر مشهور مشران درلودل لکه ملک شیرمحمد خان، ملک شیرافضل خان چې په صوبدار صاحب مشهور و، ملک امانت خان، ملک عبدالوکیل، ډګروال شیرافضل خان مومند، ملک نورافضل، ملتان ملک، نادرخان ملک، مدیر سیف الرحمن خان، زما تره وکیل عبدالقادر، مدیر عبدالباقي خان او سیدحنیف پاچا.

د منګوال موجوده ملکان حاجي عبدالقیوم، ملک محمد آصف، ډګروال بهادرخان، میر سلام خان او انګور ملک دي.

## د چمیارۍ کلی:

د چمیارۍ کلي تاریخچه داسې ده چې چمیار پخوا هندو و او په دغه سیمه کې اوسېده چې اوس دا کلی د چمیارۍ په نامه یادېږي. چمیار دوه زامن درلودل چې چمر او عطا نومېده. کله چې چمر مسلمان شو نو د ده ورور عطا راپاڅېد او هغه یې مړ کړ، چې ا وس هم د چمیاري په کلي کې د هغه قبر شته او شهید بابا ورته وایي  چې همدې ځای ته د شهید دېره هم وایي. د چمیارۍ کلی اوس درې سهمه لري چې د چمرخېل، عطاخېل او د منجیانو په نامه یادېږي. د منجیان کلي اوسېدونکي د مزار درې د غرونو د سرونو له کلیو یعنې د اریت او شوماش له کلیو نه دلته راغلي او مېشت شوي دي. د منج کلی اوس هم د اریت په سیمه کې شته دی. د منجیانو ژبه پخوا دیګاني ژبه وه چې اوس هم د وټه پور په یوه محدوده سیمه کې ژوندۍ ده. د منجیانو په سهم کې یو



ځو کوره الله خېل مومند، کاشکوټي، بوټي خېل، بزرګ خېل او یو کور میاګان هم برخه لري، چې په دې کلي کې اوسېږي.

د چمیارۍ په کلي کې دوه مهم نور زیارتونه هم شته چې یو یې د بر سلطان بابا او بل یې د کوز سلطان بابا په نامه یادېږي او ویل کېږي چې دواړه سره تره او وراره وو. دوی ته ځکه سلطان بابا وایي چې کومه لوحه یا شناخته چې پخوا دلته موجود وه نو پرې لیکل شوي و چې: سلطان ابوالخیر مازندراني[۹۹]. د دې زیارتونو نور تاریخ د دې کلي خلکو ته هم نه دی معلوم. پخوا د اختر په څلورمه ورځ ډېره لویه مېله به د خاص کونړ خلکو د سلطان بابا په زیارتونو کې کوله.

د چمیاري د کلي اوسني ملکان، ملک محمد طاوس، ملک محمد حنیف، ملک ناصر او ملک غلام حسن دي. په ۲۰۰۲ م کال کې د دغه کلي ملکان یوازې ملک محمد کریم او سرکاتب سید امین و.

## دویم: د چندر او او لوټانو ونډ

د چندارو او لوټانو په ونډ کې د چندراو کلي، نیمایي برخه د لوټانو، سنه خېل، کوزچنچن، کنډر او کاوېړ کلي شامل دي. محمد معظم اخون زاده او د هغه کورنۍ چې اصلاً په خټه یوسف زي دي، په دې کلي کې میشته دي. محمد معظم اخون زاده د کونړ او مشرقي د سیمې ډېر مشهوره مشر و چې د ولسي جرګې مرستیال هم پاتې شوی و. د چندراو په کلي کې مختلفې قبیلې لکه مومند، ساپي، یوسفزي او ځینې خیلونه لکه ترکاڼان، جاله وانان، جولاګان او داسې نور هم اوسېږي. په دې کلي

[۹۹] د دې کلي د ملک او خاص کونړ د شورا د مشر ملک طاوس خان سره د چمیارۍ د کلی په اړه مرکه. د نومبر ۱۹مه نېټه کال ۲۰۱۳ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یوه لویه مدرسه موجود ده چې پخوا پکې د مزار درې مشهوره عالم، شهید مولوي عبدالمتین تدریس کاوه. مولوي حسین اخونزاده د پېچ درې چې وروسته یې په مولوي جمیل الرحمن شهرت درلود او د جماعة الدعوة للقرآن والسنة په نامه یې حزب جوړ کړ هم د چندراو په مدرسه کې څه وخت د مولوي محمد حسن اخون زاده نه چې د محمد معظم اخونزاده زوی و، سبق ویلی و. د جماعة الدعوة للقرآن والسنة ډله د سلفیانو او وهابیانو په نامه هم یادېږي. مولوي جمیل الرحمن وروسته خپلې زده کړې له مردان سره نږدې د پنج پیر په مدرسه کې سرته رسولې وې. دې ونډې هم ډېر مشهور مشران درلودل، لکه فراز ملک، ذوالفقار ملک، حاجي عبدالعلي، حاجي قوماندان غازي محمد خان، ملک محمدعلي، ملک خلیل، ملک شېرزمان او حاجي یادګل.

د دې ونډې اوسني ملکان، مولوي صفي الله، حاجي محمد عبدالله، ملک روح الله، ملک حیات الله، ملک عبدالولي او ملک مرجان دي.

## درېیم: د کونړ او تنر ونډې

د کونړ کلی چې د کونړ ولایت نوم هم د همدغه کلي نه اخیستل شوی پخوا د کونړ د سیمې مرکز و. په دې ونډې کې د کونړ کلی، د لوټانو نیمایي سیمه ، میاګانو کلی، رین، چارکلا، کرموټا، کلالان، زرګرانو بانډه، سید بانډه، طلایي بانډه، چاره کي او د تنر کلي شامل دي. د کونړ په کلي کې پخوا یو وړوکی بازار هم و، چې اوس هم یو شمېر دوکانونه لري او د کونړ په ولسوالۍ کې دا یوازینی بازار و. خو اوس د خاص کونړ په نورو کلو کې نور واړه بازارونه هم جوړ شوي دي، چې څو دوکانونه په کې وي. د کونړ د کلي د صاحب جم په سیمه کې هم یوه لویه مدرسه



وه، چې پخوا پکې د شوماش مولوي په نامه یو مشهور مدرس، تدریس کاوه او زیات شاګردان یې درلودل. دې کلي کې مشهور سپین ږیري او مشران تېر شوي دي چې د مرحوم وکیل محمدجان خان چې په ولسي‌جرګه کې دوه دورې د خاص کونړ د ولسوالۍ استازی و، مرحوم وکیل محمد ګل خان چې په ولسي جرګه کې د خاص کونړ استازی او د ولسي‌جرګې دویم مرستیال و، مرحوم علاقدار محمدحسین خان، مرحوم ملک محمد صدیق ارباب، مرحوم دیپلوم انجینر نیک محمد خان چې د بند او برق په څانګه کې د هېواد مشهور انجینر و او ډاکټر سیدقاهر عاطف نومونه د یادولو وړ دي. د هېواد تکړه هنرمند مرحوم ګلاجان استاد هم د کونړ د کلي اوسېدونکی و. د کونړ په ولایت کې لومړنۍ لومړی ښوونځی هم د کونړ په کلي کې و، چې وروسته د تنر کلي د وکیل عبدالجلیل ملنګ په کلا کې تر ډېر وخته پورې دا ښوونځی و. د خاص کونړ لومړنی ښوونځی اوس لېسه شوی او د ډاکتر کبیر ستوري د لېسې په نامه یادېږي.

د تنر کلی د دې ونډې یو بل مهم کلی دی، چې د خاص کونړ د ولسوالۍ د تعلیم یافته طبقې مهم مرکز و. په لسګونو صاحب منصبان، دولتي چارواکي او استادان په دې کلي کې تېر شوي او شته دي. د امان الله خان د دورې قاضي القضات امیرالله خان چې په ۱۳۰۳ هجري شمسي کال په ترکیه کې او وروسته په بخارا کې د افغانستان سفیر و، هم د تنر د کلي و چې د ده کورنۍ د قاضیانو په نامه یادېږي. د قاضي القضات امیرالله خان پلار هم قاضي و او جمال الله نومېده. په لاندې توګه د دې کلي د څو نورو مشهورو اشخاصو یادونه هم ضروري بولم، چې د سیمې او هېواد په کچه مشهور و: مرحوم میرزا غلام سرور اخونزاده، مرحوم میرزا عزیزخان اخونزاده، عصمت الله روحاني، مرحوم میرزا محمدجان خان، مرحوم لعلوجان چې د غازی میرزمانخان زوم و، په ولسي جرګه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خاص کونړ استازی مرحوم عبدالجلیل ملنګ، مرحوم ډاکتر کبیر ستوری، د حربي پوهنتون استاد ارکان حرب مرحوم ډګروال فضل ربي خان، مرحوم دیپلوم انجینر غلام رضا، د کابل پوهنتون استاد جلال الدین خان کونړی، د هوایي او مدافع هوایي قواو پخوانی قوماندان جنرال غلام سخي او مرحوم مولوي عبدالحنان. یوازې د تنر په کلي کې ۲۲ تنه د طب د پوهنځیو نه فارغ ډاکتران شته دي[۱۰۰].

د دې ونډ ملکان عبدالجلیل ملک، ملک عمراخان، ارباب اسدالله، ملک عبدالظاهر، ملک محمدمعصوم، ملک میرویس، ملک محمد نادرخان او ملک علي سید دي.

## ځلورم: د بانډې او اراضي ګانو ونډ

په دې ونډ کې کوزه اراضي، بره اراضي، کوکې بانډه، قلاګی، لغاني او د بانډې نیمایي برخه، کلي شامل دي. د اراضی سیمه د خاص کونړ د ولسوالی مرکز ته نږدې او خلک یې له تعلیم سره خاصه مینه لري. وکیل عبدالقدیر په ولسي جرګه کې د خاص کونړ استازی، ظاهر منطق، مدیر حبیب الرحمن خان، مدیر محمدرحیم خان، مدیر غني ګل، میا ګل ګودامدار، حاجي جلادخان او ډاکتر غلام حیدر رفیقي د دغه ونډ اوسېدونکي دي.

د دې ونډ ملکان حیات الله ملک، ډاکتر بصیر، معلم نورالله، ملک عبدالستار او ملک محمدجلیل، ملک طاوس، ملک مقبل او ملک ولایت خان دي.

---

[۱۰۰] له انجینر غلام یحیی سره د تنر د کلي په اړه مرکه. د فروری نهمه نېټه، ۲۰۱۴ م کال



## پنځم: د کولي ګرام (حکیم اباد) او شامکار ونډ

د کولي ګرام په ونډ کې د کولي ګرام ډاګ کلی، د کولي ګرام لاندې کلی، صاحب زادګان، اخوندزادګان، کوز سرای، بر سرای، شیخان، اهنګران، شامکار او د یوسف کورونه شامل دي. کولي ګرام کلی هم ډېر ښه مشران درلودل، لکه مولوي ماهر، مولوي عبدالوهاب سوزان، مرحوم عزیزالله ملک، مدیر رستم، ملک میرحبیب، حاجي سیدحبیب او ملا شامکار. مولوي ماهر په لېسه کې زما استاد و؛ خو د جهاد په دور کې مولوي ماهر استاد او د هغه ورور سوزان استاد او مدیر رستم د حکمتیار د اسلامي حزب د یو جهادي قوماندان، معلم محمدامین له خوا د شپې د خپلو کورونو نه وویستل شول او بېګناه شهیدان کړای شول.

د دې ونډ ملکان، ملک محمدنور خان، ملک تاج محمد، ملک ګلستان، ډاکتر مجید، ملک احمدشیرخان، ملک محمدصدیق، ډګروال عبدالقیوم او نظام الدین صاحب زاده دي.

## شپږم: د شالی او ولی ونډ

دا ونډ دوه تقسیمه دی. د شالی ولس زوپیالي خېل مومند دي او دا لاندې کلي په دغه سیمه کې شامل دي: بره شالی، کوزه شالی، یخه چینه، ماڼوګی او شجاع کلی. د شالی کلی له ډېر پخوا نه په دوه ګوندیو ویشل شوی دی، چې دا ګوندي د غازي حاجي او فیروز حاجي د کورنیو ترمنځ وې او ډېره اوږده دښمني په خپلو منځو کې لري او تراوسه پورې لس ګونه کسان د دوی تر منځ وژل شوي دي. د دې دوه کورنیو دښمني اصلاً د یو قیران یعنې پنځوس پوله یا د یوې افغانۍ د نیمایي نه پیل شوې ده. وایي چې د دوی د کورنۍ یو کس د بلې کورنۍ په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس باندې یو قیران قرض و، هغه نه ورکاوه نو هغه یې پرې وواژه او د پنځو لسیزو نه زیات کلونه کېږي چې دا پتنه(دښمني) روانه ده او د قیران د پتنې په نامه یادېږي.

په ۲۰۰۲م کال کې د شالی ملکان، ملک عجب، ملک محمدافضل، ستانه گل ملک، ملک عطا خان، علم جان ملک او عبدالله جان وو.

د ولی په سیمه کې د کلاول،، توتکي، اوبو تنگي، ننگوسي، میرگل تنگي، کربه ډاگ، سپینکی، برچنچن، کوزڅپري، برڅپري، شنیلی، آنارو کلي او کنډوالې کلي شامل دي. د هجرت په وخت کې موږ څو میاشتې د برچنچن په کلي کې اوسېدو. د ولی د سیمې ولس بوتې خېل مومند دي او یو څو کوره فرمولي هم په بر څپري او کنډوالې سیمه کې اوسېږي. د برچنچن او انارو د کلیو ولس باره خېل مومند دي. د دې سیمې مشهور مشران، حاجي رضاخان او د هغه زامن عمرحاجي او ملک محمدایوب خان، خلیل ملک او جلیل ملک چې دواړه سره ورونه وو، خټ ملک، خواری ملک، حکیم خان، نوروز ملک، د کنډوالې حاتم ملک ، ایوب خان او امیرجان ملک د برچنچن وو. کله چې موږ مهاجر شولو نو په اول سر کې د کابل د حکومت له وېرې موږ ته چا ځای نه راکاوه؛ خو د برچنچن امیرجان ملک چې ډېر زړور او مېلمه دوست انسان و، زموږ کورنی ته یې ځای راکړ چې یوه وړه خونه وه چې د خپل کور نه یې جدا د مېلمه لپاره جوړه کړې وه. موږ تقریباً دېرش کسه په هماغه یوه خونه کې د ۱۳۵۸ کال د جوزا د میاشتې نه تر سنبلې میاشتې پورې اوسېدلو چې بیا له هغه ځای نه پېښور ته مهاجر شولو. څرنگه چې زما خدای بخښلي پلار سید محمود حسرت د هجرت نه وروسته په عملي جهاد پیل وکړ؛ نو موږ د کابل د حکومت تر سخت تعقیب او تهدید لاندې وو. امیرجان ملک به ویل که حکومت ما بمبارد کړي هم څه پروا



نه کوي خو زه تاسې ته نه شم ویلی چې زما له ځایه لاړ شئ. زموږ د تگ نه یوه اوونی وروسته د چنچن کلی او خاصتاً همدا زموږ د اوسېدلو ځای د کابل حکومت له خوا بمبارد او د نیپالم بمب یې پرې واچاوه چې ټوله ساحه له منځه لاړه. زموږ د هجرت او په چنچن کې د اوسېدلو کیسې ما په خپل بل کتاب (د واقعیتونو په بهیر کې) کې په تفصیلي توگه بیان کړې دي.

په ۲۰۰۲ م کال کې د ولی سیمې ملکان، گل محمد ملک، عثمان ملک، نبي جان، عمرگل، محمد حاجي، لالاگل، حکیم خان، نادر، جلیل ملک، ملک محمد علي، ملک نوروز او اسرار ملک وو.

د خاص کونړ سیمې ښه جید عالمان لکه مولوي محمد حسن اخونزاده، مولوي عبدالحنان استاد او د کولي گرام مولوي مشهور وو. اوس هم خاص کونړ ښه عالمان لري لکه مولوي گلرحمان، مولانا محمد اجمل حکاک، مولوي عطاوالله، مولوي مطیع الله، مولوي سمیع الله، مولوي محمد اسرائیل صاحبزاده او مولوي عبدالخالق.

د جهاد په کلونو کې د خاص د کونړ د سیمې مشهور جهادي مشران او قوماندانان، د لیکوال پلار مدیر سید محمود حسرت، چې په مدیر صاحب یې شهرت درلود، حاجي غازي خان، څارنوال محمدصالح، قوماندان ظاهرخان، گل سید میا، مولوي نظرمحمد، استاد عبدالصبور عزیزي، مولوي غلام حسن چې په صحاف ملا یې شهرت درلود، سخي صاحبزاده، محمودجان، ملک محمد جان، اسرائیل، د کاوړ گوجر ، غني، مامور او عبدالوهاب چې د قوماندان ظاهر خان ورونه وو، حبیب الله منځني، اکاجان، خیالي گل، طالب، گلاب او اول خان حاجي وو. یو شمېر د دې قوماندانانو نه په خپلې منځي جگړو او رقابتونو کې یو بل سره هم ووژل. پر دې قوماندانو سربېره یو شمیر نور مهم مشران هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي سر کې د لیکوال له پلار سره جهاد کاوه، چې د منګوال د کلي باز شیخ، ملا محمدرحمن، حاجي ګلبت خان او له چمیارۍ نه ملک طاوس، عبدالغفار، نظیر، کبل خان حاجي، محمد کریم ملک او شیر افضل د یادونې وړ دي.

## د نورګل ولسوالي[101]

نورګل ولسوالي پخوا علاقداري وه او په څوکۍ ولسوالۍ پورې تړلې وه؛ خو په ۱۳۶۷ هجري شمسي کې یعنې د ډاکتر نجیب الله د رژیم په وخت کې چې ټولې علاقدارۍ ګانې ولسوالۍ شوې نو نورګل هم مستقله ولسوالي شوه. اوس د کونړ ولایت اداري واحد دی. د نورګل ولسوالي د کونړ سیند په شمالي برخه کې پرته ده، چې له ختیځ اړخه له څوکۍ ولسوالۍ سره او له لوېدیځ اړخه د کوز کونړ (ښېوې) ولسوالۍ سره نښتې ده. د شمال له خوا د نورګل ولسوالي له دره نور سره نښتې ده او د ننګرهار له اړخه نورګل د کونړ ولایت لومړنۍ ولسوالي ده.

نورګل ولسوالي څلور ونډه لري:

۱. د شوماش، اریت، مامل ګل او شولیت کلي یو ونډ دی او خلک یې په پشه یي ژبه خبرې کوي.

a. د شوماش کلی د برچم او کوز چم په کلیو تقسیم شوی دی.

b. د اریت کلی هم په برچم، کوز چم او کنده په کلیو تقسیم شوی دی.

c. شولیت په سلم بټ، برلي کنده او میزلامه تقسیم شوی دی

[101] د نورګل د ولسوالۍ په اړه معلومات ما د دې سیمې د لیکوال او شاعر محمد حسن حسام سره په ۲۸ د مېزان ۱۳۹۱هجري شمسي کال کې مرکه وکړه او دا معلومات مې ترې واخیستل.



۲. د غازي آباد ونډ چې ولس یې ټول ساپي دي. د غازي آباد ونډ کې د ودېرو لوی کلی، مسعود، سوېل، د ګوربزو لوی کلی، سولې، چانچي او اورګ کلي شامل دي.

۳. د مزار او لودلام دره چې خلک یې ساپي دي د دور کنډک، لودلام، روزي کلا، کرچندو، کربوړی، مالي خېل، سنزو، مروره او سیری کلي شامل دي. د مزار درې نوم د مزار بابا له زیارت نه اخیستل شوی چې اوس هم هلته شته دی.

٤. د نورګل ونډ چې ولس یې اکثره دیګان او پشه یان دي. د نورګل په ونډ کې کبېر نورګل، کوز نورګل، توره تېره، کوز ښار، بر ښار، پټن، بېله (اوسېدونکي یې مومند دي) او د میا کلي شامل دي.

د داؤد خان د رژیم په وخت کې د نورګل نفوس دوه ویشت زره اټکل شوی و او په غیر د مزار درې نه د نورګل زراعتي ځمکه ۱۳ زره جرېبه ده. د دغې ځمکې یوه برخه د کونړ د سیند نه او دوه برخې د مزار درې له رود نه اوبه کېږي. د نورګل په ولسوالۍ کې پشه یي او پښتو ژبه ویل کېږي خو اکثریت ولس پښتو ژبه وایي.

د نورګل ولسوالۍ کې څوارلس ښوونځي شته دي، څلور لېسې لري، چې دوه یې د هلکانو او دوه د نجونو دي.

د ښوونځیو نومونه عبارت دي له: د نورګل د هلکانو لېسه، د نورګل د نجونو لېسه، د مزار د هلکانو لېسه، د مزار د نجونو لېسه، د پټن منځنی ښوونځی، د سنزو لومړنی ښوونځی، د کربوړي لومړنی ښوونځی ، د لودلام لومړنی ښوونځی ، د غازي اباد لومړنی ښوونځی ، د سویل لومړنی ښوونځی ، د اریت لومړنی ښوونځی ، د شوماش لومړنی ښوونځی ، د شولیت لومړنی ښوونځی ، او د تیتک لومړنی ښوونځی. د تیتک سیمه د څوکۍ ولسوالۍ په دېوه ګل درې پورې مربوط ده خو ښوونځی یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورګل ولسوالۍ پورې تړلی دی. همدا رنګه درې رسمي ديني مدرسې د نورګل په کلي، مزار دره او غازي آباد سیمه کې هم د نورګل په ولسوالۍ کې شته دي.**

**د نورګل په ولسوالۍ کې مشهور مشران او سپین ږیري هم تېر شوي دي. د اربټ په سیمه کې ملک عمر او عبدالله جان، د شوماش په سیمه کې ملک ازم الدین او عبدال، د غازي اباد په سیمه کې ملا محمدعمر او ملک تېمور، د لودلام په سیمه کې ملک احمد خان او سیدال ملک، د مزار درې په سیمه کې حکیم اکا، ارسلاخان، سردارخان ملک، شاه محمود خان او حیاوالدین، د نورګل په سیمه کې سید کریم خان، وهاب جان، حاجی عبدالرحیم، بازمحمد خان، جلال، جوره باز د بېلې او ګلستان د پټن مشهور ملکان او سپین ږیري وو. پر دې سربېره مشهور دولتي چارواکي لکه عبدالوهاب ساپی پخوانی د عدلیې وزیر، مفتاح الدین ساپي د قبایلو او سرحداتو وزارت مرستیال، جنرال غلام احمد، غلام نبي وسطلي د ننګرهار والي او د یولسمې فرقې قوماندان، د افغان ملت د ګوند مشر ډګروال شمس الهدا شمس او د یولسمې فرقه قوماندان ډګروال غلام عمر هم د نورګل د ولسوالۍ اوسېدونکي وو.**

**د ثور د کودتاه نه وروسته مولوي عبدالمتین[102] چې په شوماش مولوي یې هم شهرت درلود، د نورګل په ولسوالۍ کې جهاد پیل کړ چې په ۱۳۵۸ هجري شمسي کال کې د زېړي بابا په سیمه کې شهید شو. د جهاد په کلونو کې قاضي متین، حسن خان[103] او سردار خان د جمعیت**

[102] مولوی عبدالمتین د خاص کونړ د چندراو په کلي د اخندزادګانو په جومات کی تدریس کاوه او د پنج پیری په نامه یادېده او زیات شاګردان یی هم درلودل. د قد نه وړوکی خو ډېر خوش صحبته انسان و او هم ډېر ښه مقرر و. لیکوال هم د دغه ولسوالی دی نو هغه یی ښه پیژانده.

[103] حسن خان د زراعت د فاکولتې په لومړي سمستر کې د لیکوال همصنفی و.



**اسلامي، او سردار د استاد سیاف د تنظیم مشهور قوماندانان د نورګل په ولسوالۍ کې وو. د تنظیمونو پر قوماندانانو نه سربېره قومي مشرانو هم په جهاد کې خاص رول درلود، چې ملک ازم الدین د شوماش، کاکا ستانه دین د غازي اباد، ملک سکندر د لودلام او مامور عباس د مزار مشهور مشران وو.**

**د نورګل په ولسوالۍ کې ډېر مشهور زیارتونه هم شته دي. د شولت په سیمه کې د اصحابانو زیارت، په کوز نورګل کې د تور بابا زیارت، بر نورګل کې د میاصاحب او غازي جان بابا زیارتونه، د جبې شهیدان، د موسی بابا زیارت، د تورې تبې یا د زېړي بابا زیارت او د کوړم شهید زیارت.**

**د کوړم شهید او اصحابانو په زیارتونو کې به د اختر مېلې کېدلې او خلکو هلته سېرلي او مالونه حلالول او نذرانه کول به یې. د خاص کونړ او نورو ولسوالیو نه به هم خلک کوړم شهید سیمې ته د مېلې او نذرانې لپاره ورتلل او حتی دا اصطلاح هم په کونړ کې شته چې (تا دې کوړم شهید ووهي) یعنې په دې به زیاترو ښځو یو بل ته قسم ورکاوه.**

## د څوکۍ ولسوالي[104]

**د څوکۍ ولسوالي د کونړ سیند شمال خواته پرته ده، چې د مقابل لوري د سیند سهیل ته د خاص کونړ ولسوالي ده. پخوا د څوکۍ ولسوالي دوه علاقدارۍ درلودې:نرنګ او نورګل؛ خو کله چې علاقدارګانې ختمې**

[104] د جنت ګل ساپي سره مرکه چې د خاص کونړ په ولسوالي کې ښارن دی او د دېوه ګل درې اوسېدونکی دی. ۱۹ مارچ ۲۰۱٦م کال، خاص کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې نو نرنګ او نورګل هم جلا ولسوالۍ شوې. د څوکۍ په نامه کلی شته دی او دا نوم د همدې کلي نه اخیستل شوی دی.

دېوه ګل په کونړ کې ډېر مشهوره دره ده، چې د ساپو د پاڅون په کال زیاتې جګړې د همدې ولسوالۍ د هغه وخت په مربوطاتو لکه باډېل، دېوه ګل او مزار درو کې شوي دي او اصلاً جګړه د مزار درې نه ونښته. د ۱۳۲۴هجري شمسي- کال د ساپو د جګړې مشران شهسوار او سلیمی هم د باډېل درې وو. د څوکۍ ولسوالۍ ودانۍ ته رباط وایي او د کونړ سیند د غاړې سره نږدې واقع دی.

د څوکۍ ولسوالي دوه برخې ده: د باډېل دره او سمه یا هواره. د دې تقسیماتو پر اساس دوه حصې ګټه او تاوان سهم د باډېل دره اخلي او یو سهم د سمې دی. د دېوه ګل درې زیاتره خلک ساپي دي؛ خو د درو په سر کې شاړې یا پشه یان شته او د دې کلیو اوسېدونکي د اربټي، شوماشي، کوړنګلي او چلسي- په نومونو هم یادوي. دا کلي د پخوانو کافرو کلي وو، چې وروسته مسلمان شوي دي او دا سیمې ترې ساپو نیولي دي؛ خو دې کلیو او قومونو ته دوی سهم ورکوي او په حقیقت کې د ساپو د قومي جوړښت جز دی، ځکه په ګټه او تاوان کې د ساپو او نورو قبیلو سره برخه اخلي. د چلس درې کلي دي چې یو کلی د چلس د لوی کلي په نامه یادېږي او دوه کلي نور یې د نوردېش او سیرګل په نومونو یادېږي.

د دېوه ګل درې په اخر سر کې د چلس کلي دی. د مزار درې په اخر سر کې شوماش او د اربټ کلي دي. د پېچ د ماڼوګۍ درې په اخر سر کې د کوړنګل کلی او د چپې درې په اخر سر کې د دیګل کلی دی. د دېوه ګل په دره کې د ساپو د درېواړو خېلونو (ګوربز، مسعود، ودیر



(کندهاري) ولسونه استوګن دي. په دېوه ګل دره کې یوه برخه ودېر اخلي او دوه برخې مسعود او ګوربز اخلي ځکه د ودېر تعداد زیات دی.

د دېوه ګل درې کلي ګیرګال، چمبیل، پلار دره، ملامزید بابا، اندرلچک، بدګوړ، چلس، امرې او سپېدار نومېږي.

د څوکۍ ولسوالۍ سمه یا هواره په پنځه و برخو چې سهمونه ورته وایي تقسیم شوې ده[105]:

۱. کانډېل او بابړ
۲. ښادي خېل او شلوټې
۳. مسعود اباد
٤. څوکۍ
۵. کلمانۍ او ګټو کلا

پر دې پنځه و سهمونو سربېره د کونړ د پېچ درې او سیند درې مهاجرین چې د پاکستان نه بېرته راستانه شوي دي، دوه کمپونه یې د چنارې او ګټو کلا کې جوړ کړي دي او دلته استوګن شوي دي، نو دوی ته هم دوه ځانته سهمونه ورکوي.

د ساپو په سهمونو او هم د کونړ په نورو سیمو کې سیدان او ستانه لکه میاګان، اخونزادګان او صاحبزادګان اوسېږي؛ نو دوی هم د نورو قومونو غوندې د خپلو سیمو د ولسونو په ګټه او تاوان کې برخه لري. په څوکۍ هم دوی د ولسوالۍ په قومي او سهمي برخو کې ونډه لري.

د څوکۍ ولسوالۍ د سمې مهم کلي د کانډېل، بابړو، ښادي خېل، شلوټې، زورمنډۍ، قاضي بانډه، کولمانۍ، ګټو کلا، مسعود آباد، څوکۍ کلي، فقیر اباد او سنکولې په نومونو یادېږي.

[105] د څوکي ولسوالۍ مولوي سیدشاه جهان سره تلیفوني مرکه (۳ می ۲۰۱٦م کال، کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څوکۍ په ولسوالۍ کې ډېر مهم مشران تېر شوي دي چې د هېواد په سیاسي مسایلو کې رول درلودلی، لکه: د ساپو د جنګ مشران شهسوار، سلېمی او امان الملک، ملک ماموند، ملک قلم دین، فقیرالله صاحب حق صاحب ، ښاروال محمدطاهر وطنیار، ملک محمدعمر، ډاکتر عبدالرشید جلیلي، لوی څارنوال عبدالهادي خلیلز، محمدعثمان پاچا، مولوي سیدجمال استاد (چې د ساپو په جنګ کې یې مهم رول درلود او ولس د ده د فتوا پر اساس شهسوار پاچا او سلېمی یې د صدراعظم په توګه وټاکل)، ملک عبدالله، ملک ممتاز او داسې نور.

اوسني مشران ملک فضل، ملک عبدالرؤف، ډاکتر سلطان محمد، ملک علیم خان، عبدالغني ملک، ملک هاشم خان او مولوي ابراهیم دي.

د جهاد په دورو کې هم دلته مشهور قوماندان او مشران تېر شوي دي لکه حاجي جانداد خان چې وروسته یې د کونړ د والي په توګه هم دنده اجرا کړې ده. د څوکۍ ولسوالۍ د جهادي قوماندان په لاندې توګه وو:

۱. د حکمتیار اسلامي قوماندان (ډاکتر حمیدالله، معلم محمدامین[۱۰۶]، ملک میاسید، مولوي غلام رحمن، او ګل میاصاحب)

[۱۰۶]معلم محمد امین او ګروپ یې د خاص کونړ په سیمه کې ډېر بېګناه کسان د جهاد په دوره کې وژلي دي، چې د هغې جملې نه یې په یوه شپه د حکیم اباد د کلي نه مدیر رستم، ملک عزیزالله، مولوی ماهر، قاري میراحمد، قدرت الله، کمین جان، سیدحسن خلیفه او حاجي علم شېرخان شهیدان کړل. همدا رنګه یې د خاص کونړ نور مشران لکه څارنوال سیدمحمد (د کلي ګرام د اخونزادګانو بانډې)، مولوي بهرامان چې په ښامار مولوي مشهور و ( د برې اراضی د کلي)، ملک محمد جان او زوی یې (دلوټانو د کلي)، امان خان حاجي او زوی یې (د سنه خېلو) معلم شېراغا (د بانډې د کلي) شهیدان کړي دي. مولوي ماهر استاد، قاري میراحمد او قدرت الله درېواړه ورونه وو، دوی دیني عالمان وو او د خاص کونړ د مشهور مولوي عبدالحنان زامن وو. ماهر استاد د لېسي په دوره کې زما استاد هم و. د ټولو نه بده یې لا دا وه چې معلم محمدامین، د کوکوګل په نوم د پشد د کلي یوه پخوانۍ خلقۍ په نکاح کړه او بیا یې څو کاله وروسته په خپل کور کې ووژله. ده او د دې ملګرو دا



۲. د اسلامي جمعیت قوماندان (قاضي محمدحکیم، ډاکتر صادق، ملک ګل جان، ډاکتر علي محمد، شین ګل او لعل شاه).

۳. د اسلامي اتحاد قوماندان معلم علي رحمن.

٤. د ملي نجات د جبهه قوماندان ښاروال محمد طاهر وطنیار.

٥. د مولوي خالص د اسلامي حزب قوماندان قاری دین محمد.

٦. د ملي اسلامي محاذ قوماندان میراعظم خان.

۷. د اسلامي انقلاب د حرکت د تنظیم قوماندان حاجي عبدالخالق.

## د نرنګ ولسوالي[۱۰۷]

د نرنګ ولسوالي د کونړ سیند شمال ته د پشد له کلي سره مخامخ پرته ده. دا ولسوالي پخوا علاقداري وه او د څوکۍ د ولسوالۍ مربوط وه. د نرنګ په ولسوالۍ کې ساپي، دیګان، سالارزي، شینواري، ملاګوري، بابړ او صاحبزادګان اوسېږي. د باډېل مشهوره دره هم د نرنګ د ولسوالۍ مربوط ده او د باډېل په اړه دا لاندې سندره ډېره مشهوره ده:

ساپو ډېر وژلي دینه

د کونړ غلام محمده باډېل ته مه ځله

وایي چې د دې سندرې شاعر حفیظ نومېده او دا سندره د ساپو په کال یعني ۱۳۲۴ لمریز کال کې ویل شوې ده او په هغه وخت کې د خوګیانو د مملې سیمې غلام محمد[۱۰۸] له حکومت سره لښکر کړی و، چې

کسان د شخصي سلیقې په اساس وژلي دي او دا د خاص کونړاو د کونړ په تاریخ کې د کرهالې د واقعه نه وروسته، یو لوی جنایت کړی دی، چې تاریخ باید دا جنایت هېر نه کړي او که سم نظام وي؛ نو دوی باید د بشري جنایت له امله محاکمه شي.

[۱۰۷]د نرنګ د ولسوالۍ د کوټکې کلي له عطاالله خان سره تلیفوني مرکه (۴ مې ۲۰۱٦م کال، کابل)

[۱۰۸]د باډېل له حاجي عبدالقادر سره ټیلفوني مرکه (۵ مې ۲۰۱٦م کال، کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساپو په مقابل کې باډېل ته لاړ شي او له دوی سره وجنګېږي؛ نو ده ته دا وویل شول، چې باډېل ته مه ځه. په هر حال دا سندره څو ځلې بدله او رابدله شوې ده او په اخره کې کله چې وکیل صاحب غلام محمد د ولسي جرګې کاندید و او غوښتل یې چې د باډېل د درې له خلکو نه رایې واخلي نو هغې ته هم ویل شوې وه چې باډېل ته مه ځه او دا سندره په هغه پورې هم وتړل شوه.

د نرنګ ولسوالي په دوه حصو تقسیم ده، چې یوه حصه د باډېل دره او بله حصه یې سمه ده. د ۱۳۵۷ لمریز کال نه دمخه به د باډېل درې د ګټې او تاوان یو سهم اخیسته او د سمې خلکو به دوه حصې سهم اخیسته؛ خو د جهاد په اوږدو کې د غرونو او درو خلکو د سمې په اوسېدونکو باندې قوت زیات شو؛ نو اوس باډېل د نرنګ ولسوالۍ نیمایي سهم اخلي او نیمایي سهم د سمې د ولس دی.

د باډېل دره ټول ساپي دي او په دوه پښو تقسیم شوی دي. یوه پښه یې ښادي خېل نومېږي چې په ګوربزو پورې تړاو لري او بله پښه یې ګاګیزي نومېږي چې په مسعودو پورې تړاو لري. د ساپو د جګړې په وخت کې یو جهاز هم دوی راغورځولی و او پیلوټ یې ورته وژلی و، چې بیا د دواجان په نامه یو کس حکومت بندي کړی و.

د نرنګ ولسوالۍ د سمې ولس بیا دوه تقسیمه دی، چې یوه حصه برنرنګ او لمتک او بله حصه سهم د کوټکي، غونډو او چارکلا کلی اخلي. لوی خان میرزمانخان هم د نرنګ په لمتک کې زېږېدلی دی.

د دې سیمې پخواني مشهور مشران، میرسلام خان، وکیل غلام محمدخان، غلام حسن ملک، ملک عبدالرزاق د بر نرنګ، شېر ملک د چارکلا، قاضي مهتاب ګل چې د مولوي عبدالرزاق بزګر صاحب پلار و،



قاضي غلام حیدر، حاجي کیجان د غونډو، ملک نیاز حاجي چې د عطاوالله خان پلار و او حاجي جلال صاحبزاده دي.

د باډېل مشهوره مشران په اوسني وخت کې حاجي سیدمحمد د ښادي خېلو، مولوي زرباز، حاجي سخي او ملک زاهدالله دي. د نرنګ د سمې د سیمې مشهور مشران حاجي عطاؤالله خان، سید خلیل الله، محمداجان د لمتک، د غونډو شاه محمود او د کوز نرنګ مولوي محمدطاهر دي.

د جهاد د وخت قوماندان:

د مولوي خالص د اسلامي حزب قوماندانان: محمد عرب او معلم آقا محمد

د حکمتیار د اسلامي حزب قوماندان: حاجي سیدمحمد او معلم ملنګ

د اسلامي اتحاد د تنظیم قوماندانان: حاجي اسدالله او حاجي فضل محمد

د ملي اسلامي محاذ قوماندانان: حاجي جلال او مدیر جمت الله خان

د ملي نجات د جبهه قوماندان: حاجي عبدالقادر

د اسلامي جمعیت د تنظیم قوماندان: ملا جلیل و، چې وروسته له سلفیانو سره یو ځای شو

د سلفیان قوماندانان په دغه سیمه کې: حاجي جانداد خان، اعظم او معلم امان الله

د استقلال د جنګ د ارنوۍ په غزا کې د نرنګ یو شمېر کسان لکه وزیر بابا، بختیار، شهیدان شوي وو چې بیا حکومت د دوی کورنیو ته په دغه سیمو کې ځمکې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرکاڼو ولسوالي[۱۰۹]

د سرکاڼو ولسوالي د کونړ سیند سهیل تـه پرتـه ده. د سرکـاڼو ولسـوالۍ مرکز د سرکاڼو په کـلي کـې موقعیـت لـري او داسـې ویـل کېـږي چـې د سرکاڼو لومړني اوسېدونکي چې دقیقه نېټه یې نـه ده معلومـه د کنـدهار د سره ولي له سیمې نه دلته راغلي او مېشت شوي دي. اوس هـم د سرکـاڼو د کلي زیـاتره اوسـېدونکي ځـانونو تـه الکوزي وایـي. پخـوا بـه عسـکري قطعاتو ته پلټنې ویل کېدې او هرې پلټنې به په یو قوم او یا یـوې سـیمې پورې تړاو درلود، چې د دې پلټنـو د یـو شـمېر مشرـانو او عسـکرو سره بـه کورنۍ به هم وې. نو داسې ښـکاري چـې دوی هـم د کـومې پلټنـې سره دلته راغلي دي او په دغه سیمه کې مېشت شوي دي. د وردګو په نامه یـو څو کوره په سرکاڼو کـې هـم اوسېږي او همـدا رنګـه د وردګـو یـو شـمېر کورونه د اسمار په سیمه کې مېشت دي، نو داسې ښکاري چې دا کـورنۍ د وردګو د پلټنونه دلته پاتې شوي دي.

د سرکاڼو ولسوالي د ظاهرشاه تر پېر پـورې د خـاص کـونړ د ولسـوالۍ مربوط سیمه وه؛ خو کله چې د کونړ لویه ولسوالي په ولایت بدل شـوه او هم د افغانستان په نورو سیمو کې نورې ولسوالۍ ایجاد شوې؛ نو د سرکاڼو هم مستقله ولسوالي شوه او د مرورې علاقداري هم په سرکـاڼو د ولسـوالۍ پورې وتړل شوه. دا چـې د سرکـاڼو پـه سـیمه کـې عسـکري قشـله وه او د داؤدخان په پېر کې یې د غونډ تشکیلات یې درلـودل. لـه ۱۳۵۷ کـال نـه راپه دې خوا د مجاهدینو او د کابل رژیم او روسي قواو ترمنځ ډېر سخت

---

[۱۰۹] د سرکاڼو د ولسوالۍ په اړه زیات معلومات د سرکاڼو د ګنجګل د سیمې مشهور مشر ملـک محمـد میران او حاجي ریئس خان سره په ۱۲ د مارچ ۲۰۱٦م کال کې د مرکو په پایله کې ترلاسـه شـوي دي. ملک محمد میران چې عمر یې د اتیا کلنو په شاوخوا کې و د ګلاپړی جګړه یـې یادېدلـه اوهـم یـې د ساپو او باجوړ په جګړو کې برخه درلوده.



جنګونه په دغې سیمې کې شوي دي. د د دې متواترو جنګونو لـه املـه د سرکاڼو کلی او هم د دغې ولسوالۍ زیات نور مهم کلي لکه د پشد تاریخي کلی، دونایي، بحرآباد او ګنجګل په سلو کې ۹۰ کورونه تخریب شوي وو. د مجاهدینو له خوا د پشد په کلي ډېرې زیاتې حملې وشوې. دا کلی یې د وړوکي مسکو په نامه یادوه خو مجاهدینو ونه شو کړای چې د پشد کلـی د حکومـت لـه طرفـدارانو څخـه ونیـسي ترڅـو چـې د کـونړ ولایـت په۱۳٦۷ل= ۱۹۸۸م کال کې د کابل د رژیم له خـوا تخلیـه شـو او ټـول د مجاهدینو بېلابېلو ډلو ته په لاس ورغی. د مجاهدینو محلي قوماندانانو او تنظیمي ډلو ځانتـه جـلا جـلا ملـوک الطـوایفي جـوړې کـړې او د کـونړ ولایت مختلف ریاستونه د محلي قومانـدانانو لـه خـوا پـه غنیمـت ونیـول شول. د کابـل د پخـواني رژیـم د پلویـانو پـر جایـدادونو یـې هـم قبضـه ولګوله. د کونړ د تخلیه کېدو نه وروسته د کابل د کمونیست رژیم پلویـانو اکثره کورنۍ جلال آباد ته کډه شوې.

د سرکاڼو کلي یو ځل د ساپو په پاڅون کې وسوځول شـو، ځکـه هغـه وخت د ګنجګل سالارزو او د شونکړۍ ساپو لـه سـاپو سره ملاتـړ وکـړ او د حکومت په چونۍ یې حمله وکړه. دویم ځل د سرکاڼو کلی په ۱۹۸۸ کال کې د مجاهدینو له خوا هغه وخت وسـوځول شـو چـې د کـونړ ولایـت د کابل د کمونیست رژیم له خوا تخلیه شـو. د کـونړ ولایـت پـه سـیمه کـې همېشه د غرونو اوسیدونکو د ګېوډۍ او جنګ پـه وخـت کـې د سـمې د خلکو کورونه سوځولي او تالا کړي دي. نو په دې توګه د کونړ پـه ولایـت کې د سمې او د غرونو د خلکو ترمنځ دښمنۍ او بدبینۍ شته دي.

د سرکاڼو ولسوالي دوه برخې درلودې، چې یـوې برخـې تـه یـې سـمه وایي چې د حکومت تر کنټرول لاندې وه او بلې برخې ته یې حاشه یعنې قبایل ویل کېدل، چې د افغانستان مربوط و؛ خو نفوس به یـې نـه ورکـاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تذکرې به يې نه اخيستلې. د حاشه يي قبايلو کـلي ګنجګـل، بـاروګی، شونکړی، ګلاپړی، نانګه سر، نوړې، ورغاړې او ناوه دي. پخوا به يـو سـهم ګټه او تاوان حاشه يي کليو اخيست او يـو سـهم بـه د سرکـاڼو د ولسـوالۍ نورو کليو اخيست.

همدا رنګه د سمې سيمه په دوه برخو وېشل شوې وه، چې لـه دونـايي کلي نه نيولې تر بحرآباد کلي پـورې د ولسـوالۍ لوېديځـه برخـه ده، يـوه پچه وه او له دونايي نه تر سرکاڼو کلي پورې چې د ولسوالۍ ختيځه برخه ده، بله پچه وه. دا مهال د سرکاڼو په ولسـوالۍ کـې ۴۵ محـلي شـوراګانې موجودي دي، چې د انکشاف دهـات وزارت لـه خـوا [illegible] اوس اکثره کومکونه او مرستې د دغو شوراګانو په حسـاب تقسـيمېږي چـې دا تشکيلات له پخوانيو قومي تشکيلاتو سره توپير لري.

د سرکاڼو په ولسوالۍ کې سـاپي، سـيدان، ديګـان، مومنـد، شـينواري، سالارزي او الکوزي اوسېږي. د سرکاڼو د ولسوالۍ مهم کلي، سرکاڼو، پشد، ګنجګل، شـونکړی، بحرآبـاد، دونـايي، نـاوه، بـاروګی، ګلاپـړی، نـولۍ او ورغالی دي. بارو کونډه وه او د باجوړ ميرعلم خان دا سيمه دې کونـډې ته ورکړې وه چې اوس دا سيمه د باروګۍ په نامه يادېږي. د سرکـاڼو کـلي ځانته څلور کندې دي: بهرام خېل، محمودخېل، باکوخېل، کاکي خېل.

د ګنجګل سيمه دوه کنـدې دي، چـې د محمدشـاه خېـل او ښايسته خېـل پـه نومونـو يـادېږي. د ګنجګـل د کـلي ګټـه او تـاوان پـه نيمايـي تقسمېږي. په لاندې چارت کې د ګنجګل تقسيمات په تفصيل سره ښـودل شوي دي:






د داؤد خان د جمهوري رياست په وخت کې د سرکاڼو د کلي نه سړک د ناوه پاس سيمې ته وغځېده او هغلته د نـاوه پـاس پـه نامـه چـونۍ هـم جوړه شوه، چې اوس همدا سيمه له سرحد سره نښتې ده.

د سرکاڼو په سيمه کې د کابل د کمونيست رژيم په مقابل کـې لـومړنی وسله وال پـاڅون د ۱۳۵۸ هجـري شمسي- کـال د ګنجګـل ملـک محمـد ميران له خوا پيل شـو چـې ۶۰ کورونـه د ده سره مهـاجر شـول. پـه هغـه وخت کـې خانجـان الکـوزی د سرکـاڼو ولسـوال و او د ګنجګـل د سـيمې خلکو نه يې وغوښتل، چې د حکومت په پلوۍ ټوپکې واخلي او د ملـک محمدميران په مقابل کې وجنګېږي؛ خو د ګنجګل ولس دا کار ونه کړ او له ملک محمدميران سره يو ځای شول. په همدې کال د ګنجګـل خلکـو د سرکاڼو زياته سيمه ونيوله او ولسوالي د سرکاڼو د کلي نه د نوآبـاد پلـه تـه نږدې انتقال شوه. خو کله چې د خانجان نه وروسـته د ميراجـان پـه نـوم ولسوال مقرر شو، نو دا سيمه يې بېرته د مجاهدينو نه ونيوله.

د سرکاڼو په سيمه کې زيـاترو جهـادي تنظيمونـو جبهـې درلـودې. پـه دغې سيمه کې لاندې جهادي قوماندانو فعاليت درلود:

- د اسلامي حزب قوماندان رامدادخان
- د اسلامي جمعيت قوماندان ملک محمد ميران
- د ملي نجات د جبهې قوماندان قتلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ملي اسلامي محاذ د تنظیم قوماندان حاجي سرحدات
- د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم قوماندان حاجي شېر
- د سیاف د اتحاد اسلامي د تنظیم قوماندان محمدشاهین
- او د مولو خالص د اسلامي حزب قوماندان غلام فاروق

پر دې سربېره یو شمېر نورو قوماندانو هم دلته فعالیت کاوه، چې قاري فدامحمد، قاري فضل ربي او رئیس خان نومېدل. د سرکانو ولسوالي په غرنیو سیمو کې جهادي تنظیمونو د تعلیمي غونډونو په نامه مرکزونه هم درلودل. د سیاف د تنظیم غونډ د کربړ په سیمه کې و او قوماندان یې فضل محمد نومېده. د شونکړۍ د ډیمبۍ په سیمه د مولوي جمیل الرحمن د تنظیم غونډ و. همدا رنګه جمعیت اسلامي او حزب اسلامي ګوندونو د باجوړ د محمد ګټ په سیمه کې جهادي غونډونه درلودل.

د سرکانو په سیمه تر ۱۳۵۷ کال پورې د هندوانو دوه کورنۍ اوسېدلې، ځمکې یې درلودې او سوداګري یې هم کوله. د دغو کورنیو مشر لکمي نومېده.

ملک محمدمیران له ما سره د مرکې په وخت کې ډېره ښایسته خبره وکړه او ویې ویل، چې که غواړې له ورور سره دښمني وکړې؛ نو باید له کلي سره دښمني ونه کړې او که غواړې چې له کلي سره دښمني وکړې نو باید له ورور سره دښمني ونه کړې، ځکه د استونزه ده چې یو څوک دې په دوه جبهو کې همزمان وجنګېږي.

د د دونایې د سیمې نه لر لورې ته د پشد له کلي نیولې تر شونکړۍ پورې سیمه پخوا په دوه برخو تقسیم شوې وه. د پشد، ټانګو، بېلې، ډمن، جبې، چینګۍ، بحرآباد او شیدلام کلي یوه برخه وه او شونکړۍ سیمه بله



برخه وه. د بېړنۍ لویې جرګې په ټاکنو کې دوی خپل شل کسه استازي په لاندې توګه تعیین کړي وو.

ټانګو، پشد، بېلې او چینګۍ کلیو یو یو کس، ډمن او جبې درې کسه، بحرآباد او سیدلام درې کسه او د شونکړۍ سیمې دولس ټاکلي وو.[110]

## د مرورې او شلطن ولسوالي[111]

د مرورې ولسوالي د کونړ سیند په سهېلي لور کې له چغه سرای سره نږدې پرته ده. د مرورې ولسوالي پخوا علاقداري وه، چې د سرکانو ولسوالۍ اړونده وه. د مرورې ولسوالي اکثره මاموند دي او یوازې د ایسار کلي سالارزي دي، چې په دغې سیمې کې میشته دي. د ماموندو قبیله ټول دولس پچې دي چې پنځه پچې د مرورې په ولسوالي کې، درې پچې د شلطن په ولسوالۍ کې او څلور پچې د باجوړ په سیمه کې اوسېږي. د سرحد د دواړو خواو اولسونه د یو بل سره نږدې خپلولي لري او هم دواړه خواوې د ډیورنډ فرضي کرښې دواړو خواو کې ځمکې او جایدادونه لري. د مرورې ماموندو ته لوی ماموند هم وایي او د شلطن ماموندو ته واړه ماموند وایي.

د مرورې پنځه پچې په لاندې ډول دي:

۱. مسعود خېل. مسعودخېل بیا دوه پچې دي ادمخېل او الله خېل
۲. یوسف خېل
۳. عمرخېل

---

[110] د بېړنۍ لویې جرګه: په مشرقي ولایاتونو کې د انتخاباتو بهیر، د لیکوال اثر د چاپ کال ۱۳۵۸ لمریز کال، پیرچاپ خانه، کابل

[111] د مرورې د ولسوالۍ معلومات د رئیس د قبایلو دوست محمد سره د زوی فرید الله مماموند د مرکي په ترځ لاسته راوړي دي (د مارچ ۱۳مه نېټه، کال ۲۰۱٦م، چغه سرای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. خلوزي

٥. سلیمانخېل

٦. ایسارې کلی اوس دوی په پنځمه پچه حسابوي.

د شلطن ماموندو درې پچې په لاندې ډول دي:

۱. اوروزي

۲. برکمانزي

۳. بروزي

د مرورې ولسوالي دا مهال ۴۰ کسیزه ټولنیزه شورا لري او ټول پکې ۲۰ انکشافي شوراګانې دي. د مرورې دره چې د ولسوالۍ لویه برخه تشکیلوي.

د جهاد په وخت کې اکثرو جهادي تنظیمونو د مرورې په ولسوالۍ کې جبهې درلودې او مجاهدین به اکثره د شلطن او بچې د لارې د اسمار په سیند په جالو پورې وتل او د کونړ نورو ولسوالیو ته او هم د افغانستان شمالي سیمو ته دا سیمه د مجاهدینو د تګ او راتګ مهمه لار وه.

د اسلامي حزب قوماندانان د مرورې په سیمه کې میاګل قوماندان او حاجي آزاد ګل وو، د اسلامي جمعیت قوماندان اکبرخان و او د ملي اسلامي محاذ قوماندان حاجي بختیار نومېده. د مرورې په سیمه کې ماموند دوه ډلې وې چې د یوې ډلې مشري حاجي بختیار کوله او د بلې ډلې مشري حاجي سیفور کوله.

د داؤد خان د جمهوري ریاست په دوره کې د مرورې د ولسوالۍ نه یو سړک د غاښي سیمې پورې وغځول شو.



## د وټه پور ولسوالي[۱۱۲]

د وټه پور ولسوالي د کونړ ولایت مرکز اسعدآباد په شمال کې د پېچ درې په خوله کې پرته ده. په وټه پور ولسوالۍ کې مختلفې لکه ماموند، نورستاني، دیګان او ساپي اوسېږي. د ۱۹۷۸ کال نه دمخه دلته د ساپو قبیلې شتون نه درلود خو وروسته د پېچ درې د ساپو یو شمېر کورنۍ د جهاد او هجرت په کلونو کې د وټه پور په سیمه کې مېشت شول. د وټه پور ولسوالي د جهاد په وخت کې جوړه شوې ده کله چې مولوي جمیل الرحمن ګوند په دغه سیمه کې نفوذ درلود. څرنګه چې د دې سیمې ولس ساپي نه وو او غوښتل یې چې دوی باید جلا تشکیلات ولري؛ نو دوی د وټه پور په نامه ولسوالۍ جوړه کړه، چې وروسته د کابل حکومت هم دا ولسوالۍ د رسمي ولسوالي په توګه وپېژندله. د یادونې وړ ده چې د دغې ولسوالي په جوړېدو کې د مرحوم مولوي محمدهاشم منیب او مولوي رحمت خان رول ډېر مهم و. د دې ولسوالۍ لومړی ولسوال مسافر نومېده. مولوي محمدهاشم منیب چې د کونړ ولایت یو جید عالم و، د حکمتیار له اسلامي حزب سره یې تړاو درلود. د کونړ د عالمانو د شورا او هم د صلح د شورا مشر و، چې په ٦ د اپریل ۲۰۱۲ م کال په یوه ځانمرګي برید کې له خپل زوی سره په داسې حال کې یو ځای شهید کړی شو، چې د جمعې تر لمانځه نه وروسته کورته په لاره و.

پخوا د وټه پور ګټه او تاوان دوه برخې و. یوه برخه به د سمې د خلکو وه او یوه برخه به د ځانګار درې، کورباغ او څېرې وه. اما د تېرو پنځلس

---

[۱۱۲] د وټه پور د ولسوالي معلومات ما زیاتره د مارچ په ۱۲مه نېټه کال ۲۰۱٦م کې د دغې ولسوالي د مشرانو حاجي محمد روزي، حاجي فضل اکبر او حاجي محمد اسلام سره د مرکو په ترڅ کې راټول کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کلونو راپه دې خوا د دې ولسوالۍ ګټه او تاوان د انکشاف دهات وزارت د انکشافي شوراګانو پر اساس تقسمېږي، چې ټولې ۵۲ انکشافي شوراګانې په دغې ولسوالۍ کې شته دي. پخوا د دغې ولسوالۍ قومي جوړښت په څلور حصو و چې د رنګاخېلو، مرجان خېلو، نانې خېلو او شاربې خېلو په نامه یادېدل.**

**د وټه ولسوالي ۱۱۷ لوي او واړه کلي لري چې مهم کلي یې د وټه پور لوی کلی، شنیګام، سیمتام، قمچی، کټار کلا، ځارنګار، کرمول ډاګ، لودم او غونډۍ دي. د وټه ولسوالي هم په تېرو درې لسیزو کې د جنګونو په لومړي کرښه کې وه، چې د دې ولسوالي کلیو او بانډو د جنګونو له امله ډېره زیاته صدمه لیدلې ده او د وټه پور اکثره پخواني اوسېدونکي نورو سیمو او یا د هېواد نه بهر مهاجر شوي دي. د وټه پور زیاتې کورنۍ د استرالیا په ملبورن ښار او د جرمني په کولن ښار کې ژوند کوي.**

**د وټه پور په ولسوالي کې د هېواد په کچه او هم د سیمې په کچه مهم شخصیتونه تېر شوي دي لکه: وکیل محاکم خان د ډاکټر عبدالقیوم پلار چې د مهاجرت په وخت کې یې په صحي چارو کې زیات خدمت کړی و. د معارف پخوانی وزیر(استاد، لیکوال او ادیب مرحوم عبدالرسول امین) د امین صاحب پلار محمدامین خان، پوهاند ډاکتر محمدقاسم جمدر او د هغه پلار جمدرخان، اکبرخان چې د دهېواد تکړه نطاق تاج محمد اکبر پلار و، حاجي فضل الرحمن، حاجې ګل محمدخان چې د غازي میرزمان زوی و، سناتور مولوي قابل، وکیل غلام حسن او داسې نور.**

**دا چې د وټه پور سیمه د پېچ درې په خوله کې واقع ده او د کونړ له مرکز اسعدآباد سره نږدې سیمه ده، د جهاد په وخت کې (۱۹۷۸ نه تر**



**۱۹۸۸م) دلته د مجاهدینو مهم کلک او مهم سنګرونه وو او د مجاهدینو اکثرو تنظیمونو دلته قوي جبهې درلودې.**

- **د مولوي جمیل الرحمن د جماعةالدعوه تنظیم چې د سلفیانو په نامه یادېده، د کونړ په سطحه یې عمومي مشر- حاجي محمدروزي وؤ چې حاجي محمداشرف یې معاون و. په دغه سیمه کې مولوي رحمت خان، رسول محمد هم د سلفیانو د تنظیم قوماندانان وو.**
- **د اسلامي حزب قوماندانان مولوي انعام او انجینر امین نومېدل.**
- **د ملي اسلامي محاذ قوماندان قدیر و.**

**د پېرونۍ په ډاګ کې د مجاهدینو او روسي قواو تر منځ ډېرې سختې جګړې شوي دي. د کابل د کمونیست رژیم او روسانو ډېر پوځي قطعات په دغه سیمه کې له منځه تللي دي.**

**د بارکنډۍ په سیمه کې د حافظ جي بابا په نامه زیارت شته او همدا رنګه په مناګي کې د ګل بابا په نوم زیارتونه مشهور دي. د دې زیارتونو تاریخ چاته سم معلوم نه دی.**

## د ننګلام ( دپېچ درې) ولسوالي[113]

**د ننګلام ولسوالي چې د پېچ درې د ولسوالۍ په نامه هم یادېږي، مرکز یې د ماېوګي سیمه ده. پخوا د پېچ په دره کې یوازې یوه ولسوالي وه؛ خو په وروستیو کلونو کې د چپې درې او وټه پور ولسوالۍ په دغې سیمې کې تشکیل شوې. د ننګلام د ولسوالۍ اکثره خلک ساپي دي. د**

[113] د ننګلام د ولسوالۍ په اړه معلومات مې له حاجي محمدروزي، حاجي فضل اکبر، حاجي محمد نظیف، او حاجي امیرزاده سره د مرکو په ترڅ کې راټول کړي دي. (د مارچ ۱۳مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، چغه سرای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ولسوالۍ تقسیمات یا د ګټې او تاوان وېش په درېو برخو، مسعود، ګوربز او ودېر باندې دی، چې دا د دوی قبیلوي وېش دی. د جنګ په وخت کې هم دوی مورچلې په درېو برخو ویشي- او هرخېل خپلې مورچلې ساتي. د جماعة الدعوة والقران والسنة تنظیم مشر مولوي جمیل الرحمن هم د ننګلام د کلي اوسېدونکی و او له ګوربز خېل څخه و. د مولوي جمیل الرحمن ډله په سلفیانو او وهابیانو هم یادېږي.

د مسعود خېل کلي: بارکنډی، کورباغ، ګونډېل، ډبرځی، ګورو، مناګی، لوټلام او ناتیګرام دي، چې د وټه پور له ولسوالۍ سره نښتي دي.

د ګوربزو کلي: کولک، شوړیک، کوړنګل (نورستاني دي خو ځانته ژبه لري چې د کوړنګلي په نامه یادیږي)، سوندرۍ، ماڼوګی (ګوربز او ودیر دواړه په دې کلي کې شته) ننګلام، شموند، وډیګرام، لیچلام او خلقلام دي.

د ودیرو کلي: کنډه ګل، کندهاري، ماڼوګی او وردېش دي.

د ساپو د پاڅون په وخت کې د پېچ درې د مزار او دېوه ګل درې له ساپو سره ملاتړ کاوه خو دا چې د نورستان سیمې د حکومت ملاتړ کاوه؛ نو د پېچ درې ساپو ته ستونزمنه وه چې په دوه جبهو کې د حکومت پرضد وجنګېږي. د پېچ درې ساپو په نورستان حمله وکړه خو ماتې یې وخوړه او زیات ساپي مړه شول. له دې تلفاتو سره سره د پېچ ساپو کرهالې پله ته ځان ورساوه او د کرهالې کلی یې وسوځاوه؛ خو نور پرمختګ یې ونه کړ او په شا وتمبول شول.

د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د پېچ درې ساپو په نورستان هم ډېرې سختې حملې کړي دي او د ساپو مشر په دې وخت کې حیدر



غازي و. په دغه وخت کې د چکنور ملا صاحب[114] هم د پېچ درې ته راغلی و او د کوړنګل سیمه مسلمانه شوه. د مرکرچیانو په قول په دغه وخت کې یو کس د غازي خان په نامه چې د باډېل درې و، له نورستانو سره جګړې ته تللی و او هغه نورستانیانو ژوندی نیولی و او سر (کوپړۍ) یې ترې پرې کړې وه او د ده ککرۍ یې له ځانونو سره وړې وه او تنې ته یې اور ورته اچولی و. دې کار د ساپو خشم راوپاروه او دوی به هره ورځ د نورستانیانو په کلیو حمله کوله او یوه ککرۍ به یې ترې راوړه. کله چې ساپو د نورستانیانو د اتو کسانو ککرۍ راوړې؛ نو نورستاني مجبوره شول، چې د غازي خان ککرۍ ورکړي او ککرۍ یې د غازی خان له تنې سره یو ځای په باډېل کې ښخه کړه. داسې معلومېږي چې د سرونو پرې کول د مسلمانو ساپو او د کافرستان د وګړو ترمنځ په هغه وخت کې رواج درلود.

د اخترونو په وخت کې د دریش خېلو په سیمه کې به مېله کېدله، ټالونه به اچول کېدل، هلکانو به خوسي او داسې نورې لوبې کولې او جنکۍ به هم دې مېلې ته تللې او چمبې به یې وهلې. له ننګلام سره نږدې د غرونډو بابا زیارت شته دی، چې هر څوک ورته د مختلفو ارمانونو او ستونزو په اړه سوالونه کوي. که د چا به غوا ته حاجت و، نو په موږې پورې به یې غرونډی اچاوه او د غوا د درلودلو سوال به یې کاوه. ځکه دا زیارت د غرونډو بابا په نامه یادېږي.

[114] د چکنور ملا صیب د ننګرهار ولایت د چکنور په سیمه کې اوسېده او د ملانجم الدین اخوندزاده مرید او مؤذن و. چکنور ملا صیب د سناتور اغاجان پلار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چپې درې ولسوالي[۱۱۵]

د چپې درې ولسوالي د پېچ درې په اخره کې د مرکزي نورستان له سیمې سره ګډ سرحد لري. د چپې درې ولسوالي کې د ساپو درې ګونې خېلونه مسعود، ګوربز او ودېر (کندهاري) اوسېږي او دوی ګټه او تاوان په درېوو مساوي برخو وېشي. د چپې درې ولسوالي په لومړي سر کې علاقداري وه چې د پېچ د ولسوالۍ مربوط وه. په غټه کې ټول ساپي دوه پچې دي چې یوه پچه د پېچ درې ساپي دي او بله پچه د شوړیک، باډېل، دېوه ګل او مزار درې ساپي دي.

د مسعودو خېل خپل ګټه او تاوان په پنځو برخو تقسیموي:

۱- ګلسلك یوه برخه

۲- کلا اوبستله یوه برخه

۳-وتله او ګړنګل یوه برخه:

٤-کولك او دیګل یوه برخه

٥-مورچل، ښاریګل سامتول اوسمتل یوه برخه

ودېر خپل ګټه او تاوان په اوه برخو تقسیموي:

۱- کنډې یوه برخه

۲- سینزو

۳- هزار میرکلی

٤- زمیکو کلي

٥- سرتور

٦-محبت کلی

[۱۱۵] د چپې درې د ولسوالۍ په اړه معلومات ما له احسان الله ساپي سره د مرکې په ترڅ کې تر لاسه کړي دي. د مرکې نېټه: ۱۲مارچ ۲۰۱٦م کال، چغه سرای.



۷-سیدخېل

ګوربز خپله ګټه او تاوان په درېو برخو تقسیموي:

۱- سلېمانزي

۲- ګاګیزي

۳- خادیخېل

د امان الله خان د پاچاهۍ په دوره کې د کونړ په سیمه کې دوه ډلې وې چې د ساپو د ډلې مشري د شوړیک حیدر غازي کوله او د بلې ډلې مشري غازي میرزمانخان کوله، چې د کونړ نورې قبیلې او یو څه ساپي هم له ده سره ملګري وو. د پشد د ملک خورشید د خولې کیسه ده، چې احسان الله خان ته یې پخوا په پېښور کې کړې وه. د امیر عبدالرحمن په وخت کې سیدمحمود پاچا د کونړ حکمران و او دی هندوستان ته وتښتېده ځکه د امیر عبدالرحمن خان له قواو سره یې مقابله نه شوه کولای؛ نو په دې وخت کې سکندرشاه نومې د سیدمحمود پاچا د فوځ مشر و او د ساپو له قبیلې څخه و نو چپې درې د ګلسلک سیمې ته وتښتېده او هلته مېشت شو. د سکندرشاه یو ورور د سیدمحمود پاچا سره لاړ، چې د هغه کورنۍ اوس په سوات کې اوسېږي.

سکندرشاه د طلب دین اخونزاده نیکه و او طلب دین اخونزاده د پېچ د سلطان محمدخان پلار و. د سلطان محمدخان زامن وکیل سمیع الله ساپي چې اوس په ناروې کې اوسېږي، شعیب خان، مطیع الله خان چې اوس د لغمان ولایت امنیه قوماندان دی او همدا رنګه احسان الله ساپي دي. وروسته طلب دین اخونزاده د امان الله په دور کې د غازي میرزمانخان په واسطه د پېچ درې حاکم وټاکل شو. کله چې طلب دین اخونزاده د خپلو دښمنانو له خوا ووژل شو؛ نو سلطان محمدخان هلک و او میرزمانخان د دوی د جوړه وکړه. سلطان محمد خان د ارنوۍ په غزا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرزمانخان سره برخه درلوده.(د میرزمانخان په اړه زیات معلومات د استقلال په څلورمه جبهه کتاب کې مطالعه کولای شئ)[116]. د امان الله خان په وخت کې په پېچ دره کې د مسعود خېل مشر ـ طلب دین اخونزاده، د گوربزو د خېل مشر حیدر غازي او د ودېرو د خېل مشر ـ گل میران نومېده.

د پېچ درې د ساپو دربېواړو خېلونو سلطان محمد خان خپل مشر ـ وټاکه چې د میرزمانخان سره یو ځای پکتیا ته د منگلو جگړې ته لاړ شي. کله چې سلطان محمد خان د کابل چاراسیاب سیمې ته رسېږي، د کاپیسا او تگاب ساپي هم ورسره یو ځای کېږي او د میرزمانخان سره پکتیا ته ځي. کله چې په نادرخان د پاچاهۍ دوعا وشوه، ساپي د نادرخان په پاچا کېدلو ناراضه وو، ځکه دوی د امان الله خان طرفدار وو. د ساپو په پاڅون کې په لومړي سر کې د پېچ درې ساپو په جنگ کې برخه نه درلوده؛ خو سلطان محمد په پټه د دېوه گل او مزار درې د ساپو ملاتړ کاوه. سلطان محمدخان د نورستانیانو او بدخشان له خلکو سره نږدې اړیکي او خپلوۍ درلودې او ده غوښتل چې دوی هم د حکومت پر ضد راوپاروي؛ خو دا چې نورستانیانو د حکومت ملاتړ کاوه نو دا ستونزمنه وه چې د پېچ درې ساپي دې له حکومت سره د نورستانیانو له ملاتړ پرته وجنگېږي. د کابل حکومت د سلطان محمدخان د دې هلو ځلو نه خبر و او همدا رنگه د دېوه گل او شوړیک مسعودو هم په پېچ دره فشار راوستی و، چې یا به له دوی سره ودرېږي او یا دوی په پېچ دره حمله کوي. کله چې د شوړیک او دېوه گل ساپو په چپه دره حمله کوله؛ نو

[116] د استقلال څلورمه جبهه: مؤلف عبدالخالق اخلاص، سریزه او اهتمام حبیب الله رفیع ، لومړی چاپ ۱۳۶۵ لمریز کال، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور.



سلطان محمد خان ته شهسوار او سلېمي خبر ورکړی و چې له درې نه ووځه او بیا سلطان محمد خان لغمان ته او له هغه ځای نه جلال آباد ته لاړو. دا چې داؤد خان د مشرقي رئیس تنظیمه و او د سلطان محمد خان د نیت نه خبر و نو هغه یې هلته نظر بند کړ. وروسته چې نور ساپي د کونړ نه تبعید شول؛ نو سلطان محمد خان هم په لومړی سر کې فراه ته او وروسته شبرغان ته فرار کړی شو. سلطان محمد خان د چپې درې اوسېدونکی و او په ۱۳۴۷ هجری شمسي کې مړ شو.

د امیر حبیب الله خان په دوره کې د ساپو ترمنځ په دې خبره ډېرې جگړې وشوې چې گوربز، مسعود او ودېر په کوم خېل کې پراته وي له هغه سره دې تاوان او گټه واخلي؛ خو د گوربزو مشران د دې خبرې خلاف وو ځکه ډېرو گوربزو د مسعودو په کلیو کې ژوند کاوه، بالاخره ساپو ترمنځ پرېکړه وشوه، چې د یوه خېل غړي او کورنۍ چې له بل سره په کوم کلي کې پراته دي د هغه کلي او خېل سره به تاوان خلاصوي. د ساپو له کلیو سره نږدې نورستاني هم پراته دي چې د ساپو له خېلونو سره گډه گټه او تاوان اخلي.

په چپه دره کې د قهرندونکي بابا په نامه زیارت د سېدور په کلي کې شته دی او زیاتره هغه کسان چې اولادونه نه لري هلته ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شیگل ولسوالي[۱۱۷]

د شیگل ولسوالي د اسمار د سیند په شمالي غاړه د چغه سرای شمال ختیځ ته پرته ده. د ولسوالۍ مرکز د کربوړۍ په سیمه کې دی. وایي شیگل نوم د نورستاني ژبې نه اخیستل شوی دی چې په نورستاني ژبه کې ښو شپږ ته وایي او گل خوړ ته وایي؛ نو د شیگل نوم معنی شپږ خوړ دی. د شیگل سیمه غرنۍ سیمه ده او اکثره خلک یې شینواري دي. نورې قبیلې لکه سالارزي، گوجر، مشوانی او سیدان هم د شیگل په سیمه کې اوسېږي. په شینکوړک کې سید شمس الدین مجروح کورنۍ هم اوسېږي. د شیگل سیمه پخوا د اسمار په ولسوالۍ پورې تړلې وه؛ خوکله چې د ۱۹۸۷ کال نه راپدې خوا جنگونه زیات شول؛ نو د اسمار ولسوالي په پنځه ولسوالیو ووېشل شوه: اسمار، شیگل، غازي اباد، دانگام او دناړۍ ولسوالي. په دې نږدې وختونو کې د شلطن سیمه چې اکثره ولس یې ماموند دي او د اسمار سیند په سهیلي غاړه پرته ده، ځانته ولسوالۍ شوه؛ نو په دې ډول د پخواني اسمار ولسوالي د اوسني تشکیل له مخې شپږ ولسوالۍ دي.

د شینوارو قبیله د سپین غره له سیمې نه لومړی د باجوړ سره کمر سیمې ته چې د شیخ بابا په نامه هم یادېږي راغلې او هلته مېشته شوې ده. دقیقه نېټه یې نه ده معلومه خو وروسته د دغې سیمې شینواري د شیگل سیمې ته راغلي دي او دا سیمه یې له ځایي کافرو نه نیولې او دلته مېشت شوي دي. د شیگل شینواري په څلورو پښو وېشل شویدي:

---

[۱۱۷] د شیگل د ولسوالي معلومات ما د حاجي فاروق سره د مرکې په ترڅ کې تر لاسه کړي دي (۱۳ مارچ ۲۰۱٦م کال، چغه سرای). همدا شان اضافي معلومات ما د قوماندان شهزاده سره چې د شیگل د سیمي دی او په خاص کونړ کې قوماندان د امنیه و ترلاسه کړي دي او هم د شیگل معلومات ورسره دوباره چیک کړي دي. (۱۹ مارچ ۲۰۱٦م کال، خاص کونړ)



عبدالرحیم خېل، شبل خېل، سلېمانخیل او هلالزي. پخوا به گټه او تاوان د شیگل په دریوو برخو تقسیمېده چې دوه برخې به د شینوارو او یوه برخه به په دغې سیمې کې د نورو مېشتو خلکو وه.

شیگل یوه دره ده چې بیا دا لاندې کوچنۍ درې لري او هره دره په څو نورو درو او کلیو تقسیم شوې ده:

۱. د مادش دره (سالارزي، مشوانی او کمانگر دلته مېشت دي). د دې درې کلي گډولی، پمیلام، لامگل، برگډوگل، لرگډوگل، درکړو، چمدین او سونگل دي. د درې په اخر سر کې گوجر اوسېږي.

۲. چوڼسو دره (مشوانی او سالارزي دلته مېشت دي). د دې درې کلي ننگټا، ډب، هویرا، سوه تختو خوړ، لویه باڼه او اگوک دي.

۳. سملام دره ( مشوانی او سالارزي دلته مېشت دي)

٤. شینگس خوړ (شینواري دلته مېشت دي). د دی سیمې نور کلي دا دي: څاگی، شینکوړک، لاوحسین (زیات مشوانی دي)، اوغز تنگي، ټالونه (په دې کلي کې مشواني هم شته دي) کټاسیر، شنگرشاه، سوراڼو، امانکوټ، کربوړۍ (د ولسوالۍ مرکز همدلته دی)، کنډورو کلي، ډاگي سیر، ملاعلم کلی، موړې کلي، مونی (څلور جوماته کلی دی)، شونټاله، لونډې کلا، اتو کلي، هلالزو کلی (دا کلي درې جوماته دي)، چاقوړۍ، شینگرگل (دوه جوماته کلي دي) غنی کڅ، للمه کڅ، ایساره گټه، لچی. د حاجي فاروق له قوله، شیگل ولسوالۍ کې ۸۰ کلي د شینوارو او ۷۷ کلي د نورو قومونو دي.

د شیگل سیمه چې پخوا د کافرو وه، دا سیمه د شینوارو له خوا د کافرو نه نیول شوې ده؛ نو د دغې سیمې نومونه اوس هم د هماغو کافرو په نومونو پاتې دي لکه درگړو پخوا ښځه کافره وه او دا سیمه د هغې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه اوس هم یادېږي. چمدین او ننګتا سړي و او الام ګلو ښځه وه او داسې نور کلي اوس هم د نورستانو په نومونو یادېږي.

د افغانستان ګوجر ټول ۲۷ خېله دي[118] چې له دې نه دیارلس خېلونه په کونړ کې اوسېږي. اوه یې په شیګل کې، درې یې په ناړۍ ولسوالۍ کې او درې نور یې په نورو ولسوالیو کې استوګن دي. د کونړ د ګوجرو خېلونه په لاندې ډول دي:

چوانخېل، ډوی خېل، چیچي، کانه خېل، بوکړاخېل، پسواڼ خېل، کټاخېل، بډانخېل، بلیسر، رواړخېل، دیدړ، کسانه او میلوخېل.

د ګوجرو پخواني مشران ملک بادام، بهاول خان، ملک شیرافضل[119]، ملک خانجان، حاجي محمدجان، مولوي انور، ریپولا حاجي، حاجي عرب خان، حاجي نورمحمد خان، حاجي خانګل، حاجي میاګل، ملک غونډکی او صدبر ملک وو.

لچې د شیګل مرکزي کلی دی، چې د اسلامي حزب مشهور قوماندان کشمیرخان( اصلي نوم یې فضل الرحمن دی) د همدې کلي دی. د اسلامي حزب یو بل قوماندان وحید الله سباوون چې د جهاد په وخت کې د کشمیرخان مرستیال و هغه د شونټالي د کلي دی. د جهاد په وخت کې شیګل د حکمتیار د اسلامي حزب د مجاهدینو ډېره قوي قرارګاه وه. په ۱۳۵۸هجري شمسي کال کې د حکمتیار د اسلامي حزب د آزادی پیام

[118]میراعظم ګجروال سره مرکه چې دی د ګوجرو د قوم د عمومي شورا مشر هم و. (۳ می ۲۰۱۶ م کال، کابل)

[119]ملک شیرافضل او د میراعظم ګجروال ورور پیرمحمد خان په پاکستان کې لا درکه شول چې تر اوسه پوری ورک دي.



په نوم رادیو[120] هم د شګل نه خپروني کولې. د کابل کمونیست رژیم او روسي قواو څو ځلې هڅې وکړې چې دا سیمه ونیسي خو دا سیمه یې ونه نیولی شوه. دې درې د کرزي تر دورې پورې سرک هم نه درلود. شیګل د چغه سرای او اسمار د عسکري قشلې په منځ کې پروت دی او حکومت لپاره یې ستراتیژیکي اهمیت درلود.

## د غازي آباد ولسوالي[121]

د غازي آباد ولسوالي چې کله د کابل رژیم په ۱۹۹۲م کال کې سقوط وکړ او مجاهدینو قدرت ونیوه نو د غازي آباد ولسوالي د استاد برهان الدین رباني په دوره کې تاسیس شوه. دا ولسوالي د محمد غازي چوپان په نامه ونومول شوه. که څه هم د غازي اباد په ولسوالۍ کې پښتانه اکثریت لري او هیګل، مریت، څونک او څوکۍ کلي د نورستانو دي. نورستانیانو غوښتل چې دا ولسوالي په نورستان ولایت پورې او پښتنو غوښتل چې په کونړ ولایت پورې وتړل شي. دا جګړه د طالبانو په دوره کې هم وه او بالاخره د افغانستان کابینې په ۲۰۰۴م کال کې فیصله وکړه که دوی په دې نه راضي کېږي نو دا ولسوالي دې منحل شي او د نورستانیانو کلي دې په نورستان او د پښتنو کلي دې د اسمارپه ولسوالۍ پورې وتړل شي.

په ۲۰۰۴ م کال کې زه د کورنیو چارو په وزارت کې د محلي ارګانو او اداري چارو معین وم؛ نو ما ونه غوښتل چې دا ولسوالي منحل شي. دا

[120]له ویاړ او ستونزو ډک سفر، دوحیدالله سباون اثر، دچاپ کال ۱۳۹۴هجري شمسي- کال، صفحه ۵۹.

[121]د کونړ د پخواني والي شجاع الملک جلاله سره مرکه (۳ می ۲۰۱۶م کال، کابل). د دې نه سربېره ما هم خپل معلومات دلته شریک کړی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالي ما د پخوانۍ فیصلې پر اساس د کونړ ولایت اداري واحد په توګه قبوله کړه. دا سیمه پخوا د اسمار ولسوالۍ مربوط وه.

بارګام، نېشه ګام او جلاله هم د غازي آباد ولسوالۍ مهم کلي دی.

جلاله خان( عبدالملک نومېده) په جلاله کلي کې استوګن و. د جلاله خان پلار شهزاده عبدالرحمن په کال ۱۹۰۹م کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې له چترال نه افغانستان ته راغی اوحکومت ورته په اسمار کې ځمکې ورکړه خو دوی بیا وروسته د جلاله کلی مربوط ځمکې په بیه واخستلي. عبدالملک خان په ۱۹۱۱م په کابل کې زیږېدلی و او په ۱۹۷۸م کال کې د مهاجرت په وخت په چترال کې وفات شو.

د غازي اباد په ولسوالۍ کې څلور قومونه اوسېږي: پښتانه، ګور(په ولسي اصطلاح کوهستاني) ګوجر او نورستاني.

مشواڼي او سالارزي هغه دوه پښتنې قبیلې دي، چې په دې ولسوالۍ کې تر ټولو زیات اودي.

۱. مشواڼي (په کاڅګل، چړه سر، بارګام، جیګل، تری، لنډي کڅ، ابره ګل، حاجي اباد او ګنه کوی کلیو کې اوسېږي)
۲. سالارزي (په سلام ځي، بارګام او نورو متفرقه کلیو کې اوسېږي)
۳. نورستاني (په هیګل، څونک، مربټ او څوکۍ کلیو کې استوګن دي)
۴. ګور (په نیشګام کې اوسېږي)
۵. ګوجر (د سلام ځي په کلي او ایله سوم بانډه کې اوسېږي).

په غازي اباد کې د نورستانو د قوم مشهور مشران عبارت دي له: غازي خان د څونک، حاجي سین الله خان، مولوي جمعه خان، ملک کریم جان او حاجي یعقوب شاه دي.



په غازي اباد کې د ګوجرو قوم مشهور مشران عبارت دي له: ملک صدبر، ملک خانجان، ملا انور، ملک عبدالقیوم، قوماندان بازمحمد، مولوي بلال او مولوي حنان دي.

په غازي اباد کې د مشواڼو قوم مشهور مشران او ملکان عبارت دي له: ملک نورعزیز، ملک داؤد، حاجي شاه ولي، حاجي میرحسن، حاجي محمدهاشم، حاجي میرسلام، حاجي محکم او حاجي اصلت خان، ملک توتي، ملا ګل محمد(په ګلي مشهور )ملک دین محمد د ابره ګل.

د سالارزو مشهور مشران او ملکان: مشهور شاعر عبدالله غمخور، حاجي جمداعلي خان، حاجي صالح محمد، حاجي محمد سید، ملک محمد افضل او ملک محمد رفیق.

د ګورو مشران: وکیل عبدالقیوم، ملک رحمت ولي، حاجي زمان، حاجي صالح محمد، حاجي قادر.

د جلاله خان کورنۍ نه رحمت قیوم خان چې په وړوکي خان مشهور و، او نور چترالي مشران ملک عبدالمنان او ملک محراب خان وو.

ګل پاچا د سید شمس الدین مجروح د کورنۍ له غړیو څخه و، چې د بارګام په نوي کلي کې اوسېده.

## د دانګام ولسوالي[۱۲۲]

د دانګام ولسوالي د کونړ ولایت په شمال ختیځه سیمه کې د خیبر پښتونخوا د دیر له سیمې سره هم سرحده ده. د دانګام سړک د بنشي- سیمې ته د داؤد خان د جمهوریت په اخري کال وغځېد او هلته یې عسکري چونۍ جوړه کړه. دا سیمه د دیر درې له شاهي سیمې سره نښتې

[۱۲۲] قوماندان شهزاده شیګلي سره مرکه ۱۹ مارچ ۲۰۱۶م کال، خاص کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د ځایي خلکو په قول، پاکستان څلور کیلومتره دننه د بنشي په سیمه کې د افغانستان خوا ته راوښتی دی او دلته یې تاڼې جوړې کړې دي. د دانګام په سیمه کې د انارو سر او د بخدي سر چې مخکې پکې د مولوي خالص د تنظیم مرکز و، پاکستان نیولي دي.

د دانګام ولسوالۍ چې پخوا د اسمار د ولسوالۍ برخه وه، په دې ولسوالي کې مشواڼي، سالارزي، او څو کورنۍ وردګ، ماموند او سیدان هم اوسېږي. دا ولسوالي په اتو ونډونو تقسیم شوې ده.

۱. بیداد ونډ (دیګان، مشواڼي او سالارزي)
۲. دانګام ونډ (سالارزي اوسیدان)
۳. ګوریګا ونډ (سالارزي، ماموند او مشواڼي)
٤. کارکوړ ونډ (سالارزي)
۵. لر سور کمر ونډ (مشواڼي)
٦. زوړ برول (مشواڼي)
۷. قاسم ونډ (مشواڼي)

هغه لار چې د دانګام له مرکزد بنشي په لور ځي، د قاسم لارې په نامه هم یادېږي. د قاسم په سیمه کې یو سرحدي ټولی او هم د ډېرکۍ په سیمه د افغانستان سرحدي ټولی اوس هم شته دي. کله چې په ۲۰۱۵م کال کې د طالبانو په مقابل کې د دانګام په ولسوالۍ کې ملي پاڅون وشو؛ نو سخته نښته د ولسي خلکو او طالبانو تر منځ وشوه. ولسي- خلک مجبوره شول چې د سیاڼ، کارکوړ او لر سورکمر سیمې پرېږدي؛ نو طالبانو د ولسي- خلکو کورونه وسوځول. په دې جګړه کې افغاني او پاکستاني طالبانو ته هم ډېره سخته مرګ ژوبله اوښتې وه. د دې پاڅون مشري په دغه سیمه کې حاجي خانجان، ملک نورکریم او موزمین کوله.



حاجي خانجان د فروري په ۲۷مه ۲۰۱٦م[۱۲۳] کال کې په یو ځانمرګي کې د کونړ ولایت په مرکز اسعدآباد کې له یولسو نورو کسانو سره ووژل شو. په دغه ځانمرګي حمله کې څلوېښت کسه نور ملکي خلک زخمیان شول. دا پېښه د کونړ د ولایت مخې ته وشوه چې د مروړې ولسوالۍ د حصارې کلي د محمد عظیم درې زامن چې د لارې پر سر یې چپس او شربت خرڅول ووژل شول. حاجي نورکریم هم په ځانګړې حمله کې چې ماین ورته ښخ شوی و زخمي شو.

د باجوړ په جګړه کې هم ولسي لښکر د دانګام له لارې د سیمي ډېره کۍ او جبې کلي ته رسېدلی و، چې بیا د پاکستان د الوتکو له خوا ډېره سخته بمبارۍ په دوی وشوه او زیاته مرګ ژوبله یې افغاني لښکر ته واړوله.

## د اسمار ولسوالي[۱۲٤]

اسمار چې پخوا به ورته بر کونړ ویل کېده، د کونړ ولایت یوه ستراتیژیکه سیمه ده او د اسمار په نوم یو کلی پکې هم شته دی. د امیر عبدالرحمن تر وخته دلته مستقله خاني وه او اخري خان یې حضرت علي خان نومېده چې بیا د امیر عبدالرحمن له قواو سره د جګړې نه وروسته چترال ته وتښتېده او اوس هم د اسمار د خان کورنۍ په چترال او دیر کې اوسېږي. د اسمارخان په قوم بهرام خیل سالارزی و. اسمار غونډ چې

[۱۲۳] http://www.theguardian.com/world/۲۰۱٦/feb/۲۷/kabul-explosion-hours-after-kunar-suicide-bombing-afghan

[۱۲٤] د کونړ پخواني والي شجاع الملک جلاله، شیر زمان ملګري او میراعظم ګوجروال چې په اسمار کې ولسوال و، د اسمار، شیګل، غازی اباد، ناړی، دانګام او شلطن د ولسوالیو په اړه مرکې وکړې (۳ می ۲۰۱٦م کال، کابل)

مخکې یې یادونه شوې، دلته موقعیت لري. د اسمار په ولسوالۍ کې اکثره ولس مشواڼي او سالارزي دي خو محدود کورونه د ګوجرو او د کاټې په نوم چې اصلاً کوهستاني دي خو اوس په سالارزو ځانونه ګڼوي، اوسېږي. د دغې ولسوالۍ حدودات په هغه وخت کې د ختیځ له خوا تر دوکلام، چنارخوړ او د چترال د ارنوۍ سیمې پورې، د لوېدیځ اړخه د برڅاګي، وړوکي بچې او د ګړه بنو خوړ پورې، د شمال له اړخه ګوټکو سر او د ګوریګا پورې او د جنوب له اړخه د بنشي ـ ترناو، توتیانو کندو، سیمان درې سر او د بچې د سر پورې و.

پخوا د اسمار سیمه څلور ونډه وو: شیګل، اسمار، سین دره او دانګام. اوس دا هر ونډې جلا جلا ولسوالي شوې ده او د غازي اباد ولسوالي یې پنځمه ولسوالي او شلطن سیمه یې شپږمه ولسوالي شوه. په اسمار کې د مشواڼو او سالارزو لویې قبیلې اوسېږي او د دې ترڅنګ د میاګانو، دیګانو او وردګو کورنۍ هم شته دي.

د اسمار ۳۱ غرنی غونډ چې وروسته لوا شوه، په ۱۳۵۸ لمریز د هجري د اسد په ۵مه د دغې لوا د قوماندان عبدالرؤف خان ساپي په مشرۍ له مجاهدینو سره یوځای شوه او د کونړ والي نظام بېخدا یې هم وواژه. د دې غونډ ټول ټانکونه، توپونه، موټرې او لارۍ، وړې وسلې او نور ټول تجهیزات یې شیګل ته انتقال کړل. څرنګه چې شیګل سیمه د حکمتیار د اسلامي حزب په ولکه کې وه نو هغوی غوښتل چې د اسمار غونډ ټول منصبدار خلع سلا کړي او په دې توګه د دې غونډ د قوماندان او اسلامي حزب قوماندان کشمیر خان ترمنځ اختلاف رامنځته شول او قوماندان عبدالرؤف خان له یو شمېر منصبدارو سره د بچې د لارې د شپې له خوا په جاله پورې وت او د اسلامي جمعیت له حزب سره یو ځای شو؛ خو ټوله وسله او مهمات اسلامي حزب سره په شیګل کې پاتې شول. کله چې



زه د امریکا غږ راډیو خبریال وم نو د قوماندان عبدالرؤف خان سره مې مرکه وکړه او دا پورته معلومات مې ترې واخیستل.

د اسمار ولسوالي په منځ کې د سانکۍ غونډۍ موقعیت لري چې په سر کې عسکرې تهاڼه وه. د اسمار ولسوالۍ مرکز د اسمار د کلي او ججې ترمنځ واقع ده.

د جهاد په وختونو کې هم دلته مشهور مشران او قوماندانان تېر شوي دي لکه ملک زرین[125]، حاجي میرزمان، پاچا سنګرمل، میرعلم خان چې په میرالۍ مشهور و، ملا تورخان، ملک اجدرخان چې په اجدري ملک مشهور و، ملا رؤف او ملک جانخان. دوی د بېلابېلو جهادي تنظیمونو سره اړیکې درلودې:

د ملی نجات د جبهې مشر ـ ملک زرین و. ملا طورخان د جمعیت اسلامي قوماندان و. حاجي میرزمان او پاچا سنګرمل چې دواړه سره وروڼه وو، د خالص د اسلامي حزب قوماندانان وو. میرعلم خان د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم قوماندان و. ملک اجدری د ملي اسلامي محاذ قوماندان و.

## د ناړۍ ولسوالي[126]

د ناړۍ ولسوالي د کونړ ولایت په شمال ختیځه برخه کې پرته چې د شمال له خوا د چترال د ارنوۍ سیمې سره او څه برخه یې د نورستان د کامدېش ولسوالۍ سره، د جنوب له خوا د غازي اباد ولسوالۍ سره، د شرق

---

[125] ملک زرین په ځانمرګي حمله کې په اسمار کې په ۱۳ اپریل ۲۰۱۱م کال کې شهید کړی شو. http://www.bbc.com/news/world-south-asia-۱۳۰۵۹۷۰٤

[126] لیکوال او شاعر محمد نواز حقیقت سانین سره د ناړۍ د ولسوالي په اړه مرکه (۲ مۍ ۲۰۱۶م کال، کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا د دیر د برول سیمې سره او د غرب له اړخه د نورستان د کامدېش د ولسوالي سره نښتې ده. د ناړۍ ولسوالي د استقلال د څلورمې جبهې یا د ارنوی د غزا مرکز و. د ارنوی په غزا کې چې مشري یې لوی خان میرزمخانخان کوله، د دې سیمې مشهورو ملکانو لکه ملک محمدیوسف، ملک حضرت بیگ، ملک سیدانور، ملک اتک، ملک رحمان الدین او ملک احمدشاه چې گور کوهستاني وو او همدارنگه ملک سیدنور او ملک اسلام الدین چې گوجر وو، ملک حضرت نور چې سالازی و او ملک صنوبرخان چې مشوانی و، خاصه ونډه اخستي وه.

وایې چې د ناړۍ نوم د نای نه اخیستل شوی دی چې نای په گوري ژبه کې منځ یا مرکزي نقطې ته وایي او دا سیمه د دوکلام، ساو او نېشه گام منځنۍ سیمه وه چې د وخت په تېرېدو سره نای (نوم یا ناف) په ناړۍ بدل شوی دی.[۱۲۷]

د ناړۍ ولسوالي پخوا علاقداري وه او د اسمار د ولسوالي پورې تړلې وه. په ناړۍ ولسوالۍ کې پنځه لاندې قومونه اوسېږي: پښتانه، گوجر، گور، ساوجي او نورستاني.

د ناړۍ په ولسوالۍ کې ۷۴ غټ او واړه کلي شته دي، چې مهم کلي یې مرکزي ناړۍ چې د ولسوالۍ مرکز دی، بریکوټ، دوکلام، شامسیر، ساو، شینگر، شالیکوټ، انچه گل، خونانو کڅ، جبه، نانگل، ازیرگل، شېرگل، شېرگل خوړ، ساوخوړ، تورسان، چېره گل او ماچمنه دي. د ولسوالۍ په سطحه گټه او تاوان دوی په مساوي ډول په پنځو حصو وېشي.

[۱۲۷] شیرزمان ملگري سره چې په قوم گور دی مرکه (۳ می ۲۰۱۶م کال، کابل)



په دغه سیمه کې د گوجرو مشران دایم خان حاجي، گل حسن خان، شېرزمین حاجي، باگل، لعلي ملک، مسافر حاجي او ماصل خان دي.

د پاشنگر سیمه چې نورستاني دي، پخواني مشران یې ملک رحمت الله، وکیل محمدالله، حاجي متین او حاجي عبیدالله و. د پاشنگر اوسني مشران حاجي نجیب الله، حاجي خانزمان، عبدالطیف او جهانزیب دي.

د دوکلام سیمه چې اکثره ولس یې گور دي، پخواني مشران یې درابشاه ملک، سیدخان ملک، عبدالرحیم ملک، پنجي ملک، محمدنور ملک، جمه دین ملک، او محمدیوسف خان ملک وو. د دې سیمې اوسني ملکان او مشران، حاجي اکرم خان، حاجي عبدالقادر، حاجي گل اکبر، محمدعمر ملک، او صفي الله ملک، دي.

د بریکوټ د دې سیمې پخواني مشران او ملکان، میرعلم خان ملک، سیدخان ملک، جلات خان ملک، عبدالله جان ملک او اکرم خان ملک و. د دې سیمې اوسني ملکان، شېرزمین ملک، گل احمدخان ملک، گل محمد ملک او محمد ولي ملک، دي.

د ناړۍ د کلي د گور د قوم پخواني مشهور مشران او ملکان، رحمان الدین ملک، ملک محمدیوسف خان، ملک احمدشاه، ملک عبدالله، ملک ظفر، ملک عبدالمنان، ملک حضرت سید، ملک میرمحمدشاه، ملک همایون، ملک محی الدین، ملک عبدالخالق او ملک عبدالباقي وو. د دې سیمې د کوهستانو اوسني ملکان او مشران، حاجي عبدالقدیر، ملک رحمت الله، ملک غلام فاروق، حاجي غلام سخي، شېرزمان ملگری، ملک سیدنبي، ملک محمد طاهر او معلم سید کریم، دي.

د ناړي هر قوم بیا په څو خېلونو تقسیم شوی دی لکه گوجر په درې پلرونو چیچي، بډانخیل او کټانخیل باندې او کوهستاني په څلورو کندو باندې چې ماله ساویا، دره ساویا، شالیا او نایا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د چترال سیند او د نورستان لنډی سیند چې د کامدېش د باغچه په سیمه کې سره یو ځای کېږي، د ناړۍ ولسوالي له منځه تېرېږي چې د همدغه ځای نه د کونړ د سیند په نامه یادېږي. د کونړ له سیند سره د پېچ درې سیند هم د چغه سرای په منډه کول سره یو ځای کېږي.**

**د ناړۍ ولسوالۍ د جهاد او هجرت په وختونو کې د مجاهدینو مهمه لار وه او په لومړي سر د ولسي ترون پر اساس خلکو جهاد کاوه، چې د محمد غازي چوپان چې د څونک د غازي خان په نامه یې شهرت درلود. همدا رنګه حاجي تاجبر خان، معلم متین، مولوی ګل اکبر، ملک ممبر، مولوی محمد کریم، حاجي مرسلین او حاجي محمدایوب لالي په ناړۍ کې د جهاد په درو کې رول درلود. کله چې د تنظیمونو پښه ناړۍ ته او د کونړ نورو سیمو ته وغځېدله نو بیا د جهاد قومي بڼه په تنظیمي جبهو باندې بدله شوه.**

**اما کله چې تنظیمي اختلافات په دغه سیمه کې او هم د کونړ په نورو سیمو کې اوج ونیوه نو د ناړۍ ولسوالۍ مشران سره راټول شول او په ۱۳۷۱ لمریز هجري کال یې یوه قومي شورا جوړه کړه، چې مشري یې ملک تاجبر[۱۲۸] مشواني کوله او فیصله یې وکړه چې دوی به خپل ولسونه له تنظیمي جنګونو نه ساتي. دې قومي فیصلې د ناړۍ ولسوالي له داخلي جنګونو نه وساتله. اوس هم د ناړۍ په ولسوالۍ کې دېرش کسیزه قومي شورا شته دی، چې مشري یې حاجي محمدایوب چې په لالي حاجي مشهوره دی او په قوم ګوجر دی، کوي.**

[۱۲۸] ملک تاجبر چې مشهوره ملک و، ما پخپله لیدلې و. په ۲۰۱۵م کال کې د ښېوې ولسوالي د سلامپور په جومات کې د قرآن ترجمې ته ناست، چې د طالبانو له خوا شهید کړی شو.



**که موږ د ناړۍ ولسوالۍ جغرافیوي موقعیت او قومي جوړښت ته وګورو نو دا ولسوالي باید ډېر ناامنه ولسوالي وای خو د قومي اتحاد له امله دا ولسوالي سره له دې چې د شاوخوا نورې ټولې ولسوالۍ نا امنه دي، د کونړ ولایت د ارامو ولسوالیو په قطار کې راځي. د ناړۍ ولسوالي اوه لېسې او یو دارالمعلمین او دوه کلینکونه یو په بریکوټ او بل په ناړۍ لوی کلي کې لري.**

**د ناړۍ ولسوالۍ ښه ځنګلونه درلودل لکه د ساو خوړ ځنګل، د شیرګل خوړ ځنګل، د ازیرګل ځنګل، د چیره ګل ځنګل، د ډولې ځنګل، د بټاش ځنګل او د ماچ منې ځنګل او شینه ګر ځنګلونه. دا ځنګلونه د اومې لسیزې نه راپدیخوا په بیرحمانه توګه ووهل شول او اوس لا هم داسلسله دوام لري.**

**په دې ولسوالۍ کې مشواني او سالارزي تر نورو دوو کوهستانو یا ګورو او ګوجرو زیات دي، نه په کې د هغو کلي شته او نه پکې په هغو کې کوم مشر یا قوماندان شته، آن چې لویې درې نه دي لیکل شوي.**

**په دې ولسوالۍ کې د سالارزو مشهور مشران، ملک اجدرخان د ازیرګل، ملا محمدکریم د شېرګل خوړ، ملک تازه خان د شېرګل، ملک مرسلین د شامسېر، مولوي ګلاکبر د چیره ګل، ملک غلام د تورسان، ملک نصیب د تورسان، امین ملک د شامسیر او نور.**

**د مشوانو مشران ملک احمدجان د ساوخوړ، ملک موسی خان د چیره ګل، ملک کلاکبر د ساوخوړ، ملک شمندروز د چیره ګل، ملک تاجبر د ساوخوړ، حاجي ګل ملا د چېره ګل، ملک ممبر د چیره ګل، ملک سعدالله د ساوخوړ، حاجي ظاهر د ساوخوړ.**

**د ساو د کلي مشران دا دي یا وو: ملک عین الله، ملک، معلم محمدحسن، قاضي عبدالرحمن، قاضي سراج، حاجي اسحق.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساو کلی چې ځانته مستقله ژبه لري، په یوه کلي کې هم د دغې ژبې په دوو لهجو خبرې کېږي؛ خو د ژبې اصلي ویونکي چې ساوخېل یې بولي په کلي تر نورو خلکو کم دي. په دې کلي کې یو ډېر شمېر ماموند شته، چې پر ساوجي ژبه خبرې کوي. همدا رنگه په دې کلي کې سالارزي هم شته هغوی هم په ساوجي ژبه خبرې کوي.



# اتمه برخه
# د کونړ اقتصادي اهمیت، دودنه، رواجونه او د خلکو د ژوند یو څو بېلګې

## اقتصادي اهمیت د کونړ:

که څه هم د کونړ په جغرافیوي او ستراتیژیکي اهمیت پورته یو څه بحث وشو خو د کونړ ولایت، د بشري قوې ترڅنګ د اقتصادي رشد لپاره څلور مهمي منابع لري:

۱. د کونړ د سیند اوبه: د کونړ سیند د اوبو د برق د تولید لپاره یوه ښه او د افغانستان په کچه مهمه منبع ده. د داود خان د جمهوري ریاست په وخت کې د اسمار د سور طاق په سیمه کې د یو پوخ بند د جوړولو سروې شوې وه چې ۱۵۰۰ میګاواټه[۱۲۹] د برق ظرفیت یوازې په دغه سیمه کې شته دی او همداسي په نورو سیمو کې لکه د سین درې، اسمار، ناړي او هم د پیچ درې په سیمو کې د نورو لویو او وړو بندونو د جوړولو امکانات او ظرفیت خورا زیات دی. که د افغانستان حکومت د کونړ په سیمه کې د بندونو جوړولو ته پاملرنه وکړي نو د کونړ سیند نه یوازې کونړ

[۱۲۹] http://schoolserver.xsce.org:۳۰۰۰/wikipedia_en_all_۲۰۱۵-۰۵/A/Energy_in_Afghanistan.html (اخر ځل دا ویب پانه په ۲۶ د جولای، ۲۰۱۶م کال کې وکتل شوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بلکه د ختیځو ولایتونو او هم کابل ته پوره برق ورکولې شي تر څو افغانستان د انرژي له امله خود کفا شي. انرژی او په خاصه توګه د اوبو بریښنا د یو ملک په پرمختګ کې خاص رول لري.

۲. ځنګلونه: تقریبا ۳۳۲،۰۰۰ هکتاره[۱۳۰] ځمکه د کونړ په ځنګلونو پوښل شوی وه او د لویې پکتیا د سیمي نه وروسته د کونړ ځنګلونه د افغانستان د ټولو نه لوي ځنګلونه دي. اما متاسفانه په تیرو څلور لسیزو کې د کونړ د ځنګلونو د نیمایې په شاوخواکې ځنګلونه په ډېر بیرحمانه توګه د لرګو د مافیایې کړیو له خوا ووهل شو خو اوس هم یوه زیاته برخه شتون لري که د دی باقي پا تي ځنګلونو سم حفاظت وشي او په موثره توګه ګټه ترې واخستل شي نو د کونړ ځنګلونه د افغانستان ډېرو کسانو ته د کار زمینه برابرولې شي. د داودخان د جمهوري ریاست په وخت کې د کونړو ځنګلونه ته خاصه توجه شوې وه چې د کونړ د سیند په غاړه یې د یو کلپتوس ځنګلونه جوړول ترڅو د کاغذ د تولید فابریکې جوړې شي او هم یې د اسعداباد سره نږدې د سالار باغ په سیمه کې د حجارې او نجارې فابریکه جوړه شوه. نو دکونړ ځنګلونو ته خاصه توجه باید وشي څکه دا نه یوازې د کونړ لپاره ګټه رسوي بلکه د کونړ ځنګلونه د افغانستان ملي شتمنې ده او خاصه توجه ورته په کار ده.

۳. د کونړ ولایت معادن: د کونړ ولایت د نړې په سطحه د بیروجو د خاص کیفیت معادونه لري او د دې معادنونو نه په سمه توګه ګټه اخستل ډېر اړین دي چې دا هم د کونړ او هم د افغانستان په اقتصادي رشد کې ښه رول لوبولې شي. د بیروجو معادنونه اکثره د پیچ درې په سیمه کې

---

۱۳۰ http://www.afghanzariza.com/article/articledetail/forest-wood-in-kunar-fills-taliban-coffers (اخرځل دا ویب پاڼه په ۲۶ د جولای ۲۰۱۶م کال کې وکتل شوه)



دې خو د دې معدنونو نه بیروج په غیر فني توګه په تیرو څلورو لسیزو کې استخراج کیږي. د دې معادنونو نظارت او په فني توګه د بیروج استخراج هم د کونړ او هم د افغانستان لپاره ډېر ګټور دي. د بیروجو نه برسیره د کونړ په نورو سیمو کې لکه خاص کونړ د نفرایدو او کرومایتو معدنونه هم شته دی.

۴. مالداري: د کونړ سیمه د مالدارې او هم د چرګانو د روزنې لپاره ډېره زیاته مساعده سیمه ده. که په دې ساحه کې کونړ ته خاصه توجه د حکومت او هم د خصوصي سرمایدارانو له خوا وشي نو د کونړ سیمه د افغانستان نورو سیمو د لبنیات، غوښه او هګي رسولې شي چې هم د کونړ لپاره او هم د افغانستان د اقتصاد د رشد لپاره مهم رول لوبولې شي.

د کونړ خلک د افغانستان د نورو سیمو او خاصتاً د پښتنو د سیمو غونډي دودونه لري. د کونړ ولس خپل ورځني مشکلات د جرګو او مرکوله لارې حل کوي. که څه هم د کونړ خلک د افغانستان د زیاتو سیمو په پرتله په مادي لحاظ ډېر غریب دي؛ خو د کونړ د خلکو دېرې او حجرې او مېلمه پالنه زیات شهرت لري. ټولنیز کارونه د اشر په توګه کوي او د غم او ښادۍ مراسم د کونړو خورا درانده او ګرم وي او د هر چا خپل او پردې په کې په خورا مینه او محبت سره برخه اخلي. غواړم چې په دې برخه کې د دې دودنو او خلکو د ژوند په اړه هغه معلومات وړاندې کړم، چې ما په خپله په کونړ کې د اوسېدو پر مهال لیدلي او یا مې کیسې له نورو نه اورېدلي دي. د کونړیانو د ژوند کیسې راتلونکو نسلونو ته زیاتې مهمې دي، چې څنګه د دوی پلرونو او مشرانو په سختو شرایطو کې ژوند کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میلمه پالنه

د کونړ د سیمې خلک د افغانستان د نورو سیمو په رنګه قدرمن او مېلمه پال ولس دی. هر کونړی د مېلمه لپاره دېره او حجره لري او د مېلمه د ځای درلودل د هر کونړي د ضروریاتو د لومړیتوبونو څخه دي. که څوک ډېر غریب هم وي او په کور کې دوه خونې ولري؛ نو هرو مرو به یې یوه خونه مېلمه ته په نظر کې نیولې وي. د کور ښه لوښي او اسباب د مېلمه لپاره ساتي او تر ټولو ښه خواړه مېلمه ته ورکوي. د کونړ دېرې او حجرې په حقیقت کې د مکتب حیثیت لري چې ځوانان د خپلو مشرانو نه ادب او تربیه او هم د پښتونولۍ اصول او نرخونه پکې زده کوي. د کونړ حجرې د مېلمنو پر پاللو سربېره د خوشالۍ او بنډارونو مرکزونه هم دي. په ښه او بده کې د کلي مېلمانه په حجرو تقسیموي او په دې توګه په یوې کورنۍ بوج یا بار نه راځي. که څه هم دې دودنو ته په تېرو څلورو لسیزو کې د مهاجرتونو او جنګونو له وجهې ډېره صدمه رسېدلې؛ خو په تېرو ۱۵ کلونو کې چې زیات ولس بېرته کونړ ته ستون شوی دی، د کونړ دېرو او حجرو بیا خپل پخوانی رنګ پیداکړی دی.

جرګې او مرکې

دا چې کونړ غرنۍ سیمه ده نو همېشه د مرکزي یا محلي حکومتونو نفوذ په دغې سیمې کې ضعیفه و او ولسونو اکثره خپلې ستونزې د جرګو او مرکو له لارې حل کولې. حکومتونو هم ولس سره اکثره وخت کې خپلې ستونزې د جرګو او ولس سره د تفاهم له لارې حل کړي دي. جرګه ځان ته اصول لري او د جرګو فیصلې همېشه د قضیې دواړو خواو او هم ولس ته د منلو وړ وي، ځکه جرګه د دواړو خوا د تفاهم په صورت کې جوړېږي. د جرګې اصول په مختصره توګه لاندې ډول دي:



۱. د جرګې غړي باید دواړو خواته د منلو وړ وي.

۲. کله چې جرګه جوړه شي نو دواړه خواوې د جرګې غړوته واک ورکوي.

۳. تر واک وروسته د متخاصمو خواو ترمنځ د موضوع د اهمیت په اندازه جرګه مار د دواړو خوا نه مچلغه (ګرنټي) اخلي.

۴.د مچلغې نه وروسته، جرګه مار د موضوع ټول اړخونه څېړي، د دواړو خواو ادعاوې او شواهد مطالعه کوي او هم د موضوع په ارتباط ټول اسناد ګوري او د شاهدانو خبرې اوري.

۵. د موضوع د ښې څېړنې نه وروسته جرګه مار د رایو په اتفاق فیصله دواړو خواته اعلانوي.

٦.که د جرګې فیصله دواړو خواته د منلو وړ وي؛ نو بیا هغه فیصله دوی پخپله تطبیقوي او دواړه خواوې سره دلاسا (پخلا) کوي.

۷.که د جرګې فیصله کومې خواته د قبول وړ نه وي؛ نو جرګه مار د هغې خوا مچغله نه ورکوي او هم که بیا بله جرګه تعینېږي نو د لومړۍ جرګې فیصله له نظره نشي غورځولی.

۹.که د قضیې کومه خوا په راتلونکي کې د جرګې د فیصلې نه سر غړونه وکړي، جرګه مار بیا د خپلې فیصلې نه باید دفاع وکړي او چا چې فیصله ماته کړې وي د هغه نه بیا ناغه (د خلاف ورزۍ جریمه) اخلي.

۱۰. په جرګو کې مهمه مسئله د جرګو د فیصلو تطبیقي اړخ دی. جرګه مار یا مرکچیان زیاتره وخت په دې توانېږي، چې خپلې فیصلې عملي کړي. دا ډول عدالت د غیررسمي یا د منازعاتو د حل متبادل عدالت (Alternative Dispute Resolution) په نامه هم یادېږي.

څنګه چې مخکې یادونه شوې دا ډول عدالت، چې په ټولنه کې توازن مراعات کوي او د ټولنې د ثبات سبب ګرځي د ترمیمي عدالت په

نامه یادېږي. د امریکې په عدلي سیستم کې د جوري[۱۳۱] سیستم هم جرگه مارو ته ورته دی؛ خو د جوري په سیستم کې د جوري غړي د محکمې له خوا او د جرگې په سیستم کې د جرگې غړي د دواړو خواو (مدعي او مدعي علیه) په توافق تعینېږي چې دوی په حقیقت کې د دواړو خواو د مدافع وکیلانو په توگه دنده اجرا کوي او د خپل اړخ له خوا په جرگه کې دفاع کوي. اما د جوري په سیستم کې د جوري غړي د دواړو خواو د وکیلانو ادعاگانو او شواهدو وړاندې کولو ته غوږ نیسي او په اخره کې جوري د جرگې په څېر باید د رایو په اتفاق سره فیصله وکړي. که یو کس هم مخالف وي نو محکمه بیا قضیه له سره پیلوي او بله د جوري ډله تعینوي. په دې توگه زموږ د جرگو سیستم د امریکې تر عدلي سیستم یا جوري سیستم پرمختللی دی. البته هر سیستم قوي او ضعیفه ټکي لري؛ خو که زموږ د جرگو سیستم په سمه توگه عملي شي؛ نو زه فکر کوم چې زموږ د ولس ډېر مشکلات حل کولی شي. پر دې سربېره دا سیستم د رسمي عدالت نه ډېر ارزانه او مؤثر دی.

لکه څنگه چې به پخوا معالجوي طب ته توجه زیاته وه او وقایوي طب ته توجه کمه، اوس وقایوي طب ته توجه زیاته شوې ده ځکه د معالجوي طب نه په وقایوي طب باندې لگښت کم راځي او هم ټولنه د صحت له پلوه زیاته سالمه پاتې کېدای شي. همدا رنگه د منازعاتو حل او یا د منازعاتو مخنیوی ډېر ارزانه دی نظر دې ته چې جزایي عدالت رامنځ ته شي. جزایي عدالت په ټولنه کې دایمي ثبات نه شي رامنځته کولی؛ خو که ترمیمي عدالت سم تطبیق شي؛ نو په ټولنه کې دایمي ثبات رامنځته کېدای شي. که موږ د محاکمو مصارف او د بندیخانو

[۱۳۱] Jury



مصارف وسنجوو نو دا ډېر زیات مصارف دي او په اخر کې هم د متخاصمو ډلو تر منځ دښمني، بغض او عداوت نه ختمېږي او منازعات یو په بل پسې زیاتېږي. نو د منازعاتو د حل لپاره جرگې او مرکې ډېره ښه وسیله ده، چې له حکومت سره په دایمي ثبات کې زیاته مرسته کولی شي.

## اشر او بېگار

پخوا د پښتنو په سیمه کې او خاصتاً د کونړ په سیمه کې ټولنیز کارونه لکه د سربند، ویالو، سرکونو، ښوونځیو او دولتي ودانیو جوړول، د درمندونو غوبل او د ځمکو کر کیله، د جوماتونو او حتی د کورونو جوړول او اخېړول (کاگل) ولس د اشر او بیگار په ډول کول. د اشر او بیگار ترمنځ توپیر دا دی چې بیگار د زور او جبر شکل لري او اشر په خپله خوښه په ټولنیزو مسایلو کې برخه اخیستنه ده. اشر په عین حال کې د پور شکل هم لري، که یو کس له چا سره اشر وکړي نو هغه هم مجبوره دی د هغه بل کس په اشر کې برخه واخلي او یا په اصطلاح غیرمستقیه توگه پور باید ادا کړي. که د اشر پور ادا نه کړي؛ نو بیا هغه بل کس هم په راتلونکي کې مرسته نه کوي او د دغه کس په اشر کې بیا برخه نه اخلي.

د اشر کوربه همېشه کوښښ کوي، چې اشرگرو ته ښه خوراک برابر کړي. په خپله سیمه کې د درمندونو په غوبلونو او یا د ځمکو د کرکیلي په وخت کې به چې موږ په اشرونو کې برخه اخیسته خورا په زړه پورې وه، چې هم به ټولو په خورا مینه او محبت سره کار کاوه او هم به په شریکه د ډوډۍ خوراک خورا خوند کاوه. هغه خوند ما د دنیا په لس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونو ملکونو خواراکونو چې ما سفرونه ورته کړي او یا پکې اوسېدلی یم، نه دی لیدلی. هغه وخت کولسترول چا نه پېژندل او د غوړو او خصوصاً د سوچه غوړیو یعنې د حیواني غوړیو د خوراک نه چا وېره نه درلوده. همدا رنګه په هغه وخت کې انجیوګانې نه وې او نه بهرنیو کمکونو ته عام ولس سترګې په لار و؛ نو ټول کارونه به ولس په خپله کول. پخوا پیسې کمې وې خو همت د خلکو اوچت و او چا ته یې لاسونه نه اوږدول. په تېرو درې څلورو لسیزو کې چې موږ یو لوی تاوان کړی دی، هغه زموږ سترګې نورو ته دي، حتی په دې امید یو چې پردي باید زموږ د کور مخه هم راته پاکه کړي او په یو شکل د افغانستان د ولس نه او حتی د حکومت نه هم سوال ګر جوړ شوی او په دې طمعه دي چې نور دې دوی ته هر څه وکړي او په اصطلاح د افغانستان د ولس نه د سیدمحمود پاچا لټان جوړ شوي دي. د غربي نړۍ د پرمختګ اصلي څلور علتونه زه په ګوته کولای شم چې په حقیقت کې دوی دا له اسلامي اصولونه اخیستلي دي:

۱. د ټکس یا مالیې سیستم دی، چې حکومت د خپل ولس نه مالیه ټولوي او تر زیات حده حکومت مالیه بېرته په شفافه توګه د خپل ولس د ښېګڼو لپاره مصرفوي. په اسلامي سیستم کې زکات او عشر هم د ټکس یو سیستم دی او کله چې زکات او عشر په سمه توګه راټولېده او په بیت المال کې خیانت نه کېده نو اسلام هم پر مخ روان و.

۲. په امریکه کې شعار دا دی چې یو نسل بل نسل ته کار کوي. یعنې تېرو نسلونو که څه کړي د هغه نه موږ ګټه اخلو او موږ چې څه کوو؛ نو له دې نه به زموږ راتلونکي نسل ګټه پورته کوي. دا عمل د هغې مقولې مفهوم دی چې علی (رض) ته منسوبېږي وایي د د نیا کار داسې کوه چې هیڅ نه مرې او د اخرت کار داسې کوه چې سبا مرې. خو افسوس زموږ



په منځ کې اوس دا رواج دی چې د کوم کار نه چې زه ګټه نه اخلم نو ماته یې څه او یا که یوه ژرنده اوږه پیدا کړو نو بیا لاس تر زنې ناست یو ترڅو مو چې هغه نه وي خلاص کړی نور کار نه کوو. مګر پر مختللي هېوادونه په موجوده پرمختګ قانع نه دي او په دې هڅه کې دي چې نور پر مختګ هم باید وکړي.

۳. غربي نړۍ همېشه په دې فکر ده چې دوی به خپل وطنونه پخپله جوړوي او بل چا ته به سترګې په لار نه اړوي؛ خو موږ په دې فکر یو چې نور باید موږ ته هر څه وکړي. په پښتو کې متل دی وایي چې ته حرکت وکړه خدای به په کې برکت واچوي. که موږ په رښتیا د وطن د جوړوېدو فکر پیدا کړو نو بیا خدای پکې برکت اچوي.

۴.غربي نړۍ د پرمختګ بل دلیل د قدرت نه میراثیتوب دی. کله چې په اسلامي هېوادو کې قدرت میراثي شو؛ نو پرمختګ هم ختم شو ځکه چې د حکومت ټولې منابع د پاچاهانو د عیاشۍ او یا د هغوی د قدرت ساتلو په مقصد مصرفېدې، نه د ولس د خدمت لپاره. اسلامي او غیر اسلامي هېوادونه چې قدرت هلته میراثي دی، وروسته پاتې دي.

## موسیقي او لوبې

د کونړ خلک د خپل ساعت تېري لپاره محلي موسیقي لکه منګی او ستار لري چې په حجرو کې ځوانان راټولېږي او د رخصتۍ یا ښادیو په مراسمو کې محلي موسیقي ته غوږ نیسي. که د چا کوم نازولی یعنې زړه پورې مېلمه وي؛ نو کوربه ورته په حجرو کې د سیل محفل جوړوي. پخوا چې د موسیقۍ وسایل ډېر کم و؛ نو کله به چې په کوم کلي کې د چا واده و او مجلیسان (سازنده یا په اوسنۍ اصطلاح هنرمندان) به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستي و، نو د ډېرو لرو لرو ځایونونه به ځوانان او حتی مشران ډلې ډلې ورتلل او ګیسونه[۱۳۲] به یې په دېرو کې لګولي و او د سبا تر اذانه به یې ساز اورېده.

مختلفی محلي لوبې لکه ګډا، اتڼ، تېږه اچول، صحبت[۱۳۳]، د زرکـو او سیسیو ښکار، د ماهیانو نیول، خـوسی، پـه ځنګلونـو کـې او هـم د توپـان جال او دامونو په وسیله د مرغیو نیول، خورا دلچسپې وې. موږ به پخپلـه دامونه د اسونو او اوښـانو د لمـو نـه جـوړول او هغـه بـه مـو پـه پټـو کـې ایښودل چې مرغۍ، توره کۍ (شامتورې) او جغنډان به مو پرې نیول.

نجونو هم ځانتـه لـوبې درلـودې لکـه شـل غـاټي، چنـدرو، مـوټي[۱۳۴]، خوټکونکه[۱۳۵] نینځوکو واده، جفت او طـاق، کـاڼي کـول او داسـې نـورې لوبې.

ماته د مني او یا د پسرلي په اخـرو وختونـو کـې د مرغیـو ښـکار خـورا زیات په زړه پورې و. زما یادېږي چې د کونړ د سیند په غاړه به د لوښو په ځنګلونو کې خلکو کوډلې جوړولې او چې به د مني د مرغیو وخـت شـو؛ نو څو کسه به موظف وو چې د ځنګل پـه غـاړه څـوک تـګ او راتـګ تـه پرینـږدي، چـې د چنچڼـو سـیلونه هلتـه بـڼ کښـته شي یعنـې کېنـي. بیـا ماسختن به څو کسو تناب د لوښو د ځنګل د یوه اړخه واهه او دا چنچڼې

---

[۱۳۲] پخواچې نه جنیټرونه او نه سولرې شیشي وي؛ نو د تېلو ګیسونه به وو چې زیاته رڼا بـه یـې کولـه او هغه به هم ډېروکموکسانودرلوده او یو بل ته به یې په ښادیو او یا نورو مراسمو کې ورکول.

[۱۳۳] څو کسه ځوانان به سره راټول شول او انداز به یې وکړ او یو قسم مېلمستیا بـه یـې پـه شریکـه برابـره کړه او بیا به ټوله شپه دې ملګرو سره خوشالي کوله چې زیـاتره بـه محلـې موسـیقي هـم وه. طالبـانو او چړیانو هم دا قسم صحبتونه زیات کول، چې اتڼونه به یې هم په خپلو منځو کې کول.

[۱۳۴] کله به چې نجونو په پټو کې سابه کول نو بیا به یې موټی موټی سابه سره ایښودل او د لرې نه به یـې په لروکي ویشتل، چا به چې د سبو دوسکه وویشتله نو بیا به سابه هغې ګټل.

[۱۳۵] په پسرلي کې به نجونو د ګلانو غوټۍ خوټولې او هغه به یې سره خوړلې.



به د ځنګله بل اړخ ته الوتلې چېرته چې به خلکـو د لوخـو کـوډۍ ګـانې جوړې کړې وې. کله به چې دا مرغۍ په دې کوډۍ ګـانو کېناسـتلې نـو په لاسونو به خلکو نیولې او هر چا به ورته د ځادرنو نه بوجونه جـوړ کـړي وو او په هغه کې به یې اچولې او وروسته به یې حلالولې. تکـړه او مـاهرو کسانو به هره شپه په سل ګونو مرغۍ نیولې. هغه کسانو تـه بـه یـې هـم پـه نیول شویو مرغیو کې سهم ورکاوه، چې تناب به یې وهلی و. د مرغیو دې ډول ښکار یو خاص خوند درلود چې ما په نورو سیمو کې نه دی لیـدلی. پر دې سربېره به په دېرو کې د شپې له خوا د لاټېن او یـا چرباتي (لاسي څراغ) په رڼا په لیندو باندې هم ځوانانو مرغـۍ ویشـتلې چـې دا د ښـکار ځانګړې ډول مېله وه. په ژمي کې به د کونړ د سـیند پـه غـاړه د هیلیـو او شامتورو (توره کۍ) ښکار خورا خوندور و.

د ژمیو په رختصیو کې چې به خپل کلي ته ورتلـم نـو زمـا کـار همـدا ښکار و. روسي چره ییز ټوپک چې دوازده بر او شانزده بـر یـې هـم ورتـه وایه او د ټولو نه ښه یې د ګل چاپ په نامه یادېـده، خـدای بخښـلي پـلار مې راته د بلخ ولایت په مزارشریف ښار کې اخیستی و او هم مې انګلیسي بادي ټوپک درلود او همېشه به مې ښکار کاوه. شوقي کسانو به مړه زان او تازي سپي هم ساتل. نورې عصري لوبې خاصتاً د مازیګر له خوا د والیبال لوبې په کـونړ کـې ډېـرې عـامې وې چـې اوس هـم رواج لـري. حتـی د طالبانو په وخت کې هـم والیبـال د هغـوی ډېـر خـوښ و او د ځوانـانو د تفریح لپاره دا یوازینۍ لوبه وه. تر مهـاجرت یعنـې ۱۳۵۷ هجـري شمسي- کال وروسته په افغانانو کې د کرکټ لوبې ورو ورو رواج وموند، چې اوس یې په کونړ کې هم رواج پیداکړی دی.

د کونړ په سیمه کې او خاصتاً د خاص کونړ په سیمه کې به د اختـرونـو مراسمو خورا خوند کاوه. اکثریت دولتي مامورینو، شاګردانو او محصـلینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کوښښ کاوه چې د اختر په ورځو کې خپلو کلیو او بانډو ته ځان ورسوي او اختر لمونځ د خپلو خپلوانو او عزیزانو سره یو ځای وکړي. د اخترونو لمونځونه به چې د ولسوالیو په محدودو ځایونو کې کېدل ډله ډله مشران، ځوانان او ماشومان، چې نوې جامې به یې اغوستې وې، ورتلل. په کلیو او بانډو کې د دې خلکو د تګ لیکو (قطارونو) خورا خوند درلود. د اختر د ورځې خواږه پراتې، د شېدو چایونه، میانچې، وچې ایشلې، پشدۍ وریجې او د بعضو کورنیو چې به اقتصادي وضع ښه وه، کبابونه هم پخول.

د اختر د ورځو د مېلو ځایونه معلوم وو. په خاص کونړ کې د اختر د لومړۍ ورځې مېله به د بحرآباد له سیمې سره د دېوانه بابا ترخنګ وه. د دویمې ورځ مېله به د تنر له کلي سره نږدې د پیرجنګي بابا زیارت ترخنګ او د درېمې ورځې مېله به د ګورګورې بابا په زیارت کې، چې اوس د منګوال لېسه هلته ده او د څلورمې ورځې مېله به د چمیارۍ د کلي د سلطان بابا په زیارتونو کې کېدله. د سیمې اکثریت دوکاندارانو به د اختر د لوبو شیان او خواږه لکه کولچې، ځلوبۍ، ممپلې، پتاسې او داسې نور هلته وړل او خرڅول به یې. په دې ځایونو کې به ټالونه او باڼیچقونه هم دوکاندارانو اچول او د پیسو په بدل کې به هلکانو او نجونو پکې زانګل. دا مېلې لکه د نورې دنیا د وړو سرکسونو په ډول وې. دا ویلی شم که پخوا پیسې کمې وې خو خوشحالۍ زیاتې وې او خلکو د یو بل سره خورا مینه درلوده او هم صداقت ډېر زیات و. مګر د تېرو دریو څلور لسیزو د جنګونو له امله زموږ ځوان نسل د پورته خوشالیو نه محروم پاتې شوی او د خپلو سیمو ښې خاطرې یې نه دي لیدلي. خدای دې وکړي چې زموږ هېواد کې امنیت بر قرار شي چې تېرې ښې خاطرې بیا راتازه شي.



## په کونړ کې د زده کړې ستونزې

که څه هم زما خپله تجربه د زده کړو د ستونزو په اړه یوازې د خاص کونړ په ولسوالۍ کې ده؛ خو د نورو ولسوالیو ستونزې راته د خاص کونړ په پرتله هم زیاتې ښکاري.

په ۱۳۵۰ هجري شمسي کال کې زه خاص کونړ ته د منځنیو او ثانوي زده کړو لپاره راغلم او د خاص کونړ په لېسه کې په اتم ټولګي کې داخل شوم. د هغې نه دمخه ما خپل سبقونه په کابل او مزارشریف کې ویلي وو، چېرته چې زما پلار ماموریت درلود. مخکې له هغې به خاص کونړ ته د ژمې د رخصتیو په وخت کې زموږ کورنۍ د کابل نه تلله؛ خو د خاص کونړ د خلکو د ژوند په اړه راته پوره معلومات نه و او نه ما ته د ولس د ژوند او د زده کوونکو د ستونزو څه پته وه. د کونړ په ولایت کې پخوا ښوونځي ډېر کم وو او زیاتره ښوونځي د ولسوالیو له مرکز سره نږدې وو، چې د لرو پرتو کلیو ماشومانو ته او په خاصه توګه نجونو ته ډېر مشکله وه چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. له دې امله د ښوونځیو شمېره او د زده کوونکو دلچسپي د زده کړې سره کمه وه. مخکې له دې چې د خاص کونړ لومړنی ښوونځی، منځني ښوونځي او لېسې ته ارتقا وکړي، د خاص کونړ زده کوونکي به د منځنیو او ثانوي زده کړو لپاره د څوکۍ ولسوالۍ د جمعیت او یا د چغه سرای عمراخان لیسه ته تلل چې دا ډېر مشکل کار و. د خاص کونړ هغه زده کوونکو چې د څوکۍ ولسوالۍ د جمعیت په لېسه کې سبق وایه نو زده کوونکي به هره ورځ د کونړ د سیند نه د کولي ګرام له کلي سره په کښتۍ یا جاله کې پورې وتل او تقریباً د زیاتو سیمو کسانو به څو ساعته مزل کاوه.

زموږ د کلي نه دې لېسې ته د دواړو خوا نه تګ راتګ پنځه ساعتونو نه هم زیات نیول او که چا به بایسکل درلود، نو درې ساعته یې نیول. که بعضې د دې زده کوونکو د عمرا خان په لیسه کې سبق وایه؛ نو هغه هم ګرانه وه ځکه چې هلته یې باید د اوسېدلو ځای درلودلی وای او زیات مصارفو ته ضرورت و چې د اکثره خلکو د مالي وسې نه پوره نه وه.

یو شمېر شاګردانو د لومړي صنف نه سبقونه د کابل د رحمان بابا، خوشال خان او ابن سینا په ښوونځیو کې ویل چې دا هم ډېر ستونزمن کار و، چې یو شپږ کلن یا اوه کلن ماشوم د خپل مور او پلار او کورنۍ نه لرې د لیلیې په سختو شرایطو کې سبق ووایي. په هغه وخت کې د کونړ نه کابل ته تګ هم څه اسانه کار نه و او څوک چې د کوم کار او یا سبق لپاره کابل ته تلل؛ نو د قرآن شریفونو نه به یې مور او پلار تېراوه، چې په خیر ورسېږي. غونزاخي او خواږه ټیکلي، جوش کړې هګۍ او نور څه خوراکي موادو به یې ورته تیارول چې په لاره کې یې وخوري ځکه هوټلې او رستورانونه په لاره کې نه وو او یا به د چا وسه نه کېدله چې په رستورانونو کې ډوډۍ وخوري. کابل ته تګ هم څو ورځې نیولې او حتی د پوهنتون په وخت کې زما یادېږي چې یو ځلې د اختر په دویمه ورځ موږ له خاص کونړه د کامې پله پورې په پښو ټوله ورځ مزل وکړ، ځکه موټرې نه وې او که په درېیمه ورځ کابل ته نه وای رسېدلي نو یو امتحان رانه تېرېده.

د پورته مشکلاتو په نظر کې نیولو سره ډېرو بارسوخه کسانو هم نه غوښتل کې چې خپل زامن په ښوونځیو کې داخل کړي او یا یې کابل ته د زده کړو لپاره ولېږي. د هاشم خان د صدارت په وخت کې کوښښ وشو چې د ملکانو او سپین ږیرو زامن خامخا په عسکري ښوونځیو کې داخل کړي؛ نو زموږ د کلي یو مشهور ملک شیرمحمد خان چې په شېري



ملک مشهور و، د خپل زوی شیر افضل خان په ځای یې خپل یو لرې وراره د میاجان په نامه حربي لېسې ته ولېږه. میاجان د شیرافضل خان په نامه خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او بالاخره هغه ترکیې ته برس واخیست او وروسته ملي دفاع وزارت د اوپراسیون ریاست مقام ته ورسېده. نوموړی چې د ډګروال شیرافضل خان مومند په نامه شهرت پیدا کړ وروسته د داؤد خان د جمهوري ریاست په دوره کې د میوندوال په کودتا کې ونیول شو او په دهمزنګ کې یې پنځه کاله بند تېر کړ. کله چې میاجان صاحب منصب شو نو شېري ملک داؤد خان ته ورغی او د خپل زوی کیسه یې ورته وکړه، چې ده خپل وراره لېږلی و او اوس د ده زوی په کور کې ناست دی نو د ده زوی هم صاحب منصب کړه. څرنګه چې د شېري ملک کورنۍ داؤدخان پېژندله نو د هغه زوی شیرافضل خان یې د کونړ په سیند د ټولو تاڼو صوبه دار مقرر کړ، چې بیا تر اخره شیرافضل خان د صوبه دار صاحب په نامه شهرت درلود او د خاص کونړ د سورۍ تېرې په سیمه کې یې تاڼه جوړه کړه او د پوره قدرت او شهرت خاوند و.

کله چې زه په ۱۳۵۰ هجري شمسي کال کې خاص کونړ ته راغلم؛ نو د خاص کونړ لېسه زموږ د کور نه تقریباً د دوه ساعتو په مزل لیرې وه، نو پلار مې راته یو وړوکی اریانا بایسکل واخیست. دا نوع بایسکلې د کابل په جنګلک فابریکه کې جوړېدې. دا یوازینی اریانا بایسکل په ټوله ولسوالۍ کې و او دا بایسکل یې راته ځکه اخیستی و، چې زه وړوکی وم او د دې نه لوی بایسکل مې چلولی نه شو. هر ورځ به سهار وختي په یخنۍ او باران کې خاص کونړ لېسې ته تلم او دواړه خوا تګ او راتګ دوه ساعته نیول؛ خو هغه زده کوونکو چې بایسکلې نه درلودې نو باید څلور ساعته یې هره ورځ مزل کړی وای. له دې سره مې خپل سبق ښه وایه او په خپل ټولګي کې به همېشه اول نومره وم. پر سبق سربېره به مو غواګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ساتلې او سهار وختي مخکې له دې چې ښوونځي ته لاړ شم؛ نو کله به چې زموږ مزدور نه و، نو شفتل به مې هم ریبل او غواګانو ته به مو دومره خوراکه اچوله چې زما تر راتګ پورې وشي. دا چې په خویندو او ورونو کې د ټولو نه مشر وم نو د کور ټول مسوولیت زما پر غاړه و ځکه پلار مې په مزارشریف کې ماموریت درلود. ژرندې ته به مې دانې هم وړلې او داسې وخت به هم و، چې ټوله شپه به مو په ژرنده کې تېرولـه، چې زموږ د دانو د اوړه کولو نوبت راشي او که دانې به مو پرېښودلې، نو بیا به یې څو شپې او ورځې هم نیولې او ژرنده ګړي ماما به کله غلا هم کوله. هغه وخت کې د اوړو کولو ماشینونه نه وو او په ټول کونړ کې د اوړو کولو یو ماشین و، چې هغه هم له موږ نه ډېر لرې و. دا ټولې ستونزې ماته عجیبې او غریبې غوندې ښکاریدلې ځکه د دې نه مخکې ما دا کارونه په کابل او مزار کې نه وو کړي او نه مې لیدلي وو. که څه هم نسبتاً د نورو ګاونډیانو نه زموږ ژوند یو څه ښه و؛ خو دا بعضې کارونه داسې وو چې هرومرو باید ما کړي واى او ماته هم دلچسپه وو او همېشه به مې د دهقانانو سره شودیاري، ییوه کولو، غوبل کولو، درمند پاکولو، غنمو ریبلو، للون کولو او شولې نالولو کې برخه اخیسته. دا هر کار ځانته تخصص غواړي او چې عملي دې نه وي کړى نو مشکله ده چې په تیورکي شکل یې بیان کړاى شي.

هغه زده کوونکی به چې د ټولو مضامینو لپاره کتابونه، قلم او کتابچې درلودې؛ نو هغه خو د پاچا بچی و او زیاتره زده کوونکو او هم صنفیانو مې دا هم نه درلودل. د نی قلم او د لرګي تخته به مو د مشاقۍ لپاره استعمالوله او د چا چې اقتصادي وسه لږه ښه وه؛ نو د تختې سیاهي به یې اخیستله او که به ښه نه وه؛ نو د لرګیو د تورکي نه به یې د مشق تختې لپاره سیاهي جوړوله. برق او جنریټرونه او سولر شیشې خو چا له سره نه



پېژندلې او اکثره کورونو کې لاټین هم نه وه او چمنګانې[۱۳۶] به یې استعمالولې. استادانو اکثره وخت تباشیر هم د تورې تختې لپاره نه درلود او هغه به یې هم په زده کوونکو حواله کول او ټولو صنفونو ته څوکۍ هم نه وې، د لېسې د دوه تعمیرونو نه بهر به زده کوونکو په ډاګ کې ناست وو. چې هوا به ګرمه شوه نو د څښلو د اوبو هم څه درک نه لګېده. پاکې اوبه هغه وې چې د ښوونځي نه لاندې به په ویاله کې روانې وې او هغه به اکثریت د کونړ خلکو څښلې؛ خو دا چې د منګوال سیمه د ولسوالۍ په پایناب یا اخره کې پرته وه نو روانې اوبه به هم نه وې او خلکو به اوبه د ډندونو نه چې جوړونه به یې ورته ویل، څښلې. بعضې وخت به چې د کونړ ویاله وچه شوه نو د ډندونو اوبه به هم نه وې او موږ به پر خرو اوبه د کونړ د سیند نه کورونو ته راوړلې. نه پوهېږم چې ولې دا رواج نه و، چې خلک کوهیان وکاږي او اکثره مشرانو به ویل چې د کوهیانو اوبه ښوېږې دي او چاي پکې ښه نه راځي، نو ځکه دوی کوهیان نه ویستل.

## شنې شپې

لکه څنګه چې مې مخکې د ساپو د جګړو په اړه یادونه کړې، چې د ولس غریبي او د حکومت له خوا ناروا او د ولس د وسې نه اوچت ټکس د ساپو پاڅون اصلي عامل و؛ نو د کونړ خلک په عمومي توګه ډېر غریب دي ځکه ځمکې ډېرې کمې او نور داسې صنعتي کارونه په دې سیمه کې نه وو، چې د خلکو روزګار پرې ښه شوی واى. ولس اکثریت په ګېډه هم موړ نه و. ښه ژوند کول خو پرېږده، چې د ژوند لومړني اساسي ضرورتونه

[۱۳۶] په یو بوتل کې به یې پلته اچوله او د شړشمو تېل به یې په بوتل کې اچول او هغه به یې د رڼا لپاره لګوله چې دته یې چمني ویله. بعضې وخت حلبې سازانو د ټیم نه هم چمنۍ جوړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه صحي خواړه، پاکې اوبه، ښوونځیو ته تګ، او لازم درملو ته لاسرسی نه و. د غرنیو علاقو د خلکو ژوند د سمې د علاقې (هغه سیمې چې یو څه ځمکه یې درلوده) د ژوند نه ډېر خراب و او د ژمي او مني په موسمونو کې به زیاتره کورنۍ د غرونو نه لاندې راښکته کېدلې او چا به کومه اضافه کوټه (خونه) درلوده؛ نو دوی ته به یې ورکوله او څو کډې (فامیلونه) به په یوه کوټه کې اوسېدل. د دې کورنیو ښځو به د نورو په کورونو کې په څلورو یا پنځه و سوکړکانو د ورځې کار کاوه او نارینه و به هم په اندکه مزدورۍ د سیمې د نورو کسانو چې لږ توان یې درلود کار کاوه. په دې دوه فصلونو کې به دوی دومره توښه ځانونو ته برابروله چې بېرته خپلو کورونو ته ستنېږي؛ نو د پسرلي او اوړي په فصلونو کې یې پرې ژوند تېر شي.

شنې شپې ما هم نه پېژندلې او د پسرلي په اخره کې به زیاترو ګاوندېیانو ویلې چې شنې شپې دي؛ نو ما فکر کاوه چې غنم شنه ولاړ دي او هر څه شنه دي؛ نو ځکه دا ګاونډیان وایي چې شنې شپې دي یعنې هر څه ښایسته ښکاري. خو تره مې راته وویل چې د شنو شپو نه مطلب دا دی چې د غنمو او جوارو زوړ فصل خلاص شوی او نوی فصل لا نه دی رسېدلی نو اکثره کورنۍ په کورونو کې کافي غله (دانې) نه لري او له خوراک سره ګذاره کوي. د زیاترو کورنیو به چې دانې خلاصېدلې نو بیا به یې د هغه چا نه پور کاوه چې یو څه اضافي دانې به یې درلودلې او هغه به یې هم بیا د غنمو او اوربشو د درومندونو وروسته دوه چنده ورکولې. په امریکې کې ناست وم؛ نو د وطن دا شنې شپې مې راپه یاد شوې او دا لاندې څو بیته نیمچه شعر مې ولیکلو:

هرندن ښار، ویرجینا، امریکا، جنوري اوله نېټه کال ۲۰۱۳ م



شنې شپې
راپه یاد شوې د وطن شنې شپې
د پسرلی په اخره کې
زوړ فصل
به خلاص شوی و
نوی فصل
به شین و په پټو کې
زموږ بې زمینه
او مجبوره ولس
به چړ کاوه
په یوه لپه دانو پسې
ګرځېده به
په کلي کې نر او ښځې
چې څو منه
دانې په نیسا کړي
چې خپلو
بچو لره اذوقه د سبا کړي
څومره غریبي وه
چې په وچه مړی
ماړه نه وو په نس
اولس زموږ په کلي کې

اکثره کورونو به چې غواګانې هم درلودې شیدې او مستې به یې نه خوړلې او له هغه نه به یې غوړي جوړول او هغه به یې خرخول. اکثرو کورنیو ته چرګ او وریجې پخول خورا معتبره خواړه و او ډېر قدرمن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتبره مېلمه لپاره به یې دا تیارول. یوازې په څو مهمو ورځو لکه اخترونو او برات کې به زیاتره کورنیو غوښه خوړله. قصابي په ټوله ولسوالۍ کې نه وه او وروسته یوه قصابي د خاص کونړ د اراضۍ په سیمه کې وه چې هغه قصاب هم د خاص کونړ د کنډک سره قرارداد درلود، که وختي به ورغلې نو یو څه غوښه دې اخیستلی شوه. په خیرات او ودونو کې زیاته غوښه یو غټه خبره وه او خلکو به په ډېر خوند سره خوړله. یوه ورځ د کلي ګرام کلي ته د ترورزي سره لاړ وم، چې زما هم صنفي و نو ترور مې راته هر څه ډېر ښه تیار کړل او سوکړک یې راوړ خو ډوډۍ نه وه. یو ځل بیا د دوی کورته لاړ وم نو بیا یې د غرمې له خوا سوکړک راوړ؛ نو په دې وخت کې زما شپې په کونړ کې زیاتې شوې وې، نو د سوکړک نه مې یو څه زړه تور شوی و، ترور ته مې وویل چې تاسې ډوډۍ نه پخوئ نو هغې بیچاره ګۍ په کلي کې خپله مزدوره وګرځوله؛ خو ډوډۍ یې پیدا نه کړه نو راته ویې ویل چې خوری جانه! په دې کلي کې خلک ډېر غریب دي او هیڅوک د غرمې ډوډې نه پخوي. که څه هم زما د ترور کورنۍ ښه زمینداره وه او ژوند یې ښه و؛ خو دوی هم د کلي د رواج نه ځانونه نه شو خلاصولی او ویل یې چې څوک مریض وي؛ نو هغوی ته د غنمو ډوډۍ د غرمې له خوا پخوي.

دا چې ما تر اتم صنف پورې د کونړ نه بهر ژوند کړی و؛ نو دا ټولې خبرې راته هم عجیبه ښکارېدې ځکه په مزار شریف کې ډوډۍ او مېلمستیا څه خبره نه وه. د کونړ د غریبۍ راته هغه وخت نوره هم پته ولګېده چې کله موږ مهاجر شولو، زموږ د کلي نه یو ساعت لرې چې موږ په غره کې اوسېدلو؛ نو د هغو خلکو ژوند زموږ تر کلیوالو هم خراب و. په لیرې پرتو غرنیو سیمو کې به مالګه هم ډېره قیمتي خبره و. اکثره کورنیو به د مالګې ګټ نه میده کاوه او مېلمه ته به یې د مالګې تیږه راوړه او



ډوډۍ به یې د هغې پورې سولوله چې زیاته مالګه مصرف نه شي. دا متل و چې مالګه څټلې خورې که دوړولې.

په ۱۹۹۴م کلونو کې ما د ملګرو ملتو د UNDP/OPS سره کار کاوه؛ نو د خوست د تڼیو ولسوالۍ ته لاړم د هغو خلکو مشکل د کونړ نه هم زیات و، ځکه هغوی بېخي رواني اوبه نه درلودې او د ډونډېونو له خوسا اوبه نه به یې استفاده کوله، حتی چای به یې هم بد خوند درلود او موږ به نه شو څښلی. هغه وخت ما ته دا فکر را پیدا شو چې د ثور د کودتاه نه دمخه افغانستان واقعاً یو کُلي تغییر ته ضرورت درلود ځکه د ښارونو او اطرافونو د ژوند ترمنځ خورا زیات توپیر موجود و او د کونډېې زوی په فلم کې د ښاري او اطرافي ژوند ښه تمثیل شوی دی؛ خو متاسفانه دا تغییر مثبت نه و بلکې منفي تغییر رامنځته شو. پخوا د حاکمو نظامونو سره د خلکو د ژوند د ښه کېدو څه فکر او اجنډا نه وه او ولس یې خپل رعیت او غلام ګاڼه؛ نو په دې توګه د کونړ ولس د هر نوع مدني حقوقو څخه محروم ولس و.

«««پای»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضمایم:

## شاه محمود میاخیل فرهنګي او ټولنیز مرکز

**شاه محمود میاخیل فرهنګي او ټولنیز مرکز د ۱۳۹۵ لمریز کال په لومړۍ په ورځ د افغانستان د بیلابیلو سیمو او ولایتونو څخه د راغلو سلګونو سیاسي، علمي او فرهنګي شخصیتونو په شتون کې د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ په تنر کلي کې پرانیستل شو. د دې مرکز، لرلید، موخه او دندې په لاندې ډول دي.**

**<u>لر لید:</u> په علم سنباله، په فکري نوښتونو ښېرازه ، د بډایه فرهنګ څښتنه او سوله ییزه ټولنه د دې مرکز ارمان دی.**

**<u>موخه:</u> د دې مرکز موخه د ټولنې په ټولو وګړو او په ځانګړي ډول په ځوان کهول کې د فکري روښانتیا رامنځته کول او هڅول، د دوی د علمي، فکري او فرهنګي ودې لپاره زمینه هوارول، د ټولنیزې (مدني) ودې ګړندي کول او د ګډ، سوله ییز، هوسا او په نوښتونو ولاړ ژوند په لور برابرول دي. امید دی چې دا مرکز د افغانستان د نورو ولسوالیو لپاره یوه ښه نمونه شي چې هلته هم داسي مرکزونه جوړ شي.**



### <u>دندې:</u>

### <u>الف: فرهنګي فعالیتونه:</u>

**۱. دعلمي، سیاسي او اجتماعي سیمنارونو او لکچرونو برابرول**

**۲. د لېسو د دولسمو ټولګیو فارغینو ته د کانکور د تیاریو د کورسونو وړیا برابرول**

**۳. د انګلیسي ژبې او کمپیوټر د زده کړې وړیا کورسونه برابرول**

**۴. د یوه شتمن کتابتون جوړول او د هغه نه د ښې ګټې اخیستنې لپاره د ځوانانو هڅول**

**۵. د علم او فرهنګ د بډاینې لپاره د ګټورو کتابونو چاپول او د ښو کتابونو د پیغام د عاملو په موخه د هغوی د مخکتنې او کره کتنې غونډې برابرول**

**۶. د شاه محمود میاخیل فرهنګي او ټولنیز مرکز په نامه د یوې ادبي او ټولنیزې مجلې (وستل په نوم) د چاپولو تابیا کول**

**۷. د هېواد د علمي، فرهنګي او ټولنیزو سټو او مهمو شخصیتونو لمانځل**

**۸. د ټولنې د اصلاح په پار د مستندو، علمي، هنري او طنزیه غونډو او تصویري پروګرامونو جوړول**

### <u>ب: ټولنیز فعالیتونه:</u>

**۱. د سیمه ییزو شخړو هوارول**

**۲. په ولس کې د سوله ییزو فکرونو د روزنې په هدف د سولې د زده کړې او د نه تېري (عدم تشدد) اړوند د پوهاوي پروګرامونه جوړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. په سیمه کې د ژوند د بهترۍ لپاره اشرونو او رضاکارانه کارونو رهبري کول

٤. د ناسمو ټولنیزو دودونو د مخنیوي او د ښو دودونو د رواجولو او نورو اجتماعي او سیاسي ښېګنو اړوند غونډې دایرول

٥. د سولې او ثبات راوستلو په چارو کې د ولس د خوځنده ونډې اخیستلو په موخه د ولس هڅول

٦. ولس ته دحقوقي پوهاوي او د خپلو حقونو د غوښتلو پوهه او وړتیا ورکول

٧. د سواد د زده کړې کورسونه جوړول اوپه لویه کې د تعلیم د کچې په لوړولو کې د ولس برخه اخیستنې ته لاره هوارول

٨. د ملي او دیني ورځو لمانځل او ددغو لمانځنو لپاره غونډې او سیمینارونه جوړول



## د لوی خان میرزمان خان شجره[۱۳۷]




[۱۳۷] او د اسقلال خلورمه جبهه صفحه ۹۰ دویم چاپ کال ۱۳۹۵ل http://www.zamani.itgo.com/Member's%۲۰of%۲۰Zamani.htm

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال نور چاپ شوې اثار

- ✓ بېړنۍ لویه جرګه او د مشرقي په ولایتونو کې د انتخاباتو بهیر
- ✓ د وطن معماران.
- ✓ د واقعیتونو په بهیر کې.
- ✓ د کورنیو چارو وزارت لاسته راوړنې او خنډونه.
- ✓ مخکتاب (د فیسبوک د لیکنو او بحثونو) ټولګه
- ✓ درېیمه زاویه (د فیسبوکي لیکنې او خاطرې)
- ✓ **Understanding Afghanistan (collection Articles of English Articles)).**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
www.hambastagi.org

جدول قتل عام دسته جمعی قریه کرهاله شهیدان کو کلی بابت سال ۳۱/حمل/۱۳۵۸ ... ورق ۲ اول

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | وظیفه | تاریخ | جرم | عمر | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مشر رفیق | غلام محمد | دهقان | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمع مبارکه | ۶۸ | کلش |
| ۲ | تاج محمد | عبدالودود | خاتمه شاپان ورزی | // | // | ۶۵ | // |
| ۳ | محمد رفیق | عبدالودود | تکنیشن نی پیزرت | // | // | ۶۳ | // |
| ۴ | فضل معبود | عبدالودود | غریبکار | // | // | ۶۰ | // |
| ۵ | فضل الرحمن | تاج محمد | مامور دولت | // | // | ۳۴ | // |
| ۶ | حبیب الرحمن | تاج محمد | محصل | // | // | ۱۹ | // |
| ۷ | سلطان محمد | محمد طاهر | فارغ صنف ۱۲ | // | // | ۲۴ | // |
| ۸ | شهسوار خان | مصلی خان | مستری | // | // | ۶۰ | // |
| ۹ | عبدالغفار | حضرت علی | معلم | // | // | ۴۰ | // |
| ۱۰ | عرب خان | حضرت علی | معلم | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | // | ۴۱ | // |
| ۱۱ | محمد گل | محمد زمان | مرچی | // | // | ۶۵ | // |
| ۱۲ | سید عظیم | عبدالعظیم | غریبکار | // | // | ۶۵ | // |
| ۱۳ | رحمان الله | محمد الله | غریبکار | // | // | ۶۸ | // |
| ۱۴ | عزیز محمد | رحمان الله | دهقان | // | // | ۲۸ | // |
| ۱۵ | محمد | ملا عمر | دهقان | // | // | ۵۵ | // |
| ۱۶ | محمد علی | ملا عمر | دهقان | // | // | ۵۴ | // |
| ۱۷ | ملا عمر | رشید عمر | غریبکار | // | // | ۷۰ | // |
| ۱۸ | شیخ رحمت الله | شیخ مختار | غریبکار | // | // | ۷۰ | // |
| ۱۹ | شیخ نعمت الله | شیخ مختار | غریبکار | // | // | ۶۶ | // |
| ۲۰ | طلا محمد | نعمت الله | مامور دولت | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمع مبارکه | ۴۰ | // |
| ۲۱ | محمد شاه | نعمت الله | متعلم | // | // | ۳۰ | // |
| ۲۲ | رحمت جان | رحمت الله | غریبکار | // | // | ۳۵ | // |
| ۲۳ | فضل خان | رحمت الله | مامور دولت | // | // | ۴۰ | // |
| ۲۴ | طالب | محمد زمان | غریبکار | // | // | ۶۰ | // |
| ۲۵ | سید حبیب | مجیب خان | غریبکار | // | // | ۷۰ | // |
| ۲۶ | محمد ظریف | سید حبیب | غریبکار | // | // | ۴۰ | // |
| ۲۷ | رحمن | اکرم | غریبکار | // | // | ۶۵ | // |
| ۲۸ | حسن الرحمن | رحمن | غریبکار | // | // | ۳۰ | // |
| ۲۹ | انوار الرحمن | رحمن | غریبکار | // | // | ۳۵ | // |
| ۳۰ | عبدالغفار | محمد ظفر | دوکاندار | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمع مبارکه | ۵۵ | // |

بیمو رتبه قرار داد کرهالی کلی در نتیجه قتل عام شهیدان تو جدول ترتیب و صحت دیدیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | وظیفه | تاریخ | محل | عمر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | گل زرور | غلام محمد | غریبکار | ۲۰/حمل/۱۳۵۸ | جمعه مبارکه | ۵۵ ساله |
| ۳۲ | سید احمد گل | محمد گل | دهقان | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۳۳ | عزت الله | سید رحمن گل | متعلم | ″ | ″ | ″ ۱۸ |
| ۳۴ | حنا علی | ذبیح الله | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۸ |
| ۳۵ | مرتبش | کریم خان | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۳۶ | گل شاه علی | محمد هاشم | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۴۰ |
| ۳۷ | جنت اکبر | مرتبش | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۳۰ |
| ۳۸ | حافظ خان | محمد زمین | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۳۹ | ملنگ | محمد زمین | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۰ |
| ۴۰ | گلکول | محمد زمین | مامور دولت | ″ | ″ | ″ ۴۶ |
| ۴۱ | خیر محمد | حاجی جان محمد | دهقان | ″ | ″ | ″ ۴۶ |
| ۴۲ | یعقوب خان | ملا نور محمد | معلم | ″ | ″ | ″ ۶۰ |
| ۴۳ | عبدالشکور | ملا نور محمد | دهقان | ″ | ″ | ″ ۵۸ |
| ۴۴ | جنت اکبر | یعقوب خان | مامور دولت | ″ | ″ | ″ ۲۴ |
| ۴۵ | آخر محمد | سلطان محمد | دهقان | ″ | ″ | ″ ۵۰ |
| ۴۶ | ولی محمد | سلطان محمد | مامور دولت | ″ | ″ | ″ ۳۵ |
| ۴۷ | محمد یوسف | پیر محمد | معلم | ″ | ″ | ″ ۵۰ |
| ۴۸ | سیف الله خان | ملک میرزا احمد خان | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۰ |
| ۴۹ | سرور خان | زمین خان | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۵۰ | فضل محمد | فضل الرحیم | دوکاندار | ″ | ″ | ″ ۵۰ |
| ۵۱ | قدر محمد | محمد | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۶۵ |
| ۵۲ | محمد جان ملنگ | ملک خان | تحویلدار | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۵۳ | حمیدالله کچی | یعقوب خان | متعلم | ″ | ″ | ″ ۳۲ |
| ۵۴ | محمد کریم خیاط | کریم | خیاط | ″ | ″ | ″ ۶۵ |
| ۵۵ | نعمت الله | سید حبیب | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۳۲ |
| ۵۶ | دیر علم | حضرت غلام | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۵۵ |
| ۵۷ | محمد شیناک | ذبیح الله خان | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۳۰ |
| ۵۸ | گل احمد جان | محمد شینا | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۳۰ |
| ۵۹ | فضل الرحمن | رحمن | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۳۲ |
| ۶۰ | افسر | فتح محمد | غریبکار | ″ | ″ | ″ ۶۰ |

- پورته قرار د شهیدانو جدول ترتیب او ثبت دی — عبدالرحیم منشی د شوری

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولدیت | وظیفه | تاریخ | محل | عمر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶۱ | حاجی محمد عمر | ملک نور محمد | پیشه [illegible] | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمعه مبارکه | ۵۸ ساله |
| ۶۲ | محمد رفیق | میر رفیق | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۵۵ |
| ۶۳ | مولوی عبدالرشید | مولوی خلیل | مولوی خطیب | 〃 | 〃 | 〃 ۶۰ |
| ۶۴ | سردار خان | حاجی محمد خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۶۰ |
| ۶۵ | مولوی عبدالخالق | مولوی خلیل | مولوی خطیب | 〃 | 〃 | 〃 ۶۵ |
| ۶۶ | محمد زرین | رحمن خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۵۸۰ |
| ۶۷ | آمر سلام | سرصلاح خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۸ |
| ۶۸ | غلام محی | سرسلاح خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۵ |
| ۶۹ | محمد داود | سرسلاح خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۳۵ |
| ۷۰ | محمد نور | ملک افسر خان | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۲۲ |
| ۷۱ | عبدالحبیب | سلطان محمد | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۶۰ |
| ۷۲ | یوسف خان | عبدالحبیب | نجار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۸ |
| ۷۳ | شکندر | عبدالحبیب | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۲۰ |
| ۷۴ | فضل | محمد رفیق | خیاط | 〃 | 〃 | 〃 ۵۰ |
| ۷۵ | شمس الرحمن | محمد کریم | دلوراته | 〃 | 〃 | 〃 ۴۵ |
| ۷۶ | شفیق الله | محمد کریم | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۲۰ |
| ۷۷ | سید محمد خان | نور علی | معلم | 〃 | 〃 | 〃 ۳۵ |
| ۷۸ | شاه محمود | نور علی | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۳۰ |
| ۷۹ | جهانگیر خان | گلاب | معلم | 〃 | 〃 | 〃 ۳۵ |
| ۸۰ | مکرم خان | گلاب | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۰ |
| ۸۱ | جمشید | گلاب | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۲۲ |
| ۸۲ | یار محمد | سلطان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۶۰ |
| ۸۳ | عبدالخالق | یار محمد | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۳۰ |
| ۸۴ | محمد عزیز خان | محمد عظیم خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۵۵ |
| ۸۵ | عبدالعزیز خان | محمد عزیز خان | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۳۰ |
| ۸۶ | عبدالواحد | محمد عزیز خان | متعلم | 〃 | 〃 | 〃 ۱۶ |
| ۸۷ | شهزاده | شاه تماس خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۵ |
| ۸۸ | زرگر ور خان | شاه تماس خان | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۴۲ |
| ۸۹ | محمد رفیق | گل ذره | عالم دین | 〃 | 〃 | 〃 ۳۰ |
| ۹۰ | خیر الله | مشر شیق | غریبکار | 〃 | 〃 | 〃 ۵۵ |

— به اینترتیب قرار شهیدانو جدول ترتیب و ارائه گردید — منشی شورای — عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | وظیفه | تاریخ | جرم | عمر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹۱ | حضرت حسین | شریف | غریبکار | ۳۱/حوت/۱۳۵۷ | حمله مبارزین | ۳۵ مکلف |
| ۹۲ | ملک اسلام | ملک عبدالرشید | ملک قریه | " | " | ۶۵ " |
| ۹۳ | محمد قلاب | ملک عبدالرشید | غریبکار | " | " | ۶۲ " |
| ۹۴ | محمد هاشم | ملک عبدالرشید | غریبکار | " | " | ۶۰ " |
| ۹۵ | داد محمد | ملک عبدالرشید | غریبکار | " | " | ۵۵ " |
| ۹۶ | حبیب الحق | ملک اسلام | متعلم | " | " | ۲۲ " |
| ۹۷ | غفار | کیمیاگر | خیاط | " | " | ۴۰ " |
| ۹۸ | سیدرگل | محمدرگل باچا | چینک ساز | " | " | ۶۰ " |
| ۹۹ | محمد شریف خان | محمد عظیم خان | خیاط | " | " | ۴۵ " |
| ۱۰۰ | محمد | محمد عظیم خان | غریبکار | " | " | ۴۸ " |
| ۱۰۱ | جرسلام | شاه محمود | متعلم | " | " | ۲۵ " |
| ۱۰۲ | منگل | شاه محمود | متعلم | " | " | ۱۸ " |
| ۱۰۳ | حیات خان | اکرم جان | غریبکار | " | " | ۴۰ " |
| ۱۰۴ | داور خان | اکرم جان | متعلم | " | " | ۲۸ " |
| ۱۰۵ | باورگل | صدبر خان | غریبکار | " | " | ۵۵ " |
| ۱۰۶ | محصل | صدبر خان | غریبکار | " | " | ۵۰ " |
| ۱۰۷ | نور محمد | نور | غریبکار | " | " | ۲۵ " |
| ۱۰۸ | حضرت خان | سلطان | غریبکار | " | " | ۶۸ " |
| ۱۰۹ | ابراهیم | شیرعلی | غریبکار | " | " | ۶۰ " |
| ۱۱۰ | امان الله | شیردار | مامور | " | " | ۶۵ " |
| ۱۱۱ | سعدالله | شیرعلی | دهقان | " | " | ۵۵ " |
| ۱۱۲ | شمس الدین | شیردل | متعلم | " | " | ۳۰ " |
| ۱۱۳ | شیرزمان | گل زمان | غریبکار | " | " | ۶۸ " |
| ۱۱۴ | سید امام الدین | نورالدین | غریبکار | " | " | ۶۵ " |
| ۱۱۵ | گل محمد خان | سید امام الدین | متعلم | " | " | ۳۰ " |
| ۱۱۶ | سید محمد | گل محمد | غریبکار | " | " | ۴۰ " |
| ۱۱۷ | شیردل | سردار | غریبکار | " | " | ۷۰ " |
| ۱۱۸ | جمروز خان | فردوس خان | ترکشگر | " | " | ۶۰ " |
| ۱۱۹ | موسی جان | شاه جهان | غریبکار | " | " | ۶۸ " |
| ۱۲۰ | محمود خان | موسی خان | غریبکار | " | " | ۵۰ " |

- به اینواسطه تصدیق میگردد که شهدای فوق جدول ترتیب اولت دیکی

منشی شورای
عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | ولدیت | وظیفه | تاریخ | محل |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲۱ | مرتضی | موسی خان | متعلم | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | جمع مبارکه |
| ۱۲۲ | عبدالغفور | بختیور خان | غریبکار | // | // |
| ۱۲۳ | محمد حسن | رسام الدین | غریبکار | // | // |
| ۱۲۴ | گل حسن | محسن | معلم | // | // |
| ۱۲۵ | نور حسن | محسن | معلم | // | // |
| ۱۲۶ | امین الدین | رسام الدین | غریبکار | // | // |
| ۱۲۷ | عجب خان | امین الدین | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۲۸ | سید مرجان | حضرت گل | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۲۹ | عبدالقیوم | سرگند | غریبکار | // | // |
| ۱۳۰ | صفادر خان | عبدالقیوم | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۳۱ | شاه نادر | منصور خان | غریبکار | // | // |
| ۱۳۲ | باور خان | محمد عالم | متعلم | // | // |
| ۱۳۳ | بزرگ | محمد عالم | متعلم | // | // |
| ۱۳۴ | عبدالرحمن | بهره من خان | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۳۵ | حبیب الرحمن | بهره من خان | متعلم | // | // |
| ۱۳۶ | گل الرحمن | بهره من خان | متعلم | // | // |
| ۱۳۷ | محمد کریم | عبدالکریم | غریبکار | // | // |
| ۱۳۸ | پهلوان | عبدالکریم | غریبکار | // | // |
| ۱۳۹ | ملنگ | محمد کریم | مامور دولت | // | // |
| ۱۴۰ | حبیب الرحمن | محمد کریم | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۴۱ | حبیب الله | ملا عبدالحقیق | غریبکار | // | // |
| ۱۴۲ | لاله جان | ملا عبدالحقیق | ۱۲ پاس | // | // |
| ۱۴۳ | محمد اکبر | یار گل خان | متعلم | // | // |
| ۱۴۴ | ملا عبدالحکیم | ملا عبدالحفیظ | ملا | // | // |
| ۱۴۵ | ملا وزیر محمد | ملا [illegible] | مولوی | // | // |
| ۱۴۶ | ملا سعیدالرحمن | ملا جان | مامور دولت | // | // |
| ۱۴۷ | گل جان | صفدر خان | غریبکار | // | // |
| ۱۴۸ | محمد عظیم خان | منصور خان | غریبکار | // | // |
| ۱۴۹ | مسافر خان | حمزه خان | مامور دولت | // | // |
| ۱۵۰ | محمد یونس | شاغر خان | مامور دولت | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | جمع مبارکه |

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| نمبر | شهرت: اسم | ولد | شغل | تاریخ | [illegible] |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵۱ | محمد یوسف | شاه فرخان | ۱۲ پاس | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | حکم محاکمه |
| ۱۵۲ | مرزا جان | سید مرجان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۵۳ | محمد رحیم | فقیر محمد | ۱۲ پاس | 〃 | 〃 |
| ۱۵۴ | داود الله | روح الله | گلیمکار | 〃 | 〃 |
| ۱۵۵ | محمد رشید | آرمش الله | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۱۵۶ | آرنوز خان | گلو | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۱۵۷ | گلدیر جان | گلو | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۱۵۸ | عبدالستار | سید مختار | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۵۹ | سرمعلم عبدالحبیب | [illegible] | سرمعلم | 〃 | 〃 |
| ۱۶۰ | عبدالقدیر خان | فیض محمد | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۱۶۱ | غلام صدیق | فیض محمد | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۶۲ | فضل واحد | ملا عبدالرزاق | گدام دار | 〃 | 〃 |
| ۱۶۳ | حبیب الله | ملا عبدالرزاق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۶۴ | عبدالکبیر | عبدالبصیر | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۱۶۵ | محمد رسول | محمد کریم | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۱۶۶ | سید رسول | محمد کریم | ۱۲ پاس | 〃 | 〃 |
| ۱۶۷ | میر حمزه | عالم خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۶۸ | غلام دستگیر | عالم خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۶۹ | عبدالرزاق | عبدالخالق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۷۰ | فضل حق | عبدالخالق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۷۱ | محمد رفیق | عبدالخالق | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۷۲ | غفار | عبدالخالق | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۷۳ | ملنگ | فضل حق | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۷۴ | بادام خان | جمال | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۷۵ | یعقوب خان | جمال | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۷۶ | صفر | یعقوب خان | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۱۷۷ | حمید خان | یعقوب خان | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۱۷۸ | شیر محمد خان | لعل محمد | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۱۷۹ | محمد عظیم خان | لعل محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۱۸۰ | محمد رفیق | کمال | 〃 | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | 〃 |

په لویه قرار د تحقیقاتو لست ترتیب او امضا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | ولد | مشغولیت | [illegible] | [illegible] |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸۱ | دریم خان | گل لال | غریبکار | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمعه مبارکه |
| ۱۸۲ | یار خان | غلام نبی | غریبکار | // | // |
| ۱۸۳ | صالح محمد | نور محمد | مامور دولت | // | // |
| ۱۸۴ | محمد رسول | نور محمد | مامور دولت | // | // |
| ۱۸۵ | سید محمد | نور محمد | فارغ صنف ۱۲ | // | // |
| ۱۸۶ | محمد زمین | گل زمین | غریبکار | // | // |
| ۱۸۷ | اختر محمد | خان محمد | مامور دولت | // | // |
| ۱۸۸ | وزیر محمد | خان محمد | معلم | // | // |
| ۱۸۹ | شاه ولی | شیر محمد | مامور دولت | // | // |
| ۱۹۰ | سید غفور | محمد الیاس | ملک قریه | // | // |
| ۱۹۱ | سر معلم عبدالجلال | محمد زمین | سر معلم | // | // |
| ۱۹۲ | بخت جان | محمد زمین | غریبکار | // | // |
| ۱۹۳ | ولی جان | محمد زمین | غریبکار | // | // |
| ۱۹۴ | گل الرحمن | محمد زمین | متعلم | // | // |
| ۱۹۵ | نور الرحمن | سمن جان | متعلم | // | // |
| ۱۹۶ | خوشحال خان | محمد | معلم | // | // |
| ۱۹۷ | عبدالغفور خان | لعلی | غریبکار | // | // |
| ۱۹۸ | زمین خان | ابراهیم | | // | // |
| ۱۹۹ | فقیر محمد | عبدالله جان | صاحب منصب | // | // |
| ۲۰۰ | سید محمد | فقیر محمد | متعلم | // | // |
| ۲۰۱ | محمد داوود | فقیر محمد | متعلم | // | // |
| ۲۰۲ | گل محمد | نور محمد | غریبکار | // | // |
| ۲۰۳ | امین الله | نقیب الله | غریبکار | // | // |
| ۲۰۴ | حکیم خان | کمال | غریبکار | // | // |
| ۲۰۵ | محمد علی خان | لعل محمد | غریبکار | // | // |
| ۲۰۶ | محمد خان | محمد علی خان | متعلم | // | // |
| ۲۰۷ | گل جان باچا | محمد عمر باچا | غریبکار | // | // |
| ۲۰۸ | سید آغا جان باچا | میرزا آغا جان | غریبکار | // | // |
| ۲۰۹ | شیر آغا | سید آغا جان | متعلم | // | // |
| ۲۱۰ | حسن باچا | سید مختار باچا | متعلم | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمعه مبارکه |

[illegible] قرار شهید دولت ترتیب [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | ولدیت | وظیفه | تاریخ | جرم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱۱ | عزیز الله | زرمیق الله | متعلم | ۲۲/حوت/۱۳۵۷ | جمع جنبه کر؟ |
| ۲۱۲ | محمد طاهر | فضل احمد | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۳ | تاج محمد | عبدالنصر جان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۴ | ملک محمد | نقیب الله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۵ | قاضی محمد | شفیع الرحمن | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۶ | محمد باشیق | سیف الرحمن | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۱۷ | زرمیق جان | دلسیار | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۸ | محمد کریم | مختار جان | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۲۱۹ | عصمت الله | عتیق الله جان | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۲۰ | اتیق خان | شوکیق خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۱ | سلطان محمد | کابل | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۲ | اکرم | کریم | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۳ | اکبر خان | اکرم | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۴ | حبیب جان | محبت خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۵ | محبت خان | محمد خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۶ | جمشید خان | جرجید خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۷ | شیر محمد خان | فضلی خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۸ | محمد حکیم | محمد ظفر | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۹ | شاه گل | مختار جان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۳۰ | خیر محمد | نجیب الله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۳۱ | گل خان | حیات خان | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۳۲ | حاجی گل محمد | رفیق محمد | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۳۳ | شفیق محمد | محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۳۴ | نور احمد | حضرت محمد | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۲۳۵ | محمد | سبحان الله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۳۶ | لونگ | محمد غنی | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۳۷ | سعادت من | خیر محمد | صاحب منصب | 〃 | 〃 |
| ۲۳۸ | محمد طاهر | نجیب الله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۳۹ | دلیس خان | حمدالله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۴۰ | محمد ولی | موسی خان | 〃 | 〃 | 〃 |

ترتیب شده قرار دستخط [illegible] لیست ترتیب و ثبت دی

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | ولد | وظیفه | تاریخ | جرم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴۱ | سید رفیق | رحمن الله | غریبکار | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | جمعیت مبارکه |
| ۲۴۲ | ترمزداره | صاحب زاده | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۴۳ | محمدالله | فضل الرحمن | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۴۴ | حبیب الله | گل زمان | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۴۵ | رحمان الله | ذاهدالله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۴۶ | سلطان محمد | محمد علی خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۴۷ | نوروز خان | گل رحمن | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۴۸ | عبدالقادر | شیناکر | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۴۹ | فیروز خان | حبیب الله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۵۰ | عبدالغنی | محمد ایوب خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۵۱ | طارق | سید رفیق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۵۲ | نور حبیب | محمدالله | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۵۳ | فاروق | کچکول | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۵۴ | جافرخان | فیض محمد | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۵۵ | رفیق خان | گاریه | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۵۶ | انور خان | سید محمد | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۵۷ | پیربادر | گل محمد | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۵۸ | عبدالرحیم | حبیب الرحیم | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۵۹ | داوود | سردار | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۶۰ | وزیر محمد | سید محمد | مامور دولت | 〃 | 〃 |
| ۲۶۱ | حبیب الله | محمد اسحق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۶۲ | محمد اسحق | شاه ولی | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۶۳ | فیروز | شاه ولی | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۶۴ | محمد روز | شاه ولی | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۶۵ | محمدالله | جانداد | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۶۶ | ذرمحمدالله | جان داد | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۶۷ | جانداد | عبدالرحیم | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۶۸ | جمال الدین | عین الدین | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۶۹ | کمال الدین | عین الدین | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۷۰ | سید محمد | محمد یاسین | غریبکار | 〃 | 〃 |

پورته قرار د شهیدانو جدول ترتیب او صحت یې دی

علاوالدین

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | جرم | تاریخ | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷۱ | گل محمد | شاه محمد | تخریبکار | ۱۳/حمل/۱۳۵۸ | حکم مبارکه |
| ۲۷۲ | نور محمد | پاشتیتی | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۳ | عالم گل | محمد گل | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۴ | محمد گل | صاحب گل | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۵ | محمد شیتا | جان محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۶ | رحمت الله | گل زمان | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۷ | نظام الدین | عبدالقیوم | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۸ | امین الله | عبدالقیوم | ″ | ″ | ″ |
| ۲۷۹ | پیرام | نور محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۲۸۰ | علی محمد | سید محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۲۸۱ | انعام الله | عبدالحق | متعلم | ″ | ″ |
| ۲۸۲ | رحمن الله | عبدالحق | متعلم | ″ | ″ |
| ۲۸۳ | ذبیح الله | حبیب الله | متعلم | ″ | ″ |
| ۲۸۴ | عبدالرحمن | محمد قابل | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۸۵ | شمس الرحمن | محمد قابل | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۸۶ | شاه گل | مختار | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۸۷ | حبیب گل | سید حسن | ″ | ″ | ″ |
| ۲۸۸ | محمد دولت | عاقل محمد | متعلم | ″ | ″ |
| ۲۸۹ | وزیر | محمد عمر | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۰ | محمد ترین | عبدالمجید | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۱ | صاحب زرین | گل زرین | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۲ | گل الرحیم | ابراهیم | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۳ | عبدالغفار | گل جان | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۴ | محمد زرین | شیر توری | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۵ | حضرت فتاح | محمد جان | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۶ | عبدالرحمن | حضرت فتاح | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۷ | عیسی خان | مشرانی | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۲۹۸ | محمد امین | سید امین | متعلم | ″ | ″ |
| ۲۹۹ | حاجی فیض محمد | گدچی | تخریبکار | ″ | ″ |
| ۳۰۰ | خوره | خوره محمد | تخریبکار | ″ | ″ |

پورته ترورو د شهیدانو جدول ترتیب او لست دی –

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

[illegible]

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | وظیفه | تاریخ | محل |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۱ | یار محمد | عتیق محمد | غریبکار | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | حصه حسار کنر |
| ۲۰۲ | رحمت گل | معصوم گل | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۰۳ | ابوالعلام الحق | عبدالرازق | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۰۴ | انعام الله | محمد رفیق | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۰۵ | محمد رفیق تجر | سید حلیم | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۲۰۶ | فتح خان | رحمت خان | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۰۷ | محمد الله | رفیق الله | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۰۸ | حمید خان | محصل خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۰۹ | شاه فرخان | محصل خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۰ | نور محمد نجار | گل محمد | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۱ | یار محمد | نور محمد | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۱۲ | محمد رفیق | گل رفیق | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۳ | عبدالغفار خوشنیانی | سید غفار | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۴ | فضل الحق | سید حبیب | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۵ | عصمت | سید حبیب | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۶ | لعل پاچا | حسن پاچا | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۱۷ | اختر محمد | محمد طالب | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۸ | گل جان پاچا | عزیز خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۱۹ | سید گل | عزیز خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۰ | محمد نبی | سید حبیب | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۱ | فضل احمد | سیدا خان | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۲ | انارالله | غلام سید | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۲۳ | شیخ محمود سرور | قاضی سیف الرحمن | کار خانگی | 〃 | 〃 |
| ۲۲۴ | سید احمد | حاجی عتیق الله | معلم | 〃 | 〃 |
| ۲۲۵ | کریم | اخون | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۶ | عزیز | داود الله | متعلم | 〃 | 〃 |
| ۲۲۷ | پیر دوست | احمد دوست | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۸ | پیر محمد | ناظر شاه | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۲۹ | گل جان | ناظر شاه | غریبکار | 〃 | 〃 |
| ۲۳۰ | محمد نسیم | ملا محمد سلیم | متعلم | 〃 | 〃 |

[illegible] د شهیدانو جدول ترتیب او [illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

| نمبر | شهرت: اسم | شهرت: ولدیت | وظیفه | تاریخ | محل | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۲۱ | سید حبیب | آقا حبیب | زمینکار | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | [illegible] | |
| ۴۲۲ | محمد درویش | ملا محمد سلیم | فارغ مامور دولت | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۳ | عبدالقدوس | ملا محمد سلیم | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۴ | خالو گل | زنار گل | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۵ | دوران خان | غلام نبی | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۶ | غلام نبی | گل نبی | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۷ | شمس الرحمن | علی محمد | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۸ | محمد خان | سید احمد | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۲۹ | رسول محمد | حق قربان | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۰ | محمد رحیم | محمد خان | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۱ | ضیاءالرحمن | حیدر خان | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۲ | محمد ولی | روح الله | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۳ | محمد الله | فخر محمد | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۴ | یوسف | رحمن خان | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۵ | جهانزیب | محمد اکبر | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۶ | عبدالوکیل | سید محمد | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۷ | شیر محمد | عبدالرحیم | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۸ | موسی خان | محمد لطیف | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۳۹ | آغا محمد | محمد لطیف | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۰ | رحیم الله | محمد رشید | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۱ | رحیم الله | محمد الله | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۲ | [illegible] | محمد شفیق | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۳ | فاروق | محمد جمیل | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۴ | نورالله | غلام سخی | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۵ | عبدالله | غلام سخی | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۶ | جاوید | حریلیق | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۷ | حمیدالله | مریلیق | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۸ | محبت الله | شاه زلمی | متعلم | 〃 | 〃 | |
| ۴۴۹ | نسیم الله | شاه زلمی | زمینکار | 〃 | 〃 | |
| ۴۵۰ | عبدالولی | موسی خان | زمینکار | 〃 | 〃 | |

[illegible] قرارداد شهیدان تو جدول ترتیب از جمعیت [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

سپرده

| [illegible] | تاریخ | وظیفه | ولد | اسم | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| جمع میارکم | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | غریبکار | موسی خان | محمد ولی | ۴۶۱ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | گل محمد | شاه جهان | ۴۶۲ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | سندر محمد | محمد هاشم | ۴۶۳ |
| 〃 | 〃 | متعلم | شفیق الله | محمد حلیم | ۴۶۴ |
| 〃 | 〃 | متعلم | پیر زمان | نور احمد | ۴۶۵ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | زر محمد | بهلول | ۴۶۶ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | نور محمد | زر محمد | ۴۶۷ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | انصار الله | گل حق | ۴۶۸ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | محمد گل | عمر گل | ۴۶۹ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد جان | ملنگ | ۴۷۰ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد جان | سید محمد | ۴۷۱ |
| 〃 | 〃 | متعلم | سید الرحیم | بخت نور | ۴۷۲ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | محمد ولی | گل الرحمن | ۴۷۳ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | [illegible] | عبدالرحمن | ۴۷۴ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | گل محمد | غفار | ۴۷۵ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | سید عمر خان | ملا عمر | ۴۷۶ |
| 〃 | 〃 | متعلم | حمید الله | رحمت الله | ۴۷۷ |
| 〃 | 〃 | متعلم | ملنگ | حمید الله | ۴۷۸ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد الرحیم | پیر شفیق | ۴۷۹ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | سید الرحیم | محمد الرحیم | ۴۸۰ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | محمد خالق | عاشق | ۴۸۱ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | محمد خالق | نور الله | ۴۸۲ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد شاه | محمد | ۴۸۳ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد گل | عمر گل | ۴۸۴ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد گل | سمیع الله | ۴۸۵ |
| 〃 | 〃 | متعلم | محمد گل | اسلم الله | ۴۸۶ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | جمشید | ملنگ | ۴۸۷ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | محمد ولی | حضرت ولی | ۴۸۸ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | سید جان | محمد جان | ۴۸۹ |
| 〃 | 〃 | غریبکار | سید جان | گل الرحمن | ۴۹۰ |

[illegible] جدول ترتیب [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

حزب همبستگی افغانستان - قربانیان قتل عام کراله در کنر - www.hambastagi.org

| شماره | شهرت پښتیدونکی | | د پښتیدو نیټه | د پښتیدو ورځ | وظیفه |
|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | ولد | | | |
| ۴۹۱ | مولوی خان | فقیر محمد | ۲۱/حوت/۱۳۵۷ | روز جمعه مبارک | غریبکار |
| ۴۹۲ | شیر ولی | اختر محمد | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۹۳ | پیر ولی | اختر محمد | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۹۴ | گل زمان | امان الله | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۹۵ | محمد صادق | امان الله | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۹۶ | عزیز محمد | محمد ابراهیم | ~ | ~ | معلم |
| ۴۹۷ | سید محمد | محمد ابراهیم | ~ | ~ | معلم |
| ۴۹۸ | رحمک | خیر محمد | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۹۹ | حبیب خان | پیر محمد | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۰۰ | میرزا جمیر | عبدالمیثاق | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۰۱ | محمد گل | عبدالمیثاق | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۰۲ | گل فقیر | حضرت ولی | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۳ | گل محمد | حضرت ولی | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۴ | عبدالرؤف | عبدالمنان | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۵ | ذر محمد | نورالله | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۶ | احسان الله | رفیق الله | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۷ | رفیق الله | رحیم الله | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۸ | آخر محمد | سید محمد | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۰۹ | سید محمد | عتیق محمد | ~ | ~ | معلم |
| ۴۱۰ | عنایت الله | محمد نذیر | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۱۱ | رحمت الله | حبیب النور | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۱۲ | حمید الله | گل محمد | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۱۳ | روح الله | محمد رفیق | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۱۴ | شفیق الله | محمد رفیق | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۱۵ | سید خان | وحدت الله | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۱۶ | رشید | داوود | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۱۷ | گل محمد | عطا محمد | ~ | ~ | متعلم |
| ۴۱۸ | عزیز | احسان الله | ~ | ~ | غریبکار |
| ۴۱۹ | محمد شاه | اکبر خان | ~ | ~ | 〃 |
| ۴۲۰ | مولی محمد | شاه محمد | ~ | ~ | 〃 |

پورته مرور د تشخیص شویو جدول ترتیب او صحت دی

منظور

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org



| شماره | شهرت شهدا: اسم | شهرت شهدا: ولد | تاریخ شهادت | روز شهادت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۲۱ | عبدالحق | شاه زلمی | ۲۱/حمل/۱۳۵۸ | روز جمعه صبح | [illegible] |
| ۴۲۲ | سبحان الله | مولی خان | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۲۳ | محمد ادریس | ملنگ | ″ | ″ | ″ |
| ۴۲۴ | عزیز محمد | ملنگ | ″ | ″ | ″ |
| ۴۲۵ | نصرت الله | گل اکبر | ″ | ″ | ″ |
| ۴۲۶ | حقیق محمد | شاه جان | ″ | ″ | ″ |
| ۴۲۷ | یوسف خان | رحیم الله | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۲۸ | محمد رشید | رحیم الله | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۲۹ | سید محمد | داود | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۳۰ | اول گل | محمد گل | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۳۱ | محمد شاه | انورالحق | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۳۲ | محمد حق | سعدالله | ″ | ″ | ″ |
| ۴۳۳ | اظهارالحق | انوارالحق | ″ | ″ | ″ |
| ۴۳۴ | سعدالله | محمدالله | ″ | ″ | ″ |
| ۴۳۵ | حفیظ الله | شاه ادر | ″ | ″ | ″ |
| ۴۳۶ | محمدالله | شاه ادر | ″ | ″ | ″ |
| ۴۳۷ | محمد الیاس | محمد شریف | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۳۸ | شاه محمد | محمد شریف | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۳۹ | محمد رزیق | محمد ادریس | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۴۰ | رحیم الله | عبدالرزاق | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۱ | داود | عبدالرزاق | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۲ | محمد شفیق | شیر محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۳ | صلاح الدین | گل محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۴ | فخرالدین | محمدالله | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۴۵ | ضیاءالرحمن | اکرم | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۶ | عبدالرحمن | محمد | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۷ | محمد عارف | مقبول جان | ″ | ″ | ″ |
| ۴۴۸ | زر محمد | حضرت جان | ″ | ″ | متعلم |
| ۴۴۹ | افتخار | گل زمان | ″ | ″ | غریبکار |
| ۴۵۰ | سیدالله | ولی محمد | ″ | ″ | غریبکار |

[illegible] قرار دستگیر [illegible] جدول ترتیب [illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
لیست قربانیان قتل عام کراله در کنر
حزب همبستگی افغانستان
www.hambastagi.org

جدول دسته جمعی شهیدان قریه کیراله ... ولایت کنر ...
ورق (شماره دوازدهم)

| شماره | شهرت شهید: اسم | ولد | تاریخ شهادت | روز شهادت | مشخصات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۵۱ | محمد خان | گل نبی | ۳۱/حمل/۱۳۵۸ | روز جمعه مبارک | متعلم |
| ۴۵۲ | رفیق الله | محمد عظیم | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۵۳ | عزیز الله | شاه محمد | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۵۴ | مسافر | شاه محمد | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۵۵ | یار محمد | ثاقب | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۵۶ | ذبیح الله | رحمت خان | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۵۷ | رحیم الله | رحمت خان | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۵۸ | عبدالمطلب | شاه محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۵۹ | سرور خان | [illegible] خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۰ | عبداللطیف | محمد خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۱ | حبیب الرحمن | فضل محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۲ | محمد شاه | نور محمد شاه | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۳ | نور محمد شاه | ناظم شاه | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۴ | امیر محمد | امیر محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۶۵ | سید محمد | امیر محمد | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۶۶ | باور خان | فضل کریم | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۶۷ | یار محمد خان | فضل کریم | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۶۸ | فتح خان | عاشق الله | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۶۹ | رفیق الحق | ابراهیم | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۷۰ | ضیاء الرحمن | ابراهیم | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۷۱ | اکرم خان | گل محمد | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۷۲ | ذبیح الله | عبدالرحمن | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۳ | حکیم الله | عبدالرحمن | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۴ | حبیب الرحمن | اکرم | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۵ | عبدالرحمن | اکرم | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۶ | گل محمد خان | [illegible] | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۷ | شاه ولی | [illegible] | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۸ | برکت الله | سید محمد خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۷۹ | محمد | سید محمد خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۰ | ولی محمد | مسافر | 〃 | 〃 | 〃 |

په دې ترتیب د شهیدانو جدول صحت دی

عبدالاکبر ... (signature)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لست قربانیان قتل عام کراله در کنر
www.hambastagi.org

جدول و لست [illegible] شهیدان [illegible] شهیدان قریه [illegible] ۱۲/حمل/۱۳۵۸

(ورق [illegible])

| شماره | شهرت شهید (اسم) | شهرت شهید (ولد) | تاریخ شهادت | روز شهادت | [illegible] |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۸۱ | قاهر | بشر محمد | ۱۲/حمل/۱۳۵۸ | روز جمعه مبارکه | غریبکار |
| ۴۸۲ | جان ولی | روستم | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۳ | فیروز | غلام نبی | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۴ | محمد نبی | غلام نبی | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۵ | محمد نسیم | حاجی جلال | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۶ | سبحان رشد | حاجی جلال | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۷ | پیر ولی | ولی محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۸ | عبدالشکور | منگل | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۸۹ | عبدالقدوس | محمد رحیم | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۰ | ملنگ | مکرم خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۱ | یار ولی | کلیم الله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۲ | عاشق الله | کلیم الله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۳ | رحمت خان | محمد خان | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۹۴ | معصوم | محمد اکبر خان | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۹۵ | شاه محمد | دوست محمد | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۴۹۶ | حلیم خان | محمد کبیر | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۷ | رحیم الله | شاه فقیر | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۴۹۸ | شاه فقیر | عاشق الله | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۴۹۹ | زرجمدار | سید ولی | 〃 | 〃 | متعلم |
| ۵۰۰ | حشمت الله | سید ولی | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۵۰۱ | مهربان | رحیم دل | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۵۰۲ | محمد جمیل | کریم خان | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۳ | شمس محمد | شاه محمد | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۴ | خوشحال | زلمی | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۵ | موسی خان | زلمی | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۶ | محمد ایاز | یحیی الیاس | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۷ | رحمت | رحمت الله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۸ | حاجی محمد | رحمت الله | 〃 | 〃 | 〃 |
| ۵۰۹ | عبدالعزیز | محمد سلیم | 〃 | 〃 | غریبکار |
| ۵۱۰ | عبدالغفار | محمد سلیم | 〃 | 〃 | متعلم |

— به این ترتیب [illegible] شهیدان جدول ترتیب و ثبت گردید —

— عضو [illegible] شورای [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ملاحظات | مورد د شهید کیدو | تاریخ د شهید کیدو | شهرت شهیدانو: ولد | شهرت شهیدانو: نوم | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| تحریک غړی | روز جمعه جنب مرکز | ١٣/حمل/١٣٥٨ | نور محمد شاه | پهلوان | ١١ |
| // | // | // | جمال الدین | خان محمد | ١٢ |
| // | // | // | محمد | آمین جان | ١٣ |
| // | // | // | حبیب الله | تاج محمد | ١٤ |
| // | // | // | زرور خان | دوران خان | ١٥ |
| // | // | // | محمد عبدالغفار | سید عبدالغفار | ١٦ |
| // | // | // | گل محمد شاه | عمر شاه | ١٧ |
| // | // | // | حضرت گل | میا گل | ١٨ |
| // | // | // | حضرت گل | شینا گل | ١٩ |
| // | // | // | فقیر محمد | محمد قاسم | ٢٠ |
| // | // | // | محمد ظاهر | چروکی | ٢١ |
| متعلم | // | // | فیروز | رضوان الله | ٢٢ |
| متعلم | // | // | انورالله | تیمور خان | ٢٣ |
| متعلم | // | // | رحیم الله | محمد حسین | ٢٤ |
| متعلم | // | // | جوتی گل | گل حسین | ٢٥ |
| تحریک غړی | // | // | پردار | فقیر محمد | ٢٦ |
| تحریک غړی | // | // | ذوالفقار | نور محمد | ٢٧ |
| متعلم | // | // | نور محمد | شفیق الله | ٢٨ |
